**د کتاب معرفي**

د کتاب نوم: پیغام(درېیم ټوک)

لیکوال: زبیر افغان

د نشر کال: ۲۰۲۲م

د کتاب ټول حقوق له **پېروز د دیني مطالعاتو او څېړنو بنسټ** سره خوندي دي.

**پېروز د دیني مطالعاتو او څېړنو بنسټ**

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# فهرست

سریزه ........................................ ۷
میرمن په نرواکه ټولنه کې ........................................ ۹
د ښاغلي جهاني تاریخي څېړني کتاب ته یوه کتنه ........................................ ۱۳
پوهنتوني نصاب او د ټولنې و بازار عیني شرایط ........................................ ۲۶
د تاریخ ارزښت ........................................ ۳۰
د تعلیم، مطالعې او عمل تجرید ........................................ ۳۹
د ژباړې سختیا او پېچلتیا ........................................ ۴۳
ستاینه او نقد ........................................ ۴۹
د افکارو غلا ........................................ ۵۷
په نصاب کې لا تر وخت تېر موضوعات ولې توجیه کېږي او د څه لپاره دي؟ ........................................ ۶۹
په نورو هیوادونو کې د دیني زدکړو زیانونه ........................................ ۷۴
د جګړې انګېزه څنګه پیدا او پیاوړې کېږي؟ ........................................ ۸۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



ديني مدارسو ته مصارف بايد له کومه شي؟ .......................... ۹۳
دروغجن او درواغ په ټولنه کې ........................................ ۱۰۲
کاذب شهرت؛ ګټه که تاوان؟ ........................................ ۱۰۶
له علماؤ سره د ټولنې چلند ........................................ ۱۰۹
ولې ................................................................ ۱۱۵
ادبستان چې ما ولوست ................................................ ۱۱۸
پر کتاب باور ........................................................ ۱۲۵
په داستاني نړۍ کې د افراطيت خام مواد .............................. ۱۳۱
د چاپېريال اغېز ...................................................... ۱۳۷
د دين په وړاندې دسيسې د چا له لورې؟ .............................. ۱٤۱
د طلوع افغان د ۹۷ کليزې په پلمه .................................... ۱٤۷
نقد څه دی او منتقد څوك دی؟ ........................................ ۱۵۱
هوښيار انسانان چېرې دي؟ ........................................... ۱٦۳
په دولتي کې ادارو له پښتو سره د پښتنو چلند ........................ ۱٦۸
د نشيانو په اړه د حکومت مسووليت ................................... ۱۷۳
د اجماع په اړه زما نظر ................................................ ۱۷۷
د صدقاتو ګټور ميتود ................................................ ۱۸۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



د زیاتو ملایانو د تولید ستونزه او د مدرسو نیمګړی نصاب ........ ۱۸۷

پر عبادت او عبادت ځایونو د کورونا اغېز ............................ ۱۹۴

د ونو ګټې ................................................................ ۱۹۹

د دین او شریعت تر منځ توپیر ............................................ ۲۰۳

ولاء او براء ............................................................. ۲۱۱

دښمن او مقاتل .......................................................... ۲۱۸

د څو عربي اصطلاحاتو پېژندنه .......................................... ۲۲۱

دعوت؛ څنګه، چاته او د چا دنده؟ ...................................... ۲۲۶

د جنګ اسباب او شرایط ................................................ ۲۳۱

عمومیت او خصوصیت .................................................. ۲۳۴

له شرعي متنه د اجتهاد حق څوک لري؟ ................................ ۲۳۷

په عباداتو کې شته پیغامونو ته نه پاملرنه ............................... ۲۵۲

د قران کریم د ترجمې او تفسیر وړ کسان ............................... ۲۵۸

د مسیار نکاح او شرعي حکم یې ........................................ ۲۶۱

مشوره(جرګه) په اسلام کې ............................................... ۲۶۵

سوله د اسلام له نظره او په هیواد کې یې د تحقق لارې چارې .... ۲۶۹

د علماؤ له وژلو ترهګر څه تر لاسه کوي؟ ................................ ۲۷۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



جنګې ډلې ولې خپلې څېرې بدلوي؟............................... ۲۷۸
د جهاد د اعلان په اړه د فقهاؤ نظرونه ............................... ۲۸۳
د قاضي او قضا ځینې اړین شرطونه ................................ ۲۸۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سریزه

د دې کتاب مقالې مې د څو کلونو په اوږدو کې کړې دي، د پیغام په نوم د کتابونو لړۍ چې مې پیل کړه، په دې کې مې خپلې ټولې پخوانۍ او اوسنۍ لیکنې سره یو ځای او د نشر لپاره واوډلې.

په دې لیکنو کې ځینې ما داسې کړې دي چې له څو سرچینو مې ګټه اخیسته ده، په اخیر کې مې سرچینې یوځای یادې کړې دي، یا مې هم په نیټ کې له ځینو مقالو ګټه اخیستې ده بیا مې په ریفرینس کې د مقالې نوم او ویبسایټ یاد کړي دي، که څه هم زموږ خلک دغه ډول ریفرینس نه خوښوي، خو ما یو وخت دغه ډول حوالې بدې نه ګڼلې، پر دغو مقالو مې وخت لګولی و، په تکلیف مې تیارې کړې وې، اوس مې زړه نه کېدی چې همداسې یې پرېږدم، له دې امله مې په کتاب کې ځای ور کړ، که څه هم ښایي دغه ډول مقالې د اوسني معیار له مخې په تول پوره هم نه وي، اما راوړل یې ما ګټور ګڼلي دي، نوره پرېکړه یې پر لوستونکو چې فایده من یې بولي که بې فایدې.

په کتاب کې ګڼ موضوعات دي، ځینې یې له تاریخ سره اړه لري، یو څه یې له ادب سره تعلق لري، نور یې بیا ټولنیز دي او یوه برخه یې د دین په اړه کښل شوي دي. د موضوعاتو ګڼوالي ته په کتو مې کتاب دوې برخې کړ، لومړۍ برخه یې ټول هغه موضوعات دي چې له دین سره سروکار نه لري، په دویمه برخه کې یې یوازې له دین سره تړلي موضوعات راغلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کتاب اوډنې مهال مې یوځل اراده شوه چې له دین سره ناتړلي موضوعات ټول وباسم او یوازې دیني مطالب خپاره کړم، بیا مې له څو ملګرو سره هم خبره شریکه کړه، دوی ویل که دا لړۍ یوازې د دیني تعبیر لپاره ځانګړې وي، بیا سمه خبره ده او که ځانګړې نه وي، خپل مضامین پکې خپروې، نو کتاب څو برخې کړه، هره برخه د یوې ځانګړې موضوع لپاره تعین کړه، ټول مطالب پکې خپاره کړه.

د هغوی نظر ته په کتو مې وپتېیله چې دوې برخې به یې کړم، اوله یې غیر دیني موضوعات او دویمه یې له دین سره تړلي، په دې سره به د دواړو پولې سره بېلې شي، که چا یوازې دیني برخه غوښته هغه کولای شي د لوست پر وخت د خپل ذوق برخه را واړوي، له سره تر پایه به مسلسل ټول د هغه د خوښې مطالب وي، که چا د ټولنیزو، تاریخي، ادبي او دیني ګردو موضوعاتو په اړه زموږ د ذوق معلومول غوښتل، هغه به له سره کتاب تر پایه وګوري.

د کتاب ځینې موضوعات په مجلو، اخبارونو او ویبسایټونو کې نشر شوي دي او نور یې تر اوسه نه دي خپاره شوي، که چا هلته یو ونیم لوستي وي، دلته یې بیا د نورو په څنګ کې کاملن لوستای شي، زه به په لنډ وخت کې څلورم ټوک چمتو کړم او نورو ستاسو و د کتاب د مطالبو ترمنځ نه ختنډ کېږم، په اړه یې ښه او بده پرېکړه ستاسو خپل کار دی، پر خدای مو سپارم.

۱۸/۱۱/۲۰۲۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړۍ برخه:

## میرمن په نرواکه ټولنه کې

د انساني ناپوهي له امله تر اوسه انسان په دې ونه توانېد چې د بشر-حقیقي دښمن کوم دی؟ خپله وړتیا چېرې مصرف کړي او د بشر-سوکالي او خوشالي په څه کې ده؟ انسان د خپل اصل دښمن (طبیعت) پر ځای خیالي دښمن ځان ته پیدا کړی دی او خپل ټول توان د هغه خلاف لګوي.

د انسان طبقاتي ژوند دا معما را منځته کړې ده او له انسان څخه اصل هدف ورک شوی دی. په انسانانو کې ګڼې طبقې د دې سبب شوې دي چې ځینې انسانانو د نورو خلاف ودرېږي، یوه طبقه د بلې د له منځه وړلو لپاره کار وکړي، یوه طبقه بله غلامان کړي، یوه طبقه بله د خپل ځان خادمان کړي او هر کار یې د دوی په خوښه شي.

د نر او ښځینه طبقې کشمکش هم ښه ډېره مخینه لري، د اسلام په پیل کې پر جاهلي عربو د اسلامي متونو دا نیوکه وه چې هغوی ښځو ته د ژوند حق نه ور کاوه، لوڼې یې وژلې، په دویمه درجه مخلوق یې ورته کتل، میراث یې نه ور کاوه، ښځې د نر په واک کې وې، هغوی خپل مکلیت بللې، نو چې څنګه یې خوښه وه، هغه ډول یې کار ځنې اخیستی.

په نړۍ کې د فیمینیزم را منځته کېدل هم د دې لپاره دي چې د دې دوو طبقو ترمنځ په روان کشمکش کې ښځې کوټل شوې دي، دوی د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی لپاره خپل حقوق غواړي، البته لږ ووایم که ډېر ویل به ورسره مناسب وي، چې په افراطي توگه يې غوښتنه کوي.

زموږ ټولنه هم له دې حالت څخه بېله نه ده، موږ تر اوسه هم نرسالاره ټولنه لرو، د نر واک پکې چلېږي او په دې وياړ كوو، دا راته اسلام معلومېږي، له ځان سره په افتخار دا خبره كوو چې تر افغانانو ښه مسلمانان نه شته، وگورئ ښځو ته يې څنگه حقونه ور كړي دي؟ په داسې حال کې چې زموږ په ټولنه کې ښځې حق نه لري، دویمه درجه مخلوق دی او یوازې د نر د خوښې کار کوي.

نرانو له ښځې د تعليم حق اخيستی دی، ولې؟ ځکه نر فکر کوي چې که ښځه تعليم وکړي، بد اخلاقه كېږي، نو بايد وې نه كړي. دا فكر نه كوي، چې له ښځې سره په بد اخلاقي كې بل لوری څوك دی؟ ځواب واضح دی چې بل طرف نر دی، نو نر ولې تعليم كوي؟

ښځه په تعليم هوښيارېږي، بايد هوښياره نه شي، ځکه بیا له نره خپل حق غواړي، ځواب ورسره وايي او د هغه د خوښې لپاره ژوند نه کوي، بلکې د خپلې خوښې سره ژوند کوي؛ نو دا كار يې د نر طبقې په زيان دی، له دې امله يې پابندي پر لگولې ده.

د ښځې تعليم کې شرعي پرده او حجاب نه مرعات كېږي، له دې امله هم باید ښځه تعلیم ونه کړي. له دې پردې داسې يو شی جوړ شوی دی لكه زموږ د ټولنې بلا، بلا څه شی ده؟ هيڅا نه ده ليدلې، پرده هم عيني بلا ده. هر څوك په وېروي. ښځه که ډاكټر ته ځي، پرده كوي كه نه؟ هو كوي يې، نو همدغه پرده دې دتعليم په وخت كې هم وكړي؟ ښځه که زيارت ته ځي، د پير د دم و تاويز لپاره ځي، پرده لري كه نه؟ هو لري يې، نو همدا پرده دې د تعليم لپاره هم كافي وبلله شي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



جالبه ده چې د نر خوښه وي، بيا يې راباسي او د خپلې خوښې پرده په كوي، خو كه يې خوښه نه وه، بيا د شرعي پردې د نه رعايت له امله يې په كور كې له يوه انساني حق څخه محرومه ساتي او څوك د نيوكې حق هم نه لري.

ښځه د كار حق نه لري، زموږ په ديني تعبير كې راغلي دي چې نر د ښځې سرپرست دى، نو ښځه څه حق لري چې كار وكړي؟ ښځه د نر ناموس ده، نو كه دې ناموس ته په بده وكتل شول، بيا د نر غيرت پارېږي او وطنونه تبا كېږي، خو دى خپل د بل په ناموس پسې سترګې وړي؟! ښځه د نر ملكيت ده، دى پكې د خپلې خوښې تصرف كوي، كه ښځه مال ولري، بيا د هغه ملكيت له ګواښ سره مخېږي، له دې امله بايد كار ونه كړي، په كار كې ښځه له بل سړي سرهويني، خبرې ورسره كوي، جنس پر پلوري يا يې ځنې را نيسي، په دفتر كې به سره يوځاى وي، دا شرعن حرام دي، نو له ښځې د كار حق ولاړ، دا ټولې باني او پلمې له شرعي متن څخه دي كه د كلتور له اړخه دي، يوازې د نرواكې ټولنې د ذهنيت زېږنده دي، په هغه ټولنه كې چې دواړه خپل- خپل حقوق لري، څوك دا پلمې نه مطرح كوي.

ښځه مسجد ته نه ځي چې د خداى عبادت وكړي، د جمعې خطبه نه اوري، د اختر لمانځه ته نه راوزي، په سفر كې پر لار له موټره نه كښته كېږي چې د نر په شان لمونځ وكړي؛ دا هر څه ولې؟ ځكه ښځه بيا نر ويني!!! يعنې نر ځان ته دا حق ور كړى دى، چې خداى ور كړى حق له ښځې اخلي، د خداى د فرض لمانځه حق په مسجد كې نر ځنې اخيستى دى، د خداى د دين زدكړه د ده خوښه ده، خطبې ته كېنې، جومات ته ځي، له ملا پوښتنې كوي، خو ښځه د فرض لمانځه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



اداينې لپاره جومات ته د تلو حق نه لري. د نر خوښېږي چې د يوه لمانځه ثواب يې په پنځه ويشت چنده ثواب بدل شي، خو له ښځې يې د ثواب دا وسيله اخيستې ده، دا هر څه يوازې د نرواکې ټولنې ځانګړتياوې دي، يوه نرسالاره ټولنه ځان ته حق ور کوي چې د ښځو بشري، اخلاقي، قانوني او شرعي حقوق په ګڼو پلمو ځنې واخلي، که د قانون خبره شي، هم نر ځان د قانون وکيل کړي، د خپلې ګټې لپاره يې تفسير کړي، که د اخلاقياتو او بشري حقوقو شي، هم نر د بشر حقونو مدافع وي او اخلاقيات په هغه ډول معرفي کوي چې د نر ګټې پکې وي، که د الهي شريعت شي هم يې د تعبير سر داسې ګوټ کړي چې يوازې د نر ګټې خوندي کړي، ښځې په هغه درجه کې وساتي چې د دوی د ټولنې غوښتنه وي.

موږ له خپلو غټو ادعاوو سره په جومات کې د ښځو د لمانځه ځای نه لرو، پر لار د ښځو تشناب نه لري، د اودس يې ځای يې نه شته، په هوټل کې د خوراک لپاره يې ځای ځان کړی دی، خو په جومات کې نه شته، پر لار نه شته، په بازار کې يې تشناب نه شته، د ټولنې هر څه د نر لپاره دي، ښځه پکې هغه وخت واک يا حصه لري چې نر يې وغواړي، که د نر خوښه نه وه، د ښځې تقدير محروميت دی.

۱۸/۴/۲۰۲۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ښاغلي جهاني تاریخي څېړني کتاب ته یوه کتنه

د جهاني صاحب تاریخي څېړني کتاب د تاریخ په موضوع کې پـر خپل ځای ډېر ښه کتاب دی، د ځینو موضـوعاتو هغـه اړخونـه یـې لـه لاسوند سره په داسې ډول برسیره کړي دي چې نه پکې مبالغه شـوې ده او نه یې تر ډېره حـده د خپلـو خلکـو مینـې د حقیقـت پـر مخـه پـرده غوړولې ده.

جهاني صاحب د اول ټوک تر څرنگه تاریخ لیکو؟ سرلیک لانـدې د تاریخ په اړه ښې لارښوونې کړې دي، د ناسمو ارقامو په لړ کې یې د میوند د جنگ په اړه د مورخ غبار خبره را خیستې ده چې د انگریزانـو ۱۲ زره تلفات وو، ښاغلي جهاني پر دې خبره داسې نیوکه کـړې چـې په دې جنگ کې ټول ټال ۲۴۷۶ عسکرو برخه در لوده چـې ۹۷۱ یـې مړه او ۱۶۸ زخمیان شـول. جهـاني دا خـبره د انگلـیس افغـان د دویـم جنگ د رپوټونو له کتابه کړې ده. (یاد کتاب: ۸)

د پښتنو د تاریخ په اړه گڼې لیکنې شوې دي، له ماسره په خپل کور کې هم په دې اړه څو کتابونه شته، په دې اړه ښاغلي جهاني د (د پښتنو فولکوري تاریخ او تاریخي فولکور) تر سرلیک لاندې یوه لویـه مقالـه کښلې ده چې شخصا ما ته ډېره په زړه پورې ده. لیکوال د دې مقالې په شروع کې وایي:

د پښتون قام، پښتو ژبې، قبـایلو او د پښـتنو د ټـاټوبي او د هغـوی د منشأ په باب په بهر او داخل کي پوهانو ډېري زیاتي لیکني کـړې دي. چا بني اسراییل، چا قبطیان، چا الباني اصله او چا هم د اریایانو اصـیل زامن بللـي دي. دلتـه زمـوږ هـدف د دې نظریـاتو او عقایـدو ردول او

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاییدول نه دي، بلکه دا خبره کوو چې دغو اکثرو مورخينو په پای کې د خپلو تحقيقاتو نتیجه بیرته پر هغو فولکوري افسانو بنا کړې ده چې له لويه سره هيڅ اساس نه لري او زياتره خو يوازې د يوه ليکوال پر هغو اطلاعاتو تکيه کوي چې یوازې په هغه ليکوال پورې اړه لري او په هيڅ کتاب کې راغلي نه دي. ددې فولکوري تاريخ تر ټولو لوی نکلچي خواجه نعمت الله هروي پخپله د پښتنو او اسلام له تاريخ څخه بې خبره دی او چې هر څه یې زړه غوښتي دي هغه یې ليکلي دي.(یاد کتاب: ۴۱)

د کتاب په لومړي ټوک کې له ۸۴ څخه تر ۱۰۲ پورې د اوغان په اړه يوه تحقيقاتي څېړنه شوې ده چې د افغان او اوغان پر توپير ږغيدلی دی. د مقالې په اخير کې یې دا نتيجه اخيستې ده چې اوغان او افغان دواړه د تاريخ په کتابونو کې د پښتون لپاره کار شوي دي خو په دومره توپير چې د کرمان په شاوخوا کې پراته اوغان یا اوغانيان مغول دي او د آل مظفر د کورنۍ د قدرت مهال راڅرګند شوي او بيا په شاوخوا پرتو قومونو کې منحل شوي دي.

ورپسې د افغان شال مقاله ده چې د افغانستان په تاريخ کې ما په دې اړه خاص څه نه دي لوستي، جهاني صاحب په دې اړه ښه څېړنه کړې ده او د افغان شال کلمه یې په ښه ډول روښانه کړې ده.

خوشحال خان خټک او دهغه عصر، د بلې مقالې عنوان دی چې د خوشحال په اړه يې نوې خبرې پکې کړې دي. اصلا د پښتنو هغه کسان چې د تاريخ نه هیريدونکې څيرې يې بللای شو، بايد زيات تحقيق وشي او که لږ هم کېږي خو چې نويو اړخونو ته يې اشاره وشي او لوستونکي د هغه کس په اړه نوې معلومات تر لاسه کړي. ليکوال د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ختیک په اړه مقاله کې همداسې تګلاره خپله کړې ده. دغه مقاله له ۱۷۴ تر ۲۰۹ مخه غزېږي چې په منځ کې یې ډېرې ځنګه عنوانه هم شته، لکه دا: د پښتنو ترمنځ قومي اختلافات او خپل منځي تلفات، یې د دې مقالې هغه برخه ده چې د پښتنو د ضعف په اړه ډېر څه ورځخه زده کېدلای شي. په دې برخه کې یې د پښتنو په اړه دا یادونه هم کړې ده چې په هند کې د پښتنو د دولت سقوط ولې او د کومو عواملو له امله رامنځته شو؟

د جهاني صاحب د کتاب اهمیت په دې کې دی چې له افغان تاریخ سره اړوند یې هغه موضوعات د څېړنې لپاره غوره کړي دي چې یا یې په اړه ناسمې لیکنې شوې دي یا هم ډېر کم څه یې په اړه لیکل شوي دي. یوه بله ځانګړنه یې داده چې حتا د ښو مورخینو او هغو کتابونو په اړه چې د افغانانو په ستاینه کې لیکل شوي دي او د بل قوم په اړه یې بې انصافي کړې وي جهاني دواړې نکتې په ګوته کړې دي، هم یې د مبالغې تر حده د خپلو ستاینو یادونه کړې ده او هم یې د بل قوم په اړه د بې انصافۍ یادونه کړې ده، مثال یې د ده په کتاب کې د قاضي نور محمد جنګ نامه ده چې د کتاب له ۲۱۱ مخ څخه تر ۲۵۲ مخ پورې یې په اړه لیکنه کړې ده او همدغه ذکر شوې یادونې یې د نورو ګڼو خبرو ترڅنګ پکې کړې دي.

درووند جهاني صاحب د کتاب له ۲۵۴ مخ څخه د هندوستاني مجاهدینو په اړه مقاله کښلې ده چې د سید احمد بریلوي په مشرۍ د پښتنو سیمو ته راغلي وو او د انګریزانو او سیکانو خلاف یې جګړه کوله. دا مقاله تقریبا د یوه واړه کتاب حجم لري چې له ۲۵۴ څخه تر ۳۴۵ مخونو پورې اوږده شوې ده. په دې مقاله کې جهاني صاحب د

(c) ketabton.com: The Digital Library



بریلوي د متشددانه کارونو پر ځای پښتانه غندلي دي چې ولې یې له سید احمد بریلوي سره سمه همکاري نه کوله او د هغوی هڅې یې ناکامه کړې؟ زما په اند له انگریزانو سره دښمني د دې سبب شوې ده چې جهاني صاحب د سید احمد بریلوي هغه کړنې چې د پښتنو د مذهب او فرهنگ خلاف یې دلته کولې او هم یې د یوه پردي سړي په توگه دلته د پښتنو پر قومونو مشري کول غوښتل او د جهاد له نوم څخه د هغه د ملگرو د ناسمې استفادې په اړه جهاني دومره نیوکه نه ده کړې لکه پښتانه چې یې ورته راچپه کړي دي او کلک یې ملامت کړي دي. زما په اند په دې برخه کې جهاني صاحب د مورخینو لپاره هغه توصیې چې د کتاب په سر کې یې کړې وې، لږ له پامه ایستلې دي او د انگریز هر دښمن ته یې په ښه سترگه کتلي دي او حتا خپل پښتانه یې د هغه چا په مقابل کې ټکولي دي چې له انگریزانو سره یې جگړې کولې که څه هم هغوی د انگریز خلاف دومره جگړې ونه کړې لکه د سیکانو خلاف چې وجنگېدل او سیک یې انکریز ته له پښو واچاوه.

جوسیاهرلان، لومړنی امریکایي په افغانستان کې؛ د هغې مقالې عنوان دی چې له ۳۴۸ مخ څخه پیل شوې او ۳۸۸ کې پای ته رسیدلې ده. په دې مقاله کې یې د یاد امریکایي په اړه په زړه پوري معلومات ور کړي دي. دغه امریکایی له شاه شجاع سرهویني او په افغانستان کې د تللي پاچاهي د تر لاسه کولو په اړه مشورې ور کوي، له هغه وزارت غواړي او دلته خپلو فعالیتونو ته ادامه ور کوي.

د کتاب د لومړي ټوک له ۳۸۹ مخ څخه تر ۴۴۹ پورې یې د امیر عبد الرحمن خان او امیر حبیب الله خان په اړه د یوه امریکایي او بل انگریز د لیکنو ځیني یاد داښتونه په دوو جلا مقالو کې را خیستې دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې زما لپاره دومره په زړه پوري وو چې کله به مې ورته خندل او کله به مې ورته له حسرته افسوس کاوه. دغه مقالې د هغو امیرانو د شخصیت په اړه ډېرې جالبې دي چې لوستل یې موږ ته د خپل تاریخ او امیرانو په اړه ډېر څه راښیي.

د سقاو زوی ښایي زموږ په هیواد کې هر زوړ او ووړ وپېژني، د کتاب په لومړي ټوک کې د سقاوزوی که د خراسان عیار تر سرلیک لاندې ۲۲ مقاله لیکل شوې ده چې په دې برخه کې یې نه یوازې د سقاو د زوی د جنایتونو یادونه کړې ده بلکې په سر کې یې د مجاهدینو د جنایتونو لنډه یادونه هم راغلې ده. نوموړي د دې مقالې زیات مواد د فیض محمد کاتب چې د سراج التواریخ لیکوال دی د هغه له یاد داښتونه اخیستي دي، دغه یاد داښتونه د تذکر انقلاب په نوم د یوه کتاب په بڼه د کابل په ملي ارشیف کې پراته دي چې له دې ځایه یوه روسي لومړی روسي ژبې ته ترجمه کړی دی او بیا یې یوه انګریز د (کابل په محاصره کي) په نوم انګریزي ته ترجمه کړی دی چې لیکوال له همدې کتابه زیاتره مواد چمتو کړي او په دغه مقاله کې یې ځای پر ځای کړي دي.

پایلوچان او عیاران د یوې بلې مقالې سرلیک دی چې د کندهار د پایلوچانو په اړه یې کښلې ده. دغه مقاله پر ځېل ځای ډېره مهمه ده؛ ځکه د پایلوچانو په اړه ډېرې ناسمې او سمې کیسې موجودې وې چې موږ یې سمې له ناسمو نه شوای بیلولای، جهاني د مقالې په پیل کې وایي چې د اسد الله زړه سواند په نوم یوه کس د پایلوچانو په اړه یوه سمینار ته یوه د کندهار پایلوچانو په نوم یوه نسبي مفصله څېړنه کړې وه چې زیاتره مواد یې نه تاریخي لاسوند لري او نه یې په سمه بڼه

(c) ketabton.com: The Digital Library



حقایق پکې بیان کړي دي بلکې تر ډېره حده پر احساساتو ولاړه ده. نو په داسې حال کې چې زموږ د تاریخ په اړه داسې له حقایقو لرې لیکنې کېږي، د جهاني صاحب غونډې د یوه متخصص کس مسوولیت جوړېږي چې دغه خلا ډکه کړي، له نیکه مرغه په دغه مقاله کې یې تر یوه بریده دغه هڅه کړې ده او ښایي په راتلونکي کې د نورو کسانو لپاره د لارې مشال شي.

د جعلي خاطرات، په نوم مقاله یې د یوه فارسي کتاب چې نوم یې( خاطرات مستر هیمفر جاسوس انگلیسی در ممالک اسلامی) دی، د ایرانیانو له لوري چاپ شوی، نوموړي د دې کتاب د اصلیت په اړه دغه نسبتن وړه مقاله کښلې ده چې د دې کتاب ځینو مبهمو اړخونو ته یې گوته نیولې.

د کتاب د پای مقاله د امیر امان الله خان په اړه ده، د دې مقابلې سرلیک دی: د اعلیحضرت امان الله خان اصلاحات او سقوط؛ دا مقاله د کتاب ۵۱۰ مخ څخه پیل شوې او د کتاب تر ۵۸۱ مخه پوري اوږده شوې ده. ما د امیر امان الله په اړه دا ډول مستند معلومات نه وه لوستي، ښاغلي جهاني د امان الله خان په د خپل کتاب په دواړو ټوکونو کې مقابلې لیکلې دي چې ډېرې مستندې او په زړه پوري دي. که څوک د هغه په اړه تر دې وروسته څېړنه کوي او د جهاني صاحب دغه کتاب یې په ماخذونو کې نه وي، نو ښايي څېړنه یې نیمگړې وي.

د امیر د اصلاحاتو په اړه دومره جالب معلومات پکې شته چې د انسان ویښته ورته شخ شي. حتا په بازار کې د غیر ښاري ښځو څخه د چادري ایسته کول هم ددې اصلاحاتو برخه وه ان دې کار ته یې خارجیان هم حیران شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د امير د سقوط په اړه يې هم څېړنه کتوره ده چې کوم عوامل ددې سبب شول چې ولس پر هغه پاڅون وکړي او د هغه پاچاهي نه يوازې له لاسه ووزي بلکې د يوه نااهل کس لاس ته ور شي؟ دا اوس وخت چې د امير امان الله په اړه ځوانان زيات د معلوماتو مينه وال دي لازمه ده چې د جهاني صاحب دغه څېړنه ولولي او خپل نيمګړي معلومات بشپړ کړي.

د کتاب دويم ټوک د فردوسي له شاهنامې پيلېږي چې سرليک يې دی: شاهنامه او تاريخي افساني؛ تر دغه سرليک لاندې جهاني صاحب ۲۲ مخه مقاله ليکلې ده. ښاغلي جهاني د فردوسي د شاهنامې په اړه ښه څېړنه کړې ده که څه هم لنډه ده. د هغې د ګڼو روايـاتو پـر ځای يې يو روايت غوره کړی دی، که د دې پر ځای هغه لېږ په تفصيل ږغيدلی وای، ښايي تر دې هم خوندوره او ښه تحقيقي مقاله راغلې وای.

د ټيپو سلطان او شاه زمان، تر سرليک لاندې يې د دې دوو پاچاهانو په اړه هم يوه ۳۶ مخه مقاله کښلې ده چې د دواړو د شخصيتونو او کارنامو په اړه يې نوي اړخونه رابرسيره کړي دي. د هغه د ښې مسلمانۍ لپاره يې همدا بس بللې ده چې له انګريزانو سره يې سخته ورانه وه، ما وړاندې هم يادونه وکړه چې له انګريزانو سره په دښمني کې جهاني صاحب د ځينو کسانو داسې ستاينه کړې ده چې بايد نه يې وای کړی او ځينې يې بيا په هغه شي غندلي دي چې بايد نه يې وای غندلي، لکه د پښتنو او سيد احمد بريلوي په اړه شوې څرګندونې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له ٦٩ مخ څخه تر ۸۹ پورې جهاني صاحب د ایپي فقیر د آزادۍ د لاري مبارزه، تر عنوان لاندې مقاله کښلې ده چې ما خپله د دغه مجاهد پښتون په اړه ډېر څه پکې ولوستل. که څه هم د دې ستر شخصیت په اړه باید تر دې هم ډېر څه ولیکل شي او حتا کتابونه ورته کم دي، خو جهاني صاحب په دې لنډه ګنډه لیکنه کې داسې ګوښې را برسیره کړې دي چې ممکن د کتاب لیکلو مهال نور کسان هم له دې څخه استفاده وکړي.

له ۹۱ تر ۱۱۳ مخ پورې یې د راجا مهیندرا پرتاپ سینګهـ په اړه لیکل کړي دي چې زما په اند د هغه شخصیت او کارنامې هم تر دې د ډېر څه حقداره دي. له هغه سره ملګري اسلامي علماء یې هم نه دي هیر کړي او د افغانستان د پاچاهانو یادونه یې هم کړې ده چې دوی د هغوی په دور کې له کابله خپل فعالیتونه کول. دغه مقاله که څه هم د حجم له مخې موضوع ته په کتو ډېره وړه ده، خو بیا یې هم تر یوه حده ښه تګلاره غوره کړې ده. جهاني صاحب د راجا ځینې وینا وې هم راخیستې دي، لکه دا: هغه خلك چې د مذهبونو پر سر جګړې کوي، هغوی چنداني مذهب ته عقیده نه لري.(یاد کتاب: ۹۲)

شامي پیر څوك وو؟ تر دې سرلیك لاندې لیکوال کوښښ کړی دی چې د دغه پیر اصلیت او د کار و فعالیتونو په باب یې له تاریخ څخه په مستند ډول حقایق را برسیره کړي. د شامي پیر په اړه دی او غبار بیل دریځونه لري چې په دې مقاله کې یې جهاني صاحب یادونه هم کړې ده. د شامي پیر حرکت غبار د مرحوم ظاهر شاه د واکمنۍ په وړاندې غوره اقدام بولي، خو جهاني وايي چې له شواهدو پرته د غبار خبره چې ظاهر شاه د انګریز لاس پوڅی او پیر ښه ګڼي، د تایید وړ نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده. لیکوال په دې اند دی چې ظاهرن پیر د امان الله خان د بیا واکمنولو لپاره مبارزه کوله او په دې کار کې یې جرمنیانو ملاتړ کاوه او د امان الله خان په راتلو جرمنیانو ته ګټه رسیده ځکه چې امان الله خان د انګریز سخت دښمن و.

په افغان واکمنانو کې تر لوی احمد شاه بابا را وروسته شاه زمان او امیر شیر علي خان دوه هغه شخصیتونه دي چې په خپلو کړنو یې ثابته کړې وه د هیواد او ولس لپاره یې کار کاوه، لیکوال د امیر شیر علي خان په اړه تر دې سرلیک لاندې مقاله کښلې ده: د انګریزي استعمار او روسي امپراطورۍ په مقابل کې؛ ده په دې مقاله کې د انګریز او روس دوه مخې پالیسي او له امیر شیر علي خان سره ناځوانیو ته اشاره کړې ده. په دې برخه کې د امیر د اصلاحاتو په اړه هم یادونه کړې ده اما له خپلو وروڼو سره د قدرت پر سر په جګړه کې یې خاصه دلچسپي نه ده ښودلې چې حتا شیر علي خان خپله پاچاهي هم بایللې ده او بیا دویم ځل قدرت ته رسیدلی دی. د جهاني صاحب ډېر زور د انګریزانو او روسانو د دریځونو په اړه دی چې څنګه یې زموږ هیواد او خلک د خپلو ګټو لپاره استعمالول غوښتل او دا لوبه هر وخت لوی قدرتونه د کمزورو هیوادونو په اړه کوي.

په دې کتاب کې ګڼې مقالې چاپ شوې دي، خو یوه له هغو مهمو مقالو چې ما ته ډېره په زړه پورې وه د (خلجیان او غلجیان) تر سرلیک لاندې مقاله وه چې جهاني صاحب یې په اړه غوره تحقیق کړی دی، دا چې هغوی له بهره راغلي دي او دلته میشت شوي دي، دی یې په اړه لیکي: خلج د ترکانو قوم وو او په ډېره پخوانۍ زمانه کې دغو سیمو ته راغلي دي. (یاد کتاب: ۲۱۴) دا خبره یې د یوه عربي مورخ په حواله

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړې ده که څه هم وروسته د هغوی په ترک بللو کې یې ډېر شکونه را پیدا کړي دي.

له غزني تر بسته په دې پراخه سیمه کې د دې قبایلو وجود دې ته اشاره کوي چې پښتانه وروسته دغې سیمې ته راغلي دي او اصلا یې خپله سیمه د هند لورته نژدې وه. لیکوال وایي چې دې قبایلو د غزنوي په پوځ کې هم خدمات کړي دي، د حجاج خلاف ممکن عبد الرحمن بن اشعث هم له دوی استفاده کړې وي او له دې سیمې چې نورو هر چا د مقاومت لپاره اقدام کړی وي دوی به یې حتمن په پوځ کې ورسره شامل وو چې وروسته دغه قبایل دغلجي افغانانو په نوم یادیږي.

اخوند درویزه او ارشاد الطالبین، د بلې مقالې نوم دی چې د اخوند په اړه یې لیکلې ده. د اخوند په اړه پښتانه چندانې سم نظر نه لري او هر وخت یې د روښانیانو په مقابل کې د دریدلو له امله غندلی دی، خو جهاني صاحب د نورو برخلاف دومره تیز نه پر ورځي. البته د هغه څو بعدي شخصیت یې له پامه نه دی اچولی، دی دا مني چې هغه پراخه مطالعه در لوده کتابونه یې لیکلي دي او په کتابونو کې یې خورا زیاتې حوالې موندلې کیږي، اما دا هم وایي:

د مثال په ډول اخوند درویزه په دې نه دی خبر چې معاویه د حضرت رسول صلعم له وفات څخه تقریبا پنځوس کاله وروسته نور هم ژوندی وو او څه کم شل کاله یې خلافت وکړ.(یاد کتاب: ۲۳۷)

د اخوند یوې بلې خطا ته یې هم گوته نیولې ده چې د حسین بن منصور حلاج په اړه یې کړې ده، اخوند لیکي چې هغه د هارون رشید

(c) ketabton.com: The Digital Library



په زمانه کې ووژل شو، جهاني زياتوي چې په دې وخت کې د هارون له وفات څخه څه باندې ۱۱۰ کاله تير شوي وو.(ياد کتاب: ۲۳۸)

ښاغلي جهاني په کتاب کې وړاندې وايي چې د اخوند درويزه د ارشاد الطالبين په اړه مې فکر کاوه چې د پښتنو په اړه به تاريخي او اجتماعي معلومات لري، خو زما د اټکل برخلاف هغه له خرافاتو ډک وختی.(ياد کتاب: ۲۴۰)

د نالوستي ليکونه، د امير حبيب الله خان په اړه ده، د هغه د شخصيت په اړه يې د ځينو ياد داښتونه يادونه کړې ده، البته تر څنګ يې د هغه د پلار يادونه هم کړې ده چې دواړه پاچاهان يو د بل ضد صفات لري. امير عبد الرحمن خان خپل زوی ته هم اجازه نه ور کوله چې پټه ميلمستيا وکړي او دا يې د خپل واک لپاره خطر باله، خو حبيب الله خان بيا خپل ورور نصر الله خان له ځان سره تر اخيره وزغمی په داسې حال کې چې تل په نظرياتي لحاظ د هغه مخالف پاته شو. په همدې ډول يې پر ګڼو نورو ځانګړتياوو او توپيرونو رڼغيدلی دی.

تر دې وروسته يې د امير عبد الرحمن خان په اړه يوه ځانګړې مقاله بله هم کښلې ده چې د هغه د شخصيت په اړه يې ډېر څه پکې ذکر کړي دي. زه د جهاني د ليکنو په استناد وايم چې عبد الرحمن خان به دومره پښتانه وژلي وي چې هزاره ګان يې نيمايي ته هم نه رسيږي، خو خلک پښتانه نه يادوي او د هزاره د وژلو تور يې نړۍ ته ورسيد. دا سمه ده چې له هزاره ګانو يې کرکه کوله اما د هغه طبيعت ته په کتو هغه له هر مخالف څخه کرکه کوله او پښتانه يې هم د خپل مخالفت له امله وژلي دي ځکه هغه د يوه ماشوم په شان ځان خوښی و چې دې کار هغه په ځان کې ډوب کړی و او هر څه يې د ځان بلل د بل شراکت يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه شوای زغملای. د دواړو امیرانو په اړه لیکل شویو مقالو کې به دومره حیرانونکې کیسې ولولئ چې هڅك حیران به ورته پاته شئ.

تر دې وروسته یې بله مقاله د محمد نادر شاه پـه اړه لیکلې ده. پـه دې مقاله کې جهاني صاحب هغه تورونه هـم رد کـړي دي چـې نـادر خان له امیر امان الله خان څخه قدرت غصب کـړ، دی استدلال کـوي چې نادرخان په خپل زور له حبیب الله کلکاني څخه قدرت ونیوی نـو سیاسي منطق او تاریخي سوابق دا نه مني چې یوه جنرال دې پـه خپـل زور قدرت نیولی وي او بیا دې خپل حریف ته تسلیم کړي. دی د هغو کسانو سره مخالف نظر لري چې نادر خان د انگریزانو لاس پوڅی بولي یا یې حد اقل په اړه منفي نظر لري.

ملا، پیر او خان د پښتنو په ټولنه کي، د یـوې بلـې مقـابلې سرلیـک دی چې د ملا، پیر او خان پر اهمیت رڼغیدلی دی چـې پـه ټولنـه کـې څومره اهمیت لري. دی لیکي چې ملا په ټولنه کې یو ضروري عنصر ـ او له بلې خوا بې بنسټه او کمزوری موجود دی. د ده په اند په ټولنه کې د جهالت له امله چې یې کوم اهمیت در لود هغه یې د ښونځي له راتلو سره له منځه ولاړ. دی وایي چې ملا مذهبي ناراضه قشر دی، په ټولنـه کې منزوي دی، خو بر خلاف یې پیران او مرشدان ټـولنیز کسـان بللـي دي، دی دا دواړې بیلې طبقې بولي، هره یوه یې بیله دنده مخته وړي، ملا د بې وسی له امله سخت ژوند لري خو پیر د خپلو گڼو مریدانو پـه برکت د ښه ژوند خاوند دی.

د خان په اړه خپله مقاله کې لیکي:

په پښتني ټولنه کي د خاني مقام له قبیلویت، ټـبر او قبیلـوي اړیکـو سره ملگری دی، چي په قبیله کي دننه د تقریبن ټولو اجتماعـي اړیکـو

(c) ketabton.com: The Digital Library



بنسټ د تربور بدمرغه کلیمه جوړوي... خان، د تربورګلویو او قومي دښمنیو په مرکز کي قرار لري؛ او علت یې دادی چي هم له میراثي امتیازاتو څخه برخمن وي او هم یې مادي او مالي امتیازات تر عادي خلکو او قومیانو زیات وي.(یاد کتاب: ۴۹۱)

ملي وحدت زموږ د تاریخ په رڼا کې، مقاله یې زموږ د اصلیت ښه ښکارندویه ده. ده هم لیکلي دي چې د ملي وحدت کلیمه د هر چا پر خوله وي خو عمل یې د خپلې وینا خلاف وي. ان نادر افشار د غلجیو او درانیو د اختلاف له امله ابدالیان وځپل او په خپل هدف کې بریالی شو. په دې مقاله کې یې پر همدې موضوع ډېر ښه تمرکز کړی دی چې لوستل یې په اوسنیو حالاتو کې ډېره ګټه لري.

ملا نجم الدین، د هډې ملاصاحب او روحانیت په افغانستان کي، د ده هغه مقاله ده چې د دې پښتون جهادي و روحاني شخصیت په اړه پکې رغیدلی دی. دا ښه خبره ده چې زموږ د تاریخ د مهمو څېرو په اړه د جهاني غوندې څېرک مورخ لیکنې وکړي چې په ایینده کې مو تاریخي څېرې یا بیخي ګمنامه نه شي یا یې هم د قومیت د مینې له امله یې خلك له اصلي حقایقو څخه لرې په اړه داسې څه ولیکي چې د سم پر ځای مو ناسم لوري ته بوزي او د ګټې پر ځای یې تاوان زموږ تاریخ ته ورسېږي.

د تاریخي څېړني په دویم ټوك کې ځیني مقالي تکراري راغلې دي چې نوې زیاتونې یې ور باندې کړې دي لکه د پښتنو د تاریخ په اړه مقاله چې لومړي ټوك کې هم خپره شوې ده، له ځینو مقالو سره یې بیا ضمیمې ملګرې کړې دي چې په اړه یې نور ګټور معلومات او اضافې هم ور باندې کړې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د جهاني صاحب د تاریخي څېړنې ارزښت په دې کې دی چې خاص موضوعات یې انتخاب کړي دي او بیا یې په اړه تر ډېره حده منصفانه لیکنه کړې ده، منابع یې هم مستند دي او په هسې اوازو پسې نه دی تللی.

۳۰/۱۱/۲۰۲۰

## پوهنتوني نصاب او د ټولنې و بازار عیني شرایط

زموږ د عام ژوند په اړه یو چا ویل چې یو پر مختللې نړۍ ده، یوه وروسته پاتې نړۍ ده، یوه مخ پر وده او یو زموږ دنیاګۍ ده. خبره یې زموږ تر انتیکو کارونو کوله، رښتیا هم زموږ له عامونو کیسو ور واخله تر خاصو، نسبت نړۍ ته ډېر جالب دي.

په نوره نړۍ کې ډېر پخوا پر دې بحثونه کېدل چې څنګه وکولای شي د پوهنتون نصاب د وخت او بازار له غوښتنو سره سم کړي، په دې اړه ګڼ پلانونه طرحه او د عمل میدان ته راغلل، کله به له یوه پوهنتون څخه ځانګړې کمپنۍ د کارمندانو غوښتنه کړې وه چې پر دغو شرایطو پوره وي، زموږ ورته اړتیا ده او په دې ډول به د پوهنتون له دورې پر همدغو شرایطو د پوره کېدلو لپاره محصلین چمتو کېدل، دوی که به فارغ شول تیار به کار ورته موجود و، نه به دوی بې کاره کېدل، نه به پر ټولنه بوجېدل او نه به یې وخت ضایع کېده.

فعلن د یوه بل پلان له مخې په غربي هیوادونو کې د پوهنتون دوره راکمېږي، ان په هند کې لا د لیسانس دوره درې کلنه ده، د ماسټرۍ دوره په ځینو امریکایي پوهنتونو کې یوه کال ته راکښته شوې او همداسې به دا کار نورو هیوادونو ته هم غزېږي. د دې کار ګټه داده

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې په پوهنتون کې په نظري ډول ویل شوې تیوریانې باید په بازار کې تر وخت تیرې نه شي که محصل په پوهنتون کې زیات وخت تیر کړي، تر فراغت وروسته ممکن د نن په ژر بدلیدونکې نړۍ کې هغه څه چې ده ویلي او زده کړي وي هغه په بازار کې نور د عمل له میدانه وتلي وي او پر ځای یې نور داسې څه را منځته شوي وي چې ده په خپله تعلیمي دوره کې اوریدلي هم نه وي، نو په دې ډول د پوهنتون او بازار ترمنځ واټن را پیدا کیده چې د همدې د مخنیوي لپاره تعلیمي دوره کمېږي او په لنډ وخت کې هم هغه څه ورته وایي چې بازار اړتیا ورته لري.

زموږ په هیواد کې دغه فورمول کار نه ور کوي، دلته نه د دیني زدکړو په برخه کې دا اصل په پام کې نیول کېږي او نه د دنیوي. په اقتصاد کې یو اصل دا دی چې که هر شی تر تقاضا زیات بازار ته وړاندې شي اهمیت او ارزښت یې کمېږي، که هر شی له تقاضا پرته وړاندې شي، نو هیڅ ارزښت به ونه لري.

زموږ په ټولنه کې دا دواړه کارونه ښه په پیخر کېږي؛ هم تر تقاضا زیات عرضه لرو او هم داسې عرضه شته چې ټولنه یې هیڅ تقاضا نه لري. له دې امله نو لوستي کسان بې کاره دي، په ټولنه کې نه جذبېږي، کاري وړتیاوې یې کمې دي، ټولنه چې کوم شي ته اړتیا لري موږ هغه نه وړاندې کوو، بلکې تر وخت تېره عرضه موږ لرو او ټولنه چې د یوه شي په اړه کمه تقاضا لري موږ یې څو فیصده زیاته وړاندې کوو.

په دې توګه مو د پوهنتونو او بازار ترمنځ انډول خراب کړی دی چې اوس د خلکو پر پوهنتونو باور په کمېدو دی. له ما سره په دفتر کې ای ټي یو نوی ځوان و چې له کمپیوټر ساینس څخه فارغ شوی و، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



کمپیوټر ډېر کوچني مشکل یې نه شوای حل کولای، خو بل لور ته یو پخواني تجربه کاره مامور وو چې په ای تي کې مدیر و، هغه به په دوې دقیقې حل کاوه. عیني همدغه ډول مشکل د بازار او پوهنتوني نصاب او محصلینو ترمنځ هم دی، د بازار تجار یو کار کولای شي خو د پوهنتون څخه ور فارغ په هغه کار نه پوهېږي او نه یې شي کولای، چې دا کار د عامو خلکو ذهنیت د پوهنتونو په وړاندې خرابوي او پر لوستو کسانو یې باور کمېږي.

هر نصاب باید د وخت غوښتنې په پام کې ونیسي، په لنډ وخت کې اپډیټ شي، د پوهنتون خلک باید پر ټولنه او بازار سترګې ښخې کړي چې هلته هر بدلون راتلی دوی یې په نصاب کې ځای تعین کړي، هلته چې هره تقاضا پیدا کېده دوی یې له پوهنتونو څخه عرضه وړاندې کړي، په دې ډول انډول سم ساتل کېږي او که دوی هسې خلک فارغوي دې ته نه کتل کېږي چې د کومې برخې دی او اوس ورته اړتیا شته که نه، نو به لکونه کسان لکه زموږ د ټولنې له پوهنتونه ډګري اخیستې د دولتي او شخصي دفترونو دروازه په دروازه به ګرځي، خو د کار ساحه به یې ورته نه موندله کېږي، دا مشکل ټول د محصل نه هم دی د نصاب دی چې له لویه سره ناسم او د وخت له غوښتنو سره ناموافق جوړ شوی دی.

یو لنډ مثال یې زموږ د علماؤ او نورې نړۍ د علماؤ راواخلئ! ولې یې ترمنځ د ځمکې او اسمان توپیر شته؟ همدغه خبره ده، نصاب تر وخت تیر دی، ټولنه چې د څه شي اړتیا لري، هغه مدرسه نه وړاندې کوي، څومره چې ورته اړتیا ده هغه کمیت ته پام نه کېږي، نتیجه یې په ټولنه کې د بې کارۍ اوج، پر علماؤ د خلکو د باور کمی، د دیني

(c) ketabton.com: The Digital Library



مدارسو څخه د خلکو خپګان او له ټولنې سره د علماؤ فاصله پیدا کیدل دي چې ملامتیا یې خپله مدرسو او د هغوی منتظمینو ته ور ګرځي.

ژوند ډېر جالب دی، واګې یې ستا په لاس کې دي، پر مختګ پکې کوي او که وروسته پاتېوالی دې خوښ دی؟ په تعلیمي او علمي مرکزونو کې د معیارونو ټیټوالی د ټولنې په وروسته پاتېوالي کې لوی لاس لري، هیله ده اړوندې ادارې دې لورته پام وکړي او وضعیت تر بیخي ډېرې خرابېدا مخته درک او حللار را وړاندې کړي.

۲۰۲۰/اګست/۲۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د تاریخ ارزښت

ژباړه او زیاتونه

د تاریخ اصطلاح څه وخت رامنځته شوې او د لغت ریښه یې کوم ځای ته رسي؟ په دې اړه د نظر اختلاف شته. لغوي معنا یې د پېښو زمانه ټاکل ده او دا لغت په ګڼو ژبو کې د متعددو مفاهیمو لپاره کار شوی دی. په قران یا حدیث کې د دې استعمال نه‌شته اما لومړی وار د دویمې پېړۍ له منابعو د دې د استعمال څرک لګېږي چې په درېیمه پیړۍ کې ښه پوره رواج شوی دی. لغتپوهان یې د اشتقاق په اړه مخالف نظرونه لري. ځینې له دې منکر دي چې دا لفظ دي عربي یا فارسي ریښه ولري او له اهل کتابو اخیست شوی یې ګڼي. نورو بیا ویلي چې دا اصلن فارسي دی او د (ماه روز) معربه بڼه مورخ ده. دا احتمال هم نه شي ردېدای چې تاریخ له اَرَخ یا وَرَخ سامي توري څخه جوړ شوی دی؛ ځکه د ورخ جمع اورخم تر اسلام مخکې د سعودي په جنوبي سیمو کې پر ډېرو د قمري میاشتو لپاره کارول شوې ده.

همدارنګه د تاریخ تعریف هم اسانه کار نه دی، په دې اړه هم ګڼ تعریفونه شوي دي چې تر اوسه هم د یوه تعریف په اړه د نظر یووالی نه شته. دلته د موضوع پر تعین او د دې علم د سرحدونو پر ټاکنه خورا جدي اختلاف راغلی دی. په هر حال نن د دې فن د پوهانو او پکې د نظروالو ترمنځ دوه تعریفونه مشهوردي چې یو په پل پسې یې راوړم:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱/ پر تېرو پېښو او د تېرو کسانو پر احوالو، ژوند لیکونو، بریـاو او سیرتونو علم در لودل تاریخ دی، دا هر څه که د ملتونو تـرمنځ تـالیف شوي وي یا هم تالیف کېږي، د تاریخ نوم ورته کارولای شو.

تاریخ په دې معنا جزي دی، یعنـې د یـوه شـخص یـا فـرد د چـارو سلسلې ته پام شوی دی نه کلیاتو، قواعدو، ضوابطو او روابطو ته. بـل ټکی دادی چې یو نقلي علم دی نه عقلي. همداشان پر تېرو پېښو علم دی نه د اینده تحلیل او له ماضي سره تړاو لري نه لـه حـاضر سره. زه د تاریخ دې ډول ته د (نقلي تاریخ) اصطلاح کاروم.

۲/ د تېرو کسانو پر ژوند د حاکمو اصولو او قواعدو علم دی چې د تېرو پېښو او حوادثو لـه تحلیـل څخـه تـر لاسـه کېږي. دلتـه مـورخ د تاریخي پېښو تـر شـا پراتـه طبیعـي عوامـل او لـه پېښـو سره د علیـت و معلولیت پر اړیکه یې بحث کوي چې له دې څخه د عمـومي او عامـه فهمه قواعدو یوه لړۍ را پیدا کوي چې تېر او اوس یې سره مشابه وي. زه د تاریخ دې ډول ته د علمي تاریخ اصطلاح استعمالوم. د تـاریخ دا ډول خورا ګټور دی، د انسان پېژندنې لپاره دا یوه ښـه سرچینـه کېـدای شي او ده ته پر خپله اینده د تسلط واک ور کوي. علمي تاریخ د نقلي تاریخ په شان له تېر سره اړه لري نه له حال سره، پر شویو پېښو علم دی نه پر کېدونکو، د نقلي تاریخ برخلاف کلي دی نه جزي او عقـلي دی نه محض نقلي. علمي تاریخ په حقیقت کې د ټولنپوهنې یوه برخه ده، یعنې د تېرو سویو ټولنو پېژندنه وړاندې کوي. نو د که علم تـاریخ نـوم استعمال شي هدف یـې همـدا دویمـه معنـا ده او کـه حـوادث تـاریخ وکارېږي موخه به یې لومړۍ معنا وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳/ د تاریخ فلسفه؛ دا درېیم شی بیا د تاریخ تعریف نه دی خو د تاریخ فلسفه له پورته هر یوه تعریف سره ځانګړی ارتباط لري. د لومړي تعریف له مخې د تاریخ نظري، مادي یا محتوایي فلسفې ته د تاریخ فلسفه ویل کېږي. د تاریخ نظري فیلسوف له تاریخي پېښو څخه هدف الګو یا د کلي معنا کشف وي. د دویم تعریف له مخې د تاریخ نقدي، صوري یا تحلیلي فلسفې ته د تاریخ فلسفه یا د علم تاریخ فلسفه ویل کېږي. د تاریخ نقدي فلسفه د تاریخي څېړنو په اړه کېږي چې علمي نیوکې پر کوي. د دې فیلسوف موخه دا وي چې د تاریخي څېړنو ماهیت روښانه کړي، اساسي فرضیې، مهم مفاهیم او د څېړنو ډول یې واضح کړي.

عربي او فارسي ادبیاتو کې د تاریخ لفظ هم د علم لپاره کارېږي او هم د دې علمي موضوع لپاره، دارنګه په انګلیسي او الماني ژبو کې هم د دې لفظ معادل د دوو مفاهیمو لپاره کارېږي. موږ پوهېږو چې یو علم دی او بل د علم موضوع ده. مثلا: ځمکه، اسمان، عناصر او روان، علمي موضوعات دي، ځمکپوهنه، هیأت، ټولنپوهنه، روانپوهنه بیا په خپله علوم دي. یا هم د طب کلیمه چې د یوه علم نوم دی، موضوع یې د انسان بدن او ورپېښې ناروغۍ دي، نو ګواکې د دې علم موضوع د بدن ناروغۍ دي، اما خپله علم ته بل لفظ کارېږي چې طب یې بولو؛ خو په تاریخ کې دواړه مفاهیم یعنې د تاریخ موضوع او علمي تاریخ ته یو مشترك لفظ (تاریخ) کارېږي.

د تاریخ دا برخه هم له اختلافه خلاصه نه ده چې ایا هره تېره پېښه په تاریخ کې حسابېږي که له انسان سره مربوط پېښې په علم تاریخ کې ځای لري او که د تاریخ علم ټول موجودات په غېږه کې نیسي؟ د

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدې اختلاف له امله ځینو د تعریف مهال دې ته پام کړی او داسې تعریف يې کړی دی: د مورخانو د تفسیر، څېړنې او انتخاب له مخې د تیرو انسانانو د حالاتو تفسیر او تحلیل علم تاریخ دی.

ځینو نورو بیا درې شاخصونه په تعریف کې اړین بللي چې (د تېر انسان مهمې پېښې) دي. یعنې تېر یو شاخص دی، انسان بل او مهموالی هم پکې شته. همدې درو شاخصونو ته مرحوم شریعتي هم پام کړی دی، هغه ویلي: پدیدې، پېښې او اړیکې، همداشان فعل او انفعالات، د مرګ او زیادت حوادث، د ټولنو جوړښت، پرمختګ، رشد او د تمدنو، ټولنو او پرګنو زوال، دا ټولې بشري پېښې او پدیدې د انسان له طبیعت سره یا هم د دوی تر خپل منځ له هغه پیله بیا تر اوسه د علم تاریخ موضوع ده.

د مایکل استنفورډ له نظره د تاریخ په تعریف کې تېري پېښې، د پاته اثارو تفسیر او زمانه مهم دي. له دې لید لوري د علم تاریخ موضوع د انسان پر ټکي رامحدوده نه ده. مګر هیګل بیا خورا زیاته را محدوده کړې ده، ځکه ده ویلي چې یوازې هغه قومونه د تاریخي اقوامو په لیست کې یادولای شو چې خپله يې ځانونه په تاریخ کې د یادولو وړ ثابت کړي وي. کالینګوود هم د تېرو انسانانو کړنې د علم تاریخ موضوع ګڼلې ده.

په هر حال په تاریخ کې انسان مهم دی او زیاتره بحثونه په تاریخي کتابونو کې هم د انسان له کړنو او اعمالو سره تړلي او ډېرې نورې طبیعي پیښې چې یادیږي هم د انسان له امله یادیږي چې هغوی ته يې یا زیان اوښتی وي یا هم د انسانانو ژوند يې اغېزمن کړی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## تاریخ څومره مهم دی؟

ما څو پلا له ځینو کسانو اورېدلي دي چې تاریخي کتابونه لوستل د انسان وخت ضایع کوي. ما ته ځینو ملګرو ویلي چې د انسان په تاریخ کې له وژنو پرته نور شی نهشته نو تاریخ چې ګورې بس همدا د مړو تعداد به در سره لیکې نور به څه کې زدکړې؟

دا سمه ده چې په انساني تاریخ کې د وژنو خورا لویې کیسې ثبت دي مګر له دې اړخه پرته تاریخ نور اړخونه هم لري. دا هم یو حقیقت دی چې د پېښو تر شا یې عوامل وي، موږ کولای شو چې د تاریخ په پاڼو کې د ثبت جنګونو تر شا هغه عوامل درک کړو چې له کبله یې انسانان د یوه بل مرګ ته درېدلي وو، په تاریخ کې بریالي و نابریالي انسانان، نظامونه، ټولنې او تمدونه تیر شوي دي چې د بریالي د بریا لاملونه که موږ پیدا کړو ممکن ځینې یې زموږ په زمانه کې هم د دې وړ وي چې عملي یې کړو او د نابریالي تر شا هم عوامل شته چې که درک کړل شي اوس هم انسان ته په ګټه ورځي او له هغو ناکامه تجربو د ځان ساتنې کوښښ باید وکړي.

په هر حال زه دلته غواړم د تاریخ پر اهیمت نور هم بحث وکړم چې زموږ اړیکه له تاریخ سره ثابته کړو او پر لا زیات اهمیت یې هم رڼا واچوم. ځینې کسان فکر کوي چې تاریخ یوازې په تاریخي پاڼو کې د نورو کسانو ثبت شوي احوال دي چې لوستل یې موږ ته څه نه لري، مګر تاریخ یوازې دا ډول نه لري، بلکې د تاریخ موږ دوه تعریفونه لوړ بیان کړل چې تر ټولو مهم یې دویم ډول وو او دې تاریخ ته انسان په هره زمانه کې اړتیا لري. د تاریخ دا ډول زموږ اړیکه له ماضي سره پیدا

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوي او په دې ډول موږ دا فکر نه کوو چې هغه د تېرو کسانو حالات وو او زموږ په ژوند کې اغېز نه لري، بلکې دا یوه روانه لړۍ ده چې شکېده نه لري او موږ هم د دې اوږدې لړې یوه کړۍ یو چې په هیڅ صورت ترې بېلېدای نه شو.

تاریخ د انساني ژوند یوه روانه ویاله ده چې تر موږ مخکې یې هم سیلان در لود او تر موږ وروسته به یې هم ولري. په بشري تاریخ کې د ګڼو شیانو په اړه انساني تجربې لیکل شوې دي او موږ هم له دې سلسلې جلاکېدای نه شو، په همدې تعبیر نو تاریخ ماضي، حال او اینده ټولو ته شامل دی.

موږ چې کله د ماضي په اړه فکر کوو، کتابونه یې درسوو او لوست کوو نو عینن په همدې وخت کې د حال او اینده په اړه هم دا ټول کارونه کوو؛ ځکه که دقیق نظر وکړو نو زمانه د هیڅ موجود شي ارزښت یو مخیز له منځه نه وړي، طبیعت پوهان وايي چې ماده په مطلق ډول له منځه نه ځي او د تاریخ پوهانو دا خبره هم سمه ده چې یو شی په بشپړه توګه له زوال سره نه مخېږي؛ بلکې هر شی د زماني په اوږدو کې مختلفې بڼې اخلي. که انسان د خپل ځان په اړه فکر وکړي چې یو مهال تی خوره ماشوم وو او بیا هغه صورت له اوسني شکل سره پرتله کړي نو توپیر یې دومره واضح دی چې په هیڅ ډول د پټېدو وړ نه دی. دا وخت ممکن فکر وکړي چې دا دوه بېل انسانان دي، اما حقیقت دادی چې هغه ماشوم همدا لوی سړی دی خو زماني یې بڼه ور بدله کړې ده.

یو عرب شاعر د تاریخ د اهمیت په اړه وایي:

لَیسَ بِأِنسَانٍ وَلاَ عَاقِلٍ مَن لاَ یَعِي التَّارِیخَ فِي صَدرِهِ

(c) ketabton.com: The Digital Library



وَمَن وَعِيَ أَحوَالَ مَن قَد مَضَى  أَضَافَ أَعمَاراً إِلَى عُمرِهِ

ژباړه: هغه هوښیار انسان نه دی چې په سینه کې یې تاریخ نه وي او که چا د تېرو احوال یاد کړل، نو ګواکې خپل عمر یې زیات کړ.

علم تاریخ په خپل ذات کې دومره ارزښت لري چې په اړه یې خاصې او عامې څېړنې وشي او له هر ډول ګټې پرته د تېرو انسانانو پر احوالو علم درلودل په خپل ذات کې هم ډېر ارزښت لري.که د انسان هدف ژوند وي نو په هره وسیله چې وي باید د تېر وخت په اړه پوهه تر لاسه کړي، که موږ هغه علم صرف نظر کړو چې د تېرو انسانانو د ژوند په اړه یې معلومات خوندي کړي نو کله به هم خپل هدف ته ونه رسېږو او موږ د تاریخ په ذریعه له خپلو تجربو سره د تېرو انسانانو تجربې ملګرې کوو، په ژوند کې پرمختګونه کوو او په دې ډول ګواکې خپل عمر هم زیاتوو.

تاریخ موږ ته له ماضي سره د اړیکې ډول هم راښیي او له نورو ټولنو و کلتورونو سره د اړیکو په څرنګوالي او اهمیت مو هم خبروي. علم ولې زدکوو، څکه د شیانو معرفت ته اړ یو، نو اړتیا د علم په زدکړه کې اساسي شی دی همداشان د پرمختګ په برخه کې هم اړتیا اساسي ځای لري، عربي کې متل دی چې (الحاجة ام الاختراع) یعنې اړتیا ابتکار راوړي او پښتانه وایي چې مجبور ته غښتلی مه وایه، دا پښتو متل عینن د لوړ عربي متل مفهوم بیانوي، کله چې انسان اړ شي نو فکر کوي او له هرې وسیلې په کار اخیستو خپله اړتیا پوره کوي. د ماضي له علم څخه موږ کولای شو چې ډېری اړتیاوې او حللارې یې درک کړو. همداشان د تاریخ په اړه د معلومات را غونډول، د پېښو ذکر او یاد یې له موږ سره د حاضرو پېښو په تحلیل او شننه کې هم مرسته کوي، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستونزو په وړاندې حللار وړاندې کوي چې پرمختګ ته لار هـواروي. زموږ ژوند به هغه مهال ډېر بريالى وي چې له خپلې ماضي سره ژورې اړيکې وپالو، له تجربو يې ګټه واخلو او د يوه ښه استاد په صـفت يـې هر مهال لارښونو ته غوږ شو.

د تاريخ مطالعه د شخصيت په جوړولو کـې هـم مهمـه ده. د نـورو نيمګړتياوې چې تاريخ خوندي کړې دي که يې هر څوک ولولي نـو د خپل ځان په کمي هم بيا پوهېږي او د حللارې لټه به يې حتمن کوي. تاريخ د هر انسان لپاره ډېره غوره حافظه ده، خورا ډېر شيان يې موږ ته خوندي کړي دي چې په لوستو يې کولاى شو ډېر څـه زدکـړو. تـاريخ زموږ هويت او ډېر نور څـه هـم خونـدي کـړي دي، کـه د يـوه انسـان حافظه خرابه شي نو حتمن يې ټول مريض بولي، نو که د يـوه ملـت او قوم تاريخ ضايع شي هغه ملت و قوم به هـم د خپـل تـاريخ پـه ضـياع ناروغ وبلل شي.

د تاريخ ګټه دا هم ده چې موږ ته د بشر ماضي تر يوه حده تشريح کـوي، څـومره چـې مـوږ مخکـې ځـو او د ډېـرو جـزي شـيانو پـه اړه معلومات تر لاسه کوو نو په استناد يې هم نن او هم د پرون خورا زيات شيان تشريح کېږي. د بشري ټولنو په اړه بيخي ډېرې پوښتنې همداسـې ناحل پاتـه دي او د تاريخ علم يې له موږ سره په ښه سپړونه او حل کې مرسته کولاى شي. له دې امله نو د تاريخ په اړه ويلي شوي چې دا يـو اجتماعي ضرورت او صانع (جوړونکى) دى. اجتماعي ضرورت ځکـه دى چې د ټولنې په اړه ډېر څه را زدکوي او صانع له دې امله دى چـې د فرد او ټولنو په بدلولو کې اغيزناک دى.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاریخ د یوه رهبر پر شخصیت هم خپل اثر کوي، هغه رهبر چې تاریخ ګوري، د تېرو انسانانو له تجربو ګټه اخلي، د مشکلاتو په وړاندې د هغوی له حللارو سره خپلې نوې حللارې هم ملګرې کوي، د بریا رازونه یې کشف کړي او د خپل ژوند په اوږدو کې استفاده هم ځنې وکړي که یې امکان وو، نو دا کس به په خپله رهبري کې ډېر بریالی وي او خپلې ټولنې ته به ډېر څه په میراث پرېږدي او هم به د خپل ژوند مهال انساني ټولنې ته خدمت وکړي. د تاریخ همدې اهمیت ته په کتو نو دا وینا سمه ده چې وایي: تاریخ د ماضي او حال ترمنځ خبرې اترې دي.

۲۰۱۸/ ۱۱/ ۱۶

**سرچینې:**


۱/ التاریخ والمؤرخون، د حسین مؤنس.

۲/ التاریخ ومشاکل الیوم والغد، د محمد الطالبي

۳/ تفرج صنع، د عبد الکریم سروش لومړی چاپ

۴/ انسان، د علي شریعتي

۵/ درآمدی بر تاریخ پژوهی، د مایکل استنفورد

۶/ جامعه و تاریخ، د مرتضی مطهري

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د تعلیم، مطالعې او عمل تجرید

تجرید عربي لفظ دی، موږ یې په عمومي ډول خپله محاوره کې کاروو؛ البته د مطالعې یا عمل تجرید زموږ په ټولنه کې یا نه شته یا د نشت تر کچې کم دی. تجریدي مطالعه او عمل دادي چې پر یوه خاص کار او ځانګړي فن تمرکز وشي. انسانان د خپل ژوند په لومړیو کې عمومیات یا کلیات زدکوي، کله چې یې عمر زیاتیږي، د زدکړو سویه یې لوړیږي او د تخصص درجې ته ځي نو له کلي او عمومي جزئي او خاص ته سیر کوي چې اخیر یې پر یوه خاصه نکته ټول تمرکز راټول شي. همدغه کار که په عملي بڼه وي؛ نو د عمل تجرید ورته وایي، که په مطالعه کې وشي د مطالعې تجرید او که تعلیم کې وشي د تعلیم تجرید یې بولي او دا د هر انسان لپاره اړین څه؛ بلکې له دې پرته پرمختګ او اختراع ناشونې ده.

پخوا چې به خلکو زیاتره عمومیات زدکول، نو هغوی چندانې اختراعات هم نه لرل. تر یوه کلي لاندې حتمي جزئیات وي، که یوڅوک د کلي د پېژندلو هڅه کوي باید جزئیات یې لومړی وپېژني او بیا د هغوی له خواصو معلوملو وروسته د کلي پر پېژندلو د توانیدلو شونتیا زیاتیږي، اما که جزئیات معلوم نه شي او د هر یوه ځانګړې پلټنه ونه شي له دې په صرف نظر کولو د کلي پېژندنه که څوک وړاندې کړي هم به مبهمه وي او هم به خاصه ګټه پر مرتبه نه وي؛ د دې په نسبت به د هغه چا معلومات او نظر ډېر د اعتبار وړ او حقیقت ته نژدې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي چې د کلي تر جزئیاتو وروسته یې هم د جزي په اړه او هم د کـلي په اړه نظر ور کړی وي.

هر څومره چې تمرکز زیاتیږي په هماغه کچه د اختراع او تولنې ته د نوي شي د وړاندې کولو شونیا ډیریږي، تر اوسه مې د چا په اړه نه دې لوستي او نه مې اوریدلي دي چې د شلو علومو او فنونـو مـاهر و او پـه پلاني پلاني علم و فن کې یې دغه نوي کارونه کړي دي؛ اصلن د شلو علومو ماهر نه شته څوك چې ځان د ګڼو فنونو ماهر ګڼي حقیقت کـې تشې خبرې وي. په ننني نړۍ کې دا کار سخت ځکه دی چې د هر فن ساحه پراخه شوې ده او په تولـه معنا پر دې یوه ساحه غېږ راګرځول او ځان د مهارت تر کچې په پوه کول که ناشونی نه دی نو سخت کار خو له شك پرته دی.

د طب پـه برخـه کـې مـوږ د یـوه انسـان د بـدن لپـاره پـه لسـګونو متخصص ډاکټران لرو، په تولنه کې د دغه ډول حقیقت وجود خپله د عملي و تعلیمي تجرید اهمیت داسې پـه ګوتـه کـوي چـې انکـار یـې ناشونی دی.

دغه مهم ټکي ته نوره نړۍ په ډېره ښه توګه متوجې شوې ده، هغوی که د یوې موضوع په اړه څوك ږغوي هم هر کاره نه راغواړي او نه یې نظر ته اهمیت ور کوي، بلکې د متخصص په لټه وي که یې د نړۍ پـه هر کونج کې پیدا کړ چې په هره ژبه یې پر دې موضوع خبرې کـولای شوای هغه ورته مشکله نه ده، دوی ترجمه کوي اما یو غیـر متخصـص کس ږغول ورته ستونزه ده.

که دوه کسان عملن په سیاست کې ښکیل وي؛ یوه یې سیاست هم ویلی او عملي سیاست هم کوي، نو د ده ږغـول نسبت هغـه کـس تـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګټور دي او دی يې د هغه په پرتله وړ هم دی چې يوازې عملي سياست کوي، ډېر امکان لري چې په دې برخه کې د عملي سياست والا له تيوريکي پلوه له افلاس سره مخ وي، په عملي سياست کې ممکن هغه يوازې په محلي کچه سياستوال وي؛ خو هغه بل کس د سياستپوه په توګه له نړۍ وال سياست څخه خبر دی او په تيوريک لحاظ د نړۍ د سياستونو په اړه معلومات لري چې تر څنګ يې د عملي سياست محلي يا سيمه ييزه تجربه هم لري، نو طبعن به تر هغه بل د ده رغول هم ګټور وي او هم به يې مناسب شخص انتخاب کړی وي، دا قاعده که کلي نه وي نو پر اکثريت د تطبيق وړ ده.

که موږ په دې نظر يو چې ټولنې ته خدمت وکړو يا حد اقل ځانونه جوګه کړو؛ بايد له کلياتو او عمومياتو ور شوو او له خپل ذوق او اړتيا سره سم د تخصص يو مسند د ځان لپاره غوره کړو چې په دغه وخت کې هم ځان د خدمت جوګه بللای شي او هم يې خدمت په ټولنه کې موثر واقع کيږي. هره خبره نوې نه وي او نه هره خبره پر اوريدونکو تاثير کوي، ځوک چې له خپل زمان و مکان سره مناسب د خدمت ابزار ونه لري هغه به څه نوې خبره يا نوی کار وکړي؟ د نن عصر نوي ابزار د فنونو او علوم تخصصي کول دی چې له عموميت او هر کاره ګۍ څخه بايد ووزي. يوه بل مثال ته چې نن ښه سره لګيږي او مهم هم دی به راشم:

زموږ د ديني او شرعي متن علماء ولې د دين په اړه د يوه داسې تعبير له افلاس سره مخ دي چې د مکان، زمان او ټولنې پر شرايطو برابر وي؟ ځکه دوی د دې برخې له حالاتو سره مناسب او لازمي ابزار نه لري؛ له پښن سره که د اهنګرۍ وسايل نه وي هغه به څه وکړای شي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



گیله هم نه څنې کېږي. زموږ دیني علماء که څانونه د دین او شریعت متخصصین بولي بیا یې باید له حالاتو، زمان او مکان سره د تطبیق مناسب فورمولونه هم زدکړه کړي، د هغه تعبیر وړتیا هم په ځان کې پیدا کړي چې وخت یې څنې غواړي که یې وړاندې نه کړي نو دیني ارزښتونه به په ټولنه کې د ملنډو شي او په دې برخه کې به ټوله پړه د هغه معبر پر غاړه وي چې لازم و مناسب ابزار یې نه درلودل خو بیا یې هم د یوه داسې ټولنیز کار د انجامولو اقدام وکړ چې نه یې وړتیا لرله او حتا نه یې دا فکر کړی وو چې دغه هر څه ورته لازم او ضروري دي. نن چې د نړۍ په هره برخه کې د دیني مفکرین شته خو موږ یې نه لرو، ستره وجه یې همدغه ده چې موږ یې ابزار نه دي تیار کړي، زموږ علماء تر اوسه د تجریدي عمل او تعلیم په اهمیت نه پوه دي او نه ارزښت ورته لري. تر هغو به له افلاس سره مخ یو چې دغه عیني شرایطو زېږولي ټولنیز جبري شرایط مو نه وي پوره کړي او دا قاعده ده چې شرط نفي شي مشروط بیخي وجود ته نه شي راتلای.

ټولنې ته خدمت هغو کسانو کړی دی چې د تجرید په اهمیت پوه شوي او عملي کار یې هم له دې ځایه پیل کړی دی، په انساني ټولنه کې باید د تخصص ساحې وټاکلې شي او هر متخصص د خپل فن په ساحه کې کار وکړي چې که نوی کار ونه کړي نو هغه زوړ له اسلافو راپاته چوکاټ خو حد اقل ونه شرموي، اما که څوک تجرید ونه کړي پر هغه پرمختګ او اختراع د طې ټکی دی بلکې د نورو ثابت شوي اصول او چوکاټونه به هم په شرمونو وشروموي. دا اوس یو بهترین اصل دی چې که څوک د خدمت چیغې وهي خو تجرید نه کوي، نو اصلن خدمت نه غواړي بلکې یوازې یې کار تر شعاره دی. راځئ تجرید تجربه کړو او بیا یې له ګټو څخه برخمن شو!

۲۰۲۰/اګست/۱۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ژباړې سختيا او پېچلتيا

له ډېره وخته ژباړې سره سر وکار لرم، څو کلونه مخکې به مې له اردو زياتې ژباړې کولې، وطن ته په راتلو مې عربي ژباړې هم پيل کړې، خو په دې برخه کې چې مې څومره زيات کار کاوه همدومره متوجې کېدمه چې ژباړه حتا په ځينو ځايونو کې تر ليکنې هم سخت کار دی. ما د کرنتين په ورځو کې له عربي د يوه سخت متن سيرت ترجمه کاوه چې کله ناکله به يې د پښتو جملو جوړښت او سلاسيت دومره وخت راڅخه اخيست چې که عادي ژباړه وای، نو څو مخونه به شوې وای، خو په دې وخت کې ما به يوازې يو مخ ژباړه په تکلف کړې وه.

د ژباړې ځينې سختۍ داسې دي چې لومړي سر کې ښايي ځينې کسان ورته متوجې نه شي، ورو-ورو چې له دې فن سره روږدېږي په پيچلتيا يې هم پوهېږي او اخير په وازه خوله اعتراف کوي چې ځينې ستونزې يې لاينحل دي او د موري زوی نه شي کولای چې ژباړه دې په ټوله معنا د هغه اصلي متن گرده مفهوم په داسې ډول را ولېږدوي چې يو څوک يې ژباړه ولولي نو د ژباړې او هغه اصلي متن ترمنځ درځ ونه ويني او لکه يو متن چې يې دوه ځله لوستی وي.

دا کار زما په اند د بشر له وسه وتلی دی، په څو دلايلو دا کار نه شي کېدای:

اول ژباړه لکه د کلتور ترجمه چې کوي، د انسانانو کلتورونه سره يو ډول نه دي، له دې امله که ژباړه کېږي نو کلتوري توپير حتمي دی او

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې توپير راپيدا کېږي نو حتمي خبره ده چې په ټوله معنا توپير په اتحاد بدلول امکان نه لري.

دويم يوه ژبه له بلې سره فرق کوي، په يوه کې د موادو زياتوب، د اصطلاحاتو خاصه او پر ځايه کاريدنه، ترکيبي جوړښت، د علمي او تخصصي ځانګو لپاره ځانګړي نومونه او اصطلاحات چې په خپل چوکاټ کې له ځينو ځانګړتياو سره خاصه معنا افاده کړي، په بله ژبه کې دا ټول خصوصيات هيڅ امکان نه لري، له دې امله نو د ځينو ژبو ويونکي مجبورېږي چې د اصلي متن مفهوم د خپلې ژبې په لغاتو کې نه شي ادا کولای هماغه لفظ يې اخيستی وي او که ډېر ناانشنا وي تعريف يې ورسره ليکلی وي چې دا کار د ژباړې په خوند کې لخته ور وهي او خوند يې اوبه وړي او د اصلي متن سره يې فاصله کرار کرار زياته شي او يو ډول بې ذوقي ورته لار پيدا کړي.

درېيم مهم ټکی دادی چې د ليکنې مهال چې ليکوالو په کومو احساساتو او عواطفو ليکنه کړې ده، دغه احساس او عاطفه يې مترجم نه شي درک کولای، دی چې په کوم محيط کې اوسي د هغه په ټوله معنا درک له ژباړن سر نه شي پيدا کيدلای، ليکوال چې په خپله ليکنه کې مطالب څنګه او په کوم ترتيب اوډي ممکن ژباړن يې په ټول هدف پوه نه شي، د هغه ځينې خاص اصطلاحات کيدای شي هغه د خاص وخت او خاص مکان لپاره کارولي وي چې ژباړن يې شوني ده درک نه شي کړای، دا ټول احتمالات چې په يوه ژباړه کې ځای کړې، نو بيا لوی واټن سره پيدا کوي چې په هيڅ ډول يې سره رانژدې کول ممکن نه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



څلورم دلیل دادی چې د ژباړونکو ترمنځ جالب فرقونه شته، تکړه مترجمین دي خو د اصطلاحاتو په ژباړه کې د ځمکې او اسمان فرق کوي. ځینې د بلې ژبې اصطلاحات داسې ترجمه کوي چې لوستونکی د هغه صلي متن چاپېریال ته نه بیایي بلکې د ژباړونکي محیط درباندې ګوري؛ نور بیا همدې اصل ته پام کوي چې د لیکوال لیکنه باید داسې ترجمه شي چې د هغه د چاپېریال خیال پکې وساتل شي څو لوستونکی د لوست مهال د هغه چاپېریال له ځان سره انځور کړي او هلته د هغه په سیمه کې په ګښت ورسره وتلی وي.

پنځمه خبره داده چې په یوه متن کې د الفاظو د ځای بدلون معنا ته حتمي تغییر ور کوي چې ښایي کله بیخي لوی توپیر وي، دغه ټکی هم د ژباړوونکو ترمنځ باوري نه دی چې دوی به د ځای او مکان په بدلون سره د یوه لفظ کومه ترجمه انتخابوي؟ په دغه کار کې ممکن ځینې ژباړونکي له هغه اصلي مفهوم څخه لرې ولاړ شي او هغه څه چې لیکوال یې غواړي ووایي دی یې بیخي سرچپه خبره وکړي چې د اصلي مطلب پر ګیډه تر ناستې وروسته به نو لوستونکی د هغه اصلي متن خوند ډېره ځنې ووینې.

نتیجتن زه دې پایلې ته رسېدلی یم چې ژباړه څکه تر لیکنې سخت کار دی چې په لیکنه کې دې فکر خپل وي که تحقیقي لیکنه وي که طنزیه او که هره یوه، خپل قلم دې په خپل لاس کې دی چې په یوه عبارت دې خبره پر طبعه برابره نه شوه په بل یې ولیکه او لس واره یې رنګه کړه بیا یې په مختلفو الفاظو ولیکه؛ مګر په ژباړه کې ته یوه لار لرې چې پر همدې نرۍ لار دې تلل حتمي دي دا چې په ځغاسته پر ځې، پیاده مزل کوې، په ګونډو پر تیرېږې او که پر څخېږې دا نو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړن تر مسلکیتوب، پر دواړو ژبو مهارت، د متن دقیق فهم او احتیاط ته په کتو له یوه تر بله ډېر زیات توپیر کوي.

بناءً ژباړه د هر کس و ناکس کار نه دی، که د علمي متونو ترجمه کېږي، نو له مسلکي کسانو ماسیوا که یې نور بازاري کسان کوي، تر دې دا ښه ده چې هغه کتاب او متن اصلن ترجمه نه شي. د خلکو خو به په ذهن کې وي چې دغه علمي کتاب نه دی ترجمه شوی یو تکړه ژباړن به پر پېښ شي او تر یوه حده به یې حق ور ادا کړي؛ دا کار هغه څوك کولای شي چې هم مسلکي وي، هم یې متن لوستی وي په جګېدل نه بلکې په نوزي، پر دواړو ژبو د کمال تر اندازې مهارت ولري او د لیکوال له کلتور سره اشنا وي که اشنا نه وي نو هغه سخت ځایونه چې دی یې د مفهوم په اخیستلو کې شك لري، په دغو ځایونو کې د لیکوال له کلتور سره اشنا شي چې له هغه ځایه دقیقه معنا ورته پیدا کړي او اشتبا ونه کړي.

یوه خبره چې زه له ډېره ورته وخته ورته متوجې شوی یم هغه له ژباړې ژباړه ده؛ زما په اند دغه کار که ونه شي ډېر به ښه وي، ځکه د دویمې یا درېیمې ژباړې فاصله له اصلي متن سره زیاتېږي چې فرقونه یې له اصلي مطالبو سره حتمي دي او یو ډول له لیکوال سره خیانت دی، له دې امله چې هغه اصلي متن نه شته ممکن ژباړن په ځینو ځایونو کې تیروتی وي، د خپل چاپېریال تر دومره اغېز لاندې راغلی وي چې د لیکوال سبك یې نه وي رعایت کړی او هر څه یې د خپل کلتور په قالب کې اچولي وي چې له دې متنه ژباړه بیا له اصلي متن سره فاصلې ته لار جوړوي او هغه اصلي مفاهیم امکان لري چې په سم ډول یې حق ادا نه شي؛ یا د اصلي متن اصطلاحاتو ته په خپله ژبه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



مناسب اصطلاحات نه شي پيدا کولای چې د اصلي مفهوم په رسولو کې خنډونه ايجادوي. ما خو دغه ډول ژباړې ليدلې دي چې زياتې تيروتنې پکې تر سترگو کېږي.

د قران کريم ژباړې همداسې ناخبره، بې مسلکه، پر ژبو مهارت نه لرونکو او د عربو له کلتوره پرديو کسانو کړې دي چې د خلکو يې د الله له کتابه خوا ور توره کړه. له قران کريمه د اختلاف يو لوی لامل دادی چې د قران له کلتور سره خلك اشنا نه دي، د هغه کارولې ژبه چې عرب څنگه او په کوم ځای کې کاروي دوی نه دي په خبر، پر خپل کلتور او ژبه يې قياسوي چې گڼې ستونزې څنې پيدا شوې او دغه ابهام بيا له جهالت او ځايي عنعناتو او محلي کلتور سره لاس يو کړی دی او انسانانو ته يې دومره مشکلات ايجاد کړي دي چې تر دوو سپوږمو يې راوستلي دي.

يوه ډېره جالبه ژباړه چې اوس رواج شوې ده او بيخي زياته هم ده هغه د سياسيونو د کتابونو ژباړه ده چې هم لوستونکی خندوي او هم يې ژړوي. د ژړا ځای دادی چې مال پر مصرفيږي، د خلکو وخت نيسي او خلك فکر کوي چې اصل شی راته رسيدلی دی خو هغه له مصارفو سره ناسم شی له بده مرغه ورته رسيدلی وي. خندا بيا د ژباړونکي پر ژباړه سړي ته ور شي چې وه ملا وروره! روښانه متن دې سره پيچلی دی او يو داسې کروت دې تر جوړ کړی چې نه ولاکه اوس ستا خوښ شي او نه زما، که دې دومره د کتاب په متن سره نه خلاصيدای، له موضوع يې ناخبره وې، له کلتور او محيط سره دې هيڅ بلدتيا نه در لوده نو دې څه کاوه خو يو بل اسانه کتاب به دې انتخاب کړی وای؟ دغه بازاري ژباړې موږ ته په سرخوږي اوښتې دي او که

(c) ketabton.com: The Digital Library



سمې نقد نه شي او دغه لوی نومي ژباړونکي په سم ډول ونه ټکول شي نو بازار به دغه ناسمې ژباړې پر سر واخلي او له خلکو به د سمو و ناسمو ژباړو او کتابونو د انتخاب لار ورکه کړي هسې هم زموږ کهول نوی پر مطالعه راغلی دی او که دغسې بې لارۍ په دې میدان کې روانې وې نو ژر به خلک له کتابه او ژباړې تور زړي شي چې بیا راماتول به یې هم زیات زیار وغواړي او هم زیات وخت. د فن ماهرین باید لاس تر زنې نه کېني، په دې میدان کې د نقد دغه تشه باید ژر ډکه کړي او د بازار د خرابېدلو مخه ونیسي. موږ به خپل کار ته د دین په ساحه کې دوام ورکړو او د ژبې ماهرین و پر ژباړه نظروال دې دغه میدان ته ور شي چې ډېره اړتیا یې محسوسېږي.

۲۰۲۰/سپتمبر/۱۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ستاینه او نقد

څوك په ښو يادول، دا که تش الفاظ وي يا هم مادي يا معنوي څه ورسره وي، ستاينه ده، نقد د ناسم عمل/وينا غندل دي. که څه هم نقد مثبت او منفي دواړه اړخونه لري، خو دلته يې يو اړخ مطرح دی.

په انساني ټولنه کې که له ستاينې او نقد څخه هر يو کم شي، ټولنه زيان ويني؛ بشري ټولنه په هر حال کې دواړو ته اړتيا لري، که ستاينه ونه شي، پر يو کار تشويق به نه وي، هڅونه به نه وي، کارونو او ابتکاراتو ته به خلك زړه ښه نه کړي، بل لور ته که نقد نه وي، ټولنه به اصلاح نه شي. نقد د يوه شخص او ټولنې دواړو لپاره د اصلاح ښه لار ده، يو کس د خپلو کارونو مکمل جاج نه شي اخيستلای، هغه خپلو کارونو ته له يوې زاويې ګوري او نور کسان له بلې، له دې امله يې نقد د کار/موضوع نوور ابعادو ته پام کوي، په همدې بڼه ټولنه هم ده، په يوه ټولنه کې ناسم رواجونه او کارونه کيږي، که د ټولنې هوښيار خلك د هغې ټولنې دا کارونه او رواجونه نقد نه کړي، په هغه ټولنه کې به اصلاح را نه شي.

البته د بل پر کار ستاينه، يا هغه کار چې بيخي شوی نه وي اما خلکو ته دورغ وويل شي چې هغه کار ما کړی دی، او له خلکو د ستاينې هيله لري، دا شرعن او اخلاقن ناسم عمل دی، قران کريم وايي:

{وَيُحِبُّونَ أَنْ يُحْمَدُوا بِمَا لَمْ يَفْعَلُوا فَلَا تَحْسَبَنَّهُمْ بِمَفَازَةٍ مِنَ الْعَذَابِ}.[آل عمران: ۱۸۸]

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: او دوی خوښوي چې پر هغو کارونو یې ستاینه وشي چې دوی نه دي کړي، نو له عذابه د دوی د ځان خلاصونې په اړه تـه بـې فکره اوسه.

انساني وجدان دا نه مني چې د بل په خولو شوی کار دې زه ځان ته منسوب کړم، یا دې خلکو ته دوکه ور کړم، هغه کار چې نه وي شوی، زه دا په فکر کې ور کړم چې کړی مې دی، په یوه کې د بل انسان حق تلفي وشوه او په بل کې دورغ وویل شول، چې دواړه د اخلاقیاتو لـه مخې ناسم کارونه دي.

په دواړو کې تر حده زیاتوب د بشري ټولنې او شخص په زیان دی، نه به په ستاینه کې مبالغه کېږي او نه به نقد تر اندازې زیات وي؛ تر اندازې زیاتوب یې په دې معنا چې که نقدېږي هم باید د کړي کار د ناسموالي په تناسب وشي او که ستاینه وي، بیا هم عمل په نظر کې نیول کېږي، دومره شاباش یو چا ته په کار دی چې څومره یې عمل کړی وي، کله یو څوک یوازې د خولې په کلیمو کفایت وکړي، کله یوازې کلیمې او جملې کفایت نه کوي، باید ډالۍ ور کړل شي، ځینې وختونه یې ستاینې ته غونډه ونیول شي، دا هر کار د هغه کس د کړو خدمتونو په تناسب باید وشي، نه تر زیات وي او نه تر کم.

د کلیمو په برخه کې به تر خپله وسه هڅه کېږي چې مبالغه امیزه الفاظ کار نه شي، لکه: بې مثاله شخص، د ده په شان نه بل شته نه پیدا کېږي، دا ملت به بل داسې کس پیدا نه کړي، بې شمېره کتابونه یې لیکلي دي، بې حسابه خدمتونه یې دې قوم ته کړي دي او داسې نور. د صفاتو په برخه کې به یې یوازې هغه صفات یادېږي چې په هغه شخص /ټولنه کې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ په ټولنه کې له بده مرغه له ډېره وخته د ستاینې ډېر افراطي شکل رواج شوی دی، تاسو به د یوه دیني عالم په اړه زیات ځایونه اورېدلي وي یا به واورئ چې کله یې د وینا لپاره انانسر- ور غواړي، شیخ الحدیث والتفسیر، جامع المعقول والمنقول، فرید العصر- وحید الزمان، ترجمان المذهب، مجاهد، مرشد، استاذ العلماء والمجاهدین حضرت مولانا پلانی صاحب.

ښه دې پيړو ته څه اړتیا ده؟ که یوازې اول دوه صفات یې را واخلو، چې هم محدث دی او هم مفسر، نو زموږ د وخت او سیمې پر علماؤ خو بیخي درانه دي؛ بلکې تر موږ وړاندې او د نورو سیمو پر عالمانو هم دواړه درانه دي. په قران کریم کې د تاریخ بحثونه شته، ټولنیز موضوعات دي، دیني او شرعي احکام دي، له کاروبار سره تړلي مسایل یې بیان کړي، د کائیناتو د پیدایښت په اړه ږغېدلی، میتافزیک مسایل یې را خیستي، د عبادت او عقایدو موضوعات پکې شته، د قران د فصاحت او بلاغت چیلنج پکې راغلی او ګڼ نور بحثونه، یو څوک که مفسر کېږي، که په دې هره برخه کې متحصص نه وي، نو داسې خو به هم نه کوي چې د هرې موضوع په اړه یوازې د بل پر شوې خبره د ده اتکا وي او دغه کس ته بیا موږ مفسر هم وایو؟!

تر دې که تېر شو، د حدیثو برخه را واخلو، نو لومړی خو د حدیثو کتابونه خورا ډېر دي، د حدیثو شمېر لکونو ته رسېږي، موضوعات یې ډېر دي، نژدې د ژوند د هرې برخې په اړه روایات پکې شته، د اصولو بحث یې یوه لور ته ګران دی او د حدیثو ترمنځ تطبیق، پر صحت او سقامت یې اختلاف، د زرګونو راویانو شتون، په دې برخه کې د باورونو بحث بېل دی چې د چا روایت ومنل شي او د چا دا رد شي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور ډېر بیخي ډېر بحثونه، موضوعات او ابعاد شته چې دلته یې یادول اړین نه دي؛ که د انسان ژوند را واخلو او بیا زموږ ستونزو ته نظر وکړو، نو زما په اند هغه څوك چې هم مفسر- وي او محدث، د دې دواړو برخو به یې یوه هم په سر نه وي رسولې.

له دې ور هاخوا، نو جامع المعقول والمنقول، بیا تـه سره لګـوه! دا نور القاب یې پر همدې قیاس کړئ.

له دې قشره هاخوا که د ټولنې د نورو اقشارو ته پام وکړو، دلته هـم په ستاینه کې افراط کېږي، مثلن: د یوه لیکوال په اړه که وویل شي چې ډېر زیات کتابونه یې ترجمه کړي او لیکلي دي، له دې امله نو د نړۍ د تکړه لیکوالانو او ژباړونکو لقبونه و نومونه ورته کارېږي؛ اما کـه د کـار کیفیت او ټولنې ته پر ګټه یې فکر وشي، نو د ستاینې پر ځای باید یـو څه ټکول شوی وای. نوم اخیستل به یې مناسب کار نه وي!

یوه خپرندویه اداره چې ډېر کتابونه نشروي، که له دې امله د ستاینې وړ وي چې زیات کتابونه یې چاپ کړي وي، بیا خو سمه ده، اما که د ټولنې ګټې، د کار کیفیت، په کتابونو کې شته پیغام او نورو ابعادو ته یې فکر وشي، نو بیا د ډېرو پر ځای به یې بیخي کـم پـه ستایلو ارزي. د کتاب د ژر چاپ لپاره، یو کتاب په څو کسانو ژباړي، بیـا پـه ډېـر لنډ وخت کې هغه کتاب چاپ ته چمتو او بله ورځ په بازار کې وي، یعنې که یو کتاب په امریکا کې چاپ شي، یوه اونۍ وروسته همدلته زموږ په هیواد کې د هغه پښتو بڼه زموږ په لاس کې وي، د دې د کیفیت به څه حال وي؟ داسې یو کتاب چې پر سیاسي، اقتصادي، کلتـوري، نظـامي او نورو مسلو یې بحثونه کړي وي، د لیکوال ټولنه یې له موږ لـرې هـم وي، زموږ په ټولنه کې داسې تکـړه ژبـاړونکي چـې هـم پـر دې یـادو

(c) ketabton.com: The Digital Library



موضوعاتو د ژباړن په توګه برلاسی وي او هم دې د ليکوال له کلتور او ژبې سره اشنا وي، ډېر کم دي، نو په يوه وخت کې دومره ژباړونکي، چې پر دې معيار پوره وي، له کومه شوو چې يو کتاب ترجمه کړي؟ بيا يې داسې تکړه ايډيټر پيدا کړی وي چې هم د دې ژباړونکو سبک يو ډول کړي او هم ترجمه له اصل کتاب سره وګوري، دا کارونه په دومره لنډه موده کې وکړي چې يوه اونۍ کې د کتاب ترجمه، ايډيټ، ډيزاين او چاپ چارې ټولې پای ته ورسېږي؛ دا که ماشينان نه وي، فکر نه کوم چې د انسانانو په وس دې پوره وي، اما زموږ خلک، ليکوال او ژباړونکي دغه بې معياره کتابونه هم ستايي، خپرندويه اداره/ادارې خو بيخي د ستاينې وړ دي.

که د شاعرانو په اړه فکر وکړو، پر ټولنيزو رسنيو يو شاعر خپل شعر خپور کړي، بس زموږ زياتره کسان که په شعر له فني اړخه پوهېږي که نه، ورته ليکي: ډېر ښه، بيخي اعلا، جالب دی، افرين دې وي، خوند دې په کړی. په داسې حال کې چې نه به دا ستايونکي په شعر پوهېږي، نه به د هغه شعر له فني اړخه ډېر جالب وي او ټولنې ته د پيغام کيسې به يې نه نو کوو. ښه څه اړتيا ده چې ناحقه د يو شي/شخص ستاينه کوو؟ که له هر يوه پوښتنه وشي، چې ولې جالب دی؟ حيران به شي چې څنګه ځواب در کړي.

که د کور چاپېريال ته راشو، په کور کې مشران کشران څنګه ستايي؟ زه يوه روځ د خپلوانو کره ورغلی وم، يوه مولوي صاحب د خپلو دوو زامنو ستاينه راته کوله، د مشر زوی په نسبت يې کشر- ډېر وستايه، ان داسې خبرې يې وکړې چې مشر به حتمن زموږ د ټولو په مخکې د کمترۍ احساس کړی وي. زموږ ستاينې داسې وي چې دوه کسان په

(c) ketabton.com: The Digital Library



مقابله کې سره راولو، يو د بل ضد ته يې دروو، زما په ستاينه د هغه بل کس له دې ستايل شوي کس سره کينه پيدا کېږي.

دا د ستاينې ناسمه طريقه ده، د ستاينې ډول ډېر مهم دی، د کليمو پر ځای کاروول اړين دي، زياتوب به پکې نه وي، که يو څوک تر خپل حد زيات وستايل شي، دا ښه کار نه دی، خو که د کار په تناسب کم وستايل شي، زما په اند به پروا نه کوي. ناحقه او بې ډوله ستاينې هم د ټولنې د خرابېدو سبب کېږي او هم د اشخاصو. زموږ ملت ته د غيور، مجاهد، ښه مسلمان، د زبرځواکونو ماتونکي القاب ور کول کېږي، خو هغه کارونه چې په همدې ملت کې ترسره کېږي، په شريعت کې حرام وي، اخلاقن ښه نه وي، په قانون کې ممنوع وي، هغوی ته بيا څوک گوته نه نيسي؛ دا بې انډوله ستاينه ده، پايلې به يې هم داسې سرچپه وي لکه زموږ د ټولنې.

نقد مو هم عينن د ستاينې په شان دی، که يو څوک زما ملگری وي، ستاينه يې تر حد زياته کوم، که زما د کورنۍ وي، هر څه يې بولم، البته که د داسې کورنۍ وي چې زما ورسره جوړه نه وي، يا زما ملگری نه وي، بيا يې افراطي غندنه کوو. موږ ټولو ته د مسلمانانو په صفت د قران کريم دا هدايت دی:

{يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُونُوا قَوَّامِينَ بِالْقِسْطِ شُهَدَاءَ لِلَّهِ وَلَوْ عَلَى أَنْفُسِكُمْ أَوِ الْوَالِدَيْنِ وَالْأَقْرَبِينَ} [النساء: ١٣٥].

ژباړه: اې مومنانو! د الله لپاره په شاهدۍ کې له پوره انصاف څخه کار واخلئ، حتا که ستاسو پر خپلو ځانو، مور و پلار او خپلوانو وي.

زموږ د ټولنې يو کس چې خلکو د بوتل لقب ور کړی وي، بلـه ورځ اتل وي، يو څه وخت وروسته بيا د اتل له درجې را کښته شي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



غندي يې او افراطي نقدونه پر کيږي، ان هغه کسان يې هم کوي چې د هغه د کار په نوعيت به نه پوهيږي، پر يوه داسې کړنه به يې نقدوي چې دی به يې په اړه هيڅ نه پوهيږي. ما په کليوالو سيمو کې يو داسې بزگر ليدلی چې نه زدکړې لري، نه تجربه، نه يې نور هيوادونه ليدلي، البته د سياست په اړه به يې خبرې کولې، ولسمشران به يې پړه بلل، يوازې د خپل هيواد ولسمشر هم نه؛ بلکې د نورو هيوادونو مشران به يې هم ملامت کړل.

په نقد کې مبالغه زموږ په ديني قشر کې هم ډېره ده، هغوی نقد تر ډېره حده نه کوي، سمدستي يې د اسلام له ليکې باسي، دا ډېره افراطي ډول دی. يو څوک بايد د هغه د کړنې په اندازه نقد شي، معقول نقد به وي او دليل و توجيه به لري، نقد بايد د دې سبب نه شي چې چپه پير وکړي، تر حد زياتوب يې زياتره وخت د چپه پير کولو سبب کيږي.

ماشوم که يو ناسم کار وکړي، موږ ورته وايو ټمبله، د يوې خوا نه يې، ښه يې سپک کړو. که مشر د اوبو گيلاس چپه کړي، د کور بل مشر غږ ورته وايي، پروا نه کوي، باران به وشي، که ماشوم دا خطا وکړه، ټول يې سپکوي، ملامتوي يې، ناسم نومونه ورته يادوي، حتا وهي يې هم. داسې يو بام دوې هواوې دي!

اصلن په ستاينه او نقد کې د اعتدال لپاره معتدلو خلکو/ ټولنې ته اړتيا ده، موږ ډېرو جنگونو، فقر، بې کاره رواجونو، بې علمۍ او گڼو نورو عواملو زموږ د ټولنې لويه برخه له نارمل حالت څخه ايستلې ده. پر ټولنيزو رسنيو د يوې جنجالي موضوع د شاربلو مهال زموږ د ټولنې دغه حالت انسان ته ښه معلوميږي. له خپل دريځه هاخوا د مخالف

(c) ketabton.com: The Digital Library



فکر خبرې نه شو زغملای، حتا ځانونه له پوهنتونو فارغ بـولي، مگـر د مخالفت مهال به دومره را ټیټ شي چې انسان ورته حیرانېږي.

په نقد او ستاینه کې افراط کول، بدې پایلې لري، زموږ ټولنه له دې رنځه کړېږي، په دې اړه ډېر کار ته اړتیا ده، که وواېم چې پیـل دې لـه کورنۍ تربیې او د تعلیمي ادارو له چاپیریال، نصـاب او د تـدریس لـه میتوده وشي؛ نو زما په اند پر ځای خبره به وي.

۲۹/۱/۲۰۲۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د افکارو غلا

د بشر په تاریخ کې د علم او افکارو غلا خورا اوږده مخینه لري، اوس چې د افکارو او علم د لیږد وسایل زیات شوي دي نو د غلا دې ډول کې هم زیاتوب راغلی دی. د پښتو په نسبت اوس مهال د نړۍ مختلفې مشهورې ژبې د زیاتو خلکو زده هم دي. په خواله رسنیو کې بیا د خلکو افکار زیات کښته پورته کیږي او د غلا زمینه یې هم خلکو ته مساعده کړې ده. خو دا یو بد او کرغېړن عمل دی، د افکارو غلا څه ده؟ په اړه یې خورا ګڼ تعریفونه وړاندې شوي دي، زه یې دلته یو مشهور تعریف کوم:

د بل افکار د اصلي سرچینې له ذکر پرته د ځان په نوم خپرول؛ د افکارو غلا ده؛ لیکل او نه لیکل یې شرط نه دي.

ځینو کسانو په تعریف کې دا هم اضافه کړي چې د بل ترکیبونه، اصطلاحات او کلیمې د هغه له نوم پرته راوړل ادبي یا د افکارو غلا ده. که دا تعریف ومنو نو بیا بیخي ډېر کسان د ادبي غلو په لیست کې داخلیږي. اما زما په اند ترکیبونه، اصطلاحات او کلیمې د ټولو مشترکات دي، له دې امله به یې په کارولو کې ستونزه نه وي او بل د یوې اصطلاح، یا ترکیب یا هم کلیمې هغه لومړی پنځونکی ژر نه شي پیدا کېدای چې خلک یې په خپلو لیکنو کې هغه ته نسبت وکړي له دې امله هم د اصلي سرچینې له ذکر پرته د دې استعمال زما په ګومان باک نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که څه هم د ټولنیرو پدیدو په اړه یو تعریف نه وي، بلکې ګڼ تعریفونه یې کېږي خو زما په اند یې تر ځینو تعریفونه دا تعریف غوره او جامع دی. په نیټ کې یې ما ځینې تعریفونه پیدا کړل چې یا خورا اوږده ول یا هم بیخي مختصر، هلته د زیاتو تعریفونو تر لیدو وروسته د دې پاس تعریف الهام مې تقریبن له هغو واخیست.

دا غلا په ټوله نړۍ کې رواج ده او له نن څخه مخکې هم مشهور کسانو دا غلا کړې ده او نن یې هم مشهور کسان کوي. حتا داسې کسان چې د هغه په نوم بازار ته راوتلی کتاب چې اصلن د بل کس وي میلیونه نسخې خرڅ شوی هم دی، مګر تر دې هر څه وروسته ثابته شي چې کتا ب د هغه نه وو بلکې د بل کتاب یې په ځان پسې تړلی و.

زموږ په ټولنه کې هم ځینې کسان دا کار کوي. زما یو خوریی وو چې په فیسبوک کې یې تر خپلې سویې لوړې خبرې لیکلې. ما یوه ورځ ټلیفون ور وکړ چې دا لیکنې له کومه کوې؟ لومړی یې ځان داسې ونیو چې زه پوه نه یم ستا هدف څه دی؟ بیا مې په واضح ډول ورته وویل چې د فیسبوک لیکنې دې له کومه کوې؟ دا خبرې ستا تر سویه لوړې دي او ته له دې سره چې لیکې یې، هم کېدای شي پرې پوه شوی نه یې؟ کرار یې راته وخندل، بیا وویل: له ما سره یو کتاب دی چې د پوهانو خلکو خبرې یې را ټولې کړې دي، له هغه کتاب یې لیکم. ما ورته وویل: داسې مه کوه، د هر چا خبره چې لیکې یا د هغه کس نوم ور سره لیکه یا هم په دوو لینډیو کې یې لیکه چې خلک پوه شي دا وینا ستا نه ده. ځکه په دې ډول خلکو ته بدنامېږې؛ که سبا در سره مخ شي یا هم نورې فیسبوکي لینکې دې وګوري نو دستي دې حقیقت ورته معلومېږي او بیا دې په خبره خلک باور هم نه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو بل وخت مې بیا اخښي همداسې کول، زموږ له کوره یې کتابونه وړي وو او له هغو کتابونو یې بسته پاراګراپونه غلا کول او په خپل نوم یې نشرول. بیا مې یو مهال ورته وویل چې دا کار ښه نه دی، خلک تا پېژني داسې مه کوه چې د کتابونو خبرې په خپل نوم خپروې. وروسته یې دا کار لږ کړ خو ختم یې نه کړ.

یو بل کس مې پېژاند چې د نورو بسته کتابونه یې په خپل نوم چاپول. یو چا راته ویل ماته یې یو کتاب راکړ چې دا راته ترجمه کړه. کله چې مې کتاب تر سل زیات مخونه ورته وژباړه بیا یې بل راکړ چې دا هم تر دا په ښه شوي ځایه ترجمه کړه. ما دا کار هم ورته وکړ او خپله مزدوري مې ترې واخیسته، مګر بل ورځ که ګورم هماغه ترجمه یې سره ور وړې وه او د کتاب په منځ کې یې ځینې خبرې خپلې هم کړې وې، کرار یې پر دا پښتی لوی خپل نوم له غټو القابو او تخلص سره لیکلی وو!!!

اروانښاد پېروز هم یوه ورځ راته ویل چې د (قران او ساینس) په نوم ده یوه لیکنه کړې وه، بل وخت که ګورم زما لیکنه په یوه اخبار کې د بل کس په نوم نشر شوې ده. بیا مې هغه ته مسیج وکړ چې زما لیکنه دې ولې په خپل نوم نشر کړې ده؟ د ده په ټکو چې هغه خپله غلطي ومنله او له بخښنې سره یو ځای یې ځینې عذرونه هم بیان کړل. ده ویل ما هم بېغ ورته ونه کړ چې ځه خپله تېروتنه منې.

د مولانا وحید الدین خان په نوم یو افغاني الاصله هندی عالم دی چې د دین او ټولنیزو مسلو په اړه یې ځینې ډېري جالبې خبري کړې دي. له ماسره د هغه ډېر کتابونه دي او کله ناکله به مو د هغه په نوم دهغه وړې لیکنې نشرولې او له دې سره مو د هغه ځینې کتابونه او یو

(c) ketabton.com: The Digital Library



تفسیر هم ترجمه کړل، مگر بل وخت که گورم یو کس زموږ ترجمه شوې لیکنې په خپل نوم خپروي. نه یې زموږ د ژباړې یادونه کړې ده او نه یې د مولانا وحید الدین نوم اخیستی دی او دا هر څه یې هوبهو په هغه بڼه نشر کړي دي چې موږ ترجمه کړي وو؛ دې کس دومره لوی جرأت کړی وو چې په ډېره مېړانه یې پر خپل وال دا پردي افکار نشر کړي وو او ده غریب یې د ژباړې زحمت لا هم نه وو کړی دا خو پرېږده چې د افکارو تولید دې وکړي.

ما له ځان سره فکر وکړ چې دا کسان تر خپلې سویې لوړې خبرې نشروي، نو که هر هوښیار انسان ور سره مخ شي د ده دوکه سمدستي معلومولای شي، ځکه دی په خبرو کې خپله علمي ذخیره او وړتیا دستي ورته ښکاروي او هغه پوهېږي چې پر وال دې نشر شوې لیکنې خپلې نه بلکې د غلا دي. دا کسان هم اوس ځانو ته بدنامي پرېږدي او هم په تاریخ کې.

یو بل مشهور لیکوال او سیاسي رهبر بیا پېژنم چې د افکارو غلا خو یې له وخته کوله اما داسې کارونه یې لا هم وکړل چې له عربي ژبې یې د قراني قسمونو په اړه یو کتاب ترجمه کړ او په پښتو کې یې خپل نوم پرې ولیکه چې گواکې دا ابتکار ده کړی دی. نادره دا ده چې په خپل تفسیر کې یې هغو تفاسیرو ته یا ریفرینس نه دی ور کړی چې ده غلا ترې کړې ده یا یې هم یو یا دوه ځایه مازې یاد کړي دي. په دې ډول غواړي خلکو ته څرگنده کړي چې ده له پخوانو زړو تفسیرونو استفاده کړې ده او دا نوي ابتکارات یې ټول خپل دي. مگر ما ته د لوست مهال معلومېدل چې دا افکار یې له چا اخیستي دي او هغه یې له کومه یوه پټ کړي؟ حتا د خپل تفسیر نوم یې لا له یوه بل اردو تفسیره

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترجمه کړی دی؛ زه دا نه وایم چې نن به خلك هغه تر مرګ را ونیسي، مګر پر دې کتابونو به یوه ورځ حتمن یو څوك څېړنه کـوي، ممکـن د نورو ژبو له تفسیرونو سره یې ښه په خوند وګوري او په دې راز پوه شي چې دا افکار له کومه ځایه غلا شوي دي؟ ان د هغه کتاب یا مولف نوم هم نه دی ذکر شوی. په غلاکې نو دا د خپل ماډل نمبر ون غلا ده چې نه له یوه کتابه شوې ده نه له دوو، بلکې خورا ډېر کتابونه یې پسې کتلي او تر استفادې وروسته یې نـه د کتـاب حوالـه ور کـړې ده او نـه یـې د لیکـوال نـوم یـاد کـړی دی. مـا لـه دې کتـابونو سره ځینـې ځایونـه مقایسه(پرتله) کړل ان ټکي په ټکي یې هغه ځایونه را ترجمه کړي وو، له ماسره نژدې ځینو کسانو ته مې وښودل چې ګورئ خلك څومره پـه سپین سترګۍ د نورو افکار غلا کوي، یو کس خولې توی کړی، مطالعه وکړي، وخت ور کړي او ځان ستړی کړي بیا د خلکو د خـدمت لپـاره یو ګټور شی نوشته کړي، مګر بل ظالم راولاړ شي د هغه ټوله خـواري په اوبو لاهو کړي او د هغه افکار په خپل نوم نشر کړي. هغه تر دومـره خواریو وروسته اقلن د دې حق هم نه لري چې نوم یې یاد شي یـا یـې کتاب ته حواله ور کول شي؟!

دا کسان به حتمن یوه ورځ رسوا کېږي او د خپل دې کرغېړن عمـل سزا به ګوري، سزا یې نو دا نه ده چې فزیکي تکلیـف ور کـړل شي یـا مالي جریمه ترې واخیستله شي بلکې له افکارو به یې خلك ډډه وکړي او د یوه لیکوال یا مفکر پر ځای به خلك د یوه غله او خاین په سترګه ورته وګوري.

زما په ګومان که یو څوك په خپله خواري یو کتاب لیکي دا تر هغو لسو کتابونو ښه دی چې د بل افکار د هغه د نوم له یـادونې پرتـه پکـې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځای پر ځای کړي. کتابونه موږ ته معلوم دي چې نن يې ليکوالانو ته ميليونه پيسې ور ګټلې دي، دا مطلق اوس مال بلل کېږي او څوک چې له بل کس څخه مال غلا کوي، نو د قانون، اخلاقو او دين له اړخه مجرم دی چې که په دې دنيا کې عذاب ونه ګوري اخرت کې به حتمن عذاب ور کول کېږي. ليکنه چې هر څوک وکړي دا د هغه شخصي-ملکيت دی او د هغه د شخصيت و علميت استازولي کوي، نو که بل څوك د هغه کس ليکنه غلا کوي د هغه ملکيت ترې وړي چې حق يې نه لري او بل د هغه کس شخصيت هم ترې غلا کوي چې دا يو ډېر نااخلاقي او له انساني چوکاټه وتلی عمل دی.

د افکارو او کتابونو د غلا توريوازې زموږ په زمانه کې پر خلکو نه لګېږي بلکې په تېر وخت کې هم مشهورو او نومورو کسانو دا کارونه کړي دي، يو څو مثالونه يې د تاريخ له مشهورو کسانو دادي:

ياقوت حموي په خپل کتاب الارشاد کې وايي چې له پلاره مې واورېدل ويل چې د خپل پلار خط مې وليد هغه کښلي وو چې په بغداد کې مې له ابو الحسن بن الطبوري څخه واورېدل ويل يې: د خطيب بغدادي زياتره کتابونه د ابو عبد الله محمد بن علي الصوري نومي کس دي ماسيوا د بغداد له تاريخه.

همداراز د مشهور عالم جلال الدين سيوطي په اړه راغلي دي چې هغه هم د خپل وخت له مشرانو علماؤ زيات کتابونه غلا کړي دي. د ده په اړه ويل کېږي چې له ابن تيميه يې د تحريم المنطق په نوم کتاب غلا کړی، له ابن حجره يې د المنقول في اسباب النزول او نور ډېر کتابونه غلا کړي، همدا شان يې له شمس الدين سخاوي څخه هم ډېر

(c) ketabton.com: The Digital Library



کتابونه په خپل نوم کړي دي، یوه شاګرد یې په اړه دا بیتونه هم ویلي دي:

سرق السارق مـــني كــتباً　　وادعاها وهو في ذاك مفتري
وعلى كتب السخاوي قد جنى　　وكتاب القطب أعني: الخيضري
في مزايا سيد الخلق عـــال　　خير مبعوث أتي من مضر (۱)

په یوه عربي ویکیپېډیا کې یې د علمي غلا دا شپږ ډولونه ذکر کړي دي:

۱/ استنساخ: دلته په بشپړ ډول د نورو عمل وړاندې کېږي خو داسې څرګندوي لکه یوه فرد چې دا کار کړی وي.

۲/ النسخ: په دې کې مختلفې برخې سره پېنه کېږي خو سرچینه یې نه ذکر کېږي.

۳/ الاستبدال: په دې کې د ځینو مهمو کلیمو له بدلون پرته د لیکنې نور اساسي معلومات همداسې راوړل کېږي مګر سرچینه یې نه یادېږي.

۴/ المزج: په دې کې بیا د مختلفو سرچینو مواد سره ګډېږي خو د یوه سرچینه هم نه ذکر کوي.

۵/ التكرار: د یوه تېر کس له کتابه غلا ده خو نوم یې نه اخلي.

۶/ المزيج: د یوې لیکنې داسې برخې چې سرچینه یې په سم ډول ذکر شوې وي له داسې لیکنو سره یوځای کړي چې سرچینه یې بیخي یاده شوې هم نه وي.

په یو عربي مقاله کې مې دا لاندې توپیرونه او تقسیمات هم ولوستل:

د فکري او ادبي غلا ترمنځ هم توپیر شته؛ نسبت ادبي غلا ته د فکري غلا مفهوم پراخ دی، نو د دوی دوو ترمنځ د کل او جز اړیکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده، ادبي کړنې د فکر زیږنده دي، نو هره ادبي غلا فکري غلا هم ده، خو عکس يې سهي نه دی.

فکري غلا د نوعیت له مخې دوو ډولونو ته وېشله کېږي:

علمي غلا: علمي غلا له علمي کړیو سره تړلې چاره ده او د نورو علمي پایلې له قانوني او اخلاقي جوازونو پرته په ځان پسې تړل علمي غلا ده.

ادبي غلا: د بل ادبي کارنامې، بحثونه، روایات، لوحې، رسمونه، مقالې، اشعار، قصیدې او... د هغوی له ذکر پرته ځان ته منسوبول ادبي غلا ده.

د محتوا له مخې فکري غلا دوو نورو نوعونو ته تقسیمېږي:

بشپړه فکري غلا: د ادب له هرې برخې سره که تړاو لري، غل راټې ټوله اختراع(ابتکار) ځان ته منسوبوي او تر منځ يې د ادب اصلي پنځونکی ورکېږي.

جزي فکري غلا: د يو چا له ليکنې د هغه د محتوا ځينې برخې د دې لپاره غلا کړي چې خپله لیکنه په پوره کړي، په دې ډول هم غواړي لیکنه کې نوې زاوې لوستونکو ته وړاندې کړي او هم له خپلې لیکنې سره د بل د لیکنې په ګډولو پر خپله غلا د پردې اچولو کوښښ کوي چې د اصلي لیکنې لیکوال پرې پوه نه شي.

دا چې د علمي، ادبي او فکري غلا تر شا کوم اسباب دي؟ لاندې به په لنډ ډول بحث پر وکړو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د فکري غلا اسباب

د فکري غلا د تعريف، په تېر او اوس کې د بېلګو او ځينو نورو اړينو ټکو په اړه مو توضيحات ور کړل. په دې برخه کې غواړم معلوم کړو چې د فکري غلا تر شا کوم اسباب وي چې يوڅوک د غلا کولو ته هڅوي؟

يو عام سبب د انسان کمهمتي او سستي ده. يو کس په ذهني ډول دې ته چمتو نه وي چې ځان ستړی کړي او تر زيار و خواريو وروسته يوه لاسته راوړنه ولري. کله چې انسان کمهمته او لټ شي نو بيا خواري کښل ورته ګران وي او نه شي کولای چې په زحمت کښلو خپل ځان هدف ته ورسوي، له دې امله نو خپل هدف ته د رسېدو لپاره لنډې او اسانه لارې ګوري. د ادب په ميدان کې يوه اسانه او لنډه لار د نورو افکار غلا کول دي چې دا کار خورا ډېرو کسانو پخوا هم کړی او اوس د وسايلو په زياتېدو سره دا کار تر پخوا څو چنده زيات شوی دی.

ځان خوښونه هم ددې سبب کېږي چې کله ناکله خلک د فکري غلا لپاره چمتو کړي، کله چې يو څوک غواړي خلک يې بايد ياد کړي، په مجالسو کې يې ستاينه وشي او د ده کارنامې ذکر شي، نو د دې لپاره هغه هر ډول وسيلې ته لاس اچوي چې د افکارو غلا هم ترې مستثنا نه ده.

زيات شهرت غوښتل هم د دې سبب کېږي چې يو کس دې ناوړه کار ته لاس ور واچوي. هر څوک چې د جنون تر حده د شهرت وږی وي نو هغه خپل دې هدف ته د رسېدو لپاره هر کار کوي چې د افکارو له غلا هم ارو مرو مخ نه اړوي. دا زموږ په زمانه کې موږ ليدلي دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ځينې کسان د ستاينې او شهرت په موخه له عربي تاريخي کتابونه ترجمه کوي او په پښتو ژبه کې يې ځانته نسبت کوي. دلته مهمه داده چې هغوی ځانونه په زياتو علومو خبر ښکاروي په داسې حال کې چې يو ليکوال تر هغو سم تاريخي کتاب نه شي ليکلای چې د تاريخ سره تړلي علومو باندې پوه نه شي او هغه علوم چې د تاريخ لپاره اړين دي شاوخوا ١٦ علوم دي او لومړی اړين شی د مورخ لپاره داده چې له يوه فکري مکتب سره به تړلی نه وي بيا که تړلی هم وي نو د تعصب تر اندازې به ور سره مينه نه لري چې د تاريخ ليکلو مهال حقايق مسخه کړي مگر زموږ اديب چې د تاريخ دوه کتابه يې غلا کړي دا لومړی شرط هم نه دی پوره کړی نو علوم خو پر لويه لار پرېږده.

مالي گټې هم د دې سبب کېږي. ځکه افکار په هره زمانه کې مهم دي او فکري توليد، نظريات او ايډياوې د هر کس کا رنه دی، موږ په خپله زمانه کې وينو چې د همدې وجې ځينې خلک خورا ښو دندو ته لوړ شوي او ځينې نور له همدې لارې معاش تر لاسه کوي. د دې لپاره چې په خپل وخت کې ځينې مادي گټې لاسته راوړي ځينې کسان د افکارو غلا ته پنا وړي او په دې ډول خلکو ته ځان بيداره هوښيار معرفي کوي چې هغوی يې درناوی کوي او د هغه د پوهې و نظر په مقابل کې يې بدله ور کوي او په دې ډول خپل ژوند مخته وړي.

کله غيرت هم د دې سبب کېږي چې يو څوک فکري غلا ته مخه کړي. مثلا: يو کس خپل همصنفي ويني چې ښې مقالې ليکي، غوره نظر ور کوي او خلک يې نظرياتو ته له درناوي سره عملي کوي هم. دا کس د خپل همزولې او همصنفي په دې کار اور اخلي او کوښښ کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې دی هم تر یوه حده په دې میدان کې د خلکو د خبرو او پرې د نظر ور کولو جوګه شي د همدې لپاره د نورو نظریات غلا کوي او په خپل نوم یې تیروي چې د خپل همصنفي یا همزولې یا هم بل کس سره د ضدیت و غیرت له امله ټاکلی هدف لاس ته راوړي.

- حل لار څه ده؛ څه باید وکړو؟

دا یو بد کار دی، حتمي خبره ده چې په هره زمانه کې به یې د مخنیوي لپاره ځینې لارې چارې لټول شوې وي، اما نن هم اړتیا ده چې پر ځینو حللارو یې فکر وشي. له دې ناسمه کاره د خلاصون لپاره لومړی ګام انساني وجدان او اخلاقیات دي. یو انسان که وجدان ولري او د انساني اخلاقو په نوم کوم ارزښت ته درناوی ولري نو باید له دې ناوړه کار څخه ډډه وکړي ځکه دا د بل انسان ملکیت دی او د هغه ملکیت د هغه له اجازې پرته ترې وړل هیڅ اخلاقي جواز نه لري.

دویم مهم ګام په دې اړه نوي او جدید قوانین دي چې باید دولتونه یې رامنځته کړي او په کلکه یې پلي هم کړي، ځکه د وسایلو په زیاتېدو سره دا سرقه(غلا) خورا زیاته شوې ده او د خلکو خپل افکارو لیکنې خوندي نه دي. په دې اړه باید جدي ګامونه پورته شي او داسې قوانین جوړ شي چې ددې برخې ټول اړخونه یې په ښه سم ډول روښانه کړي او د هر واړه و لوی جرم لپاره یې سزاګانې ټاکلې وي چې وکولای شي فکري غله له دې غلا را بند کړي.

درېیم ګام خپله باید لیکوالان، تیوریسنان او د رسنیو خاوندان واخلي. دوی باید خپله افکار د باوري منابعو له طرفه نشر کړي چې خلکو ته باوري وي او په هغه رسنۍ کې بیا بل څوک نه شي کولای

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې همدا مواد په لړ ادلون بدلون د بل په نوم خپاره شي. د رسنيو خاوندان کولای شي چې د هغه چا ليکنې د وخت لپاره له نشرولو وغورځوي چې پر هغه د ادبي او فکري غلا تور ولګيږي او دا په شواهدو پرې ثابته هم شي. په دې ډول کولای شي چې د خلکو افکار او ادبي ليکنې تر يوه حده خوندي کړي او که له غلا شوي کتابونو سره خپرندويه اداري بايکاټ وکړي او کله يې هم ورته چاپ نه کړي، نو دا غلا که ورکه نه شي ګراف يې حتمن را کميږي.

څلورم اقدام بايد نن دولت يا ځينې بنسټونه دا وکړي چې د ټيکنالوجي په مټ کولای شي غله او سم ليکونکي سره تفکيک کړي. هر کس که د بل مخکنۍ ليکنه، کتاب او افکار غلا کړي ول او د ټيکنالوجي په مټ دا پرې ثابته شوه بايد سزا ور کړل شي له دې لارې کولای شي چې خورا زيات غله معلوم او ثبت کړي. په نوره دنيا کې خلکو د مونوګراف يا تيز لپاره داسې پروګرامونه ايجاد کړي او که مور يې دلته د ادبي و فکري غلا د مخنيوي لپاره استعمال کړو زما په ګومان ښه نيتجه به ور کړي. اوس د ټيکنالوجي په مټ کولای شو چې اصلي ليکوال او جعلي ليکوال سره معلوم کړو، يوه فيصدي بايد د قوانينو له مخې ورته وټاکله شي چې که يوه کس دومره سلنه د سرچينې له ياد پرته د بل کس له ليکنې د الفاظو په لړ تغيير و تبديل واخيسته دا غلا بلله کيږي، په دې ډول غله هم اسانه پېژندل کيږي، نتيجه به يې هم ښه وي او قانون ته سپارل يې هم بيخي اسانه کيږي.

٢٠١٨/ ١١/ ١٠

**سرچينه:**

(سرقات الکتب وانتحالها... د محمد ماهر حماد مخ: ٧١٠، المخطوطات د السامرائي مخ: ٧٤٣، ٧٤٤)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په نصاب کې لا تر وخت تېر موضوعات ولې توجيه کېږي او د څه لپاره دي؟

په ژوند کې د پرمختګ چانس هغه افراد، ډلې او ملتونه لري چې د بل د کار پايلې ته لاس تر زنې ناست نه وي، د بل د شوي کار پر نتيجه تر شخوند وهلو دا ورته ښه وي چې خپله ابتکار وکړي. د ابتکار وړتيا هغه کسان لري چې د تقليد پر ځای اجتهاد کوي، هڅاند کس بريالی کېږي او د لټ و سست برخليک معلوم دی، هغه څوک چې پر ځان يې د اجتهاد دروازه بنده کړې او د جمود په وروسته پاته نړۍ کې د بل په پېښو کولو ځان ته د کاذب ډاډ هڅه کوي، ناکامي يې د ژوند تر پايه ملګرې وي، دوی نه يوازې دا چې نورو ته څه نه شي وړاندې کولای، بلکې د خپل ځان د چلاو لپاره هم د نورو لاسنيوي ته اړ دي، د هغوی د ژوند په سوانحو کې به کله هم ونه وينې چې نورو ته د خدمت مرجع شوې وي، بلکې ټوله هڅه يې دا وي چې له نورو د ځان د ګټې لپاره يو څه شی څنګه بېل کړي او خپل ژوند په وکړي.

جمود/تقليد له لويه سره د ژوند له فلسفې سره جوړ نه دی، ژوند د تحول پر ډګر نه سوځېدونکی لوبغاړی دی، زموږ مشاهده هم دا ثابتوي چې په ډېر کم ژوند کې د خورا زياتو تغييراتو شاهدان يو، نو که څوک په ژوند کې هڅه کوي چې د پديدو د رامنځته کېدو مخه ډب کړي، هغه په حقيقت کې ژوند دروي، دا کاروان نه درېږي که څوک يې د مخنيولو هڅه وکړي نو پايله يې يوازې د خپل ځان ناکامي ده او د تحول ثابت قدم به له پرمختګ څخه کله هم څوک را ونه ګرځوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



جمود/تقلید هغه مزمینه ناروغي ده چې د مریض په برخلیك كې له مرگ او پنا كېدلو پرته بل هیڅ شی نه لیكل كېږي، هغه ټولنې او ملتونه چې د تقلید لار یې د ژوند لپاره غوره كړې ده، ډېر ژر به یې د ژوند ډېوه بې نوره او ځای به یې داسې څوك نیسي چې له كاروان سره د تلو جوگه وي. له روان كاروان سره د تلو جوگه كېدل د وخت او مكان له شرایطو سره تر همږغي پورې اړه لري، هغه ملتونه چې د تحول د كاروان د ملتیا په شرایطو ځانونه پوه كوي او بیا د ملگرتیا لپاره هڅه كوي چې دغه شرایط پوره كړي، نو هغوی په خپلو كړنو كې بریالي شوي دي، د دې په نسبت بیا هغه وگړي /ملتونه/ ډلې /سازمانونه چې تر حركت یې مفت بركت خوښ دی، تر اجتهاد یې جمود خوښ دی، د ژوند تېرولو د طریقې تر پوهېدا یې ناپوهي غوره گڼلې ده، هغوی ځكه د مرگ په حتمي نتیجه محكوم دي چې له روان كاروان سره د مزله نه دي، هغوی یې د كشولو لپاره نه وخت لري، نه گټه ورته لري او نه دوی له هغوی پرته د ژوند كولو اهلیت لري، له دې امله په تاریخ كې ډېر قومونه، ډلې، ژبې او ملتونه په دې سرنوشت اخته شوي او دا لړۍ به لاهم دوام كوي.

علم دا نه دی چې د بل پېښې وكړه، نه دادی چې حتمن دې له یو چا سره له بله د زدكړې سند وي، علم كه له بله زده كېږي نو په خپله تجربې هم موږ ته ډېر څه را زده كوي چې دواړو كټگوریو ته علم ویلای شو. د انسانانو نسل پر نسل راغلې تجربې دومره پخې دي چې د نن وخت پرمختگونه د همدې تجربو پایله دي، انسان نه یوازې د تېر وخت تجربو ته په كمه سترگه نه گوري بلكې د لا صحت او باور لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپلې هم پرې اضافه کوي چې په نتیجه کې یې نور نـوي څـه هـم پـه لاس ورځي.

زموږ په ټولنه کې علم تـه پرانیسـتل شـوي مرکزونـه لـه بـده مرغـه د علمي پرمختګ پر ځای له علم څخه شا ته روان دي، په دې نړۍ کـې د ژوند کولو د کامیابه طریقې د معلومولو پر ځای هڅه کوي چې دغـه دریڅه څوك خلاصه نه کړي ځکه چې په دې لار کې د پرتو کړاونو د زغمولو همت په دوی کې نه شته، نو ځکه یې تر پرانیسـتلو پـه بنـدولو خوښ دي، دوی ددې پر ځای چې خپل ځانونه د دې جوګه کړي چې خپل ژوند د نورو له لاسنیوي پرته وکړي، په دې خوشاله دي چې نورو د هغوی د ژغورنې لپاره بوخت دي ابتکارونه کوي، د ابتکار خاونـدان هم خپله ژوند کوي او هم دوی ته د ژونـد کولـو زمینـه برابـروي ځکـه مات لاس دی چې په غاړه کې له وړلو پرته بله چاره نه لري.

د جمودپالو ټولنو لویه ستونزه داده چې د خپلو ستونزو پـه درك نـه پوهېږي، حتا داسې ټولنې هم شـته چـې د نـورو پـه لارښـوونو هـم نـه پوهېږي، دوی تقلیـد داسـې ځـپلي دي چـې د پوهـاوي او راپوهـاوي وړتیا یې یو مخیزه ختمه شوې ده، د دغه ټولنې یوازې د دې ویاړ لري چې د تاریخ برخه شي او د کتابونو په صفحاتو کې د هغـوی نـوم او د ژوند نیټه یې د له منځه تلو له نیټې سره یوځای ذکر شوې وي.

زموږ علـم تـه د منسـوبو مرکزونـو پـه نصـاب کـې لا د هغـه وخـت بابولالې ویل کېږي چې نه یې خلك اوس د هغه وخت شرایـط درك کولای شي، نه یې د ژوند په طریقـه او طـرز پـوهېږي او نـه یـې د بیـا راګرځېدلو احتمال شته، نو بیا دغـه بحثونـه او موضـوعات د څـه لپـاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



تدريسېږي؟ يوازې د دې لپاره چې خلك تقليد تـه وهڅېږي؟ د دې لپاره چې خلك نوى فكر او د ژوند نوى موډرن طرز زده نه كړي؟

د عملي فقهي عباداتو په برخه كې ماشومانو ته زموږ د سيمې ملايان د شروط الصلاة په نوم يو كتاب تـدريس كـوي، پـه غـه كتـاب كـې د مينځې يادونه هم راغلې ده، چې زه د ازادې ښځې او د مينځې ترمنځ د هغو احكامو په اصليت نه پوهېدم چې د دې دوو صنفو په تړاو بـه يـې توپير سره در لـود. دغـه كتـاب چـې زمـوږ د رواج لـه مخـې خـورا پـه وړوكتوب كې ماشوم ته لوستل كېږي، د مينځې او غـلام د يـادولو څـه اړتيا لري؟ ماشوم چې په خپل چاپېريال كې نه مينځهويني او نه غلام نو د احكامو تفكيك به هغه ته څه ګټه وكړي؟ يوه نظريه چې په پراتيک ډګر كې له ماتې سره مخ شوه، نو په اړه يې ماشوم ته اطلاعات ور كول به د هغه كوم درد دوا كړي؟

ذمي، خراج، دار الحرب، دار الكفر، دار الاسلام، دار السلام، جزيه او دې ته ورته نور فقهي اصطلاحات به د وخت غوښتنه وه چې فقهاؤ په خپل وخت كې پاملرنه ورته كړې وه؛ اما د هغو پـه دور كـې تحـول دومره چټك هم نه و لكه نن چې دى، نو كه هغوى ددې اصـطلاحاتو د جوړولو، كارولو او عامولو حق در لود ايا موږ يې نن د خپل عصر له غوښتنو سره سم د ګوښـه كولـو او پـر ځـاى يـې د هغـو اصـطلاحاتو د ايجادولو او نشر حق نه لرو چې زموږ عصر يې غوښتنه كوي؟ كه هغوى حق در لود چې د خپلې ټولنې، چاپېريال، وخت او ځـاى لـه غوښـتنو سره سم موضوعات وڅېړي، د نويو بحثونو كړكې پرانيزي، خپل اند په ازادانه توګه د فقهي په كتابونو كې وليكي او تر موږ را ورسېږي، نو ايـا

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ د ژوند په دې چټک تحول منونکي دور کې د دې حق نه لرو چې پخوانو ته د مسلم حق په نوم ور کول شوی و؟

دغه تر وخت تېر نظریات اوس دومره نه دي مهم لکه نن چې نور موضوعات را پیدا شوي او په عقلي و شرعي لحاظ دغه موضوعات د اولویت حق لري، زما حتمي خبره دا نه ده چې دا موضوعات دې له ټولو کتابونو وباسي، په ځینو لوړو کتابونو کې که یې دوی اړتیا ویني پاته دې شي، اما د ماشومانو او ټیټې کچې له کتابونو دې دا موضوعات ایسته او پر ځای دې د نن اړین موضوعات ځای پر ځای شي چې د زماني لومړیتوبونه په پام کې ونیول شي او هر حقدار ته خپل حق ور کول شي.

۲۶/۱۱/۲۰۲۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په نورو هیوادونو کې د دیني زدکړو زیانونه

زموږ د هیواد زیاتره دیني زدکونکي د زدکړو لپاره له هیواده بهر ځي. ډېری یې نژدې هیواد پاکستان او ایران ته ځي او نور یې سعودي، مصر، هند، ترکیې او... ته سفرونه کوي.

دا که په اوسنیو شرایطو کې یوه اړتیا ده، نو بل خوا زیانونه هم ټولنې ته لري. یوه خبره د تجربې له مخې حقیقت ده چې زموږ ټولنه دومره دیني فارغینو ته هم اړتیا نه لري لکه دلته چې یې تولید کېږي. هر شی چې تر تقاضا زیات شي په بازار کې یې نرخ ته زیان رسېږي. د دیني فارغینو زیاتېدا دوی ته دا تاوان کړی دی چې په ټولنه کې یې حیثیت ته صدمه رسېدلې ده که څه هم په دې کې یوازې دا لامل نه دی، اما یو لامل یې بلل کېدای شي.

په بل هیواد کې دیني زدکړې په اوسنیو شرایطو کې موږ ته ډېر زیان لري، اما دا چې خلک ولې بهر ته ځي دا بیا پر خپل ځای یو بحث دی چې تر شا یې ګڼ عوامل وجود لري.

زه دلته یوازې هغه نقصانونه په ګوته کوم چې زما پوهه ورته رسېدلې ده.

۱/ په ټولنه کې ټکر ته لار جوړول

په دې خبره ټول پوهېږو چې د هرې ټولنې دیني تعبیرونه د هغوی له شرایطو او مکان څخه اغېزمنېږي، زموږ د ټولنې تفسیر حتمن له نورو سره جوت توپیر لري. کله چې یو څوک خارج ته ځي، نو هلته په بل هیواد کې د یو بل ملت په منځ کې جسمن او ذهنن وده کوي. عمومن

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بل هیواد له زدکوونکـو سره یوځـای وي، اسـتادان یـې د هغـه ځـای عالمان وي، شاوخوا چاپېریال ټول ورته پردی وي او کلتور هم نابلـده وي. لومړي سر کې دوی له یوه نوي کلتوره ورغلي وي چې هغـه هـر څه ورته نااشنا وي، ورو ورو هلته بلد شي او د هغوی د کلتور، تعبیر او شرایطو تر تاثیر لاندې راځي چې له کشرتوبه تر فراغته یې په ذهن کې ښه پوره ځای ونیسي. کله چې همدغه فارغ خپلې ټولنې ته راځي، نو د هغه تعبیر د پلي کولو او ښودلو هڅه کوي چې ده په لس کلـن تعلیمـي ژوند کې بهر زدکړی وي؛ دلته څو ټکرونه رامنځته کېږي، یو ټکر د هر فارغ او ټولنې ترمنځ وي، بل ټکر د هر هیواد فارغ کس د بل هیواد لـه فارغ عالم سره لري چې ټولنه سوکه سـوکه د یـوه لـوی تشـنج خـوا تـه بیایي. که په لومړي سر کې د دوی خبرې زیات تاثیر ونه لري، د وخت په اوږدو کې حتمن اغېز کوي، ځکه یو خو خپل اولادونـه، قریبـان او اشنایان پیدا کوي چې هغوی باندې یې خبره تاثیر کوي او بل یې عمر لوړېږي چې زموږ خلک د مشرانو احترام کوي او خبره یې هم پر خپل ځای خلکو ته تر یوه حده د منلو وړ وي. له دې امله په ټولنـه کـې پـر یوه وخت مختلف افکار را ټوکېږي چې هم ټولنه ورسره په تقابـل کـې وي او هم دوی یو له بل سره په تصادم اخته وي چې اینده کې ټـولنې ته د مذهبي خشونت لار جوړوي.

۲/ د ټولنې بې زغمه کول

د مذهبي کسانو ترمنځ دوامداره اختلافات یوه لـور تـه او لـه ټـولنې سره اوږدمهاله تقابل بل خوا ته د دې سبب کېږي چې په ټولنه کې زغم کم شي. ځکه هر وخت شخړې او اختلافات خلک ستړي کـوي چـې اخیر خلک ترې ستومانه کېږي او په وړاندې یـې حوصـله لـه لاس ور

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوي، مذهبي جنګونه پېښېږي، وژنې به وي او خلك به ترخپل منځ په سختو مذهبي مشکلاتو اخته شي. د دې ښه مثالونه په هېواد کې د سلفي افکارو زیاتوب دی چې دا اوس اوس یې تاوتریخوالي ته لاس اچولی دی. پاکستان کې د سپاه صحابه او شیعه مذهبه ډلو اختلاف یادولای شو چې ترمنځ یې ورانونکې پېښې وشوې.

### ۳/ د ټولنې ارزښتونه بې ارزښته بلل

په هره انساني ټولنه کې ځینې ارزښتونه وي چې د هغه ځای خلك یې په پاللو ځانونه مکلف بولي. دا زیاتره دیني جنبه هم نه لري خو ځینې بیا له تاریخي حیثیت سره مذهبي بڼه هم لري؛ لکه لرغوني زیارتونه، مساجد او... اما ځینې هغه کسان چې په خارج کې رالوی او زدکړې کړې وي، هغوی هر شی ته له دیني لیدلوري ور ګوري، د ټولنې ځینې تاریخي، ملي او کلتوري ارزښتونه له دین سره د تصادم په کوتك وهي. مثلن: زیارت که تاریخي اړخ لري، نو ځینو ته مذهبي هم لري، له دې امله یې د شرك اډې بولي او کوښښ کوي چې ټولنه له دې شیانو مخ واړوي او دوی یې د ورانولو فتواوې ور کوي؛ اما ټولنې زیارتونه یوازې د مذهبي صبغې له امله نه رغوي، بلکې دا تاریخي حیثیت لري چې د تېرو خلکو د ټولنې یو ډول انعکاس موږ ته راکوي. یا هم د طالبانو د حکومت مهال د بودا مجسمې، دې مجسمو که یو لور خورا تاریخي ارزښت در لود، نو بل لور ته یې دوی ته مذهبي جنبه هم لرله؛ له دې امله یې د ورانولو لپاره ملا وتړله او د ټولې نړۍ د زاریو، مشورو او وړاندیزونو ته غوږ ونه نیوی او د هېواد دا تاریخي ارزښت یې له منځ یووړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴/ مذهب او مذهبي کسان بې ارزښته کول

د مذهبي کسانو ترمنځ اختلافات پر عوامو دا تاثير لري چې دوی او حتا ځينو ته يې مذهب هم بې ارزښته شي. يو شوک چې مذهبي اعمال کوي او د بل کس په نظر هغه اعمال صحت نه لري، د پلار اعمال يې د خدای په دربار کې د مقبوليت مقام نه شي خپلولای، نو عوام لومړی پر خپلو مذهبي کسانو شکمن کوي، له هغوی مختلفې پوښتنې شروع کوي، کله چې يې قناعت حاصل نه شي سوکه سوکه دې لور ته سوق کېږي چې پر مذهب هم شکمن شي. که موږ خپلې ټولنې ته متوجې شو نو پوهېږو چې اوس خلک د علماؤ د اختلاف زياتې پوښتنې نه کوي، بلکې د قران او خدای په اړه بحثونه خورا تاوده دي، دا زياتره د دې اختلافاتو نتيجه ده چې عوام له کلونو کلونو اختلاف ليدلو وروسته پر مذهبي کسانو شکمن شول، هغوی د يوه بل په اړه ناسم فکر خلکو ته ور کړ، اعمال يې د يوه او بل باطل وګڼل، خلک يې پر خپلو مذهبي لارښوونکو شکمن کړل، کله چې د عوامو په اذهانو کې دا شک ځای ونيسي، نو خپله دا فکر ورسره پيدا کېږي چې هسې نه دا مذهبي معلومات يې ناسم راکړي وي، پوښتنې پيلوي چې اخير د دين او خدای په اړه هم پوښتنو ته دا سلسله رسېږي.

۵/ ټولنه په رواني مشکل اخته کول

د ملي ديني توليد ګټه دا وي چې خلکو ته د دوی له اړتيا او تقاضا سره سم تعبير و تفسير کوي، خلک په روحي ډول ارام وي او خپل مذهبي اعمال په ډاډ ترسره کوي. دوی د خپل عمل په اړه شک نه ور لوېږي چې دا عمل دې خدای نه مني، کله چې مذهب ته منسوب کسان په ټولنه کې دا غوغا جوړه کړي چې د هغه عالم او عوامو اعمال

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناسم دي، نو ټولنه کې دا اختلاف رواني مشکل ته لار جوړه وي، هر کس له ځان سره فکر کوي چې دا ټول ديني او مذهبي اعمال د خدای د رضا لپاره کوم، که د هغه عالم خبره رښتيا وه او دا زما اعمال د خدای په دربار کې نه قبلېدل؟ د پلار په اړه دا فکر ورته پيدا کېږي چې د هغوی اعمال هم نه دي قبول شوي، خدای به څه ورسره کوي او زه دعا ورته وکړم که نه؟ ځينې وختونه په يوه کورنۍ کې د مختلفو افکارو وروڼه يا نور قريبان پيدا شي چې هر وخت يې پر همدې مذهبي موضوعاتو سره جنجال وي او اخير نتيجه د کورنۍ ټوټه کېدل شي. دا يو لوی رواني مشکل دی چې زموږ ټولنه همدا اوس ترې سخته کړېږي.

۶/ بې باوري رامنځته کول

زما د خپلې تجربې خبره داده چې يو مهال موږ په دې سلفي وزمه بحثونو کې زيات بوخت وو؛ زموږ قريبان، کليوال او انډيوالان به د کورنيو مشرانو نه ايله کول چې يا له موږ سره کينې يا هم زموږ کره راشي. دوی فکر کاوه چې موږ به يې کشران ناسم مذهبي لوري ته رهبري کړو او بيا به يې اخرت ته صدمه ورسېږي. يعنې د خپلو قريبانو، پلار و زوی، کليوالو او انډيوالانو ترمنځ سخته بې باوري را پيدا کوي چې قرابت، صله رحمۍ او ملګرۍ ته کلک زيانونه رسوي.

۷/ د فقر زياتول

کله چې د يوې ټولنې څو فيصده کسان له هيواده بهر زدکړو ته ځي نو حتمن له کوره او وطنه د ځانو لپاره توښه هم اخلي. په دې ډول لومړی له دې ځايه بل هيواد ته د پانګې تلل پيلېږي او دا په اوسني وخت کې زموږ د ټولنې پر کمزوري اقتصاد يوه ښه کاري ضربه ده. بل

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا چې راغلي کسان دلته اختلافات جوړوي، په دې اختلافاتو کې کورنۍ سره جلا کېږي، کلي سره خپه کېږي، مساجد نوي جوړېږي، هر فکري مکتب ځانته نوې مدرسې جوړوي او نوي کسان ګومارل کېږي چې د ټولنې اقتصاد ته زیان رسوي. ما داسې کورنۍ لیدلې دي چې د لس پنځلسو کسانو لپاره لوی مسجد جوړ شوی وو، بلې کورنۍ چې مذهبي اختلاف یې درلود، همدلته نژدې بل جومات جوړ کړی وو، هر یوه مسجد کې بېل ملا و، مصارف یې وو او د جوړولو مهال یې له ټولنې چندې ورته کېدې، دا هر مسجد په شل دېرش لکه جوړېږي چې د فقیرې ټولنې اقتصاد ته ښه ګلالۍ ټک ور کوي.

۸/ د مذهبي افراطیت ډېرېدل

انسان داسې موجود دی چې که د یوه نوک ځای ور پیدا شي، نو سوک ځایوي. اختلاف که لومړي سر کې هر څومره کم هم وي او هغه نظروال یې یو بل ته احترام هم ولري، خو وروسته پیروان یې اختلاف ته زور ور کوي او هغه ډول متقابل احترام هم نه پاتېږي لکه د اولنو چې و. په دې ډول یوه ډله پر بله ډله تورونه لګوي، کمزورۍ نکتې یې ریشخندوي او مقابل لوری یې تر دې شدید ردعمل ښيي، ځکه عکس العمل زیاتره وخت تر هغه عمل سخت وي چې ددې سبب شوی وي. نو د مذهبي کسانو دا اختلاف د افراطیت لور ته د ټولنې بوولو یوه لار شوه چې که نن نه وي سبا به ټولنه کې افراطیت حتمن وده کوي او ټولنه به ترې کړېږي. یو بل بعد بیا د دې اختلاف دا هم دی چې که یوه ډله د بلې په مذهبي ارزښتونو ریشخند ووهي، هغوی هم داسې کوي او د مذهبي ارزښتونو درناوی یو د بل په نظر کې له منځه ځي او راتلونکی نسل تر دې هم څو ګامه وړاندې ځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا يې ځينې زيانونه وو چې ما يې دلته يادونه وكړه، كه په دې اړه څېړنه وشي تر دې به هم زيات زيانونه ممكن په ګوته كړاى شي. متاسفانه چې دلته دا هر څه ته په كمه سترګه كتل كېږي او ټولنې يې تر اوسه په اړه هيڅ ډول تصميم نه دى نيولى. دا سلسله همداسې روانه ده او اوس په يوه تجارت بدله شوې ده، له بده مرغه چې مذهبي وارداتي فكر د يوه تجارت بڼه اخيستې ده او هغه هيوادونه چې زموږ كسان پكې روزل كېږي، زموږ په ټولنه كې د دې هڅه كوي چې هغه بل فكري مكتب ته ماته ور كړي او خپل اغېز دلته زيات كړي چې دا به په اينده كې د خونړيو فزيكي شخړو سبب شي او زموږ د هيواد امنيت، اقتصاد، ملي يووالي، د مذهب ارزښت، كلتور او خپلو تاريخي اثارو ته د پام وړ زيانونه ورسوو. زموږ حكومتونه او نظامونو له وخته غلطي كړې ده چې دلته يې ديني مرجعيت ته كار نه وو كړى، دې خلا زموږ مذهبي قشر د نورو په وړاندې د كمترۍ په يو ډول احساس اخته كړ او دا احساس د دې سبب كېږي چې موږ د نوور احترام ته راكاږي، د هغوى فكر راباندې غلبه وكړي، تر هغوى ځانونه كم وبولو او بناءن بايد د شاګردۍ ګونډه ورته ماته كړو چې دا مو د تل پاتې كمترۍ په احساس اخته كوي او زموږ مذهبي قشر اوس پر دې لاره مزل پيل كړى دى. له دې امله هغه كسان سخت بدنامېږي چې دلته د ملي مذهبي فكر د توليد كوښښ كوي او غواړي چې ټولنې ته د دې اهميت په ګوته كړي، ټولنه له كمترۍ خلاصه كړي او د مذهبي وارداتي فكر پر ځاى خپل ملي مذهبي فكر توليد كړي چې په خپل وار يې د ټولنې شرايط، تقاضاوې او مكان و زمان ټول په نظر كې ساتلي وي. د دا ډول خلكو مخالفت هم نورو هيوادونه كوي ځكه بيا د هغوى د مذهبي وارداتو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخنیوی کېږي او هم يې له خارجه ځينې فارغ کسان کوي چې د دوی په فکر هغه ارزښت دوی ته نه پاتېږي چې مخکې يې پيدا کړی وو، که څه هم دا په ټوله جامعه کې نه وو، اما هغه سيمه کې وو چې دوی پکې اوسېدل او د فکر مرغه يې تر همدې ځايه الوت کولای شوای.

زموږ ټولنه تر اوسه په دې اړه فقيره ده، دلته لا داسې کسان نه دي پيدا شوي چې د دې بهير بنسټ جوړ کړي، له بده مرغه چې مذهب ته منسوبې وسله والې ډلې په لومړي سر کې هغه دينپالان په نښه کوي چې د ملي مذهبي فکر توليد لپاره کار کوي او هڅه يې دا وي چې حد اقل په دې نسل کې د دې بهير لړ غوندي څرک معلوم شي او دا نوی ښودل شوی نهال بيا راتلونکې نسلونه په ونه بدل کړي او د پاللو پوره هڅه يې وکړي. وسله والې ډلې هم دا کسان د خپل ځان او مبارزې لپاره خطرناک بولي، ځکه دوی که يو خوا د واک د انحصار پلويان دي بل لور ته د مذهبي تعبير او تفسير د انحصار غوښتونکي هم دي. نو بناءن دوی هغه هر څوک چې د دې انحصار د ماتولو کوښښ وکړي په مرگ گواښي او که يې وس وشي وژني يې هم. دا قافله هله خپل مزل پيلولای شي چې په اول گام کې د ټولنې ټول اقشار دا تشه حس کړي او د ډکولو لپاره يې عملي علمي گامونو ته را ټول شي او بيا دولت د دې بهير د انتظام لپاره لازمي گامونه واخلي او دا ورو بهير گړندی کړي چې په لنډ وخت کې خپل منزل ته ورسيږي او د ټولنې و دولت هغه هيلې چې له وخته په دې قافله پسې تړلې وې او دي؛ ورسره بشپړې کړي.

۲۰۱۹/اکتوبر/ ۲۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د جګړې انګېزه څنګه پيدا او پياوړې کېږي؟

جنګ کول د انسان په فطرت کې نه شته، بلکې بهرني عوارض ځيني انسانان دې ته اړ کړي چې جګړې ته مخه کړي. دليل يې دادی چې ټول انسانان جګړه مار نه دي، حتا په ځينو هيوادونو کې د جرمونو ګراف دومره کم دی چې بيخي د نشت حساب دی او يوه اروپايي هيواد د زندان دروازې له دې امله بندې کړې چې ورته اړتيا نه وه؛ که انسان فطري جنګيالی وای، نو بيا به ټولو انسانانو جنګونه کولای او د جګړې په سيمو کې داسې وګړي وي چې جنګ يې نه وي خوښ.

پاس عنوان نه په تاريخ کې د شويو جنګونو انګېزو راسپړلو ته ښودل شوی دی نه په مجموع کې د نورو هيوادونو د جنګونو په اړه بحث کوي؛ دلته يوازې او يوازې غواړم چې زموږ په هيواد کې چې اوس څه تېرېږي، د دې په اړه خپل نظريات وليکم، د دې جنګ انګېزه څنګه پيدا شوه او نوره څه ډول پياوړې کېږي؟

له خلقيانو او بيا شورويانو سره د جنګ تر داستان به هم راتېر شم، رابه شم له ۲۰۰۱ کال څخه به د دې موضوع په اړه بحث را پيل کړم.

هغه مهال چې طالبان د ټول هيواد نيولو ته نژدې وو، د امريکا په مشرۍ مسلمانو او نامسلمانو هيوادونو د طالبانو په وړاندې يوه اتحاد کې سره را غونډ شول او د طالب رژيم د پای ته رسولو پرېکړه يې وکړه. په نتيجه کې خارجي قووتونه راغلل او دلته يې نظام ته تغيير ور کړ.

له دې څخه د جنګ دوه سببه را پيدا شول؛ اول: د خارجيانو تېری او شتون، دويم: له قدرته د ايسته کړل شويو کسانو همداسې له واکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



گوښه ساتل چې هغوی يې د تر لاسه کولو لپاره حتمن لاس په کار کېږي.

د طالبانو په ليکو کې عمومن دا فکر دی چې خارجيان دلته راغلي دي او پر موږ مقاومت فرض دی، دا يو عمومي فکر دی. اما د طالبانو په ليکو کې هغه کسان چې واک يې ليدلی دی يا هم مشران دي اوس يې هم تجربه کوي، هغوی يوه بله انګېزه هم لري چې يا اوس واک کې ډېره برخه ور کړل شي يا که فرضن خارجيان ووزي وروسته به بېرته قدرت نيسو او واک به له موږ سره وي.

د طالب نظام تر سقوط وروسته د واک خلا د خارجيانو په مشرۍ داسې ډکه شوه چې زياتره منفور کسان واک ته ورسېدل؛ هغه کسان چې پر ضد يې طالبانو پاڅون کړی وو، د امريکا په مرسته يوځل بيا واک ته ورسېدل او خپلې پخوانۍ عقدې يې سړولې. له ما سره د دې حالت ژوندي مثالونه شته چې د دوی عقدېي چلند څنګه ګڼشمير کسانو ته د مقاومت انګېزه شو او د طالبانو له ليکو سره يوځای شول؟

په لومړي سر کې د خارجيانو او اوس ورسره د ځينو خاصو افغان پوځي قطعو له لوري پر مسجد، واده، مدرسه، جنازه او نورو مقدسو يا ملکي تجمعاتو باندي ړندې بمبارۍ هم د دې سبب کېږي چې يو سوله ييز کس خپل د امن ژوند ايله کړي او له مخالفانو سره يوځای په جنګي روحيه او انګېزه خپل ژوند د جنګ او جګړې قرباني کړي. په يوه جغرافيه کې ټول وګړي جنګيالي نه وي، بناءن کله چې دوه لوري جنګ کې سره ښکيلېږي، بايد د بې طرفه کسانو د ژغورنې په خاطر هغه اصول مرعات کړي چې د هغوی د خونديتوب سبب کېږي، اما دلته يو لوری هم هغو اصولو يا جنګي قوانينو ته پام نه کوي چې همدا

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرټمبګي هم ځینو کسانو ته د جنګي انګېزې په ور کړه کې مهم نقش لري.

د خارجیانو له راتلو سره د ښځو د حقونو نارې هم ډېر اوچتې شوې، په دې اړه ځانګړې اداري جوړې شوې، پروژې وایستل شوې او میلیونونه ډالر مصرف شول. اما دا هم جوته شوه چې د همدې ښځو د حقونو په نوم ځینو ښځو خورا لوی فساد وکړ، ځینو ښځو د هغوی حقونه تر پښو لاندې کړل، ځینو ښځو د هغوی حق ته په سپکه وکتل او د ښځې حیثیت ته یې په دې هم زیان ورساوه چې په ځینو ادارو کې اخلاقي فساد ته لار جوړه شوه او دا نن هم دا چیغې وهل کېږي چې اخلاقي فساد شته او دا بې بندو باره اخلاقي فساد به د ټولنې اینده له لوی ګواښ سره مخ کړي. له دې هر څه سره هممهاله بیا په مطبوعاتو کې د خلکو پر واقعي ستونزو د پروګرام پر ځای زموږ له کلتور او شرعي ارزښتونو سره ټکر سریالونه خپرېږي دا خپله په خلکو کې د جنګ انګېزه پیاوړې کوي، یو شمېر کسانو ته د تبلیغاتو موکه برابره وي او نور سرناخلاصه بیا د فحاشي د نوم په اورېدو دې ته تیارېږي چې راشي بازارونو کې ځانونه انفجار کړي او د وحشت یوه نمونه نړۍ ته وړاندې کړي.

دا سمه ده چې زموږ په ټولنه کې د ښځو حقونه تر پښو لاندې شوي دي، اما دا کلي او عمومي قاعده نه ده، دلته څو فیصده ښځې حقونه لري خو لویه سلنه ممکن په ګڼو ډولونو له بېلابېلو حقونو بې برخې شوې وي، چې هغه هم تر شا خپل عوامل لري او یوازې د شعار په ور کولو او د ځینو ډیسکو ښځو په راوستلو دا معضله نه حلېږي بلکې لا نور بعدونه اخلي چې د نورو مشکلاتو سبب کېږي او دا اوس فعلن

(c) ketabton.com: The Digital Library



همداسې سرچپه کيسه روانه هم ده. په ټلويزيون کې د ناسمو سريالونو خپرېدا او يا دانه مانه داسې کارکونکې يې چې د دې ځای له عنعناتو سره سم يې حجاب نه وي مرعات کړی، ځينې خلک دې ته ودرول چې لونې له تعليمه بندې کړي او د جنګي ليکو پر کسانو يې هم خپل اغېز کړی دی.

د همدې ټلويزيون يوه بله برخه بيا د جنګي سريالونو په خپرولو بوخته ده چې دا بيا په خپل وار د توپک، بدمعاشۍ، خپل سري وژنو، قاچاقو، انسان تښتونې، غير قانوني کړنو، له وسله والو ډلو سره اړيکو پيدا کولو او نورو ناخوالو ته لار جوړوي چې له بده مرغه ښه په درز کار ورته کيږي. دا هم د جنګ انګېزه پياوړې کوي چې د همدې هدف لپاره دلته خپريږي.

په جنګونو کې د چا سات تېروي او څوک پکې مري، څوک پکې چاغ شول او نورو بيا د يوې ګولۍ ډوډۍ له پيدا کولو ناتوانه شول، د چا خپل کسان پکې مري او د بل لپاره بيا تجارت دی او له دې لارې د خپلې کورنۍ عايد برابروي. زموږ جنګ هم له دې قواعدو استثنا نه دی، د طالب او حکومت په دواړو اړخونو کې همدا معامله روانه ده. هلته هم د مشرانو له لوري يې جنګ د يوې ښې تجارتي وسيلې په توګه کاريږي او د هغوی کاروبارونه او معاملې د سيمې د هيوادونو په کچه روانې دي، او د حکومت لوری له هيچا پټ نه دی چې له هنده، تر پاکستانه، دوبۍ، اروپا او امريکا يې ملکيتونه ورسېدل، کار يې په لويه پيمانه شروع شو او مسکين کسان پکې داسې شول چې اوس ميليونران دي. بل لور ته عام عسکر، عام طالب او ولس درې واړه داسې دي چې د يوې ګولۍ مړۍ د پيدا کولو لپاره له هرې وسيلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



استفاده کوي، داسې کسان په دې وطن کې شته چې مریضان یې کورته پراته وي، خو د دوا او درملو وس یې نه وي، بچیانو ته د تعلیم وسایل نه شي ور کولای، سمې جامې نه شي ور کولای او داسې نور د ژوند اړین توکي، دا هم یو سبب دی چې ځینو ته د جنګ د اوږدېدا انګېزه ورکوي او څومره چې زیات وخت نیسي دوی ورته خوشالېږي.

په ادارو کې د نااهله کسانو ګومارنې؛ اداري فساد، بداخلاقۍ، د خدماتو نه وړاندې کونې او د ملت و دولت ترمنځ د واټن پیدا کونې ته لار جوړه کړه چې د جنګي انګېزې په پیدا کولو او پیاوړې کولو کې مهم نقش لري. نااهلانو نه یوازې دا کارونه وکړل، بلکې د قاچاقو په کار کې هم بوخت شول څکه د سبا ډار دې ته اړ کړل، د ترهګر لاس یې هم د وژنې لپاره تر هره ځایه رااوږد کړ څکه پیسې یې ور کولې، ګاونډیو ته یې جاسوسي هم پیل کړه څکه ثروت یې ټولاوه، د مجرمانو خلاصونې، نه نیولو او رشوت اخیستنې ته یې هم اوږه ور کړه له دې امله چې لاس ته یې یوڅه ورتلل اوله دې ټولو سره د جنګ انګېزه نوره هم غزېده او جنګ ورسره شدت پیدا کاوه.

بې کارۍ یو بل فکتور دی چې د جنګ لیکو ته د جنګیالیو په ور ټېل وهلو کې خورا اغېزناک تمامېږي. دولت او جمع خارجي هیوادونو دلته زیربنایي کارونه ونه کړل، د بشر د حقونو نارې وهل کېدې، خو بشر له لوږې مړ کېده ډوډۍ نه ور کول کېده، په داسې حال کې چې د بشر اول حق سهي غذا ور کول دي! د میرمنو د حق خبرې تودې وې، خو دا نه ویل کېدل چې عوامل چیشي دي؟ کمزوری اقتصاد د زیاتره ناخوالو بنسټ دی، خو لس فیصده ښځو ته کار پیدا نه شو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې څوک بې کاره وي، نو د تخریب سوچ یې ښه ژر ذهن کې ځای نیسي او د یوه مجرمانه کار کولو ته اړ کېږي، په تېره هغه ټولنه کې چې تیار د تخریب نور اسباب، وسایل، ملګري او فکر هم ورته چمتو وي، زموږ له دغسې حالت سره نړۍ والو په اصطلاح همکارانو قصدي او زموږ د دولت چارواکو تر یوه حده په غیر ارادي او هم ممکن په ارادي داسې کړي وي. فقر ممکن ځینې کسان د جرم خواته کش کړي، زموږ نیمایي ملت په فقر کې ژوند کوي، نو حتمي ده چې د جنګ انګېزه به هم تر بل هر وخت زیاته تولیدېږي او هم به پیاوړې کېږي.

جهل، یو بل هغه لامل دی چې د جنګ انګېزه هم ترې زېږي او هم یې په پیاوړتیا کې نقش لري. هوښیار انسان کله هم له فکر پرته یو ګام نه اخلي، د خپل عمل نتیجه باندي فکر کوي، روش و طریقه کار ګوري، ځان او ټولنې ته ګټې یې سنجوي، د دنیا او اخرت محاسبه ورته کوي، اما جاهل دا یو کار هم نه کوي، تر هرڅه مخکې عمل کوي، وروسته که هر څه پیښ شول بیا هغه مهال ورسره تعامل ته ځان چمتو کوي. له دې امله جاهل بلل کېږي چې د خپل عمل په اړه حساب نه کوي، خپل ځان او جهان ته فکر نه کوي. له جاهل سره انصاف دادی چې له جهله د وتلو لار ورته وموندل شي، که یو قشر یې همداسې پاته شي، بل یې باید علم ته بوتلل شي، اما کله چې په لوی لاس هڅه کېږي د خلکو د سواد مخه ډب شي، نو تر شا ولاړ حقیقي/حقوقي اشخاص همدا هدف لري چې د خلکو په تیاره کې د ساتلو مهال زما کار اسانېږي او د رڼا مهال ګرانېږي، له دې امله په دې جنګ کې هر وخت د علم مرکزونه او اشخاص په نښه شوي دي د دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لپاره چې خلکو ته فکر ور کول د هغوی (جنګپالانو) د برق له تارونو سره لوبې کول دي چې نتيجه يې حتمي مرګ دی؛ نو ځکه علم او اهل يې وژل کېږي. جاهل ته يو تش له واقعيته لرې شعار ور کړه، يو نه تر لاسه کېدونکی هدف ورته په ګوته کړه، يوه تاريخي افسانه ورته جوړه کړه او دی ور مرش کړه چې ټولنه کې ګډوډي جوړه کړي، بس همدا يوه خبره د هغه د پارولو لپاره کافي ده. له موږ سره له بده مرغه همدا لوبه روانه ده.

پردۍ پالنه؛ زه نه پوهېږم لکه خلقت کې چې موږ ته د پردۍ پالنې يوه خاصه پرزه را اضافه کړل شوې وي موږ دا اوس هم ډېر پردي پاله شوي يو. پردي افکار چې له ټولنې، تقاضا، زموږ له افکارو، مکان او عنعناتو سره سر ونه خوري ګډوډۍ ته لار جوړه وي او خشونتونه راپاروي. د ټولنې يوه برخه پردي افکار ساتي، د هغوی په خدمت کې وي، بله برخه يې حتمي د بل پردي افکار واردوي چې ټکر سره کوي او تاوان يې همدې ټولنې ته رسي، دواړه بيا له ټولنې سره په تصادم اخته وي چې بيا يې زيان ټولنې ته رسي. زموږ هغو کسانو چې بهرنۍ مقدسې يا نامقدسې ايډيالوژۍ راوړې دا غلطي يې وکړه چې د دې کلتور او ټولنې په رنګ يې ونه رنګولې، هممهاله ورسره تصادم پيل شو چې تر اوسه يې موږ په چرخ کې را ګېر يو او لا هم دا لړۍ روانه ده. ښه په تېزي لا هم چپي افکار د چپي له چوکاټ، نوم، طريقې، اصولو او د هغوی د اشخاصو له نومونو سره واردېږي او کار ورته کېږي، په مقابله کې يې ښې اړخي هم لاس تر زنې نه دي ناست، دلته چې د يوه ملي فکري توليد وړتيا پيدا نه شوه نو حتمن دواړه خواوې د افکارو واردات پيلوي چې د بلې ټولنې توليد وي، هره ټولنه توليد د خپلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تقاضا لپاره کوي، کله چې د هغې ټولنې فکر زه راوړم په خپله ټولنه کې يې تطبيقوم، نو دلته مې تقاضا ته حساب او محاسبه نه ده کړې، له تقاضا پرته يو شی عرضه کول که په ټوله معنا زيان ونه لري نو نيمايي خو يې تاوان حتمن کوي، زموږ د وارداتي افکارو چلند له ټولنې سره همداسې دی. زه دا ادعا هيڅکله نه کوم چې چپيان ټول غلط وايي، نه دا وايم چې مقابل لوری يې مکمل ناسم وايي يا هم سم وايي. اما زه وايم له هر يوه سره په شته ايډيالوژي کې دې وکتل شي چې زموږ د ټولنې لپاره چيشي په درد خوري؟ يو څه د ټولنې خپل، يو څه د يوه اړخ او نور د بل که سره ميکس کړل شي او د دې ټولنې د تقاضا موافق يو شی ترې جوړ شي، اما له دې شرط سره چې نه هغه د بل هيواد نوم پر پروت وي، نه يې د تعميل هغه روش وټاکل شي، نه دلته د زنده اباد لينين او زنده اباد اخوان، پاکستان، و خموني، سعودي، وهابي او داعشي چيغې پورته کړل شي؛ بلکې کاملن د دې ټولنې په رنګ رنګيدلی يو خوځښت وشي، زما په اند هم به بريالی وي او هم د ولس اعتماد ور خپل کړي. زموږ د هر تېر (په اصطلاح) انقلاب خلاف ځکه د جنګ انګېزه پيدا او پياوړې شوه چې دلته د ټولنې يوه برخه د پردۍ پالنې په مقابل کې حساسيت لري، يوه بله برخه د بلې پردۍ پالنې دعوه کوي، هغه فکر چې دلته حاکميت پيدا کوي، حتمن يې مقابل لوری په کمين کې ورته ناست وي او له هرې موکې څخه په ګټې اخيستنې يې د پرزولو هڅه کوي چې څو پلا مو همدا حالت او تجربه په خپل ژوند کې ليدلې ده. کله چې د ملت ترخپل منځ کشمکش پيل شي، بيا نو خارجي لاسونه هم را اوږده شي چې هره اسانه مسله بيا نور پيچلي بعدونه پيدا کړي او معضله تر حل د ناحل کېدو لور ته ډېره وړله کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ دا اوس هم په دې حالت کې راګیر یو؛ ټولې خواوې پر وارداتي افکارو سره په شخړه دي او حتا د الفاظو او نومونو پر ټاکنه لا هم اختلاف دی او تر جنګونو یې خبرې رسېدلې دي.

له دې حالته د وتلو لپاره څو کارونه زما په اند اړین دي چې باید وشي:

۱/ ملي ګټو ته ژمن داسې ګوندونه جوړول چې د وطن اقشار وربانديي باور وکړي، خلک پکې ځان ووینی اول له ښاره تر کلي، له یوه سمته تر بله، له یوه قومه تر بله د هیواد لویه برخه وګړي په څو لویو ګوندونو کې را ټول شي چې چارې د یوه کس پر ځای بسته کیمټې ته نقل شي او د ولس په اراده او غوښتنه تصمیم ونیول شي.

۲/ د ټولو هیوادوالو لپاره مشترک ټکي پیدا کول چې ګرده خلک وربانديي اتفاق نظر ولري، دا که طالب وي، یا حکومت، ولس وي که پخواني جهادیان، له خارجه راغلي افغانان وي که دلته ستر شوي تعلیم یافته روشنفکران.

۳/ د خارجیانو د وجود په اړه یوه داسې اجماع چې ټول اقشار پکې نظر ور کړي او هر موقف که ټاکل کېده هیڅوک هم داسې احساس نه کړي چې زموږ خبرو ته غوږ ونه نیول شو. د دوی د وجود په اړه باید هر څه واضح شي چې د مخالفت لپاره چا ته دلیل پاته نه شي.

۴/ ټول افغان طرفونه باید یو د بل په وړاندې له حوصلې او زغمه کار واخلي، هیڅ یو افغان دې د بل په وژنه او تکلیف نه خوشالیږي. افغانان باید یو د بل له ترټنې او دښمنۍ لاس واخلي دلته هر انسان بل ته د قدر په سترګه وګوري او متقابل احترام ټول ومني.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵/ دواړه ډلې له جنګه د ستړیا احساس کوي، اما عملـن جنـګ تشدیدوي، د ښه نیت لپاره دې له دواړو غاړو سره شته بندیان د یـوه داسې میکانیزم له مخې خوشي کړل شي چې دواړه ډلې ورباندي اتفاق وکړي.

۶/ د بندیانو د خوشي کولو له سلسلې سره دې یوځـای دواړه ډلـې خپل جنګي عملیات کم کړي، یا دې په ځینو سیمو کې بیخـي اوربنـد وکړي چې په دې ډول به باور را پیدا شي او سوکه سوکه به دا لړۍ پسې پراخه شي.

۷/ دواړه ډلـې دې تـر خپـل مـنځ خـبرې سره وکـړي او هـیڅ ډول خارجي لاسونه دې نه ورته را ایله کوي، ځکه د دوی له لاسه همدغـه حال دی. که افغانان په خپل منځ کې سره جوړ شي نو د خارجیانو هـر ډول شتون ته اړتیا نه پیښېږي او نن تر هر څه مخکې زموږ خپل منځي باور ته اړتیا ده.

۸/ دواړه غاړې دې له ټولو هغو اعمالو ځانونه وساتي چې د جنـګ انګېزه ترې پیدا کېږي او دا کړنې چې حساسیتونه پاروي یوه یوه په نښه شي او خپل جنګیالي او ځواکونـه دې امـر کـړي چـې د دې ټکـو پـه کلکه مرعات وکړي.

۹/ دواړه لوري دې یو د بل په وړانـدې لـه تبلیغـاتي جګـړې سـوکه سوکه لاس واخلي. ځکه تبلیغات یو د بل غوسه را پاروي چې د جنګ د اوږدېدا سبب کېږي.

۱۰/ دواړه ډلې باید له ځانو سره دا فرض کړي چې سوله او یو له بل سره تفاهم کې تېرېدل وي، په دې هم باید پوه شي چـې د افغانـانو تـر خپل منځ جنګ کې هیڅ لوری که بل له میدان وباسي هم ګټونکی نـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی، ځکه خپل د وطن انسان يې وژلی دی، ژوبل کړی يې دی او لـه وطنه يې فرار ته مجبور کړی چې که سبا هغه وس پيدا کړي نو لـه دې بل سره به همداسې کوي؛ له دې امله بايد هر طرف نرمښت وکړي، تر خپل موقف را تېر شي او د يوه امن هيـواد لپـاره چـې وګـړي يـې نـور ناحقه ونه وژل شي، سوله وکړي او د سـولې لپـاره پـر ځـان لازم تنـزل فرض کړي او ځان ورته له هره وخته چمتو کړي.

۲۰۱۹/ نومبر / ۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ديني مدارسو ته مصارف بايد له کومه شي؟

زموږ په سيمه کې د ديني زدکړو لپاره جوړ سيستم خورا ګډوډ او له مشکلاتو سره مخ دی. که يو څه مبالغه ور سره وکړو نو دلته اصلن هيڅ سستم وجود نه لري. له يوې سيمې تر بلې د زدکړو چاپيريال، د تدريس طريقه، د نصاب کتابونه، د استادانو ليدلوری او د متعلمينو د نس مړولو وسايل يو له بل سره توپير کوي. همدې ته په کتو موږ ادعا کولای شو چې سستم وجود نه لري او له دې امله په دې لار کې خورا زياتې خلاوې موجودې دي.

تر ټولو لويه خلا په نصاب کې موجوده ده، اما د نصاب پر مشکلاتو به يوبل ځای بحث وکړو، دلته غواړم د ديني مدارسو د مصارفو په اړه يادونه وکړم چې مصارف يې بايد څنګه را پيدا شي او څوک يې تمويل کړي؟

دا اوس وخت د ځينو مدرسو لپاره يې بنسټګران چندې کوي، څوک ورته له شتمنو کسانو په يونه يو ډول زکاتونه اخلي، څوک خپله يو څه لري او نور پاته مصارف له حکومت يا بل ځايه تر لاسه کوي. د مساجدو طالبان بيا نس مړولو لپاره ډوډۍ ټولوي چې ځينې ورته زيرې وايي او نورو سيمو کې بيا وظيفې بلل کيږي.

دې حالت له ځان سره بدې پايلې راوړې دي، ټولنې ته د ګټې پر ځای يې زيان زيات دی. دا زدکړې که څه هم وړيا دي خو د فقر، مسکنت، چندو، د بل په ډوډۍ او خواريو کيږي چې نتايج يې هر وخت بد ثابت شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د وړيا زدکړو له وجې خلک ديني مدارسو ته هغه ماشومان ور کوي چې د کار نه وي، په خپل کور کې زيات کار نه شي ځنې اخيستی، د دې لپاره چې هم ثواب هم خورما شي، نو مدرسې ته يې لېږي چې ديني عالم شي.

زموږ د خلکو اولادونه زيات وي، له دې امله د ټولو تربيه ورته ګرانه وي، همدا وجه ده چې د مسکينانو زامن زياتره د مکتب پر ځای مدرسې ته ځي، دوی هلته نس هم اړولی وي، خلک ورته کالي هم ور کوي، په ختمونو او اسقاطونو کې ور کول کېدونکو پيسو ته يې سترګې اړولې وي. د روژې او اختر په مياشتو کې زکاتونه يا سرسايې ور کول کېږي چې له همدې څخه د کتابونو او جامو مصارف پوره کوي.

دې وضعيت له څو اړخونو پر طالبانو اغېز کړی دی:

**رواني لحاظ:**

يو کس چې له مسکينې کورنۍ څخه وي، په کور کې يې هم راحت نه وي ليدلی او د مور و پلار تر سيوري لاندې د تربيې پر ځای د بل رحم ته ولېږل شي او هلته يوازې د نس په مزدوري ورته درس رسېږي؛ نو دا د طالب رواني حالت سخت ځپي او په هيڅ صورت يو نارمل انسان له دې څخه نه شي جوړېدای.

دوی چې د يوې ګولې ډوډۍ لپاره ځانونه نورو ته محتاج بولي، هر وخت نورو ته په تمه وي او د مفتخورۍ له وجې يې بيا کار ته هم زړه نه کېږي. دوی په بې کارۍ کې را لوی شي، په مدرسه کې ورته ويل کېږي چې تاسو پر خلکو حق لرئ چې هغوی مو خدمت وکړي؛ ځکه نو هغوی بايد پيسې در کړي، کالي در کړي، ډوډۍ در کړي، ځای درته جوړ کړي او د ژوند نور لوازم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا فکر د هغوی له لوییدا سره پراخېږي او دوی هم پر ټولنه ځانونه ور تحمیلوي چې موږ ته به تر ژونده هر څه مفت راکوئ. یو لور ته زموږ ټولنه مسکینه ده، بل لور ته د طالبانو فیصدي خورا زیاته ده، د کار کولو هنرونه یې بیخي کم دي، له ملایي او تدریس پرته یې په بل شي سر نه خلاصېږي، لویه برخه یې د بې وزلو کورنیو کسان وي، له اوله تر اخیره مفتخواره اموخته شي او هیڅ کار د تعلیم مهال نه کوي، دا حالت د هغوی رواني حالت سخت خراب کړي او یو لور ته مسکینان وي خو بل لور ته د خپل ناسم چاپېریال له امله پټ غرور هم ور سره وي چې موږ حق لرو خلکو مو وساتي. په داسې حال کې چې رسول الله ص ویلي دي: الید العلی خیر من الید السفلی. طالب که هر څومره هم د دیني زدکړې وکړي، خو چې د بل په ډوډۍ را لوی شي بیا هغه غرور او عزت النفس نه ورته پاتېږي چې اصلن یې یو انسان باید ولري، له همدې وجې دوی د ټولنې، ملک، ماړه، تجار او نورو کسانو تر احسانانو لاندې وي چې د دین تعبیر و تفسیر یې هم ترې متاثره کېږي.

## بېکاري:

د طالب العلمانو لویه برخه بې کاره وي. ما زموږ د سیمې طالبان لیدلي دي چې د کورنۍ مصارف یې ورونه ور کوي. زما یو د خاله زوی دی، پلار یې هم خپل کور ساتي او هم د زوی، ما یوه ورځ ورته وویل چې له پلار سره دې کومک شه؛ ویل یې څنګه؟ ما ورته ویل: که نور نه وي کور شه، هغه به په خلاصه پښه یو خوا ته ځي، باغ کار کړه، اوبه ورسره ولګوه، د کور مالونو ته واښه وکړه، که یو څوک مریض وي ډاکټر ته یې بوزه. ته نه مصارف راوړې نه په دې نورو چارو کې ورسره مرسته کوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دوی لوی کار ملايي ده، په کليو کې ملايي هم په زکات ور کول کېږي چې د کال ټول مصارف به بيا هم د ملا پر خپله کورنۍ وي، دا ملايي نو کله د هغه د کال شومه کېږي او کله په نيمايي کې خلاصه شي چې بيا يا ورور ته متحاج وي يا هم فقر کوي يا هم حتمن قرض اخلي.

**کمزوری ظرفيت:**

په وړيا زدکړو بيا په مدرسه کې داسې هنرونه کله زده کېږي چې هغوی ته په اينده ژوند کې په ښه ور شي. له دې امله يې لويه برخه کسان د ظرفيت له مخې خورا پر ځوړه وي. د دوی لويه برخه چې زموږ د سيمې ماته معلوم دي نو تدريس هم نه شي کولای. يوازې د يوه داسې جومات امامت ته جوړ وي چې په کال کې يوه ورځ نه تقرير وکړي او نه هم کومه خطبه لازمي وي. داسې مساجد به نو چېرې پيدا کېږي؟ دومره مساجد له کومه شي؟ د وينا هنر نه لري، تدريس نه شي کولای، کار وبار نه شي کولای او په چيشي يې وکړي؟ له خلکو سره تعامل هم ورته سخت وي؛ ځکه زياتره وخت يې په انزوا کې تېر کړی وي، په هيڅ ژبه نه پوهېږي، انگريزي يې نه وي زده، عربي سره مازې بلد وي، د قران کريم تلاوت لا ټول په سم ډول نه شي کولای، کمپيوټر باندې پوهېدل خو دومره گران ورته ښکاري لکه له ناسا سره چې کار کوي؛ تر دې ټولو ور هاخوا يې خپله خواره ژبه هم نه وي زدکړې چې ليک لوست ور باندې وکړي. په دغسې يوه حالت کې دوی ټولنې ته د خدمت لپاره وړاندې کېږي چې د ټولنې د خدمت پر ځای ټولنه مجبوره ده د دوی خدمت وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اقتصادي حالت:

اقتصادي حالت يې د پام وړ خراب وي. ما مخکې وويل چې زياتره يې له بې وزلو کورنيو سره اړه لري، له دې امله يې اقتصاد له پيله هم پر خوله پروت وي. مالي حالت بيا د انسان د ژوند له ټولو برخو سره تعلق لري، کله چې د يو چا مالي حالت خراب وي، نو ذهنن ناارامه وي، ظاهر يې سره ګډوډ وي، تمرکز نه لري، تر کار يې بې کاري خوښه وي، د بل جيب ته تمه کوي، د کار حوصله ورسره نه وي پاته، له ژونده تنګ کوي، خلکو د ژوند د نعمت او الهي پيرزوينې پر ځای د هغه د سختۍ او بدوالي خبرې زياتې کوي چې هم خپله له ژونده تنګ معلومېږي او هم نور زړه توري کوي. زموږ د ملايانو لويه برخه له دنيا کرکه کوي، دوی د ټولو ګناهونو سر دنيا کڼي، اصلن دوی محروم دي، کله چې دوی په لاس کې شی ونه لري د خپل زړه د کاذب تسليت لپاره هغو افکارو ته پنا وړي چې دنيا پکې غندل شوې ده او هغه کسان ورته وليان ښکاري چې له دنيا يې مخ اړولی وي. که نه د انبياء عليهم السلام تګلاره داسې نه ده، هغوی په ښارونو کې مبعوث شوي دي، د خلکو سره اوسېدلي دي، شتمن خلك يې دعوت کړي دي، د مالي نفقې فضايل يې ذکر کړي دي او قران کريم وايي: {رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ} [البقرة: ۲۰۱]

## د زدکړو تسلسل:

د زدکړو مهال يې تسلسل هم ډېر خراب وي. ځکه دلته د يوه سيستم مدرسې او پوهنتونونه نه شته چې دوی له يوې درجې ووزي بلې درجې ته امتحان ور کړي او همداسې مخته ولاړ شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دوی زياتره درسونه پر خپل طبيعت وي، هر کتاب چې يې خوښ وي هغه وايي او کوم چې يې خوښ نه وي هغه ايله کړي همداسې تر اخيره.

زياتره وخت د مالي مشکلاتو له امله يا هم د کمزوري خوراکي نظام له وجې له يوه ځايه بل ځای ته کډې کوي، له يوې مدرسې بلې ته ځي ډېر وخت يې په سفرونو او رحلتونو کې تېر شي.

د زدکړو تسلسل هغه مهال سره پيوسته کېږي چې د يوه نظام تر چتر لاندې وي، کله چې نظام وجود ونه لري، هر کس د خپل طبيعت له مخې کتابونه لولي، دوی د زدکړو مهال نه پوهېږي چې اينده به کوم کتابونه ورته ګټور وي؟ دوی ته نه مهم کتابونه له نامهمو معلومېږي، نه د اړتيا وړ کتابونه په دقيق ډول ورته ښودل کېږي، له دې امله فارغ ملايان وي د عربي ګرامر يې نه وي زده، د قران له اصولو سره ناخبره وي، اصول الفقه او اصول الحديث ورته نااشنا وي، نوي جديد فقهي اصطلاحات او مسايل ورته بيخي د بل فن خبرې معلومېږي، په مجموع کې دوی هغه څه وايي چې زياتره برخې ته يې اوس ټولنه اړتيا نه لري، په ماضي کې پاته وي، خيال او تصور ور سره وي خو فعلن يې ژوند ته خاصه ګټه نه لري.

کله چې د زدکړو بهير يو لور ته سره پيوست نه وي، مخکې يې له وروسته سره ربط ونه لري، يو د بل تکميلونکی نه شي، تر يوه چتر لاندې نه وي، د معاشرې اړتياوې نه پوره کوي، لويه برخه يې پر خيال، تصور او ماضي ولاړه وي، نو دا زدکړې اصلن له لويه سره اړينې بيخي نه دي چې زموږ د زرګونو بلکې لکونو ځوانانو ژوندونه پکې خاورې کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**له ټولنې څخه دایمې خپګان:**

د وینا مهال مې ملایان لیدلي دي چې له ټولنې څخه ګیلې کوي، پر خلکو ور غوسه وي او تېره ژبه ورته کاروي. داسې ښکاري چې د خدای خاص مخلوق دی او دا نور خلک یې د دوی رحم و کرم ته ایله کړي وي. په داسې حال کې چې خدای خپل رسول ته هم وایي:

{ فَبِمَا رَحْمَةٍ مِنَ اللَّهِ لِنْتَ لَهُمْ وَلَوْ كُنْتَ فَظًّا غَلِيظَ الْقَلْبِ لَانْفَضُّوا مِنْ حَوْلِكَ} [آل عمران: ۱۵۹]

ژباړه: د الهي رحمت له امله ته دوی ته نرم یې، که ته بد اخلاقه او سخت زړی وای، نو دوی به حتمن ستا ملګري ایله کړې وای.

د رسول الله صلی الله علیه وسلم حدیث بخاري نقل کړی دی چې وایي: یسروا و لاتعسروا، بشروا و لا تنفروا.

اساني کوئ، سختي مه کوئ، زېری ور کوئ کرکه مه خپروئ.

سخته ژبه پر خلکو تاثیر نه لري، خلک د دې پر ځای چې هغوی ته مایل شي نفرت یې ځنې کېږي، سختي د مشکلاتو دوا نه ده، رسول الله ص وایي: خدای نرم دی او نرمي یې خوښه ده.مسلم

له ټولنې خپګان د هغوی لپاره په ژوند کې خورا زیات مشکلات را پیدا کوي، په مرضونو یې اخته کوي، ډپریشن ورته پیدا کوي، انزوا ته یې ټېله کوي، تونده خویه اموخته کېږي، غوسه ژر ورځي، په تعامل کې مشکلات لري او په ټوله کې د بداخلاقۍ او بد خلقۍ لورته مایل کېږي چې دا د دیني طبقې لپاره ښه نه دي. نه په دې ډول دوی دیني پیغام خلکو ته سم رسولای شي او نه پر خلکو اثر کوي، بلکې په دې ډول دوی دین او شریعت ناسم معرفي کوي چې تر مثبتو نتایجو به یې منفي خورا زیات وي. لکه چې دا هر څه موږ اوس په سترګو وینو!

(c) ketabton.com: The Digital Library



## حللار څه ده؟

څو کارونه حتمي دي چې د دې وضعیت مخه بدله کړي:

۱/ له نورو هیوادونو په دې برخه کې باید مثبت کارونه کاپي کړل شي، هغوی څنګه نظام ورته جوړ کړی، سیستم یې څنګه دی؟ څوک زدکړو ته جذبیږي او له پیله تر پایه یې میتود څنګه دی؟ که موږ په خپل شاوخوا کې هیوادونو ته فکر وکړو نو هغوی زموږ په شان کمزوری نظام نه لري، هلته طالب العلمان دومره خوار هم نه دي او نه دومره بې هنره دي چې یوازې تر ملایي او تدریس پوري یې یې ټول ژوند ور ټول وي.

۲/ د ماشومانو زدکړې دې د مدرسې او مکتب په نوم نه سره جلا کوي، بلکې لومړی دې ټول یو ځای زدکړې پیل کړي، کله چې هر څوک د تخصص مرتبې ته ورسیږي نو هر څوک دې خپله څانګه انتخاب کړي، شرعیات وایي که طب وایي، عمومي زدکړې به یې یوځای وي، هغه ابتدایي اړینې زدکړې به ټولو کړې وي، هغه لومړي هنرونه به ملا او غیر ملا زده وي، ظرفیتونه به یې ښه شي او د ټولنې له نورو اقشارو سره به یوځای اوسي چې د مدرسې او مکتب، یا په اصطلاح د طالب او مکتبي ترمنځ شته فاصله له منځه ولاړه شي.

۳/ د زدکړو مهال باید زده کونکي ځینې هغه کارونه په نښه کړي چې دوی ورسره دلچسپي لري. په کوم شرکت کې کار کول، د کمپیوټر په دوکان کې کار، له دوکانداري یا کاروبار سره اشنا کېدل، ساعت سازي زدکول یا هم په ژوند کې خورا زیات کارونه دي که یې څوک زده کول وغواړي؛ نو ورته غوره به هم وي او ژوند کې به یې ډېر په ښه هم ورشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴/ د زدکړو د جذب لپاره دې معیارونه معلوم شي، که څوک پر هغه معیار پوره وي، نو د لوړو زدکړو لپاره دې ومنل شي او که پر معیار پوره نه وي، نو د دنیوي هنرونو لپاره دې بل ځای قبول شي، خو د شریعت او دین یا له اجتماع سره اړیکه لرونکو څانگو ته دې نه ایله کوي.

۵/ د خطابت او امامت لپاره دې معیار وټاکل شي او دولت دې د یوه خاص میکانیزم له مخې دا کسان غوره کوي، ځکه دوی له اجتماع سره راسن په تماس کې دي او د دوی خبرې و عمل پر ټولنه مستقیم و نامستقیم اغېز لري، څوک چې دې منصب ته راځي حتمن باید نه یوازې دیني علوم یې په کامل ډول خلاص کړي وي، بلکې له ټولنپوهنې، تاریخ، نبوي سیرت او دې ته ورته نورو مهمو علمي څانگو سره هم رابطه ولري چې د مسایلو د بیان مهال د ټولنې حساسیتونه او اړتیاوې په نظر کې ونیسي، نه داسې چې په خپلو وعظونو ټولنې ته د گټې پر ځای تاوان زیات ورسوي.

۶/ د دیني تخصص لپاره دې یا دولت مدرسې جوړې کړي چې ټول نصاب دې د اړتیا له مخې ورته وټاکي، خصوصي مدرسې دې هم له دولت سره راجستر شي او د دولت جوړ نصاب دې په هغوی هم ومنل شي. که داسې نه کوي نو لکه د نورې نړۍ پوهنتونونه دې جوړ کړي او هلته دې همدا دیني تخصص ته څانگړې علمي څانگې وټاکي لکه د الازهر، مدینه یونیورسټي، ام القری پوهنتون، ریاض او داسې نور.

۲۱/۱۲/۲۰۱۹

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دروغجن او درواغ په ټولنه کې

له زیاتو کسانو مې دا متل ډېر ځله اورېدلی چې د دروغو منزل لنډ وي. دا مې هم اورېدلي چې وايي، دروغ دې شخصیت ته زیان رسوي او رښتیا دې باور پخوي. په اشعارو کې هم دروغ او درواغجن غندل شوي. شاعر وايي:

دروغجن سړی د عفوې لایق نه دی
په رښتیـــــــنو باندې عفوه ده روا

مګر له دې متلونو سره زموږ په ټولنه کې خبره د دې برخلاف ده. زه چې څومره معلومات کوم، خلك پېژنم او مجلسونو کې ګډون کوم، نو تر حقیقت خوښونکي پر درواغجن او لاپو ډېر کسان را غونډ وي. تر رښتیا ویونکي او رښتیا خوښونکي د درواغجنو خبرو ته خلکو ښه غوږ نیولی وي او د مجلس ګډونوال زیاتره د هغه لور ته ګوري او ورته غوږ وي. زما په ګومان دا به یو حقیقت وي چې حقایق ویل ترخه وي او د ترخو هضمول بیا د هر چا کار نه دی. درواغ لکه د هر سړي خیال، دنګي مانۍ په جوړې کړه، خلکو ته ښه زېري ور کړه، خلك خوشاله کړه، په مجلس کې په لویو خبرو، ښه وعدو، سترو زېرو او لاپو د خلکو زړونه لاس ته کړه او ځه خپل کار مخته وړه.

نه پوهېږم د نورې دنیا خلك به هم هغه کسان په لویه پیمانه خوښوي چې له حقیقته ځان کاږي او د دروغو په نړۍ کې خلکو ته اسمان څکې مانۍ ښکاره کوي؟ که یوازې موږ داسې یو؟ زموږ د ټولنې په ترکیب کې د هغو کسانو پله درنه ده چې تر حقیقي جهان د

(c) ketabton.com: The Digital Library



دروغو بې ثباته نړۍ ورته ښه ښکاري. له دې امله مو د عوامو تر څنګ لوستي کسان او ان مشهور چارواکي په دروغو عادت دي.

که په دې خبرو کې څوک را سره همنظری نه وي، نو فکر کوم دی د درواغو په ډولونو نه پوهېږي، یا خو پوهېږي، مګر یو شمېر ډولونه د درواغو له لیست څخه باسي. زموږ په ټولنه کې درواغجان په خورا ډېرو ډولونو هڅه کوي چې د حقیقت رڼه څېره د خپلو اوهامو د څادرونو په پلونو کې پټه کړي. دلته یو شمېر کسانو دروغو ته د رښتیا جامې ګنډي. دا جامې ما لیدلي دي. دین ته منسوب کسان په دیني رنګ رنګېدلو جامو کې خپل درواغ پټوي. زموږ خلك په ټوکو وایي چې کله ملا درواغ ووایي، نو دوی وایي: مبالغه مو وکړه او که امي درواغ ووایي، بیا ملا وایي، درواغ یې وویل. دا ځکه ویل شوي چې خلکو ته د ملایانو درواغ بربنډ شوي دي. خو دا چې دوی خپل ځان ته یو ډول دیني تقدس ور کړی، له دې امله نو خلك مخامخ برید نه شي پر کولای. له عامو کسان سره چې کېني، دوی هم په خپل ور ځنې ژوند کې له درواغو ځان نه شي خلاصولای. د دوی د درواغو خورا ډېر او دلچسپه میتودونه دي. یو شمېر کسان له حقیقت سره هلته او دلته د درواغو سپېرونی ګډوي. دوی چې کله کیسه کوي، نو یو ځای د ځان په ګټه دروغو ته لار سمه کړي. بل ځای په غیر مستقیم ډول ځان ته کمپاین کوي، بیا د ځان ستاینې لپاره د حقیقي کیسې په یوه ګوښه کې کوشنی ځای درواغو ته خالي کړي. کله بیا نوري طریقې هم کاروي.

نور بیا د خدای بوزي بندګان چورلټ درواغ وایي. ما لیدلي دي. که ته یوه رښتني دلچسپه کیسې وکړې چې د مجلس خلکو ته خورا په زړه پورې وي. نو دی سمدستي ستا کیسې ته ورته کیسې را پیل کړي، خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت، ځای او کریکټر یې ور بدل کړي. دا نو د درواغو هغه بربنډه ډول دی. داسې کسان مې هم ښه ډېر لیدلي چې لاپو درواغجن وي. که دوکاندار وي، د سودا، د ده د مال د ښه کیفیت، د نورو د بد مال، له خلکو سره د ښې ګوزارې او داسې نورو په اړه عجیب درواغ کتار کړي، خو دا ډول چې ما څومره لیدلی دی، نو د لاپو په بانه دا درواغ ستا مخ ته بیانوي او فکر کوي چې مخاطب یې لکه یو ووړ بې عقل ماشوم د ده په باډسکو هیڅ نه پوهېږي او هر څه به رښتیا-رښتیا ورته ښکاري. له هر مسلک سره تړلي درواغجنان همداسې چمونه کوي.

ځینې بیا هر وخت درواغ نه وایي، خو کله ناکله ښه ګېر په خرڅوي. دوی نیمه د درواغو عادت لري. په ور ځنې ژوند کې دوی هڅه کوي چې درواغ ونه وایي. تر یو حده یې هڅه بریالۍ هم وي، اما عادت بیا هم عادت دی. انو ارو مرو د ورځې یو وخت موکه مومي او په دې توګه د خپل تمرین وخت او موکه له لاسه نه ور کوي.

د ټولنې یوه بله برخه کسان بیا د درواغو په څو داسې ډولونو اخته دي چې هر څوک یې دروغجنوالی نه‌شي ثابتولای. ما داسې کسان لیدلي دي. د مشاهدې خبرې دي. یو چا به لوړ پوړي چارواکي ته د ځان نږدې ثابتولو لپاره یوه داسې کیسه چې د ده تر مخ به شوې وه، مګر ده به رول نه پکې درلود، په داسې بڼه وړاندې کړه چې ځان ته به یې رول پکې ثابت کړ.

کله یو څوک کیسه کوي، مخاطبین د هر پوړ خلک وي؛ مګر د حقیقت را بر سېره کولو هیڅ مجال نه وي، نو دی په کیسه کې هڅه کوي چې خلکو ته د کیسې، یا بل وار د حال بیانولو، را پور ور کولو او نورو کې ځان هم مهم ثابت کړي. بیخي مشهور کسان په دې مرض

(c) ketabton.com: The Digital Library



اخته دي او څو وارې مې تر مخ داسې څه شوي دي. حتا دې کسانو په مجلس کې شناخته ماخته ته سترګه هم وهلې چې چانس مې لـه لاسـه مه باسه. د خپل واک او صلاحیت ښودلو په خـاطر هـم خلـك دروغ وايي. يو څوك غواړي ځان چارواکو ته مهم ښکاره کړي، نو د مـوکې په موندلو هر وخت مزغن دروغ ورته ووايي. د دې برخلاف بيا داسې کسان شته چې عوامو ته دا فکر ور کوي چې دی چـارواکو تـه زيـات نژدې کس دی. د دې لپاره نو کله په مجلس کـې نـامعلوم نمـبر ډايـل کړي، کمپيوټر د نفي ځواب ور کړی، دی له ځانـه سره لـږ پـه لـوړ ږغ وايي، د پلانی صيب نمبر هم بند دی خدای دي خير کـړي. کلـه يـوه کيسه کوي چې دی يا حاضر يا نه حاضر، خو شته کسانو ته داسې ښيي چې انو پلاني ماته وويل، داسې وکړه، ما پلاني صيب ته داسې وويل، پلانی شی مې پلاني ته ور کړ يا ده له ما پلانی شی وغوښتی.

دروغ زموږ په ټولنه کې هم خورا ډېر ډولونه لري. زما په ګومـان پـه پرمختللې نړۍ کې به تر دې هم زيات او پيچلي ډولونه لري چې د هغه ډول دروغو ويلو چم به لا تر اوسه مـوږ نـه وي زده کـړی، کـه نـه لـه مسلماني سره دروغ ويل خو زموږ اوس يوه پيشه ګرځېدلې.

دا چې خلك ولې دروغ وايي؟ نو د دې لاملونه هم ډېر دي او هم پېچلي، خو له دې سره يې زه په دې ليکنه کې د يادولو هڅه نـه کـوم. ځکه اوس مې لا تر اړتيا زياتې ليکې کښلې دي، له دې امله بايد دلتـه د پای ټکی ور کړم. والسلام!

۲۸/ ډيسمبر/ ۲۰۱۶

(c) ketabton.com: The Digital Library



## کاذب شهرت؛ ګټه که تاوان؟

د کاذب شهرت غوښتونکي یوازې زموږ په ټولنه کې ژوند نه کوي. بلکې د دې بېلګې په نورو ټولنو کې هم لیدل شوې دي.

کاذب شهرت دا معنا چې څنګه وي، هغسې ځان نه ښکاره کوي، بلکې تر خپل حقیقت د ښه تظاهر په داسې حال کې کوي چې اصلاً هغه ډول نه وي. لکه: یو کس لیکوال دی، اما نوښتګر او مفکر لیکوال نه دی. مګر دی هڅه کوي چې د نورو لیکنې، وېناوې او ژباړې را پټې کړې او تر خپل نوم لاندې یې د دې لپاره نشر کړي چې خپل شهرت زیات کړي او لوستونکي تر اغېز لاندې راولي.

دا پېښې مخکې هم کېدلې، خو د ټولنیزو رسنیو له رامنځته کېدلو سره دا پېښې هم زیاتې شوې دي او هم یې کونکي ژر رسوا کېږي.

کاذب شهرت څکه ورته وایو چې کوم شی حقیقت ونه لري، نو ضرور به کاذب وي. دا چې یو څوک ځان په نوښتګر لیکوال مشهور کوي، خو هغسې نه وي، نو دا ځان ته کاذب شهرت جلبول دي. یو څوک ځان په ښو اخلاقو معرفي کوي، خو اصلاً په خپل کور او ګاونډیانو کې په بد اخلاقه مشهور دی، نو دا کاذب شهرت دی.

ځینې بیا په فیسبوک کې کوښښ کوي چې ځان د بېوزلو مددګار ورښیي. وخت ناوخته له مسکینانو سره د ناستې ولاړې تصویرونه پورته کوي او ځان د هغو غمخوار معرفي کوي. دا په داسې حال کې چې د هغوی د اصلي ربړې لپاره که یې په وس ډېر څه پوره هم وي، لکن که شخصي ګټه پکې ونه ویني؛ کار ورته نه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګڼ شمېر چارواکي شته چې ظاهرن د فساد و خیانت پر ضد چیغې وهي. څوک بیا له کعبې شریفې سره خپل عسکونه اخلي او تر موږ یې را رسوي. نور بیا په نورو طریقو د کاذب شهرت د تر لاسه کولو هڅه کوي. کاذب شهرت له عباداتو تر معاملاتو، له اخلاقو تر سیاسته، له شخصي ژونده بیا تر ټولنیز ژونده زموږ په رګ-رګ کې ځای نیولی.

کاذب شهرت ډېر بد مرض دی چې زموږ په ټولنه کې ورځ تر بلې سرایت کوي. دا شهرت له ګټو سره تاوانونه هم لري. که یو لور ته انسان ته شهرت ور کوي، نو بل لورته انسان په لیکوالي، عباداتو، معاملاتو، مسوولیتونو او د ژوند په نورو مهمو برخو کې په درواغو اخته کوي.

کاذب شهرت خلکو ته کاذب تسکین ور کوي. د دې لپاره چې یو څوک پر خپلو ظرفیتونو کار وکړي، ظرفیت رالوړ کړي، هنرونه او کمالونه زد کړي او په حقیقي کار او زیار ځان ته د شهرت زمینه برابره کړي، د کاذب شهرت تږي د دې برخلاف لکه تږی چې په سراب پسې ځي، دوی هم د خپل ژوند لپاره همدا د کاذب شهرت لار غوره کړي. یعنې خلک د هنر له زدکړو، ظرفیتونو لوړولو، کمالونو زیاتولو او... څخه را ګرځوي.

د کاذب شهر تږي خلک لټ اموخته کوي. یو کس تر ښه زیار وروسته یوه تخلیقي لیکنه کوي، بل یې ترې پټه کړي او د جملو په لږ تغییر یې په خپل نوم نشر کړي. یو د یوې مسلې په اړه خپل فکر بیانوي، بل سمدلاسه را غوټه شي او د هغه فکر غلا کړي په خپل نوم یې خلکو ته وړاندې کړي.

یو څوک ښه وړه جمله لیکي چې هم یو ترکیب خوندور وي او هم د محتوا له مخې د لوستونکو زړونو ته لار کوي. بل یې پټه کړي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوونۍ، میاشت او یا څو میاشتې وروسته یې پر خپل وال کښېږدي او په هیڅ ډول نورو ته دا اشاره لا نه و رکوي چې دا بل کس جمله ده یا هم مې په خپلو الفاظو کې د بل فکر بیان کړی.

د کاذب شهرت بل زیان دا دی چې د نورو حقونه پکې تر پښولاندې کېږي. کار یو کوي او نوم د بل یادېږي. خولې یو توی کړي او رنګ د بل ښه کېږي. زحمتونه یوه تېر کړي وي او خلک بل ته شاباسونه ور کوي. انرژي د یوه کس مصرفېږي او بل چې د لټۍ ژوندی مثال وي، د هغه له کار او زیار څخه په ګټې اخیستنې د خپل ځان لپاره فرصتونه ګوري. ګټې تر لاسه کوي، نوم کوي، خلک یې عزت کوي، ټولنه کې یې دروند نوم یادېږي. دا ټول د بل د زیار نتیجه وي چې صله یې په ناسم او غیر قانوني ډول بل کس وړي.

کاذب شهرت د شریعت له مخې ریا، د قانون له مخې ناروا، د انساني اخلاقو له مخې یو پرېوتی کار او د ادب و فرهنګ په ډګر کې یوه غلا ده. د کاذب شهرت تر لاسه کول د وجدان وژل دي. له قانونه بغاوت دی. انساني شرم تر پښو لاندې کول دي. د بشري غیرت قتلول دي. په دنیا کې غلا و ریا ده او په اخرت کې رسوایي او د عذاب وړ کړنه ده.

۱/ ۱۲/ ۲۰۱۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



## له علماؤ سره د ټولنې چلند

زموږ د ټولنې د عالمانو په اړه چې ما د حکومت له کسانو سره خبرې کړې دي که د ولس، هغوی زیاتره ګیلې ترې کوي. دوی فکر کوي چې يو لورته ظرفیتونه پکې کم دي، بل لور ته يې تولید زيات شوی دی، بيا هغه خدمت چې ور له غاړې دی هغه يې په سم ډول نه دی ادا کړی او بل خورا بې زغمه دي؛ يعنې له ټولنې او نظامونو سره په ګوزاره کې يې ډېرى پاتې راغلي دي.

اما دا نيوکې به پر خپل ځای سمې وي، خو که عالمان د ټولنې او نظام په وړاندې مسوولیتونه لري، نو ټولنه او نظام يې هم د عالمانو په وړاندې لري. زموږ په جامعه کې چې د عالم کومه وظيفه ده، دا ولاکه يا د هغه له شان سره مناسبه ده يا د هغه له زدکړو سره سمون لري.

زموږ يو مشکل دادی چې کارونه مشخص نه دي. ملا ته مو دومره کارونه ور له غاړې کړي دي چې مزدور يې ولاکه وکړي. په دولتي ادارو کې مو تر اوسه همدا حال دی؛ کار مشخص شوی نه دی هر څوک د بل په کارو کې مداخله کوي او ټيټ پوړي کسان د زياتو کارونو له امله ستړي وي او لوړپوړي مزې ورته کوي، ځکه لومړی ورځ دا نه شته چې ته د همدې کار لپاره يې خپل کار به کوي په نورو به کار نه لرې او نه به بل څوک په تا اضافه کار کوي. کله چې د حکومتي دندو دا حال وي، نو ټولنه خو تر حکومت هم غيرمنظمه ده، له دې امله نو هلته خورا زياته بې نظمي ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ د کلي ملا و ؛ لمونځ يې هم راکاوه، د ضرورت مهال يې وعظ هم کاوه، جنازې ته به هم ولاړ و، که به بل کلي کې فاتحه وه هم به تلی، د کلي پر فاتحه يا تعزيت به هم ځو ورځې ناست و، د مريض پوښتنه به د هغه په اقتدا کې کېده، کور يې هم ور له غاړې و او په جومات کې به مو طالبان هم ورته ساتل چې درسونه ورته ووايي؛ له دې هر څه سره به مو د کلي ماشومان هم د ملايانو له غاړې وو چې په ابتدايي ديني چارو يې خبر کړي هغه به مجبورن طالب ته ور له غاړې کړي وو.

دا ټول کارونه يوه لور ته، له ملا سره به د کلي هغه کس هم خبره بنده کړې وه چې په کلي کې نه؛ په کور کې يې هم چا ولاکه خبرې ته اهميت ور کاوه؛ اما د مسجد په ملا به د هغه هم کار و، په چارو کې به يې لاسوهنه ور کوله او د هغه د کارونو په اړه به يې عامه مجالسو کې نظر ور کاوه چې دا څنگه ملا دی، هغه او د غه کارونه کوي؟!

ښه! دا کارونه ټول يوه انسان ته ور له غاړې شول، په مقابل کې ټولنه څه ور کوي؟

د کلي خلك د حاصلاتو پر وخت ملا ته زکات يا عشر ور کوي يا په واړه اختر کې سرسايه!

پوښتنه داده چې که زکات ملا ته د هغه په مزدوري کې ور کوي، نو خدای ته چيش ور کوي؟ که خدای ته زکات، عشر۔او سرسايه ور کوي، نو ملا ته يې چيش ځانگړي کول چې د هغه کار په وشي؟

خلکو زکات هم د خدای؟ لپاره ور کاوه او هم يې د ملا غاړه په خلاصوله؛ که ملا مسکين وي، نو له امامت پرته هم د دې مستحق دی، نو بيا يې له امامته پرته ولې نه ور کوي؟ که دا هر څه په امامت پوري اړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لري، بيا يې د خدای لپاره چيش ور کول هغه فرض زکات، عشر او واجبه سرسايه؟ په دې ځای کې خلکو تر اوسه دا نه ده مشخصه کړې چې د خدای لپاره ده که د ملا؟

دا مشکلات پر خپل ځای؛ بله خوا ټولنه په هغه ملا پسې ګرځي چې يا يې خپل وي، يا هم د دوی خبره ومني، خلك چې څه ورته وايي، هغه يې ومني او په پټو سترګو د کلي له مشر او خلکو سره پر لار ولاړ شي. نور دوی ته د ملا ظرفيت مهم نه دی، دوی ته دا مهمه نه ده چې ملا څومره په خپل مسلك کې تکړه دی؟ څومره پر سنت او فقه برابر موږ ته لمونځ را کوي؟ څومره سم احکام راته بيانوي؟ له هغه سره زموږ د ديني چارو او اخرت څومره فکر دی؟

کله چې يوه ټولنه په قصدي ډول له خپل هغه رهبر سره داسې عمل کوي چې تقدس يې هم مني، مقدسه چاره يې هم ور کړې وي او په ټوله کې دوی د هغه او د هغه د مسلك په وړاندې دومره بې تفاوته شي، نو بيا له ملا ولې ګيله وشي؟

عرضه د تقاضا موافق وي، ټولنه چې د هر ډول کيفيت توکي غواړي نو عرضه هم د هغه ډول کيفيت شيانو کېږي، زموږ ټولنه چې له ملا څخه کيفيت نه غواړي، کمظرفه او باظرفه ورته بې توپيره وي، نو دا که يو لورته د مسووليتونو په اداينه او پېژندنه کې ستونزې ايجادوي، بله خوا پر تعليمي ژوند باندې هم اغېزه کوي. يو څوك ډېر تکليف کوي، بل څوك هغسې نه وي، کله چې فارغ شي، نو هغه کمظرفه ته په ټولنه کې ځای ور کول کېږي او هغه کوښښي هك حيران پاتېږي، کله چې په ټولنه کې د ديني علومو زده کوونکي دا حال ويني، هغوی چې د ژوند په ژورو او لوړو باندې لا سم نه پوهېږي تجربه يې نه شته، نو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



درسونو مهال کوښښ نه کوي؛ ځکه دوی په دې فکر وي چې که هر ډول فارغ شم په ټولنه کې دا ګنجایش شته چې ځای شم نو تکالیفو ته څه اړتیا ده؟

دا لړۍ پسې زیاتېږي، کله چې په بازار کې بې کیفیته توکي زیات شي، نو نرخونه یې هم رالوېږي او د هغه توکي ارزښت خپله د زیاتې بې کیفیته عرضې له امله را کمېږي.

د دیني فارغانو سره زموږ چلند خورا پر زړو معیارونو ولاړ دی. یو طرف ته دلته فقر دی، خلک په زامنو د دیني زدکړو تر څنګ نورې زدکړې او هنرونه نه زده کوي او دا کسان یوازې تر یوه مسلکه رامحدودېږي، همدا فقر بیا دې مسلک ته دز یاتو کسانو د راتلو سبب هم شوی دی چې لامل یې وړیا زدکړې دي. بل لور ته زموږ تعلیمي نصاب ډېر زوړ دی چې نویو بشریو غوښتنو ته پکې لازمه پاملرنه نه ده شوې. د علومو چټک پرمختګ د دې سبب شو چې د دې حوزې کسان شاته پاته شي، له اړتیا پرته ځینې تر وخت تېر اکسفایر نظري علوم ووایي چې نه په اخرت کې ورته ګټه لري او نه په دنیا کې هنر بلل کېږي چې مادي ګټه ځنې تر لاسه کړي.

په دې ډول دا غریبان خورا کمظرفه فارغېږي، یو لورته په ټولنه کې د ځان ځایولو لپاره اړ دي چې د خلکو غوښتنې ومنې، په دې توګه خپل قشر ته زیان رسوي، ځکه حیثیت یې سپک شي او خلک بیا ټولو ته په هماغه نظر ګوري چې دوی تجربه کړی وي. بل لور زیات کسان وي چې د خدمت موکه ټولو ته نه پیدا کېږي، داسې هنرونه ورسره نه وي چې په نورو چارو کې ځانونه مصروف کړي او ځانته یو حلاله روزي پیدا کړي؛ دا زیاتوب که یوه لور ته د هغوی حیثیت ته صدمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسوي، نو بل لور ته د زیاتو مشکلاتو او جنجالونو سبب هم کېږي چې موږ یې په خپله ټولنه کې شاهدان یو؛ حتا په اوسني وخت کې دغسې کسانو ته ځینې استخباراتي کړۍ هم لاس ور کوي چې کار نه لري، نو هغوی د خپلو ګټو د خوندیتوب لپاره یوه مشغله ورته پیدا کوي او د هغوی د ګټو خوندیتوب بیا زموږ د ګټو په تخریب کې وي.

زموږ ټولنه د دیني فارغانو د منلو او جذب لپاره هیڅ معیار نه لري، که څه هم په نوره دنیا کې د دیني زدکړو لپاره پر معیار برابر مرکزونه وجود لري، هلته پلټېر شوي استادان ټاکل شوي وي، د تعلیم مهال هر کال زده کونکي امتحان ور کوي چې د هغه په سند کې د هغه د ظرفیت ذکر کېږي او هر څوک یې له سنده هم ظرفیت معلوموﻻی شي، بیا ټولنه د هغوی د منلو لپاره خپل معیارونه لري، که په هغه معیار پوره نه شي نو هر څومره که د دیني علوم فارغ وي او ځان خدمت ته وړاندې کړي، خو ټولنه یې نه مني، نو هغوی اړ دي چې د ټولنې پر معیارونو ځانونه برابر کړي، هغه شرایط حتمي په ځان کې پیدا کړي چې خلک یې په یوه دیني عالم کې وجود لازمي بولي.

همدا شان په نوره نړۍ کې دولت هم دې ستونزې ته متوجې شوی دی. هغوی خپل تعلیمي مرکزونه لري او له هغه ځایه فارغ کسان پر هغو شرایطو پوره وي چې دولت یې د خپلو ادارو لپاره یوه برخه کسان جذب کړي، دوی د خپل نصاب په چمتو کولو کې د دیني زدکړو ترڅنګ نورو هنرونو ته هم پام کړی وي چې د دیني فارغانو یوه برخه کسان دولت ته ځي، یوه برخه یې ټولنه جذبوي، یوه برخه یې خصوصي سکتور کې ځان ځایوي او یوه برخه یې خپله هم ځان ته کارونه پیدا کوي چې په دې ډول د دوی د بېکارۍ مخه نیول کېږي. یو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مهم شی د نورو هیوادونو په اړه دا هم دی چې هغوی تر تقاضا زیات تولید او عرضه نه کوي، هغوی خپله ټولنه ګوري، څومره چې د سروې ګانو له مخې تقاضا وي په هماغه اندازه عرضه کوي چې نه د هغوی حیثیت ورسره داغداره کیږي او نه د لوستي کسان بې کاره پاتېږي چې بیا په نه شي پر ټولنه ځان وپلوري یا هم پر ټولنه تحمیل شي یا یې د بل هیواد استخباراتي کړۍ د ځان لپاره جذب کړي.

دا یوه لویه ستونزه ده؛ له دې ځایه زموږ ټولنې ته زیات مشکلات ور پېښ دي. دا خلک چې دیني زدکړې کوي، له انسانیت سره سره زموږ د ټولنې غړي دي، زموږ جامعه د یوې مذهبي ټولنې په توګه دې کسانو ته اړتیا هم لري، اما له دې ټولو حقیقتونو سره ولې له دوی سره داسې معامله کیږي؟ ولې یې مسلک ته په ښه سترګه نه کتل کیږي؟ ولې د هغوی لویه برخه بې کاره پاتېږي؟ ولې هغه مسوولیتونه چې باید دیني فارغانو یا عالمانو ترسره کړي وای، دلته یې زموږ مذهبي کسان نه کوي؟ دا مشکلات دي؛ په دې کې یوه برخه کې هم دولت تر یوه حده ملامت دی، هم ټولنه او هم خپله دیني عالمان. یوه دقیقه څېړنه کولای شي چې دا ستونزې او عوامل یې مشخص کړي، حللارې ورته په ګوته کړي او دولت، ټولنه او عالمان یو بل ته په لاس ور کولو د دې ستونزو د ختمولو لپاره لاس په کار شي.

۲۰۱۹/اکتوبر/۲۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ولې

کله چې په یوه شي نه پوهېږو، یا د یوه شي په اړه شک لرو یا هم غواړو د یوه شي په اړه خپل دریځ نور هم پیاوړی کړو؛ نو په اړه یې (ولې) وایو او پوښتنه کوو.

ولې په ژوند کې ډېر مهم دی. د مشهور یوناني فیلسوف سوکرات په اړه ویل کېږي چې هغه خلکو ته د شیانو په اړه پوښتنې پیدا کولې. د سینوهه په نوم چې کوم کتاب لیکل شوی په هغه کې کریکټر ته چې د فرعون ډاکټر دی همدا دنده ورکول شوې چې خلکو ته د هر شي په اړه همدا د ولې پوښتنه پیدا کړي.

پښتون شاعر هم د (ولې) په اړه یوه بیت کې وایي:

نور که د ښېګڼې وس دې نه رسي امجده
خلکو ته ذهنونو کې سوالونه اچوه

زموږ په ټولنه کې یوه لویه بدمرغي دا ده چې د ولې فرهنګ مو سم نه دی غوړېدلی. دلته ولې عیب بلل کېږي. یو کس فکر کوي چې د دې شي په اړه که ولې ووایم؛ نو نور به فکر وکړي چې زه ناپوه یم، کم علمه یم، په دې ساده شي لا نه پوهېږم، شخصیت ته به مې زیان ورسېږي.

په داسې حال کې چې څومره زه پوهېږم، زموږ ټولنه کې خلک بېخي د ساده شیانو په اړه نه پوهېږي. خو د ولې نه ویل هم د شخص په ځان کې دننه لاملونه لري او هم د یوه کس له شخصیته بهر. زموږ ټولنه هم داسې نه ده جوړه چې یو څوک په ښه جرات پوښتنه مطرح

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي او بل يې يا ښه ځواب ورکړي يا په لوی زړه ورته ووايي چې نه پوهېږم.

زموږ په ټولنه کې د ځينو شيانو په اړه خاموشي تحميلي ده. ځينې رواجونه، عادتونه، کارونه او... هم تېل شوي غونډې دي. زموږ په ټولنه کې بيخي ډېر شيان شته چې په اړه يې د ولې خبره مطرح کړو. اما نه مو ده کړې او يا نه شو کولای.

يو بل شی هم د ولې په ورکولو کې رول لري. په ټولنه کې شته جهالت هم ددې عامل بللای شو چې زياتره وګړي د زياتو شيانو په اړه ذهن کې پوښتنه پيدا نه کړي. که پوښتنه وهم کړي، نو ځواب دا وي چې ستا يې له دې سره څه؟ ته په دې نه پوهېږې! يا دې ته ورته نور نامناسب ځوابونه.

دا لوړ ځوابونه د خلکو جرات وژني. زموږ زياتره کورنۍ ماشومانو ته په مجلس کې د ګډون او خبرو حق نه ور کوي. کله چې يو څوک له ماشومتوبه همداسې بې (ولې) وروزل شي؛ نو په لويوالي کې هم پوښتونکی ذهنيت نه لري.

زموږ د کلتور ډېري برخې نن تر پوښتنې لاندې راځي. اما څوک جرات نه لري. يو ښه مثال يې دا تير ۴۰ کلن جنګ دی چې تر ننه يې څوک په اړه د ولې خبره نه شي مطرح کولای.

که ووايو چې ولې يوه پلا د روس خلاف د امريکا، عربو او پاکستان په مرسته او وسلو (په اصطلاح) جهاد روان و، چې نتيجه کې يې نظام خراب او ملت و وطن يې له پښو واچول. بيا طالب د مجاهد پر ضد وسله واخيسته اووه کاله يې د شر او فساد خلاف جهاد؟ وکړ؛ دا جنګ لا هم پای رسېدلی نه و، چې د امريکايانو راتګ ته مختلفو ډلو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



حزبونو او ګوندونو لار جوړه کړه. له راتګ سره سم یې پر خلاف نن بیا د روس، چین، ایران، عربو او پاکستان په مرسته جهاد! روان دی.

دلته پوښتنه چا ته نه پیدا کیږي چې اخیر دا څه روان دي؟ ولې روان دي؟ د چا په ګټه روان دي؟ اهداف یې څه دي؟ زه چې څومره پخواني مجاهدین او اوسني طالبان پیژنم نو ۹۰ سلنه یې د جهاد له شرایطو، تعریف او تګلاري سره نااشنا دي.

اما عملن ولاړ دي نظام خرابوي، وطن ورانوي، خلک قتلوي او په هیواد کې د هر پرمختګ مخنیوی کوي. دلته په دا ۴۰ کاله نه ملت ته او نه مجاهد ته دا پوښتنه پیدا شوه چې اخیر دا جهاد خو به هم یوه نتیجه لري؟ دلته یې مور ولې دا ۴۰ کاله نتیجه نه ده لیدلې یوازې د هیوادوالو وژنې روانې دي او ټول وطن مو کنډیکپر کړ؟

که مور له وخته پوښتونکی ذهنیت در لودای؛ نو حزبونو، ملایانو، جهادیانو، طالبانو، توپکیانو، حکومتونو، زورواکو، جنایتکارانو، سیمه ییزو استخباراتو او نړۍ والو ترهګرو سازمانونو او دولتونو به دومره لوبې نه راباندې کولې. ولې پر مختګ ته لار برابروي. ذهنونه روښانه کوي. د شیانو عمق ته مو رسوي. خلک د بیان ازادي په ترلاسه کوي. لنډه دا چې ولې د انسان له ژوند سره تړلې ده. که ولې نه وي؛ هلته به ژوند جامد وي. ذهنونه به تیاره وي. نوښتونه به په ټپه ولاړ وي. انسان به له کړاو سره مخ وي. ټولنه به وروسته پاتې وي. پر ملت او ولس به یو څو زورواکي، مفسدین، جنایتکاران، مذهبي مافیا، شتمن، د نورو ګوډاګیان او جاسوسان واک چلوي او په دوی کې به دومره څوک نه وي چې د روان حالت په اړه یوازې (ولې) ووایي.

۲۰۱۸/ ۲/ ۲۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ادبستان چې ما ولوست

په فیسبوك کې مې د دې کتاب د چاپ خبر ولید. زه ورته خوشاله سوم. کتابخانې ته ولاړم او له دې کتاب سره مې ځو نور هم د لوست لپاره انتخاب کړل. لومړی مې د ملا ضعیف کتاب مطالعه کړ. له سریزې بیا تر پایه مې نقدونه پر لرل، خو د ځینې نزاکتونو له امله مې اوس مناسب ونه ګڼل. بیا مې ادبستان ته مخه کړه. ما مخکې هم د اجمل ښکلي ادبي زاوېې، د نړۍ ادب او د ژباړې په اړه لیکلې مقالې لوستې وې. په دې کتاب کې مې ځینې ځایونه په نښه کول چې ما له خپل لیدلوري پرې نقد در لود.

د کتاب پر سپینه ورکه، اخیر دا په نښه شوي ځایونه ښه ډېر شول او ما هم پر دې مطالبو د خپل نظر د اظهار لپاره یوه لیکنه غوره وبلله.

که څه هم اجمل ښکلی تکړه لیکوال دی. لیکنې یې زموږ لپاره غنیمت دي. له ادبستان او نورو کتابونو یې ما ډېر څه زده کړي دي. اما په دې کتاب کې یې ځینې ځایونه ما ته د نقد وړ ایسي. زه یې په دې لیکنه کې د کتاب له حوالو سره خپل نظر هم یو ځای لیکم. یا به واقعن استاد ښکلی تېروتی وي یا به زه خطا یم. که هغه تېروتی وي؛ نو اینده چاپ کې ممکن دا اصلاح کړي او که زه خطا وم نو لوستونکي به ما متوجې کړي.

په ۷ مخکې د سینوهه په اړه لیکي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ادبیات له موږ سره د ژوند په پېژندولو کې مرسته کوي.چا چې سینوهه لوستی، تر بل هر هغه کس ژوند ښه پېژني، چې سینوهه یې نه دی لوستی.(ادبستان:۷)

دا به ومنو چې سینوهه تر یوه حده ښه کتاب دی. ما لوستی دی او د مطالعې پر وخت یې ځان تر پایه راندي وکوت. مګر په دومره زیاتوب نه ارزي. بیا که د لیکوال همدومره خوښ شوی وي، نو دا به د ده خپله شخصي تجربه وي، اما حتمي نه ده چې د لوستونکي نظر د ده په شان وي. لیکوال خپله پر شعرستان د نقدونو په لړ کې دا نقد هم کړی چې لیکوال(درمل) د خپل ذهنیت له کړکۍ لوستونکي ته هم کتلي. اما دلته یې خپله هم هغه کار کړی چې پر درمل یې له همدې امله نقد کړی و.

زه ډېری داسې کسان پېژنم چې د سینوهه نوم یې هم نه دی اورېدلی اما ژوند سم پېژني. موږ د ښه ډېرو تېر و انسانانو په اړه هم معلومات لرو چې سینوهه د هغوی په وخت کې لیکل شوی نه و، اما ژوند یې سم پېژندی. دا الفاظ زما په اند له مبالغې خالي نه دي. د استاد ښکلي په شان لیکوال باید داسې زیاتوب ونه کړي. که دوی هم له خپلو الفاظو او جملو سره پام ونه کړي او په کتاب کې لیکلې جملې یې له زیاتوب او مبالغې ډکې وي، نو له نورو کشرانو ګیله نه شي کېدای ځکه هغوی یې له دې مشرانو لیکوالو زده کوي. د استاد په شان لیکوال باید په لیکنه کې له خپلو جملو سره دومره دقت وکړي چې تر خپله وسه یې هیڅ توری او جمله نه زیاتوب وي او نه زاید. اما په کتاب کې یې د داسې مثالونو لیدل موږ لږ ناهیلي کوي.

د ادبستان په ۱۰۵ مخکې لیکي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



که لیکنه راته تازه فکر رانه کړي او پر خپل ذهنیت مو شکمن نه کړي، مطلب دا چې په موږ کې یې مثبت بدلون نه دی راوستی او خپل مسوولیت یې نه دی تر سره کړی.

زه د استاد له دې پاراګراف سره موافق نه یم. ټوله پړه پر لیکنه او لیکوال ور اچول انصاف نه دی. ځینې وختونه لوستونکی داسې وي چې له لیکنې څخه هغه مطلب نه شي اخیستی چې لیکوال پکې ځای پر ځای کړی وي. ما داسې لوستونکي لیدلي چې له واضحو لیکنو یې هغه مطلب نه دی اخیستی چې لیکوال تر لوستونکو د هغه رسول غوښتل. دلته به ولې پړه پر لیکنه او لیکوال ور اړوو؟

لیکوال هغه مهال ملامت دی چې په لیکنه کې یې لوستونکي ته نوی فکر په سم ډول رسولی نه وي. لیکنه یې ستونزې ولري. نوی فکر پکې نه وي. که خبره د دې برخلاف وي، نو بیا لیکوال او لیکنې ته د ملامتیا ګوته نه نیسو، بلکې لوستونکی دي لیکنه په دقت ولولي او هلته شته مطالب دي را برسېره کړي.

استاد ښکلی په ۱۰۷ مخکې لیکي:

رنسانس نویو ساینسي پر مختګونو ته لار جوړه کړه او ساینس په اروپايي ذهنیت کې ژور بدلون راووست. فلسفه یې تجربي مېتود ته راښکله او عقل پر ځای پر حواسو تکیه ډېره شوه.

دلته له دوو خبرو سره جوړ نه یم. ساینس یوازې په اروپايي ذهنیت کې بدلون نه دی راوستی، بلکې د نوري نړۍ ذهنیتونه یې ښه پوره بدل کړل. نو یوازې اروپايي ولې یاد شوي؟ صرف دومره به یې لیکلي وای چې ساینس په اذهانو کې ژور بدلون راووست، د یو ځای ذکر ته اړتیا نه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بله خبره دا چې که فلسفه تجربي مېتود خپل کړي، نو بيا د ساينس او فلسفې پولې سره ګډې نه شوې؟! مونږ ساينس داسې تعريفوو چې پر تجربه ولاړ علم ساينس دی. د فلسفې په اړه وايو چې پر ماوراء الطبيعت بحث کوي يا که ووايم فلسفه يوازې عقلي دلايلو باندې اتکاء کوي تجربې ته چې خبره ورسېده، نو فلسفه پاته نه شوه؛ بلکې ساينسي مرحله شروع کېږي.

که د استاد ښکلي هدف دا وي چې فلسفه د خپلو ادعاوو د اثبات لپاره ځينې ساينسي مېتودونه کارولای شي، نو زه هم مشکل نه وينم. اما دلته ليکلې جمله بل څه افاده کوي. د ټولې فلسفې په اړه د تجربي مېتود خبره شوې ده چې د ساينس او فلسفې پولې پکې ماتې شوې.

يوه بله ستونزه له (عقل) توري سره د (د) نه شتون دی، چې جمله کې يې مشکل جوړ کړی دی. که استاد ښکلی ارادي داسې جمله ليکي، نو زما په اند ويلو کې مشکل پېښوي، نه پوهېږم دوی به يې هم ورسره لري که نه؛ خو زه ور سره ستونزه لرم. يا که ټايپي تېروتنه وي، نو يوازې دا يوه نه ده بلکې کتاب تر ۵۰ ځايه نورې تېروتنې هم لري چې اينده بايد اصلاح شي.

په همدې مخکې د تيورۍ په اړه ليکي:

د تيورۍ بنسټ پر فرضيې ولاړ دی. فرضيه چې کله په دلايلو ثابته شي، بيا ترې تيوري جوړه شي او په ټولنيزو علومو کې د يوه قانون په توګه ومنل شي.(ادبستان: ۱۰۷)

د تيورۍ په اړه د استاد له دې دريځ سره جوړ نه يم. ما داسې اورېدلي او ليدلي دي چې تيوري خپله ناثابت نظر ته وايي. ځکه خپله استاد په (۱۰۹) مخکې کاږي: نوی تيورسن پر زړو تيوريو باندې فکر

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړي، ډېر څه ورته پکې ناسم ښکاره شي او پر بنسټ يې د څه منلو او د څه ردولو د مېتود له لارې د زړې تيورۍ پر بنسټ او مخالفت کې خپله نوې تيوري ورغوي.

دلته يې ويلي چې نوی تيوريسن د څه منلو او ردولو په مېتود بله تيوري رغوي. که تيوري يوځل په دلايلو ثابته شي او د قانون په توګه هم ومنله شي نو بيا يې ردوو ولې؟ ثابت شی خو بايد ومنل شي؟ دا دوې خبرې تر خپل منځ سره ټکر دي!

په ټولنيزو علومو کې د تيورۍ اصطلاح هم نوې ده. تيوري په ساينسي علومو کې استعمال لري اما ټولنيز علوم تر اوسه د تيوري په نوم کومه اصطلاح نه لري. دا هم د تامل وړ ځای دی.

يو بل ټکی د قانون ذکر دی. قانون خپل تعريف لري، هر ځای يې ذکر کول سم نه دي، دلته د قانون يادونه زما په اند سمه نه ده.

په (۱۰۸) مخکې د څېړنې او تيوري فرق بيانوي:

پر دې بنسټ موږ په علومو کې له دوه شيانو سره مخيږو، چې يوه ته څېړنه وايي او بل ته تيوري. يو څېړونکی او بل تيورسن.

البته په همدې مخکې تر يوه پاراګراف وروسته بيا داسې کاږي:

زموږ خو ان څېړنې هم له تکراري خبرو ډکې دي؛ نو چې څېړنې مو داسې نادقيقې او تکراري وي، د تيورۍ ايجاد څنګه ممکنېدای شي؟

که تيورۍ څېړنې ته اړتيا نه لري، نو بيا د اثبات دلايل ورته له کومه شي او د څېړنې په نه شتون کې د تيورۍ نه ايجاد ولې ناممکنېږي؟ ځکه څېړنه بېل شی ده او تيوري له څېړنې پرته ايجادېږي، نو يو تر بله يې سره تړلي ولې دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



په (۱۳۸) مخکې راغلي:

زموږ مورخانو چې له ادبیاتو استفاده نه ده کړې، دا تصور یې هم پر ذهن حاکم و، چې ادب ټول دورغ دي او تاریخ ټول رښتیا؛ خو چې ځیر شو، خبره سرچپه ده. وایي، چې له تاریخه نېټې او د اشخاصو نومونه لرې کړې، ټول دروغ دي او په ادب کې چې کرکټرونه او نیټې په پام کې ونه نیسې ټول رښتیا دي. ادب د عامه ذهنیت ښکارندویي کوي او د تاریخ کار له عامه ذهنیت سره دی.

زما په اند دلته استاد ښکلي له تاریخ سره یو څه بې انصافي کړې ده. د تاریخ په اړه دومره منفي نظر لوستونکو ته ور کول هم ښه نه دي. لیکنه یو لیکوال د ځان لپاره نه کوي، بلکې لوستونکي یې په نظر کې وي. د استاد دا دریځ چې خبره سرچپه ده، یعنې تاریخ دروغ دي، زما په اند ناسمه ده. تاریخ کې درواغ ځای شوي دي اما په دومره لویه پیمانه هم نه دي چې که نیټې او د اشخاصو نومونه ځنې وباسو نو یوازې دروغ به پاته شي. د تاریخ په اړه باید استاد ښکلی په ډېر دقت تللی وای. د لویو لیکوالو په ټولنه کې ښه ډېر پیروان هم وي، نو چې استاد د تاریخ په اړه دا دریځ خپلوي، د پیروانو به یې څه حال وي؟

یو لیکوال باید په لیکنه کې تر احساساتو لاندې را نه شي، که احساساتي هم شي، خوکنټرول یې باید له لاسه ور نه کړي. که مورخ د ادب په اړه ناسم دریځ لري، نو ایا ادیب به هم د تاریخ په اړه هغه دریځ خپلوي چې مورخ یې د ادب په اړه لري؟ دلته استاد ښکلي د مورخ دریځ غندلی خو خپله یې بیا د تاریخ په اړه بې انصافي کړې ده. موږ یو له افراطه را ګرځو، خو خپله هم تر حد ور سره وزو.

په (۱۲۳) مخکې استاد لیکي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پارسي، اردو (او پښتو) شاعرۍ کې ښـځه د معنـا پنځګـره فاعلـه سرلې ده نه، بلکې د لوي ستراس په اند يوه تېره هېره کلمه ده.

دلته په لومړۍ جمله زه بيخي نه پوهېږم. يا به زما کمزوري وي يا هم ممکنه ده د ليکوال ناسمه ژباړه وي. دا هم احتمال لـري چې کمپـوزر غلطي کړې وي. ځکه زموږ کمپوزران هم په ليکنـو کـې ګـوتې وهـي. زموږ له ليکنو سره يو وخت همداسې معامله شوې وه.

د نورو کتابونو په پرتله دې کتاب کې ټايپي تېروتنې هم خورا زياتې دي. پر شعرستان ليکنه کې يې يوازې ٦ واره د کتـاب شـمېرې ناسـمې ليکلې دي. کمپوزي غلطۍ کې تر ډېره ليکوال نه ملامتېږي خبره ادارې ته متوجې وي. البته يادونه يې ځکه لازمه بولم چې اينده ايډيشن کـې يې بايد له دې تېروتنو پاک کړي.

۲۰۱۸/ جنوري/ ۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پر کتاب باور

په دې ليکنه کې د هغه باور په اړه خپل دريځ روښانه کوم چې موږ يې پر کتاب لرو. پر کتاب د باور په بحث کې د کتاب ليکوال، ژباړن، خپرندويه اداره او هم خپله د کتاب محتوا اړينه ده.

يوه ورځ د کندهار د اطلاعاتو او کلتور په رياست کې ولاړ وم. يوه ملګري د رياست له کتابتون څخه د (درې کيسې) په نوم يو کتاب را واخيست چې اکاډميسن عبد الشکور رشاد ترجمه کړی و. ما پوښتنه ترې وکړه چې له کيسو سره مينه لرې؟ ده ويل، نه؛ البته دا کتاب رشاد صاحب ژباړلی؛ حتمن يو څه پکې شته.

استاد اسد الله غضنفر په خپل کتاب کلتور او ټولنه کې ليکلي چې فارسي ژبې ته ډېرې ژباړې کيږي اما ټولې يې د اعتبار وړ هم نه دي. که مشهورې ادارې او نومور ژباړن ترجمه کړې وي؛ خو ښه، که نه د فارسي هر کتاب او ورته شوې ژباړه هم د باور وړ نه وي.

داسې کسان مې ليدلي چې يو کتاب يې يوازې د ليکوال د نوم په لوستلو پيرلی دی. د ژباړن په اړه مې هم داسې ډېرې پېښې په ياد دي. د محتوا په لحاظ د کتاب رانيول خو عام رواج دی. ما يوازې هغه څوك نه دی ليدلی چې د يوې ادارې پر نشر کړو کتابونو يې دومره باور کړی وي چې يوازې د هغې ادارې چاپ کړی کتاب د ادارې د نوم په ليدلو رانيسي.

له لويه سره پر يوه ليکوال، ژباړن او اداره د لوستونکو باور هم تر ډېره حده د کتاب په محتوا پسې تړلی دی. که يو ليکوال په خپلو ليکنو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې احتیاط وکړي، له باوري سرچینو ګټه واخلي او تر خپله وسه له کمزورۍ او د لوستونکو له نیوکو د ځان ساتنې کوښښ وکړي، نو لوستونکي د کتاب له مخې پر لیکوال باور کوي.

د ژباړن او ادارې مسله هم داسې ده. که ژباړن سم انتخاب وکړي، ژباړه یې روانه او د مفهوم لېږدونکې وي، نو لوستونکی باور پر کوي. اداره یوازې د باوري لیکوال او ژباړن کتابونه خپاره کړي. نو د لوستونکو زړونه لاس ته راوړلای شي.

زه پر دې بحث نه کوم چې لیکوال او ژباړن د کوم میتود په کارولو پر ځان د نورو باور ته لار هوارولای شي؟ ځکه په دې سره بحث ډېر اوږدېږي، زما له دې لیکنې یوازې هدف دا دی چې د کتاب په باوریتوب کې د لیکوال، ژباړن او ادارې ډېر رول دی.

نو له دې امله پر هر کتاب د لیکوال، ژباړن او ادارې نوم اړین دی. که یو کتاب نه د ادارې نوم ولري او نه د لیکوال او ژباړن، لوستونکی به یې بیخي په سختي وپیري. زما شخصي تجربه دا ده چې د کتاب په کره کولو کې له محتوا سره د دې درو واړو ونډه هم ډېره ده. ځکه ټول لوستونکي هم د محتوا له مخې پرېکړه نه شي کولای. داسې کسان هم شته چې یو کتاب د لیکوال د نوم له امله اخلي. ځکه هغه یې د خوښې لیکوال وي. څوک بیا د ژباړن له امله کتاب رانیسي او ځینې به یې د ادارې له امله. که څه هم اصلن د کتاب محتوا مهمه ده. خو له دې سره جوخت دا نور هم د اهمیت له مخې په دویم، درېیم او څلورم مقام کې ځای لري.

که په دیني برخه کې موږ د یو چا کتاب لولو او هغه په نصوصو استدلال هم کړی وي. خو بیا هم تعین یې اړین دی. لامل یې دا دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې که موږ د یو نا معلوم کس استدلال وینو دومره ژر مو باور نه پر کیږي لکه د هغه چا دلیل چې ور سره شناخته یو او د مسلک له مخې یې پېژنو چې دینپوه دی.

یو لیکوال داسې وي لکه یو کس چې په ټولنه کې ورو ورو فزیکي وده کوي، لیکوال هم لومړی څوك نه پیژني، باور پر یوه ناپېژندل شوي کس څنگه وکړي؟ که یو کس په خپله ټولنه کې خلکو ته زیان ونه رسوي، د گټې کارونه وکړي، ارزښتونه وساتي او اجتماعي کارونو کې برخه واخلي، مذهبي، ملي او کلتوري ارزښتونو په اهمیت ځان پوه کړي او له اجتماعي ارزښتونو سره سم تگ وکړي، ټولنه سوکه سوکه پر هغه باور کوي او د وخت په تېرېدو د باور وړ شخص جوړیږي.

لیکوال هم؛ که په خپلو لیکنو کې دقت وکړي، له کمزورو نظرونو تېر شي، تلوار ونه کړي، د یوې خبرې اثبات یا رد، صحت یا سقامت ته یې عجله نه وي، بلکې تر ښې څېړنې وروسته یو لوری په دلیل او شواهدو خپلوي، انصاف یې د خپلو تقالیدو او تعصبونو قرباني کړی نه وي، حقه خبره ورته حقه وي او ناحقې ته پرتوگ نه گنډي. د موضوع انتخاب، د دلایلو چاڼ، د لیکنې سلاسیت، اسانوالی او بامفهومه لیکنه د هغه شخصیت ته وده ور کوي او اعتبار یې د وخت په تېرېدو پخیږي او وروسته د یوه منل شوي کس په سترگه ورته کتل کیږي.

که لیکوال پر خپلو لیکنو زحمت وباسي، خلکو ته به یې لکه د ډوډۍ تیاره گوله، کره او غوره مواد راوړي وي. د مواد انتخاب خورا گران کار دی، ځکه یو خو کوټه له ناکوټه بېلول مشکل کار دی او بل هر انسان د خپل چاپېریال په محدوده کې بند هم وي، د هغه ځای اغېز حتمن وي او انسان د خپل محیط له اغېز څخه الوت نه شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولای، که هر څونه کوښښ وشي له دې تاثيره انسان تر اوس نه دی خلاص شوی، له دې امله نو هم د موادو په انتخاب کې ستونزې وي، چې له دې اغېزه سمو موادو ته ځان وباسي، تعصب يوې خوا ته پردې او په يوه داسې وخت کې د نوي فکر اواز کوې چې در معلوم نه وي ټولنه به څنگه ردعمل ښيي، دا يو دروند کار دی چې همدا ريسک اخيستل په ټولنه کې يوه ورځ د يوه ليکوال او مفکر شخصيت يو ډول ارزول کيږي او بله ورځ بيا بل رقم.

په نړۍ کې د ټولو ليکوالو کتابونه نورو ژبو ته نه ترجمه کيږي او نه يې د بلې سيمې خلک لوست ته لېوال وي؛ بلکې ځينې کسان دي چې ليکنې يې هم په خپله ژبه کې مينه وال لري او هم د نورو ژبو لوستونکي ورسره مينه لري. دا ولې؟ ځکه دوی پر معيار پوره ختلي وي، لازمي نه ده چې د يوه ليکوال ليکنې دې د هر وخت لپاره معياري وي، ممکن په خپل وخت کې ښې وي، خلکو ته فکر ور کړي او د يوه موثر شخصيت په توگه خلک ورته وگوري، خو د وخت تېرېدا ښايي د هغه د ليکنو اهميت ته صدمه ورسوي، دا د انسانانو له تيوريو او کارنامو سره د زمان معامله ده چې د بشر تر ژونده به جاري وي، اما معياري مو له دې امله وبللې چې په خپل وخت کې يې ټولنې ته کار ور کړی دی، د خلکو زړونه يې تر لاسه کړي وو او دا بې له زحمته ممکن نه دي.

د ليکوال شخصيت د هغه کتاب دی، ټول خلک ليکوال نه وي، خو کتاب يې وايي، له دې کتابه پر هغه باور کوي او يا يې ردوي. د هغه مينه وال کيږي يا يې نفرت ځنې وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



څومره چې د کتاب محتوا موثره وي؛ په هماغه اندازه د هغه شخصيت ورسره درنيږي، موثر بلل کيږي او خلک يې ليدلو، اوريدلو او لوستلو ته تلوسه لري.

تقريبن هر شي، البته ليکوالي بيا په ځانګړي ډول، د کيفيت ځای ده نه د کميت. يو کتاب وليکه، خو ښې وليکه، نه دا چې لس وليکي اما يوازې پاڼې يې توري کړې وي.

کتاب کې لکه هنداره د ليکوال شخصيت دغسې خلکو ته ور ښيي. د يوه متعصب ليکوال ليکنه له يوه منځلاري ليکوال څخه له ورايه معلوميږي؛ يو خوشک چې د مرچو پر بورۍ ناست وي، له هغه کس څخه يې ليکنه بيخي زيات توپير کوي چې د زغم نمونه وي؛ د يوه سرسري کس ليکل د يوه محقق له ليکو سره ښکاره فرقونه لري. کله چې موږ دا فرقونه درک کوو؛ تر څنګ يې د ليکوال پر شخصيت هم نظر ور کولای شو.

ښه کتاب، د ليکوال پر ښه شخصيت دلالت کوي، باوري کتاب د ليکوال باوريتوب زياتوي، د کتاب مينه وال د ليکوال مينه وال هم وي، البته په طنز يا سياسي ليکنو کې ممکن دغه معيار ونه پالل شي.

خوږې جملې د خواږه ليکوال له قلمه وزي، درنې کلمې چې د لوستوال زړه ته تيريږي يو غمخور ليکوال يې ليکي چې د ټولنې غم ورسره وي او دا ليکنه يې د خپلو لوستونکو لپاره کړې وي. کله چې ليکوال خلکو ته وخت ور کوي، ليکنې کوي، مواد چمتو کوي، خلکو ته يې وړاندې کوي، په تحقيق او مطالعه اخته وي، هڅه کوي چې د خلکو باور ته زيان ونه رسيږي، نو په مقابل کې يې ټولنه هم هغه ته مينه ور کوي، باور پر کوي، ليکنې يې وايي او دا کس په فزيکي لحاظ

(c) ketabton.com: The Digital Library



مړ هم شي نو نوم او کارنامې يې د خلکو پـه اذهـانو کـې ژونـدۍ پاتـه وي.

د ښه ليکوال يو صفت دادی چې په ټولنه کې ورو ورو سر را پورته کړي، هغه کسان چې په يوه دم تر اسمانه ورسېږي او بل ځل په ځمکه پسې پيت وي، زياتره يې د شهرت تږي وي چې همـدې هـدف تـه د رسېدو لپاره له ادبي غلا او نورو ناسمو طريقو استفاده کوي، ځکـه نـو يـوه ورځ سـتوری وي او بلـه ورځ يـې زوال. ښـوک چې پـه تـدريج شخصيت جوړ کړي، هغه بيا پـه يـوه ورځ د کلونـو جـوړ شـوی خپـل شخصيت په لغته نه وهي.

ليکوال له اوله ټکه داسې کارنامه نه کوي چې له امله يې د نړۍ وال شهرت خاوند شي، بلکې دا يا افسانې دي يا هم د شـهرت تـږي غلـه. لکه د پوځ سرتيری چې له لومړۍ ورځې د هاوان يا توپ ډز نه کـوي، همدا شان ليکوال هم له بنيـاده راشروع کېـږي، لـوړ ځـي او وروسـتۍ نکتې ته رسېږي او هدف لاسته راوړي. يوه ورځ پورته بله ورځ کښته د باوري کسانو کړنې نه دي او نـه بـاوري شخصـيتونه داسـې وي چـې د ورځې په نرخ يې تلي، هغوی دوامداره کار کوي او دوامداره ځای پـه ټولنه کې لري.

۲۰۱۹/اکتوبر/۲۵

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په داستاني نړۍ کې د افراطيت خام مواد

دا څو ورځې وړاندې مې له يوه ملګري څخه واورېدل چې د استاد اسد الله غضنفر نوی کتاب (څراغ) چاپېږي. زه ورته خوشاله شوم. د استاد ليکنې مې پر طبعه ښې لګېږي. ما يې کلتور او ټولنه هم دوه ځله لوستې او د نثر ليکلو هنر مې هم مخکې لا په شوق و ذوق مطالعه کړی و. دې پخوانو کتابو ته په کتو مې له څراغ څخه همداسې تمه درلوده لکه نوم چې يې دی. تر ډېره حده مې کتاب دا تمه را پوره هم کړه. خو داځل مې د استاد يوې غټې داسې ليکنې ته هم پام شو چې زه يې ذهنن ښه وځورولم. د ليکنې سرليک و: د ويسا د لسمې کاليزې په پلمه.

تر دې سرليک لاندې استاد کابو څلور مخه اوږده مقاله د ښاغلي زبير شفيقي په اړه ليکلې ده. زه له زبير شفيقي سره شخصن نه پېژنم او نه مې ور سره ورانه ده.خو يو شی چې له دې ښاغلي سره زه مخالف يم هغه د انتحار هغه ناولونه وو چې د ده په قلم پښتو شول او زموږ ډېری داسې ځوانان د دې ناولونو له برکته انتحار، جنګ او د نظام تخريب ته مخه کړه چې همدا د شفيقي صاحب ژباړلي کتابونه يې لوستي وو.

لومړی د خپل ځان په اړه يو څه ليکم. يو وخت چې ډېر وړوکی وم، په کور کې مې ټول ژمی د شفيقي صاحب وروستی مورچل، د غازي داستان او د تروږمۍ مسافر را کتل. لېږې لېږې اوښکې مې ورته توی کړې او په ډېره تياره کې مې کتاب لوستی چې د سترګو په ناروغي

(c) ketabton.com: The Digital Library



یې اخته کړم. له دې را پېښې ناروغي مې اخير عينکو ته پنا يو وړه او تر اوسه هم عينکې استعمالوم. بل لور ته داسې افراطي شوم چې له هغه چا پرته بل څوك مسلمان راته نه ښکارېده چې پر خوله يا قلم يې د جهاد، اسلامي خلافت، له کفارو سره د ټکر، د پخواني برم يادونه، د هغه د احيا کولو هڅې او داسې نور نه واى. ښه مې په ياد دي چې تر دې اغېز لاندې مې يوه ورځ د افريقايي مسلمانانو په اړه له انجنير عبد الله گل ريان صاحب څخه وپوښتل چې هغوى څنگه مسلمانان دي؟ زه يې پر مسلماني شکي وم. ځکه ما ټول هغه ډول غوښتل چې د شفيقي صاحب په ژباړل شوي داستانو کې را معرفي شوي وو. ريان صاحب تر اسويلي وروسته وويل: تاته که سم نه ښکاري موږ يې سم مسلمانان بولو. زه يې خړ کړم.

زه دا نن هم ډېرى هغه کسان پېژنم چې د همدې کتابونو تر اثر لاندې راغلي او عملن زموږ په هيواد کې جنگېږي. داسې ليکوالان را معلوم دي چې همدې کتابونو افراطيت ته هڅولي او نن هم د اسلام هغه تعبير وړاندې کوي چې حجازي په داستان کې بيان کړى. موږ په دې نه پوهېږو چې داستاني اسلام په حقيقي دنيا کې څنگه عملي کوو؟ داستان د اسلامي تعبير د بيان ځاى نه دى. ځکه هغه مهال چې دې داستانونو را مخه کړه موږ يو ډول نالوستي وو، لږ فيصدي مو د لوستو په کتار کې راتله.

له دې امله د حجازي داستانونو له موږ څخه د اسلام داسې ناخبره فدايان جوړ کړل چې تر سر خلاصولو مو سر بايللو ته زړه کېدى. استاد غصنفر يادونه کړې چې ده د حجازي داستانونه ژباړلي او پر پښتو ادب يې احسان کړى. مگر دا اړخ يې نه دى را سپړلى چې دې احسان له

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ څخه څومره قرباني وغوښته؟ موږ د دې احسان لا پوروړي یو او لا یې قرباني کېږو. زه دې ته حیران یم چې د استاد غضنفر غوندې یو لیکوال هم د مسلې یوه اړخ ته ګوري. که یو څوک د چا داسې خدمت وکړي  چې تر ګټه یې زیان ورته زیات وي، نو ایا موږ به یې یوازې د ګټې اړخ ته پام کوو؟ یو څوک ښایي دا خبره هم وکړي چې د ده داستانونو خلک مطالعې ته وهڅول، لیکوالان یې کړل او زده کړو ته یې مخه کړه. زه هم دا منم. داسې کسان مې هم لیدلي دي چې د لوست سبب یې شوي، د زدکړو سبب یې شوي او ان لیکوالي ته به هم جګ شوي وي. اما هغه به څه کوو چې د دې کتاب له وجې انتحاري شوو؟ هغه به څه کوو چې د دې کتاب له وجې حقیقي ژوند بې معنا ورته ښکاري، د مسلمانانو په ماضي پسې مړ دی او یوازې په خیال کې ژوند کوي؟ هغه به څه کوو چې د دې داستان له امله نن د نړۍ والو استخباراتي شبکو منګولو ته ولوېدل او د نورو د ګټو لپاره د جهاد تر مقدس نوم لاندې د خیالي خلافت لپاره زموږ علمي کادرونه وژني؟ پوهنتون ورانوي، لیسه و مکتب بندوي، سړک تخریبوي، د نظام مقابله کوي او عامه تاسیسات د افراطیت په عینکو کې ورته کفر ښکاري؟ یوه مسله باید په مجرد ډوله ونه څېړو. یوازې ګټې نه دي. پر پښتنو یوازې د احسان خبره نه ده. پښتون د دې دومره دروند تاوان ور کړی چې که قسم وکړم شفیقي صاحب یې د سل کاله مثبت کردار په کولو هم ولاکه جبیره کړي.

جالبه دا ده چې استاد غضنفر یې د همدې کار ډېره ستاینه کړې ده. استاد ستا په شان له یوه لیکوال څخه مو په دې حالاتو کې داسې تمه نه وه. ایا تا فکر نه دی کړی چې د زبیر شفیقي صاحب ژباړل شوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



داستانونه زموږ د هیواد پر روان جنګ د تیلو اچولو کار کوي؟ د افراطیت په پراخولو کې تر ټولو لوی لاس د همدې داستانونو دی. تاسو یادونه کړې چې دا کتابونه څو واري چاپ شوي. نو پوهېږې چې دومره ولې پلورل کېږي؟ ځکه چې تیل دي او د اور بلولو لپاره په کارېږي. د نظام تخریب ته خلك هڅوي له دې امله ورته لمن وهل کېږي. له مدنیته د تیښتې لارې پکې ستایل شوې، ځکه زموږ سنتي ټولنه له وخته همدې فکر ته اماده وه. نن دا خدمت نه دی او نه یې پر پښتنو احسان کړی چې موږ له ژونده مرګ ته بوزي. له نظامه مو بې نظامۍ ته وهڅوي. د مینې پر ځای مو انسانیت ته په زړه کې د کرکې تخم وکري. د حقیقي نړۍ د ژوند پر ځای خیالي دنیا راته ښایسته او هلته ژوند راته غوره وبریښوي. له نوې دنیا سره د ځان سمولو پر ځای موږ ماضي ته د ور ګرځېدو په سبق اموخته کړي. له خپل هیواد و ملت سره د مینې پر ځای مو په زړه کې د خیالي خلافت، تخیلي برم او ټول امت مینه ځای پر ځای کړي. زما په اند ټول انسانیت د مینې حق لري، امت یې هم لري، خو دا هر څه دې موږ له خپل وطن او ملت څخه لرې نه کړي. له حقیقت څخه مو دې خیال ته بونه زي، له ژونده مو دې مرګ ته وړاندې نه کړي، د حال و ایینده پر ځای دې موږ ماضي ته کش نه کړي.

دا نو پر پښتو ادب کوم ډول احسان دی چې پښتانه یې ورته انتحاریان کړل؟ قلموال یې ورته افراطیان کړل؟ خپلو خلکو ته د ګټې پر ځای د نورو ګټې ورته اولیت لري؟ د شفیقي صاحب له داستانه مو همدا زده کړي و. یوازې زه نه لسګونه نور هم پېژنم. د همدې کتابونو اغېز وو چې ما د استاد شپون د (سمځې یاران) کتاب د فحشا خپرولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



په جرم له کتابتونه وايست. دا خدمت ما ته څه ارزښت لري چې خپل استادان، ليکوالان او د پښتو خپل ناولونه مې تر پام بد راولي؟

استاد په دې ليکنه کې وايي چې شفيقي صاحب د بل هر ژورناليست په نسبت ډېرې سريزې کښلې. له دې املـه نـو د دې ډګـر استاد ياد شوی.

له استاد غضنفر څخه مې د داسې قضاوت هيله نه وه. که له استاده پوښتنه وکړم چې ايا د زبير شفيقي ويسا ورځپاڼه تاسو نن ګورئ؟

که يې وينې، نو ايا دا نن يې په سريزه کې تاسو د محمد بن قاسم، ناهد، قتيبه بن مسلم، موسی بن نصير، طارق بـن زيـاد او ... نومونـه نـه وينئ؟ دا سريزه موږ ته د دې نومونو په کتارولو، کوم پيغام را کـوي؟ د نظام تر مثبتو کارونو منفي کارونو ته ډېر انعکـاس ور کـوي. پـه داسـې حال کې چې تاسو په همدې کتاب کې يادونه کړې چې پـر ټلويزونـو منفي او د جنګ جګړو خبرونـه زيـات او مثبـت يـې کـم دي چـې د خلکو په نا‌ارامولو کې غوښنه برخه لري. که پـه همـدې تـول د شـفيقي صاحب ويسا ورځپاڼه وتلو، نو څومره به وزنداره وخېژي؟ په ويسا کې خو هره ورځ د هغـه نظـام تـر مثبـت منفـي اړخونـه ښـه پـه تفصـيل او ډراماټيکه توګه را اخيستل کيږي چې تاسو يـې پـه همـدې کتـاب کـې ننګه کوئ. هغه نظام چې تاسو پکې د ولسمشر فرهنګي مشاور ياست. په يوه کتاب کې مو دغسې دوه رنګـه ليکنـو تـه سـړی حيـران شي؟ زه ستاسو نظر او شخصيت و علميت ته پـه ډېـر احـترام او هـم د شـفيقي صاحب درانه شخصيت ته په پوره درنښـت، دا پوښـتنه لـه تاسـو دواړو محترمو استادانو څخه کوم چې که يو لوستونکی د شفيقي صـاحب پـه کتابونو خبر نه وي، ستاسـو دا کتـاب ولـولي، نـو د شـفيقي صـاحب د

(c) ketabton.com: The Digital Library



داستان ستاینې اغېز یې تر همدې کتابونو ورسوي، دا خالي ذهنه تانـد ځوان به کوم لورې ته بوزي؟ زما په فکر خو د همدې لیکنې اثـر بـه دا وي چې یو لوستونکی د شفیقي صاحب کتابونه لومړی پیدا کړي، بیا د هغو په اغېز به لومړی ذهنن تر حال ماضي خوند ور کـړي، تـر خپـل نظام به خلافت ورته ښه وایسي، تر ملـت بـه امـت ورتـه اهمیـت پیـدا کړي، تر ارامي ناستې او خلکو ته تر خدمت به د داعش یا طالب لیکې ورته د خدمت مناسب ځایونه ښکاره شي او که نـور هـیڅ نـه وي، نـو مالي مرسته به یې هم د ځان خلاصونې لپاره یو غوره فرصت وبـولي او زموږ د تخریب لپاره به زموږ پیسې د هغه چا جیب ته ځـي چـې مـوږ تخریبوي او د دې لپاره به خـام مـواد زمـوږ درانـه قلمـوال او اسـتادان چمتو کوي. تاسو پوهېږئ په طالبي لیکو کې دې داستانونو ته ولې ښـه په خرپ کمپاین کېږي؟ ځکه هر څوک چې دا کتاب ولولي نـو ذهـنن یا طالب او یا داعشی ترې جوړېږي. نو دا د ترهګرو لپاره خام مواد دي چې درانه استاد شفیقي صاحب ژباړلي، تاسـو محـترم پـرې سـتایلی او موږ غریبان یې تر لوستلو وروسته د سـبق پـه عمـلي کولـو لاس پـورې کوو.

تر دې وروسته چې تاسو موږ ذهنن هغه سبق تـه جـوړ کـړو چـې د حجازي داستان یې را ښیي، نو موږ اوس اړ یو چې د دې درس عملي میدان ته هم ووزو. د درس د عملي کېدا مهال که تاسو، کار یا دفتر ته مو زیان ورسېدی نو خپه کېږئ به نه؛ ځکه ستاسو له کتابونو همدا فکر اخیستی او پر تاسو یې عملي کوو.

۲۰۱۷/ اگست/۵

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د چاپېريال اغېز

زه دلته پر طبيعي چاپېرال نه رغېږم او نه يې هم د اغېزو په اړه بحث کوم؛ بلکې په انساني ټولنه کې چې د انسانانو د را ټولېدو محيط او چاپېريال کوم اغېز لري په دې اړه غواړم يو څو خبرې وکړم.

زه د داسې څه شاهد پاته شوی يم چې د يوې ټولنې کاري او فکري محيط پر هغو کسانو سوکه- سوکه خپل اغېز زياتوي چې نوي دې محيط ته راغلي وي.

د يو ازاد فکر خاوند کس مې پېژندی، ښه فکر يې در لود، د قلم خاوند و؛ خو افراطيانو ته په نژدې کېدو يو وخت پوخ افراطي شو. يو بل د خام فکر ځوان تاند طالب مې پېژندی چې وسله والو د ځان لور ته جلب کړی و. يو مهال له هغه سره داسې کسان ملګري شول چې له دې خشونت او جنګونو يې ښه نه راتلل، دوه کاله وروسته هغه طالب مدرسه او توپک دواړه رخصت کړل او خپل کور ته راغی، د کورنۍ اقتصادي غوړېدا کې يې برخه هم واخيسته او ځينې کورسونه يې هم تعقيبول.

د پاخه عمر يوه کس راته کيسه کوله چې زمونږ د سيمې يو هلك حکومت ونيوی، قضيه يې جرمي وه، خو له سياسي بنديانو سره نژدې پاته شوی و، کله چې له زندانه خوشي شو نو پوخ طالب و او سمدستي د وسله والو ليکو ته ولاړ.

داسې نالوستي کسان مې ليدلي چې له ملايانو سره په ډېره ناسته پاسته داسې شوي چې پر ظاهري شکل، خبرو، عمل او ان تلو راتلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



یې د ملایانو اغېز معلومېږي. داسې ملایان مې لیدلي چې لـه عوامـو خلکو سره یې اړیکې خورا پراخې وي، نو د ملاییتوب ځینـې خویونـه یې بدل شوي وي او بیخي د عوامو غوندې ساده پاده ژوند کوي.

په یوه کور کې دوه ورونه وي، یو یې په دنیاوي کار کې فعال او بل یې لټ وي. دا ممکن نور عوامـل هـم ولـري خـو یـو مهـم یـې پکـې چاپېریال هم دی. که له فعالو، زیارکښـو او همتنـاکو کسـانو سره د چـا تګ راتګ وي، له هغو په اغېزمنېدو به حتمن د هغه په عمل کې بدلون راځي.

ما داسې کسان پېژندل چې ښه مزاج یې در لود، له خلکو او یـارانو سره یې ډېر بې زحمته ژوند کاوه، خو کله چې به له لـوړ پـوړو کسـانو سره په ناسته اخته شول، نو هلته واکمن چاپېریال ژر ور باندې اغېز وکړ او ورو- ورو یې په خویونو او چلند کې بدلون راغی ان چې ډېر نـژدې ملګري ورته پردي غوندې شول او اړیکې یې هم سړې شوې.

پښتانه متل کوي چې اوسې په خوی به د هغو شې، بل متل هم دی چې وایي، په درنو به دروند او په سپکو به سپک شې. داسـې هـم ده، زموږ په وړاندې د دې ژوندي مثالونه شته. تاسو وګورئ چې د ټوکیـانو یوه بېله ټولۍ وي، هغوی سره کېنې او ولاړېږي، که یـو کـس نـوی ور شي، نو لږ وروسته هغه هم د دوی په رنګ رنګیږي.

دا خبره یوازې تر انساني عاداتو پورې محدوده نه ده، بلکې طبیعي چاپېریال هم زموږ په وړاندې دی او مـوږ یـې طبیعي بدلونونـه لیـدلي دي. دا یو حقیقت بللای شو چې محیط د خلکـو پـر اخلاقـو، کړنـو، هڅو او شخصیت مثبت او منفي اغېـز کـوي. زه خپلـه پـه ځـان کـې د همداسې تغییراتو شاهد یم. زه یو مهال ډېر غوسه ناک وم، خو لـه نـرم

(c) ketabton.com: The Digital Library



مزاجه ملګرو سره په یوځای کېدو مې سوکه -سوکه دا عادت بدل شو او اوس هغه ډول نه یم.

زموږ په ټولنه کې د زغم په پراخېدا او غوړېدا کې د فیسبوک رول جوت دی. دلته له هر کارونکي سره مختلف الفکره کسان ملګري وي، د یوې مسلې په اړه اړینه نه ده چې نور کسان دي هم له هغه سره یو رنګ فکر ولري. کله چې هغه د یوې مسلې په اړه یو ډول غبرګون ښکاروي، په ځواب کې یې د نورو له عکس العمل سره مخېږي. څو وخت به انسان غوسه شي، یو به بلاک کړي، بل به له ملګرۍ ایسته کړي، یو به خپه کړي او بل په زهیر. خو اخیر د خپل عمل اصلاح کولو ته متوجې کېږي او له تونده غبرګون څخه لږ سوړ او بیا ډېر سوړ ته را کښته کېږي.

که موږ په ټولنه کې د ځان لپاره هڅاند، فعال، زیارکښ، د ښه فکر خاوندان، مینه ناک، خواخوږي او زړسواند ملګري وټاکو، نو لرې نه ده چې پر نورو یې هم اغېز ژر ووینو. زموږ په ټولنو کې یو مشکل دا دی چې جمعي هڅې مو خورا کمې دي او له دې امله کم رنګې هم دي. دا ډېر بد کلتور دی، ځکه یو هڅاند او فعال ځوان چې له لرې د ټولنې یا ګوند نوم اوري، هغوی ته ور ګډېدا یې دزړه ارمان وي، خو کله چې مابینځ ته ورشي، بیا د هغوی له چاپېریاله په اغېزمنېدو یا فعالیت کم کړي، یا بد زړی شي او پوره مایوسي یې په مخه کړي، یا له ټولنې او ګونده په بیلېدا منفي خبرې پسې وکړي.

یو فعال او منظم کوند یا ټولنه د یوې معاشرې لپاره ډېر ارزښت لري. ټولنه یا ګوند جامعې ته خلک وړاندې کوي. هغوی ته که یو غیر فعال کس ور شي، نو د دوی له کړنو متاثرېږي او په خپل اینده ژوند

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې فعالیت زیاتوي. ما په خپلو سترګو لیدلي چې د سمو درنو خلکو محیط ته یو د کمزورو خویونو کس ورغلی، د هغوی په څنګ کې د هغه بد په ښو بدل شوي. هر چاپېریال ته چې څوك ور شي، ډېر ژر له هغه محیط سره ځان عیاروي. خدای دې وکړي چې موږ دا اهمیت درك کړو او ور څخه د ګټې اخیستنې لپاره هغه چاپېریال رامنځته کړو چې معاشرې ته یې ګټه ورسېږي.

۲۰۱۸/ ۴/ ۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د دین په وړاندې دسیسې د چا له لورې؟

زموږ د زیاتره مسلمانانو اوس ذهنیت داسې جوړ شوی چې زموږ د اکثرو ستونزو پړه د نورو پر اوږو ور غورځوي. دې ته د توطیې تیوري ویل کیږي. په دې توګه موږ یو خوا له مسوولیت څخه تښتو، بل لور ته ځانونه مظلوم ښکاره کوو، چې نور له موږ سره ظلم کوي، زموږ حقونه یې تلف کړي او له ملامتیا ځان خلاصوو چې که له موږ سره بل داسې نه وای کړي، نو موږ به هغه او دغه کارونه کړې وای، البته نور مو کار ته نه ایله کوي.

نور ولې زموږ په وړاندې دسیسې جوړوي؟ ځواب یې دا ور کوي چې زموږ دین نه شي زغملای. دا هر څه هغوی زموږ د دین له امله راسره کوي اوهر وخت چې اسلام موجود وي هغوی به همداسې خپلې دسیسې جوړوي. خو دلته یوه پوښتنه دا ده چې همدې نامسلمانو خو دا اوس هم په میلیونونو مسلمانانو ته ځای ور کړی او هیڅ ډول لاسوهنه یې په دیني چارو کې نه کوي، نو بیا له موږ سره څه ستونزه لري چې دلته د دین په ورکولو پسې راځي؟ بله نکته دا ده چې زموږ همدې فکر موږ ته په ډېرو ځایونو کې زیان رسولی دی.

مثلن: موږ ټولې اړیکې له ځان پرته له هر چا سره دین محوره کوو، په داسې حال کې چې نه د اسلام حکم دا دی او نه رسول الله ص داسې تګلاره در لوده. رسول الله ص په خیبر کې له یهودو سره د ځمکو د کښت پر سره معامله وکړه. د اصحابو تجارتي قافلې روم او

(c) ketabton.com: The Digital Library



نورو هیوادونو ته تلې راتلې. د مکیانو د تجارتي قافلو لار یې هغه مهال هم بنده نه کړه چې له هغوی سره یې جنګونه کول.

له نورو کړکه مو په ختیځ کې ګډه شوه. موږ فکر کوو چې نور زموږ د ارزښتونو په وړاندې پلانونه جوړوي او موږ باید حتمن کړکه ځنې وکړو. دا کړکه اوس هغه اوج ته رسېدلې چې کنټرول یې بیخي سخت شوی دی. که څوک له دوی سره په همکاري تورن شو، نو وژل کېږي، د هغوی په وژل په هر ډول غدر او دوکه تر سره کېږي او داسې نور کارونه ترې پیدا شول چې په اسلام کې هم روا نه دي؛ مګر زموږ کړکې دا هر څه په موږ وکړل.

تر ټولو بده پایله یې د دین تر پوښښ لاندې هغو اقتصادي، سیاسي او فرهنګي جنګونو ته د مسلمانانو ور دانګل وو چې لا اوس هم روان دي او مسلمانانو و اسلام ته یې د وړې ګټې پر ځای ستر تاوانونه ورسول. د مسلمانانو ځمکې پکې وبایلل شوې، خلک یې پکې له لاسه ور کړل، اقتصادي زیانونه ورته ورسېدل، له اخلاقي زوال سره مخ شول، فرهنګ یې د نورو تر برید لاندې راغی او مسلمانانو ته تر هر ارزښت مهم ارزښت دین یې ور سره بدنام کړ. ځکه په جنګي حالاتو کې هغه څه وشول چې نه یې اسلام اجازه ور کوي او نه یې انساني وجدان، خو له بده مرغه چې زموږ مسلمانانو د بل په دښمنۍ کې داسې کړنې وکړې چې بل ته د زیان پر ځای یې خپل ارزښت پکې بدنام کړ.

دا نن هم نامسلمانو دومره زیان اسلام ته نه دی رسولی لکه خپله اسلام ته منسوبې ډلې چې یې ور اړوي. د اسلام سلګونه ډوله تفسیر، په زرګونو ډلې پکې جوړول، دین د سیاست میدان ته راوستل او له دې ارزښت څخه د واک ساتنې او سیاست کولو لپاره ګټه اخیستل، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسلمان په لاس د مسلمان وژل، د ځینو مسلمانانو له لوري د نورو تکفیرول، د مسلمانانو په هیوادونو کې د شته نظامونو خلاف د نیابتي جنګ لپاره د اسلام له نوم څخه په سوء استفادې وسله پورته کول او داسې نور هغه کارونه دي چې اسلام یې نن نړۍ ته د سخت دریځي، جامد، له نورو د کرکې کونکي او افراطي دین په توګه ور پېژندلی دی.

هر کار ته د توتیې د تیوري له نظره کتل سم کار نه دی. دا سمه ده چې ځینې کړۍ به د اسلام خلاف پلانونه چمتو کوي، خو ټول کارونه، پلانونه او جنګونه د اسلام خلاف نه وي. جنګونه یوازې د دین یا ادیانو له امله نه رامنځته کېږي، بلکې تر شا ګڼ لاملونه لري، مګر موږ بس همدا یوه کړکۍ لرو چې هرې پدیدې ته تر همدې یوه سر ورباسو او هر څه ته تر همدې یوه سوري ور ګورو.

نن که نامسلمان ته یو څوک د اسلام دعوت ور کوي او هغه پوښتنه وکړي چې زه کوم مسلمان سم؟ شیعه که سني، حنفي که شافعي، مالکي که حنبلي، ناصبي که خارجي، وهابي که صوفي، بریلوي که دیوبندي او سلګونه نورې ډلې ټپلې؟! په دې وخت کې به د یوه مسلمان ځواب څه وي؟

که ورته وایي چې یوازې مسلمان شه، نور هیڅ نوم ځان ته مه غوره کوه، لکه ذاکر نایک چې همدا توصیه کوي، نو بیا هم د نورو مسلمانانو تر نیوکو لاندې وي. او دا خبره به یوه داسې انسان ته چې د اسلام په اړه بیخي کم معلومات لري څومره د قناعت وړ وي؟ ځکه هغه فکر کوي چې دا نور هم مسلمانان دي، یو هم د اسلام له اساسي اصولو او ارکانو څخه منکر نه دي، نو بیا زما او د هغه په اسلام کې څه توپیر شته؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا پوښتنه هم ورته پیدا کېږي چې ټول پر اساسي شیانو، لکه: قران کریم، حدیث، رسول، قیامت، عبادت، بیا ژوند، حساب و کتاب، جنت و دوزخ، ثواب و عذاب، ښه نو بیا یو بل سره وژني ولې او پر سلګونو ډلو د وېشلو لامل یې څه دی؟ په دې صورت کې نو دې کس ته قناعت ور کول داسې دي لکه په رڼا ورځ چې د اسمان ستوري شماري.

ښه! دا یاد هر څه اوس موږ اسلام ته خدمت کړی که مو زیان ورسولی؟ د اسلام د نفاذ په نوم مسلمانان نن هم وژل کېږي او هغه ډلې هم تر خپل منځ سره وژني چې دواړه د اسلام نفاذ غواړي؟! د دې کار ګټه د چا ده او زیان یې چا ته اوړي؟ زموږ اعمالو خپله د اسلام روښانه څېره پیکه کړه. نوره نړۍ د اسلام پیغام ته نه ګوري، بلکې هغوی زموږ د اعمالو له مخې فکر پر کوي او له همدې زاویې فیصله پر کوي. دوی به لازمن دا فکر کوي چې که اسلام ښه پیغام در لودای نو تر ټولو ښه خلک به په نړۍ کې مسلمانان وای، وطنونه به یې ارام وای، ژوند به یې خوندي وای، له هر ډول بدو به بې ازاره او د هر ژوي له ازاره به لرې وای. مګر بدبختانه چې په هر ناولي ډنډ کې مسلمان ور سره لوېدلی وي او هر کس خپل کار ته د اسلام نوم ور کوي چې د اسلام نوم یې سخت ور سره بدنام کړ.

د هغو کسانو خبره رښتیا ده چې وایي، یوه ایډیالوژي په خپل ذات کې هغه ډول نه وي، لکه پیروان چې یې په خپل عمل او تعبیر نورو ته ور ښکاره کوي. لنډ او ژوندی مثال یې د اسلام او مسلمان دی چې څومره تفاوت سره لري؟ اسلام د سولې او امن دین او مسلمان د جنګ او جګړې انسان، اسلام د مینې او رحمت دین او مسلمان د کرکې او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ازار رسونې کس. اسلام د انساني کرامت د رعایت امر کوي، مسلمان د هر انسان وینه توی کړه او خپله يې دا امر مات کړ. اسلام کې هر عابد او عبادتخانه په هر حال کې خوندي ده، مسلمان له مسجده رانیولې بیا تر کلیسا او مندر پوري د ټولو معابدو احترام له منځه یوړی او هر عابد يې په هر څومره بي وسي او گوښه توب کې قتل کړ.

موږ باید د نورو تر دسیسو مخکې د خپل ځان د خدمت او زیان کچه معلومه کړو. ایا موږ خدمت ډېر ورته کړی او که مو زیان زیات ور اړولی؟ که زموږ محاسبه دا معلومه کړي چې مسلمان تر بل هر چا د اسلام ښکلي پیغام ته زیان ډېر رسولی، بیا نو د بل پر ځای موږ خپله ملامت یو او خپل ځان اصلاح د بلې هرې دسیسې تر مخنیوي اسلام ته گټوره تماميږي. محاسبه باید له ځانه ور پیل کړو. دا هم د فکر وړ نکته ده چې اسلام یوازینی دین په نړۍ کې نه دی، نو بیا نوره نړۍ ولې یوازې د اسلام خلاف دسیسې جوړوي او نور ادیان يې ایله کړي؟ که موږ پر دې دوو نکتو فکر وکړ ان شاء الله تر ډېره حده به خپل ځان ته متوجې شو او بیا به هغه اعمال نه کوو چې د اسلام د پیغام خلاف وي او د هماغو له امله بیا نوره نړۍ له مسلمان سره دښمني وکړي، نه له اسلام سره او موږ يې داسې تفسیر کړو چې گواکې دا کار د اسلام خلاف روان دی.

نن سعودي او ایران د نورو په لمسون یو د بل خلاف ولاړ دي؟ ایا دا کار يې د اسلام په گټه دی که په زیان؟ پاکستان د افغانستان خلاف دا ۴۰ کاله کیږي نیابتي جنگ مخته وړي، د دې زیان به اسلام ته کم رسیږي؟ ایا دا بل تر سره کوي که موږ خپله د اسلام په جامه کې دا کړنې کوو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدای پاک په قران کریم کې دا اصل بیانوي چې که یو قوم د خپل ځان حالت په خپله بدل نه کړي، خدای یې هم تر هغو د بدلولو تکل نه کوي. له دې ښکاري چې بل ته د ملامتیا تر ګوتې نیونې دا د اصلاح، پرمختګ او ښیګڼې لار ده چې لومړی خپل اعمال اصلاح کړو، د ځان د بساینې کوښښ وکړو او د نورو د دسیسو ښکار نه شو.

په مسلمانه نړۍ کې مالیزیا او اندونیزیا هم اسلامي هیوادونه دي او د غیر مسلمانې نړۍ سره د هر ډول اړیکو له درلودلو سره هم ارام دي او هم یې اسلام ته خدمت کړی. هغوی هیڅ داسې عمل نه دی کړی چې نوره نړۍ هغه د اسلام د بدنامولو لپاره کار ځنې واخلي. له دې ښکاري چې هره دسیسه زموږ په هڅو ناکامېږي او زموږ په کوښښونو مخته ځي. که موږ د خپل دین بدنامي او ورکېدل ونغواړو د نړۍ هیڅ طاقت یې نه شي ختمولای او که موږ دې اعمالو ته دوام ورکړو نو ډېر ژر به مسلمانان هم له اسلام څخه زړه توري کړو، نو نامسلمان خو به اسلام ته د راتلو پر ځای لعنتونه رابانـدې وایـي. د ټولو ارزښتونو د ساتنې په وړاندې زموږ مسوولیت لومړی له خپله ځانه پیل کېږي. که موږ غواړو چې ډول ارزښتونه مو خوندي کړو لومړی به ځان اصلاح کوو او بل ته به د دسیسې جوړونې او بیا د کامیابي چانس نه ورکوو. په اوسنۍ نړۍ کې بس همدا یوه تګلاره د بریا چانس لري.

١٩/ ٥/ ٢٠١٨

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د طلوع افغان د ۹۷ کليزې په پلمه

زه په دې ليکنه کې ښايي د طلوع افغان ورځپاڼې تاريخي مسير ته ونه ګرځم. د دې ورځپاڼې اهميت، قدامت او له تاريخي سير سره تړليو مسلو ته يې ممکن نور مشران استادان ډېره څه وليکي. زه دلته د طلوع افغان او زموږ د اوسني مسووليت په اړه لنډې خبرې لرم.

د استاد معصوم هوتک په وينا چې طلوع افغان اخبار په هيواد کې لومړی اخبار و چې ټول پښتو چاپېده. د دې اخبار په ځلولو او چلولو کې زموږ درنو استادانو ډېرې خوارۍ کښلي دي. د لوی استاد علامه حبيبي غوندې ليکوالو په تېر کې ورته خدمت کړی او لوی استاد د دې اخبار د مدير په حيث دنده هم مخته وړې ده.

ما يې پخوانۍ ګڼې نه دي ليدلې. خو د استاد معصوم هوتک له مقالې راته ښکاره شوه چې دې اخبار د هيواد او په تېره د کندهار په کچه ډېر ذهنونه روښانه کړي دي. د هغې مقالې په اخير کې مې د استاد دا وړانديز خوښ شو چې د دې اخبار د مديرانو د ژوندليک په اړه يې کړی و. که د طلوع افغان په هره ګڼه کې د يوه مدير ژوندليک يې خپور شي او بيا وروسته په کتابي بڼه د همدې رياست له لورې چاپ شي دا به يې ډېر ستر کار شوی وي. هيله ده چې اداره دې وړانديز ته پام وکړي.

څه موده مخکې چې په زه په کندهار کې وم نو کله ناکله به مې دا اخبار کتی، زړه مې ورته خوړل کېده؛ ځکه زياتره ليکنې يې کاپي کولې، توليدي ليکنې پکې بيخي کمې وې، کيفيت يې هم ډېر بد

(c) ketabton.com: The Digital Library



خونده و. موږ هغه مهال هم د دې اخبار په اړه ږغیدلي وو او اوس هم ځینې مهم ټکي در سره شریکوم:

د اخبار چې اوس اونیزه شوی دی، لیکنې یې باید ټولې تولیدي، د ښې محتوا لرونکي، د اذهانو روښانونکي، له حالاتو سره مناسبې او د هیواد و ملت په ګټه وي. که څه هم اوس د ټولنیزو رسنیو په دور کې ښایي ځینې کسان د اخبار پر مهموالي ټینګار خوښ نه کړي، اما زما په نظر اوس هم مهم دی.

زموږ په ټولنه کې د مطالعې کلتور لږ پیکه دی، که نه په نورو ټولنو کې اخبار خپل لوستونکي او لیکوال لري. ځانګړي کالمونه ورته لیکل کیږي او د نړۍ له ګوټ ګوټ څخه جالبې خپلو لوستونکو ته وړاندې کوي. په اخبار کې اوس خبرونه دومره مهم نه دي لکه نور کالمونه. ځکه په خبرونو اوس خلک ډېر ژر خبرېږي، که څه هم خبرونه باید پکې وي او ځای یې باید نورو مطالبو ته ایله نه شي، خو پر تولیدي کالمونو او مقالو هم باید ډېر کار وشي.

نن که یو اخبار یا اونیزه لوستونکي پیدا کوي، نو په ښو لیکنو او نوي فکر و طرز یې مومي. په لیکنو کې زړه کلېشیي بڼه خپلول هم د لوستونکو په زړه ماتولو کې رول ادا کوي. تر وسه باید هڅه وشي چې نوي مطالب، نوی میتود، نوی فکر اونوی ډیزاین وړاندې کړي.

د دې ډول چاپي رسنیو یوه ښیګڼه دا ده چې تاریخ ته پاتېږي. هر وخت یې د کتلو او تر لاسه کولو امکانات موجود وي. که نن لس سلنه کسان کار ترې واخلي ممکن سبا یې ګراف تر نن لوړ شي. له دې امله هم باید د دې ډول رسنیو کیفیت او کمیت دواړه په نظر کې ونیول شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسنۍ د يوې ټولنې نمايدگي کوي. که هر ډول يې رسنۍ وي په هماغه ډول به يې ټولنه هم وي. يو کار چې د ټولنې روشنفکران او قلموال يې د همدې رسنيو له لارې کولای شي هغه دا دی چې که هر څومره اقليت وي، په ټولنه کې وينځتيا، سمون او بدلون ته لار هوارولای شي.

زموږ د ټولو ليکوالو او په ځانګړي ډول د دې حوزې د ځوانو ليکوالو مسووليت ته چې طلوع افغان اونيزه په کيفي لحاظ هغه ځای ته ورسوي چې ټولنه زدکړه ځنې وکړي، د خلکو د اذهانو په تنوير کې رول ادا کړي، د يوې واقعي رسنۍ ربنتنی رول ولوبي. دا کار يوازې په موږ کېدای شي چې همت وکړو او د خپلې حوزې پښتو اونيزې ته ليکنې وکړو، د سمون لپاره يې نظرونه ور کړو، له نورو ژبو ترجمې ورته وکړو او د لوست لپاره يې هم خپله وخت ور کړو او هم له دې لارې د مطالعې د فرهنګ په عامولو کې ګټه واخلو.

دا اونيزه کولای شي چې ځوانان وروزي، ځوانان د ليکوالۍ فن ته وهڅوي، د خپلو ليکلو خاميو ته يې متوجې کړي، له دې څخه ليکنې زدکړي، د مقالې ليکلو چم ترې واخلي. که موږ د خلکو زدکړه، د اذهانو روښانتيا، د ځوان نسل سمه روزنه، د مطالعې د فرهنګ غوړېدا، زموږ د کلتوري سمون چټکتيا، نورو او تاريخ ته د خپل وخت د يوه ښه کلتور يو غوره استازی پرېږدو، نو نن لازمه ده چې دا اونيزه د کيفيت او کميت له مخې غني کړو. تر خلکو يې ورسو، د لوست لپاره يې زمينه برابره کړو، ليکنې ورته را غونډې کړو او داسې يوې مرحلې ته يې ورسوو چې نور ليکوال خپله را جذب کړي او هغوی له دې څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اغېزمنېدو دا د ځان مسوولیت وبولي چې طلوع افغان ته خپلې مقالې، نظرونه، مشورې، نقدونه او ستاینې را ولېږي.

دا کار ټول په موږ پورې اړه لري. که همت وکړو نو ډېر څه ممکن دي او په ډېر لنډ وخت کې ممکن دي. د اخبار د کاپي فسټ مهال به به زه شرمېدم چې ولې په بسته جنوب غرب حوزه یو اخبار په سم ډول نه شو چاپولای؟

که دا اونیزه د دومره شاعرانو، لیکوالو، نقادانو، نظروالو، عالمانو او ژباړونکو په شتون کې همداسې بې کیفیته پاته شي، نو زموږ لپاره ډېر شرم په کار دی. په اونۍ کې د یوې مقالې لیکل یا تر جمه کول، یو شعر ورته لیکل، یو نظر ور کول، د نړۍ له مهمو پېښو د ځینو معلومات یې ورته برابرول، د ورزش له نړۍ لنډ په زړه پورې معلومات ورته لېږل نه ګران کار دی او نه هیڅ بانه د دې مسوولیت مخه نیسي.

لکه زموږ مشرانو چې د اخبار په ښه چلولو هغه په لوړو سترګو تر موږ را رسولی دی، موږ باندې اینده نسل او اوسنی نسل دواړه حق لري چې هغوی ته یې تر پخوا په لاښه توګه ور ورسوو. دا مسوولیت زموږ د هر یوه له غاړې دی. د ټولنې هر وګړی چې نور یې هیڅ په وس پوره نه وي، د اونیزې لوست خو به کولای شي، تر یو چا خو به یې رسولای شي، یو نظر خو به ور کولای شي، که نور هیڅ نه وي، نو د ټوکو او طنزونو برخې ته خو یوه ټوکه یا طنز حتا هغه هم وړاندې کولای شي چې الف ته ډانګ وایي خو د اونیزې خبریال یا بل همکار ته یې شفاهي ویلای شي. نو راځئ خپل مسوولیت لومړی وپېژنو، بیا یې د ځان، ټولنې، هیواد او تاریخ په پار ادا هم کړو.

۲۰۱۸/ ۷/ ۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نقد څه دی او منتقد څوک دی؟

نقد و انتقاد که څه هم تر خپل منځ مفهومي توپیر ارو مرو لري، اما تر یوه حده اوس پر یوه ځای کارېږي. منقد، منتقد او ناقد هم لکه د یوه باب چې وي داسې استعمالېږي. د یوه شي ښه او بد بېلولو ته نقد وايي، زرو ته له دې امله نقود ویل کېدل چې نقد(د خالص او ناخالص زرو بېلوالي) ته به وړاندې کېدل، د همدې کار لپاره پخوا یوه ډبره کارېده چې محک به یې بلله او د زرو کاروباریانو به نقود له هغې سره مښل چې سوچه والی یې ورته معلوم شي.

په ادبي نقد کې هم د یوه اثر سوچه والی له نا سوچه والي بېلېږي چې د هغه اثر ارزښت او قیمت معلوم کاندي.

د یوې عربي مقالې لیکوال شیرین احمد په خپله مقاله تعریف النقد کې کاږي چې د لغت له مخې نقد له دراهمو د اوسپینې جلاوالي ته ویل کېږي او د پلټنې و کشف په معنا هم راځي. دی لیکي چې اصطلاحن د یوه ادبي اثر تر لیکلو وروسته د هغه داسې ارزول دي چې ښه و ناښه یې سره بېل شي او د ټاکلو معیارونو له مخې یې مرتبه معلومه او هغه کټګورۍ ورته وټاکله شي چې دا اثر ورسره د مرتبې له پلوه مشابهت ولري. شیرین احمد خپله مقاله کې د دوکتور بلیل عبد الکریم تعریف النقد کتاب د ریفرینس په توګه یاد کړی دی چې په (۲۰۱۲/۳/ ۲)کې چاپ شوی دی.

په یوه عربي سایټ کې د النقد- تعریفه-اهدافه-شروطه- مقاله کې د نقد لغوي معنا او تعریف داسې وړاندې کوي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



النقد في اللغه : هو بيان اوجه الحسـن او العيـب في شيء مـن الاشـــياء التـــي يطلـــع عليهـــا الشـــخص.
اما تعريفه ادبيا : فهو دراسة النصوص الأدبية من الناحيـة الادبيـة ليتم بذلك الكشف عما بها من الجمال والإبـداع فناأخـذ بـه، أو العيوب والخلل ليـتم إجتنابهـا وعـدم الوقـوع فيهـا وتصـحيحها ليعتدل بذلك النص الأدبي .

ژبـاړه: يـوكس د يـوه شي هغـه ښـېګڼې او بـدګڼې چـې دی پـرې پوهېدلی په ښه ډول بيان کړي نو همدا د لغت له مخې نقد دی. او ادبي تعريف يې دادی چې له ادبي اړخه د ادبي متونو داسې ارزونه ده چـې ښکلا او ابتکار يې ښکاره شي او مـوږ يـې پيـروي وکـړو، کمـزروۍ و نيمګړتياوې يې هم واضحې شي چې نور ځانونه تـرې وسـاتي او ادبي متن د سمون لپاره تصحيح شي.

پـه عـربي کتـابونو او مقـالو کـې مـا وليـدل چـې دوی نقـد؛ قديم(پخواني)او حديث(اوسني)ته وېشلی دی. له دې معلومېږي چې نقد يوه قديمه اصطلاح ده چې د زمانې په هر پړاو کـې بـه يـې حتمن نوي او بېل ميتودونه خپـل کـړي وي. پـه پـاس يـاده شـوې مقالـه کـې ليکوال د حسان بن ثابت پر قصيده د يوه عرب ناقـد نابغـه نقـد راوړی دی چې د نقد مخينه په ثابتوي. د مثال لپاره يې يو بيت راوړی دی:

لنا الجفنات الغر يلمعن في الضحى-واسيافنا يقطرن من نجدة دما

زموږ روڼه پوښونه دي چې په سـهار کـې ځلېږي او تـورې مـو لـه غيرته وينې څڅوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نابغه پرې خورا خوندور نقد کړی دی، په دې پاس بيت کې يې يو لنډکی مثال دی. د حسان (اسيافنا يقطرن) په اړه يې ويلي دي چې د اسيافنا پر ځای بايد سيوفنا وای، ځکه لومړی کليمه د جمعې قلتې ده او دويمه د جمعې کثرتې، همدا شان يې ويلي د (يقطرن) پر ځای بايد يجرين ويل شوي وای، ځکه يجرين د وينو روانوالی او د مړو زياتوالی ښيي چې د حسان هدف په دواړو ځايونو (اسياف او يقطرن) کې د تورو او وينو زياتوالی وو؛ مگر په کومو کليمو چې حسان د ثابتولو هڅه کړې ده هغه رښتيا هم نيمگړې ده، ځکه جمعه قلته پر لږو دلالت کوي او دلته کثرتې ته اړتيا وه، همداشان يقطرن د څڅولو معنا ور کوي چې د وينو يا مړو زياتوب نه شي ښودلای.

د يادې مقالې ليکوال وايي چې تر ميلاد مخکې يونانيانو فنې او ادبي نقدونه در لودل چې د (Kritikos) لفظ هغه مهال پر فن او ادب د حکم ور کولو په معنا و. بيا د ۱۵۹۵ پر مهال ايتاليا کې د (Critica) کليمه ظاهره شوه چې فرانسې د اوولسمې پيړی په لومړيو کې ډېره وکاروله. په اتلسه پيړی کې د نقد مفهوم ډېر پراخ شو او د هر عمل د ښه او ناښه په اړه نقد وکارېدی او د محمد کريم کواز له وينا سره سم په شلمه پيړی کې نقد حديث په عربي ټاټوبي کې هم استعمال وموند.(۱)

**د نقد کلتور:**

که موږ غواړو چې په ټولنه کې مو د نقد کلتور وغوړېږي، نو لازمه ده چې لاندې ټکي به په نظر کې ساتو:

۱/ له نقده به هدف د چارو سمون وي؛

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲/ د مینې یا کینې له احساساتو به ځان ساتي یوه طرفه پرېکړه یا خواخوږي به نه کوي؛

۳/ د اصلاح لپاره به وړاندیزونه یا مناسبه حللار په گوته کوي؛

۴/ د استدلال چمتو کول او سند و لاسوند موندل؛

۵/ د ارزیابي مهال به خپل برداشتونه پرېکنده نه گڼي، ځکه انسان د تېروتنې مجال هر وخت لري؛ خپل ځان او نقد به هم نقد او ارزیابي کوي؛

٦/ ځانگړي مثبتو او منفي اړخونو ته به یې بشپړه پاملرنه کوي؛

۷/ پر ټولنه حاکم رواجونو ته به خیال کوي، د لیکوال تگلارې ته به پام کوي چې څومره د دود تابع شوې ده او څومره یې بغاوت ترې کړی دی؟؛

۸/ او د نقد په روش به ښه پوره خبرتیا لري؛

۹/ نقد به واضح او روښانه وي، مبهم، مغلق او پېچلی به نه وي، چې د پوهېدا لپاره یې بل مفسر ته اړتیا پیدا شي؛

۱۰/ نقد به ایډیالوژیک نه وي، په دې معنا چې منتقد به وار له مخه له ځان سره پرېکړه نه وي کړې، چې د خپلې ایدیالوژۍ له مخې یو اثر ناسم وبولي.

دا ټکي یوازې مو د نقد کلتور د پیاوړتیا په خاطر ولیکل او که خبره نه اوږدېدای ځینې نور ټکي هم شته چې باید یاد شي اما دا مقاله یې د ذکر کولو توان نه لري. که یو منتقد دې ټکو ته پام وکړي، نو نقد به یې د ټولنې په گټه وي، سالم نقد ټولنې ته فایدې لري او د خلکو له نقده بد نه کیږي، بلکې د یوه گټور شي په سترگه ورته گوري چې د هر چا

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر هر کار یې اهـل او وړ کـس کـولای شي او دا یـې پـه ټولنـه کـې د غوړېدا لامل کېږي.

نقد کول د ټولنې په ګټه تمامېږي له دې امله په پرمختللیو ټولنو کـې نقد ډېر وي او هغوی د نقد کلتور منلی دی او د یوه ارزښت په سـترګه ورته ګوري. اما وروسته پاته او جامده ټولنه کې نقد ډېر کم کېږي او د خلکو احساسات ور سره ملګري وي. زموږ په ټولنه کې د خلکـو لـوی نومونه هم د نقد مخه نیسي- ځکـه خلـك فکـر کـوي چې دا د هغـه سپکاوی دی یا هم تر هغه بل څوك ښه نه پوهېږي له دې امله پر یـوه مشهور شخص نقد یا هم پر یوه کتاب نقد کول ځینې وختونه د خلکـو د منزوي کېدو سبب هم کېږي. د نقد منلو لپاره هم ځینې لاندې ټکـي مهم دي چې د نقد مهال باید پام ورته وشي:

۱/ د خپل ځان او اثر په اړه له منفي احساساتو او یوطرفه فکر څخه ځان ساتل؛

۲/ د نقد مهال د نورو رایو ته نظر کول؛

۳/ د خپلې سیلقې او لیدلورې خلاف د نظرونو زغمل؛

۴/ له نقد څخه نه ډار؛

۵/ د کار مهال تېروتنه طبیعي ګڼل؛

٦/ پر خپل نظر بیا فکر کولو ته چمتوالی در لودل؛

۷/ د سنتي او متحجرو افکارو خلاف له نویو زاویو فکر کـول او لـه بشري افکارو پخواني ګردونه څنډل؛

دې نکتو ته پام کول د نقد منلو کلتور پیاوړی کوي، هر ناقد بایـد د نقد مهال د دې خیال وساتي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## منتقد څوك دی؟

هغه څوك چې د نقد پر لازمونو روشو برلاسی وي هغه منتقد بلل کېږي. د برلاسی لپاره یې ځینې موارد شته چې هغه باید ځانګړی پام ورته وکړي؛ لکه:

۱/ د سالم نقد پر روش پوره برلاسي؛

۲/ هغه ځانګړنې او مشخصات به ورته معلوم وي چې په نقد کې ورته اړتیا وي؛

۳/ د ارزیابۍ مهال له کتابه د لیکوال مطلوب هغه مفهوم را ایستل چې یو عام لوستونکی یې نه شي اخیستلای؛

۴/ نورو ممکنه اراؤ ته پاملرنه کول چې شونې ده د متن په تګلاره او د لیکوال په فکر کې وي؛

۵/ منتقد باید د نوي فکر خاوند وي، یعنې له نوې زاویې به ورته ګوري.

دا پنځه هغه عناصر دي چې د منتقد کار او دنده د نقد په اړه مشخصوي. د نقد په اړه لوی مشکل یکطرفه نقد دی، ځینې کسان چې د نقد مفهوم یې سم نه وي درك کړی، نو د نقد مهال ځان بې پرې نه شي ساتلای او مسله ځنې یوه لور ته کږه شي.

د هرې موضوع په اړه چې څوك نقد کوي، باید په هغه فن کې متخصص وي، ځکه هر څوك نه شي کولای چې د یوه داسې فن مهمې نکتې را وباسې چې هغه کس ور سره د تخصص تر درجې بلدتیا نه لري او نه هم لوستونکي د هغه چا خبرو ته ډېره توجو کوي چې تر مهمو ټکو یې پر هسې عامه ځایونو خپل وخت ضایع کړی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نقد لپاره د يوې ليکنې داسې کتل لازمي دي چې ټول اړخونه په نظر کې ونيول شي. د ليکنې په پيغام ځان پوه کړي، دا وګوري چې ليکوال خپله خبره په سم ډول رسولې ده که نه؟ په ليکنه کې نوموړې ځومره د خپلو همعصره يا هم پخوانو تر اغيز لاندې دی؟ که ناقد په موضوع کې د تخصص تر کچې پوهه ونه لري، نو په دې ټولو اړخونو يې ځان نه شي پوه کولای او کله چې دا لومړي ګامونه ځوک سم وانه خلي، نو بيا وروسته ګامونه خو بيخي سم نه شي اخيستای. ځکه موږ ټينګار کوو چې نقد اسانه کار نه دی او هر ځوک ناقد نه شي کېدای، دويم دا چې نقد يوازې عيب بيانول هم نه دي؛ بلکې ښه او بد دواړه به بيانېږي له دې امله نو هر شی پوره دقت غواړي او دقت يې يوازې مسلکي شخص کولای شي.

**د نقد ډولونه:**

۱/ تاريخي نقد، دا نوعه خپله دوه ډولونو ته وېشل کېږي: الف: داخلي نقد، ب: خارجي نقد.

د نقد په دې ډول کې د اسنادو، سرچينو او تاريخي متونو له نقد سره تړاو لري، دوه ډوله پوښتنې پکې مطرح کېږي:

يو) سند، سرچينه يا هم کتاب ځومره اصلي و واقعي دی او جعلي نه دی؟ دا سوال له داخلي نقد سره تړاو لري.

دوه) سند يا سرچينه تر کومې اندازې حقيقت بيانوي؟ په دې ځای د سند د واقعيت يا جعليت پوښتنه مطرح نه ده، سوال دادی چې ځومره له واقعيت څخه سمه پرده پورته کوي؟ مثلن: که د يو تاريخي کتاب چې سيد رضا ته يې نسبت کېږي او د عاشورا په اړه يې ليکلی دی، ارزيابي کړو، نو دا دوه سواله پيدا کېږي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



الف: ایا واقعن هم دا کتاب د سید رضا دی، یا دا سند جعلي دی؟

ب: که ثابته شوه چې سند اصلي دی، بیا دا پوښتنه کېږي چې سید رضا د عاشورا لـه پېښـې بـاوري و سـهي روایـت کـړی دی او کـه یـې تاریخي حقایق تحریف کړي دي؟

۲/ فني نقد چې صوري نقد او محتوایي نقد ته وېشل کېږي.

په صوري نقد کې د جملو پر شکل، جوړښت، اوډنـې او د ژبـې د میزان او اصولو پر رعایتولو بحث کېږي. د نقـد پـه همـدې نوعـه کـې منطقي اصولو ته هم پام کېږي چې د قیـاس مهـال سـمه نتیجـه گیـري وکړي، دې ته باید متوجې وي چې له خاصو مقدماتو یـوازې خاصـه پایله اخیستی شي؛ ځکه نو استدلالي ترکیب د منطقي گړدود د اصـولو تابع وي.

۳/ اخلاقي نقد: په اخلاقي نقد کې د کتاب مطالب د اخلاقو په تلـه تلل کېږي، یعنې دې ته کتل کېږي چې دې مطـالبو د ټـولنې اخلاقـي چوکاټونه څومره په پام کې نیولي دي او کوم ځایونه یې سرغړونه ځنې کړې ده؟ د ودې او ښه والي سبب یې کېږي او که بالعکس په ټولنه کې د اخلاقي موازینو د تزلزل لامل دي؟.

۴/ اجتماعي نقد: په اجتماعي نقـد کـې دوه موضـوعاتو تـه پاملرنـه کېږي:

الف: د کتاب تالیف تر کومې اندازې له ټولنیزو شرایطو متاثر دی او په څنگه شرایطو کې لیکل شوی دی؟

ب: دا کتاب ټولنې ته څه پیغام لري او تر کومه حده اغېزناک دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵/ د روان شناسي نقد: په دې نقد کې د لیکوال باطني یا داخلي احوال ارزیابي کېږي، د کتاب په تدوین کې د هغه وړتیا، ذوق، تخیل او د ترکیب قدرت تر رازیابي لاندې نیول کېږي.

۶/ توصیفي نقد(طبیعي): دا نقد چې د طبیعي علومو پر روشونو متکي دی د طبیعي نقد نوم هم ور کول کېږي. دلته د مقدار او اعدادو په وسیله طبقه بندي کېږي، مبهم ځایونه یې واضح کېږي.

۷/ تطبیقي نقد: په دې ډول کې تر ارزیابي لاندې کتاب له نورو کتابونو سره چې پخوا یا نور ځایونه لیکل شوي حتا که په نورو ژبو هم وي پرتله کېږي او له دې زاویې نقد هم ور باندې کوي. له دې ډول نقد څخه د درسي کتابونو په اړه ډېر کار اخیستل کېږي چې د نورو ژبو یا ځایونو له کتابونو سره یې پرتله کړي او د نقد وړ ځایونه یې هغو کتابونو ته په کتو نقد کړي.

د نقد دوه نور ډولنه هم بیان شوي دي:

۱/تاثیري نقد:

دلته منتقد د منل شویو معیارونو او اصولو له مخې نقد نه کوي، بلکې د خپل شخصي میل او خواهشاتو پر بنا نقد کوي، منتقد په قانع کوونکو دلایلو پسې نه ځي او نه کولای شي چې لوستونکي قانع کړي، ځکه هغه له لومړي سره معیارونه له پامه اچولي وي، هغه بیخي سطحي روان وي او یوازې خپل زړه تشول غواړي. د نقد دا نوعه پخوا ډېره وه اما چې علومو وده وکړه د دې ګراف هم ور سره راکم شو، خو د نوچکیانو، متعصبو او هغه څوك چې شخصي عقدې کې سړوي شمار اوس هم کم نه دی او دوی بیا هم دا ډول سطحي نقدونه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲/ موضوعي نقد:

دا نقد له څېړنې او پلټنې سرچینه اخلي. ناقد خپل معین منهج نیولی وي او د هغو قواعدو پیروي کوي چې علماؤ پرې اتفاق کړی وي، په یوه وخت کې د خپل ذوق، عقل، فني او خپلې وړتیا پر بنسټ پرېکړه کوي او خپل ځانګړي میلان ته نه تسلیمېږي. خپله ادعا په دلایلو اوبراهینو ثابتوي او نقد یې مفصل او علتونه یې بیانوي. ناقد ادبي اثر ګوري، ټول اجزا یې تر نظر تېروي، ښه او کمزوري ځایونه په ګوته کوي، پر هر ځای باندې د دلیل له مخې حکم کوي بیا له جزي احکامو عامو ته راځي چې ادبي اثر پرې متکي وي او د نقد دا نوعه خورا زیات علم او معلوماتو ته اړتیا لري چې ناقد په ښه دقت تحلیل کړي او له لیکوال سره مناقشه وکړي. همدارار باید تجربه ناکه ذوق ولري چې ښه او بد سره تفکیک کړي، فني وړتیا ولري چې له قواعدو سره سم یې پرتله وکړي، په دې نوعه کې د نقادانو نقدونه سره مشابه او نژدې وي او تر منځ یې بیخي کم اختلاف مونډل کېدای شي او هغه هم د ذوقونو له امله ممکن وي.(۲)

د کتاب د نقد په اړه مطرح کېدونکې پوښتنې:

۱/ دا کوم کتاب دی؟

۲/ د څه لپاره دی؟ کوم اهداف را نغاړي؟

۳/ د چا لپاره دی؟

۴/ دا کتاب په کومو شرایطو کې لیکل شوی دی؟

۵/ د کتاب لیکوال څوک دی؟ د هغه احوال، افکار او روحیات څنګه دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



۶/ په کتاب کې د څومره معتبرو حقیقتونو په اړه بحث شوی دی او څومره علمي وزن لري؟

۷/ په کتاب کې د ژبې اصول تر لازمي بریده مرعات شوي دي؟

۸/ دې کتاب څه اغېزې در لودې؟

۹/ خلکو کتاب څومره خوښ کړی دی؟

۱۰/ ایا په کتاب کې نوي او ځانګړي څه هم شته؟

۱۱/ د کتاب مطالب تر کومه حده سره هماهنګه دي؟

۱۲/ د کتاب عنوانونه څومره له خپلو مطالبو سره اړیکه لري او څومره پرې منطبق کېږي؟

۱۳/ کتاب د روزمره ژوند د مسایلو په حل کې څومره مرسته کوي؟

۱۴/ تر کومه بریده په کتاب کې د پېژندل شویو غوره معیارونو پیروي شوې ده؟

۱۵/ کتاب له اخلاقي اصولو او معیارونو سره څومره سرخوري؟ ایا په کتاب کې نااخلاقي نکتې هم شته؟

**د منتقد شرطونه:**

منتقد باید دا لاندې ځانګړنې ولري:

۱/ د نقد وړتیا: منتقد که د نقد وړتیا ولري، نو کولای شي چې هر شی په سمه پیمانه تول کړي، د هر کار غوره له ناغورو څخه بېل کړي.

۲/ علمي وړتیا: منتقد به هغه کارونه نقدوي چې د هغه د تخصص په ساحه کوي، د خپل تخصص په برخه کې هغه کولای شي په پوره باور یوه رایه ور کړي.

۳/ عدالت او انصاف: د منتقد خبرې به پوره شفافې او له خواهشاتو و تعصب څخه لرې وې، یعني هغه به د علمي قواعدو په رڼا کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تحلیل او تفسیر کوي، خپل شخصي- میلان او عواطف به پکې نه ځایوي، نه به بې ځایه د چا ستاینه کوي او نه به هم د یو چا ارزښت کموي.

۴/ ادب رعایتول: په نقد کې به نورو ته اذیت ور کول هدف نه وي په داسې الفاظو چې له ادبي چوکاټه بهر وي، فکر به نقدېږي نه دا چې مخالفانو ته اذیت په ورسول شي حتا که هغوی خطا هم وي.(۳)

۲۰۱۸/ ۱۲/ ۳

**سرچینې:**


۱) (البلاغة والنقد المصطلح النشأة التجدید مخ: ۵۸)

۲) (مفهوم النقد وانواعه، د اسماعیل سعد، له مرسی الباحثین العرب ویبپاڼې).

۳) ( د شیرین احمد له مقالې[تعریف النقد])

(c) ketabton.com: The Digital Library



## هوښيار انسانان چېرې دي؟

چې کوچنى وم، له ملايانو به مې اورېدل چې انسان اشرف المخلوقات دى. کله چې لږ را لوى شوم، کتابونه مې لوستل، راډيو مې اورېده، مجلې مې کتلې او له لوستو کسانو سره به بانډارو کې شريکېدم؛ بيا به مو د انسان د پوهې، خدمتونو، استعداد، ځانګړتياوو، عدالت، ښو خويونو، شرافت او دې ته ورته نورو ښو صفاتو خبرې اورېدې، لوستې او کتلې مو. زموږ چاپېريال داسې و چې د (ولې) کليمه پکې چا نه کاروله، دا ټولې خبرې مو لېدلې/اورېدلې؛ خو د انسان په لاس روان وحشت ته مو نه کتل، د انسان په لاسونو چې د انسان تاريخ خراب شوى، هغه ته مو پام نه کاوه، هغه ظلمونه چې يوازې انسان پر انسان کړي دي، دې ته مو فکر لا نه کېده، چې انسان که دا ټول ښه صفات لري، نو دا کارونه چا کړي دي؟ د دې کارونو د کولو مهال د انسان هغه لوړ ښه خويونه چېرته ورك وي؟

انسان چې د ټيکنالوجي په ډګر کې څومره هم پرمختګ کوي، هغونه خپل ځان ته د ابدي زوال کنده کيندي. د انساني پرمختګونو په ترڅ کې د دوو نړۍ والو جنګونو پر مهال چې څومره انسانان ووژل شوو، ممکن تر ټيکنالوجي مخکې په سلو کلونو کې هم دومره لوى تعداد نه وي وژل شوي، دا هوښياري ده که د ځان تباهي؟

انسانان کمپنۍ جوړوي چې نورو انسانانو ته سهولتونه پيدا کړي، خو په دې کمپنۍ کې مزدور انسان به هيڅ ډول سهولت نه لري، د کمپنۍ د مالك له لورې به تر ظلم لاندې وي، تنخا به يې پر وخت نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ور کوله کېږي، په داسې حال کې چې دا شتمن به د دې کسانو په مالي حالت خبر وي؛ البته د دې پر ځای چې مرسته ورسره وکړي، نور یې هم زبېښي. دلته د انسان هغه ښه خویونه او صفات چا له انسانه کښلي وي؟ او د کمپنۍ اصلي موخه هم د خپل ځان شتمني زیاتول دي، نه اصلن خدمت.

دا اوس په نړۍ کې له لس سلنه کسانو سره دومره سرمایه شته چې د نړۍ نور پنځوس سلنه کسان یې نه لري او حتا په دنیا کې ځینې انسانان له لوږې او تندې مري، د مرض پیسې نه لري، سر پنا نه لري، د شپې تېر لپاره یې د سمندر ماهیان خوري، خو شتمن انسان د خپلې دنیا کمه برخه هم د دې انسانانو د ژغورل کېدا لپاره ونه لګوله؛ دې ته د هوښیارۍ نوم مناسب دی او که...؟

په نړۍ کې نن لوی کاروبار د وسلو او قاچاقو دی، موږ له رسنیو څخه اورو چې د نړۍ کمزوري هیوادونه سترو قدرتونو په جنګ سره اچولي چې خپلې وسلې پر خرڅې کړي او په مفته کې د هغو هیوادونو له هر ډول سرچینو اسفتاده وکړي، دا وسلې د چا لپاره جوړېږي؟ انسان یې د انسان د وژلو او نابودۍ لپاره نه جوړوي؟ د همدې اسلحو له امله انسان او ځمکنۍ کرې ته څومره زیان رسېږي؟ یوځل یې د جوړېدا مهال دودونو اسمان پر سر اخیستی وي، بیا د استعمال مهال د هوا د خرابېدا او ګرمېدا سبب کېږي چې دا یې په اوږده مهال کې ستر خطر دی؛ اما فعلن یې انسان ته زیان دادی چې وژني یې، په دې تجارت کې ځینې انسانان ګټه کوي او لوی شمېر یې قرباني وي، دلته د هوښیارۍ څرکونه چېرې معلومېږي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



انسان د خپل ځان د چاغېدا لپاره د ځمکې پر سر او نس کې ټول شته کاروي، له دې وجې د ځمکې حالت ورځ تر بلې خرابېږي، د هوا خرابي او ګرمېدا به اخیر د انسان د نابودۍ سبب کېږي، مګر انسان له دې حقیقته غافل هر وخت د خپل جیب فکر کوي چې لږ یې نور هم وپړسوي؛ د ځنګلونو ورځ په ورځ کمی دا خطر نور هم زیاتوي او د انسانانو زیاتوب هم ستونزې ایجادوي، اما دا هر څه د انسان وړاندوینه ده خو بالمقابل یې داسې کارونه کوي لکه هیڅ چې نه پوهېږي!

زموږ په وطن کې ټول خلك پوهېږي چې اوبه کمېږي، کاریزونه وچېږي، چینې ختمې شوې، خلك باوړۍ ته مجبور شول، بارانونه دا ځو کلونه کم وو؛ تر دې هر څه وروسته بیا هم خلك اوبه بې ځایه کاروي، باوړۍ ټوله ورځ چالانده وي او اوبه یې ضایع کېږي، بندونه نه تړل کېږي، سیندونه مو نورو هیوادونو ته بهېږي، ځنګلونه پرلپسې پسې رېبل کېږي او جنګ هم په شدت روان دی چې دا ټولې کړنې مو هم په تدریجي او هم سمدستي هلاکوي، لاکن موږ یې په افتخار کوو؛ ایا په دې ټولو کارونو کې د هوښیارۍ کوم ځرك هم معلومېږي؟!

په مجموع کې انسان له لوږې ډارېږي، د همدې لپاره تل هڅاند وي، شخړې او ناغېړۍ هم د اقتصاد له امله راپیدا کېږي؛ اما که انسان د هغه نیمایي مصارف چې د جنګ، برلاسي او خیالي دښمنیو لپاره یې کوي، د انسان د مړولو په خاطر وکړي دا ټول مشکلات به حل وي او له تدریجي و سمدستي بدمرغیو به یې ځانونه خوندي کړي وي؛ انسان ولې د اسانه لارې پر ځای سخته لار غوره کړې ده؟ دا د هوښیارۍ پرېکړه ده که ...؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



قاچاق کول د انسانانو لپاره د هلاکت سبب کېږي، د نشيي مـوادو کرل، خرڅول، په کمپنيو کې له خامو موادو څخه يې د استعمال لپـاره مخدره مواده چمتو کول، د انسان مالي او فزيکي نقصان دی، دا گـرده کارونه د غوڅ اکثريت په تاوان دي او د يوې وړې کتلې پـه گټـه، دا د انسانانو هوښياري ده که...؟

د يوه هيواد له بل سره دښمني، پر يوه هيواد د بل بنديزونه، لـه يـوه هيواد سره د بل جنگ، دا هر څه د انسانيت په تاوان دي، يوه بله نکتـه دا هم ده چې د هيوادونو په دښمني کې ټول ملت د بل ملت په وړاندې کينه نه لري او نه دښمني ورسره کـوي، اقتصـادي بنديزونـه هـم د ټـول ملت غوښتنه نه وي، دښمني يوازې د سياستوالو ترمنځ وي، خو کړېږي ځنې ټول ملت، دا هوښياري ده که بل نوم ورته مناسب دی؟

حکومتي ادارو کې دومره لويه بيروکراسي چا جوړه کړې ده، خلکو د خدمت پر ځای ستونزې چا ايجاد کړې دي، رشـوتونو تـه لارې چـا جوړې کړې دي، گراني څوک جوړوي او قيمتونه ولې لوړېږي؟ دا هر څه د يوې وړې ډلې له لورې کېږي، دا هوښيار کسان کوي او که...؟

له دين څخه چا د چا لپاره دام جوړ کړی دی؟ ولې يې د شريعت او دين متن داسې تعبير کړی دی چې د انسان لپاره د گټې پر ځای د زيان سبب کېږي؟ له يوه دين څخه دومره ډلې را پيدا کول، ترمنځ يې داسې اختلافات پيدا کول چې د انسانانو د وژلو سبب کېږي، نفرتونـه را پيـدا شي، له يوه بل څخه يې بد وشي، کينې او بغضونه يې ترمنځ ډېـر شي، دا د هوښيار خلکو کار دی که...؟

د مارکس او اينگلز له هغې علمـي اقتصـادي نظريـې څخـه داسـې عملي و علمي انگېرنه ولې واخيستل شوه چې د لکونو بلکې د ميلينونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



انسانانو ککرۍ يې د پلې کېدا لپاره ورغړېدې؟ ايا هغه مارکس چې د همدې نظريې د وړاندې کولو لپاره يې ډېرې سختۍ وزغملې، خپل نازک اولادونه يې قرباني کړل، خپل ژوند يې وقف کړ، هغه غوښتل چې د ده نظريه دې انسان ته د گټې پر ځای د زيان، د مينې پر ځای د کينې، د نژدې کېدا پر ځای د لرې کېدا، د حق رسونې پر ځای د حق اخيستنې سبب شي؟ دې کار ته د هوښيارو انسانانو نوم ور کولای شو که...؟

۲۰۱۹م

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په دولتي کې ادارو له پښتو سره د پښتنو چلند

زما پلار جان کابو د سلو کالو دی، په شاهي دوره کې یې دوه کاله عسکري هم کړې ده، موږ ته به یې کله ناکله د خپلې عسکرۍ د وخت کیسې کولې. ده به د هغه وخت د ځینو پېښو تاریخ هم یاد و، ویل به یې: په څلور او څلورېښتم کال کې دا پېښه وه، زه په څلوېښت او دوه کې ولاړم او په څلوېښت او څلور کې بیا راغلم همداسې نور تاریخونه.

زه د خپل ژوندی په هغه پړاو کې چې لا په کلي کې وم، په دې نه پوهېدم چې پلار مې ولې په فارسي تاریخونه یادوي؟ زه کشر وم ځکه نه پوهېدم، مگر اوس موږ پوهېږو چې ادارو کې هر څه فارسي وو له دې امله یې عامو عسکرو هم فارسي ویله. بیا به مو یو مهال د کلي له ملا څخه خط نوشته کاوه. هغه به د خط په لومړي سر کې راته ولیکل: دعا و سلام ازجانب فلان... موږ به هم په دې ډول بیا وروسته پښتو خط نه لیکی، پر خپلو کتابونو به مو لیکلي ول چې این کتاب در ملکیت فلانی است دعوه دیگر کس نامنظور است. همداسې به مو پر خوله پښتو خو په قلم فارسي لیکله او په دې چاپېریال کې را لوی شوو.

کله چې پاکستان ته ولاړم نو هلته بیا پښتنو له خپلې ژبې سره مینه نه درلوده، بلکې اردو یې لیکله. د اردو ورځپاڼه یې لوسته، کتابونه یې اردو کتل، اردو ژبې راډیو به یې اورېده او د اردو ژبې ټلویزیون به یې لیدی.

د ملایانو له جملې هم ډېر کم کسان وو چې پښتو یې لوسته یا لیکله، هغوی زیاتره عربي کتابونه لوستل، تر عربي ور هاخوا یې فارسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او اردو کتل، پښتو ته د چا پام نه و. حتا په کوټه کې زما یو ملګری چې تر دولسمه یې په شخصي کورس کې هلکانو ته په پښتو ژبه د فزیـک، بیالوژي، ریاضي او... زدکړې ور کولې، له هغه یوه پښتانه سوال کـړی وو چې تا دا شیان په پښتو کې زدکړي دي؟ هغه ورته ویل: وو؛ شاګرد ډېر حیران شوی و چې پښتو کې نو کله دا شیان وو او څنګه یې زدکړي دي؟

تر دې وخت را وروسته چې کله دولتي ادارو ته راغلی یم، یا څومره معلومات څنې لرم نو تر ۹۰ سـلنې پښـتانه فـارسي لیکـي، مکتـوب یـې فارسي وي، وړاندیز په فارسي کوي، احکام پـه فـارسي نوشـته کـوي، نوټ په فارسي اخلي او که حتا په مجلس کې یـو فـارسي ژبـی ناسـت وي، نو نهه پښتانه ټول په فارسي سره ګډوي.

یوه ورځ په موټر کې ناست وم، یوه کس کرایه ټولوله؛ زما تر څنګ ناست سړي ته وایي: کرایه تان بیته! هغه په پښتو ځواب ور کړ. بل ځل بیا په فارسي ورته وړغېده. پښتون په ښه لوړ اواز ورته وویل چې پښتون سړی یې، زه پښتو درسره وایم ته بیا فارسي ته مخه کړې. هغه بل کـس ډېر وشرمېد او هیڅ یې هم ونه ویل. زما په ګومان دا په دولتي ادارو کې د اوسېدو اثر دی چې یو پښتون یې ترې اخلي.

له ماسره په یوه اداره کې تر نورو قومونو پښتانه زیـات دي، خـو تـر پښتو لیکلو فارسي بیخي ډېره ده، لامل یې دادی چې خپله پښـتانه هـم فارسي لیکي. یو خـو هغـه زاړه مـامورین وو چـې هـر څـه یـې کلیشـه زدکړي وو او له هغو زده احکامو یا مکتوب یا وړاندیز پرته یې نور څه نه شوای لیکلای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو دلته وینم چې په لسو کې اووه کسان یې نوي تعلیم یافته ځوانان دي، هر فورم چې واخلې ټول په فارسي لیکلی وي، ښه ځوان پښتون به ورته ناست وي، له تا سره په پښتو روغبړ کوي، کله چې د یوه شي راپور ورته وړاندې کوې، نو په قلم به ورقه له فارسي درته ډکه کړي. یا هم له کمپیوټره چې پرنټ درته وکړي، ټوله یې فارسي لیکلې وي.

زه د پاکستان له وخته پښتنو ته متوجې یم چې کله به پښتون دوکاندار ته اردو ژبی راغی نو اردو یې ور سره ویله، کله چې به هزاره ورته راغی بیا به یې فارسي ورته ویله او له پښتون سره به په خپله پښتو رږغېدی. خو زه کراچي او کوټه کې له زیاتو اردو ژبو سره مخ شوی یم، هر یوه به خپله ژبه ویله. هغوی زما له امله خپله ژبه نه پرېښوده، که به زه په پښتو ورته رږغېدم هم هغوی اردو ویله، دا اوس چې زه کابل کې له فارسي ژبي سره مخېږم، نو که پښتو وایم که فارسي هغه راته خپله فارسي وایي. حتا د شمالي او غربي افغانستان پښتنو خو بیخي پښتو هېره کړې ده. زه یو مهال هرات کې وم، له یوه مومند پښتون څخه مې سرای کرایه کړی وو. هغه یوه ورځ ماته ویل: ما هم پښتانه یم، خو وس زیاته یاد نه لرم، زما مور زده دي. دا مو د پښتنو حال دی. بل طرفته په کندهار و کلات کې له خورا زیاته وخته تاجیکان پراته دي، هغوی په خپل منځ کې اوس هم په فارسي خبرې سره کوي، مگر د هغه ځای د اوسېدنې له وجې یې پښتو هم زدکړې ده.

زموږ د ولسمشر په خبرو کې هم تر پښتو فارسي زیاته وي، د شاهي دورې شاه او وزیرانو خو په فارسي خبرې کولې او پښتو یې تر روغبړ هاخوا نه ویله. حتا شاه امان الله خان ته هم ستر پښتون فخر افغان پاچا

(c) ketabton.com: The Digital Library



خان ويلي وو چې ته پښتون يې فارسي خبرې كوې؟ تر دې پېغور وروسته امان الله خان بيا پښتو هم زدكړه.

زموږ يو لورته دا كمزوري ده چې په پښتو كې مو علمي مواد كم دي، له دې امله خلك د پښتو زدكولو هڅه نه كوي، بله كمزوري مو داده چې موږ خپلې ژبې ته وفادار نه پاتې‌ږو، كه يو د بلې ژبې كس له څلورو پښتنو سره وي، نو هغه ټول تر خپل منځ هم فارسي سره وايي.
زه د فارسي سره تعصب نه كوم، فارسي ژبي ته نه وايم چې ته ولې په فارسي مكتوب، وړانديز، نوټ او احكام ليكې، مگر پښتون ته څه ور پېښه ده چې د پښتو پر ځای يې په فارسي ژبه ليكي؟

خپلې ژبې ته د خپلو خلكو متوجې كول تعصب نه دی، هغه د پاچاخان خبره چې هر څوك خپله ژبه وركه كړي، وركېږي او چا ته چې خپله ژبه سپكه شي، سپكېږي، زموږ ژبه په موږ ښايسته كېږي، كه يې زه نه وايم نو څوك به پيدا شي چې زما ژبې ته خدمت وكړي؟ كه زه د خپلې ژبې په ويلو شرم وكړم، نو بل به لا نورو ته د پېغور ښه ځای پيدا كړي چې كه بل وخت بل كس ويله نو دوی به ورته وايي چې ته متعصب يې ځكه پلاني پښتون له موږ سره پښتو نه ويله نه يې ليكله نو ته ولې داسې كوې؟

كه اردو ژبی په خپله ژبه د ليكلو او ويلو حق لري، فارسي ژبی يې لري، نو دا حق له ما چا وړی دی؟ زه ولې د خپل مور و پلار په ژبه خپرې شرم وگڼم؟ نور يې ولې تعصب وبولي؟ پښتون كه فارسي ژبې ښځه وكړي، نو دی هم كور فارسي وايي او راتلونكی نسل يې يوازې په فارسي پوهېږي. دا يوه اونۍ مخكې د يوه ملا كور ته ورغلم. له موږ سره يې پښتو ويله خو له اولاد سره به فارسي رږغېدی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا هم له خپل ځان سره بې وفايي ده، هم له مورنۍ ژبې سره، هم له قوم سره. که څوک خپلې ژبې ته وفادار پاته نه شي نو بلې ته به څه وکړي؟ که په چاکې د خپلې ژبې او خپل قوم ته د خدمت همت نه وي، نو بل ته څه خدمتونه وکړي؟ زه د يوه پښتون په صفت هغه مهال زيات خپه کېږم چې يو پښتون راته د فارسي وړانديز راکړي، يا پر وړانديز راته فارسي احکام وليکي، يا هم نوټ په فارسي نيسي. ځينې پښتانه مې داسې هم ليدلي دي چې په پښتو بيخي سم سهي ليکل نه شي کولای، مگر د فارسي قلم يې خورا تيز چلېږي. دا کار نور خورا زيات شو، پښتانه ليکوال او د پښتو خدمت کوونکي بايد خپله پښتانه دې نيمگړتيا ته متوجې کړي، تر څو به موږ د بل په ژبه ليکل کوو؟ بلې ژبې ته به خدمت کوو؟ خپله ژبه کې به يو مکتوب نه شو ليکلای، خو د بل په ژبه به لويې پيپړې ليکو؟ دا په داسې حال کې چې هغوی را څخه خوشاله هم نه دي او که دې درې خبرې پښتو درې فارسي وکړې، نو د متعصب تور هم درباندې پورې کوي،ښه! په دې صورت کې اړتيا چيشي ده چې د خپلې ژبه قلم واړوم او د بل په ژبه ليکل ور کړم؟

په دې هيله چې پښتو هم يوه ورځ د علم او دفتر ژبه شي او نه يوازې پښتانه يې په ليکلو وياړ وکړي، بلکې نور لرکي هم د فارسي په شان پښتو ته هم پاملرنه وکړي، که يې يومخيزه استعمال نه کړي د فارسي په نسبت له استعماله خو يې ډډه ونه کړي.

۲۹/۱/۲۰۱۹

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د نشیانو په اړه د حکومت مسوولیت

په هیواد کې د بې بندوباره نشیي توکو تولید د دې سبب شو چې د سلګونو نشیانو شمېر ورځ تر بلې زیات شي او اوس خو بیخي درې میلیونه کسان په نشو اخته دي. دا را پوروته ځورونکي دي او په ښارونو کې چې د نشیانو دا بده ورځ انسان ویني، نو سخت ځورېږي.

نشه د انسان لپاره وژونکې ده. پوهان وایي، نه یوازې دا چې له نشې څخه خپله مستقیمن هغه په نشه روږد کس ته زیان رسېږي، بلکې تاوان یې په ټولنه کې شته نورو انسانانو ته هم رسېږي. له دې امله نشه په شریعت کې منعه شوې ده. اخلاقیات او انساني نارمل وجدان یې ښه نه بولي او د قانون له مخې هم یو ناسم عمل دی.

نشه انساني ټولنې ته یوازې د صحت په برخه کې زیان نه رسوي؛ بلکې په لویه کچه مالي تاوان هم ورته رسېږي. د نشیي توکو اخیستل، هر وخت ناروغ کېدل او بیا یې د درملنې مصارف، په ټولنه کې غلاوې، اخلاقي فساد او له کورونو د شیانو تښتول، د بې کارۍ ګراف لوړېدل، په ښارونو کې د شپې له لورې د خلکو شکول او په موټرو کې د جیبونو وهل او... یې ټول د مالي او اقتصادي اړخ زیانونه دي چې موږ یې شاهدان یو او هره ورځ یې وینو.

تر دې هم ور هاخوا د نظافت نه مرعاتول د نشیانو یو بل ستر زیان دی چې جامعې ته یې رسوي او موږ یې بیا هم له بده مرغه شاهدان یو. نشیان نه خپله ځانونه پاکوي او نه د ځای یا سړک پاکي ته پام کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی چې هر ځای اوسي هلته چټلي وي، مردارخورګي وي، د نظافت هيڅ څرك نه لګېږي.

ټولنې ته د نشيانو تر ټولو ستر زيان بيا دا دی چې سم وګړي په نشه اخته کوي او د شپې له لورې خلك شکوي او که يې د جيب شيان ور نه کړل، نو په برچه/چاقو يې وهي. دا څو ورځې مخکې د کابل په حضوري چمن کې پوليسو له شاوخوا ۱۵ نشيانو برچې را وايستې او دا ټول د شپې مهال د شکونو لپاره کاروي. پوليسو ويل چې بيخي ډېر واري له دوی څخه خلك په شکايت ورغلي اود شکونې خبر يې ور کړی.

په ښارونو کې چې نشيان اوسي د نورو کسانو د جلب او تمايل سبب طبيعي خبره ده چې کيږي. ولې سلګونه نشيان نن ميلينونه شول؟ همدا لامل دی چې کله په ټولنه کې هر څوك حضور ولري، ځان ته د ټولنې يوه کتله ضرور ور جذبوي. ما د کابل په حضوري چمن کې په سترګو وليدل چې نوي ځوانان راغلل او له نشيانو سره به ناست ول. يو کس مې وليد چې له يوه نشيي څخه يې د ديرش(۳۰) افغانۍ په مقابل کې يوازې د شيشې دوه دوده غوښتل. د ليسې زدکوونکي ورته راغلي ول، لغړزني هلکان ور سره ول، د کورنۍ او اولادونو کسان يې په منځ کې ول. يو داسې هلك يې هم ترمنځ و چې پوست يې د سپين کاغذ په شان سپين و، عمر يې د ۱۷ او ۱۸ کلونو ترمنځ و، نوی په نشه اخته شوی و او د ورځې له مخې به نشيانو ته راتلی.

نشيان د ټولنې يوه برخه وه او اوس هم دي. حکومت چې د ټولنې هر قشر ته په خدمت مکلف دی د نشيانو په وړاندې هم ځينې مسووليتونه لري. په نورو ټولنو کې د هغوی لپاره روغتون جوړ شوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي او ډاکټران يې وړيا درملنه کوي. هڅه کېږي چې روږدي کس بېرته خپل عادي او نارمل ژوند ته راستون کړي. زموږ په هيواد کې که حکومت د نورو ټولنو په شان کار نه شي ورته کولای، د سترو زيانونو د مخنيوي په خاطر خو دومره کولای شي چې د ښار له عمومي واټونو يې ټول کړي او په يوه ځانګړي ځای کې يې ايله کړي.

په دې ډول به يې د ښار نظافت هم ساتلی وي، د خلکو د جذب مخه به يې نيولې وي، د جيب وهونې او د لارو پر سر د خلکو د لټونې مخه به يې ډب کړې وي. په دې توګه به هغه کسان چې دلته په ښارونو کې نشيي توکي پلوري د هغوی کار ته هم زيان رسېدلی وای او دا تجارت به يې ايله کړی وای. په هيواد کې د نشيي توکو زيات کر و کښت به هم ور سره کم شوی وای او خلکو به د دې پر ځای نور ګټور توکي کرلای.

له ټولنې د نشيانو په ګوښه کولو کې هم د حکومت ګټه وه او هم د ولس. د ولس بازار به خوندي وای، سړک، کوڅې او پارکونه به يې پاک وای، د جامعې نور غړي به يې له دې ناروغۍ ساتل شوي وای. حکومت ته به يې احصايه اسانه وای، د فساد، غلا، شکونې، اخلاقي بيماريو مخه به يې ژر نيولې وای، په ټولنه کې به اخير د نشيانو ګراف را کم شوی وای، مصارف به يې ډېر نه کېدای. د نشيانو مړه کسان به يو ځای وای او خاورو ته سپارل به يې ورته اسانه شوي وای. اوس خو د ښار له مختلفو کونجيانو هره ورځ د نشيانو مړي را غونډېږي او بيا په ګڼو موټرو کې هديرو ته وړل کېږي.

پر حکومت هم عام ولس، هم نشيان او هم د حکومت خپله عمله دا حق لري چې د نشيانو په وړاندې د اوس په شان بې تفاوته پاته نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي. ولس ته یې مالي، فزیکي او رواني تاوان رسیږي. نشیان هم انسانان دي او د خدمت حق لري. د حکومت دستگاه غړي د دوی له لاسه ستړي دي، غلاوي کوي، خلك شکوي، جیبونه وهي، چټلي جوړوي، هره ورځ یې لسگونه کسان مړه وي او دوی یې را غونډوي. که یې سره یو ځای کړي، هم به یې ولس ته زیان نه رسیږي، نور انسانان به له دې مرض څخه وساتل شي او د حکومت عمله به هم د اوس په شان ستړې او ستومانه نه وي.

ځینې نوي کسان یې په درملنه رغېدای شي، حکومت مسوولیت لري چې د هغوی غم وخوري. د نورو کسانو د ورتگ یې مخه ونیسي. په ټولنه کې د ناروا کاروبارو ریښې وباسي. د نشیي توکو د مخ پر زیاتېدونکي تولید د مصرف مرکزونه ور ختم کړي. په دې توگه یې تولید خپله کمیږي. د گندگیو، چټلیو او مرداریو ښارونه او لویې لارې پاکې وساتي.

بدمرغي دا ده چې نشیان خپله د ځان لپاره حقونه نه سي غوښتای، ولس بې تفاوته دی دا زیان یې سم یا نه دی درك کړی او یا یې همداسې بې تفاوته پاته کېدل خوښ دي. حکومت هم په خپله دستگاه کې داسې کسانو ته ځای ور کړی چې د مسوولیت سم احساس نه کوي. دا کار یې هم د ټولنې حق دی وربانـدي او هم د نشیانو او هم خپله د حکومت دعملې. مگر له بده مرغه چې دې لور ته نه ولس پام وکړ، نه حکومت ورته توجو وکړه او نه نړۍ والو د بشر د حقونو مدافعینو وربانډې فشار راووړ چې موږ یې له دې مشکل څخه خلاص کړي وای.

۲/۵/۲۰۱۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



دویمه برخه:

## د اجماع په اړه زما نظر

د اجماع لغوي معنا یوځای کېدل دي او په اصطلاح کې تر رسول الله ﷺ وروسته پر یوه دیني کار د امت د اهل نظر او اهل ذکر علماؤ اتفاق دی چې څو ټکي یې غواړم دلته په اړه ولیکم:

اول: زما په نظر د اکثریت علماؤ اتفاق د اجماع معنا لري، ځکه نو که کمه فیصده کسان یې مخالف هم پاته شي اجماع ته زیان نه شي رسولای، ځکه د امت د ټولو اهل ذکر علماؤ اتفا پخوا امکان نه در لود اوس وخت یې هم نه لري اما که شونی هم شي، بیا هم اړین نه دی له دې امله چې اوس د ملي هویتونو په سیوري کې ملي اجماع اړینه وي نه د امت، نو د امت د ټولو علماؤ اتفاق به نن هم ډېر سخت کار وي.

دوه: په اجماع کې د اهل ذکر او اهل فن خلکو نظر اړین دی نه د هر عالم یا مجتهد، خصوصن په اوس وخت کې؛ ځکه د علومو او څېړنو ساحه دومره پراخه شوې ده چې په ټولو برخو کې یو کس ته مشکله ده چې د هغه نظر دې له علمي او تخصصي- اړخه دومره د اهمیت وړ شي چې په اجماع کې دې د هغه نظر اخیستل ضروري وګڼل شي.

درې: په اجماع کې د هغې سیمې د علماؤ اتفاق اړین دی، لامل یې دادی چې هغوی د زمان، مکان او قوم و سیمې غوښتنې په نظر کې نیسي او مسایلو ته ځواب وایي، له دوی پرته د بلې سیمې علماء دغه ټول شرایط نه شي پوره کولای نو ځکه یې په اجماع رامنځته کولو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نظر هم د اهمیت وړ نه دی. امام شافعي رحمه الله چې کله عـراق کـې و، یو ډول مسایل یې حل کول، بیا چې مصر ته ولاړ نو د ډېرو مسایلو په اړه یې نظر بدل شو، ځکه هلته یې د خلکو او سیمې غوښـتنې بېلـې ولیدې چې نظر یې هم ورسره تفاوت وکړ.

څلور: اجماع حلت او حرمت نه ټاکي، حلال او حرام تعینول د قران او سنت کار دی، له الله او رسول ماسیوا هیڅوك هم د حل او حرام پـه اړه د نظر ورکولو حق نه لري، یوازې الله او رسول یې په دې برخه کې د تشریع حق لري؛ بناءن اجماع یوازې پر هغو مصـلحتي چـارو بانـدې کېږي چې په قران او سنت کې یې یادونه نه وي شوې، یا هم مصلحت وجود ولري او هم له قران یا سنت څخه د هغې مسلې لپاره د اسـتدلال یوه سرچینه وجود ولري، لکه د نیکـه او انـا لپـاره پـه میـراث کـې حـق ټاکل، که څه هم له پلار او مور څخه د هغوی لپاره استدلال سهي هـم دی اما د قران کریم پر تعبیر اتفاق نظر هم د اجـماع یـوه ګـټـه ده چـې اختلاف له منځه وړي او له قرانه یو واحد قراءت امت ته وړاندې کوي. په دغسې مواردو کې اجماع شوې ده او اوس هم اجماع کېږي.

پنځم: اجماع باید اوس په ملي کچه شي، یوازې پر هغو مواردو دې د اسلامي نړۍ په کچه اجماع وشي چې له ټولې اسلامي نړۍ سره کـار لـري یـا هـم څـو هیوادونـه پکـې ښـکیل وي؛ ځکـه د ملیتونـو تـرمنځ لومړیتوبونه سره جلا دي، نو د ګڼو هیوادونو د پوهانو اجماع سـختوي، البته هغه موارد چې ټول پکې ښکیل وي د اړتیا له امله کولای شي چې د ښکیلو هیوادونو علماء یوه اتفاق ته ورسېږي. اما که د اسلامي نړۍ په کچه داسې یوه اداره جوړه شي چې د اسلامی نـړۍ ټـول علـماء پکـې غونډ او د هر هیواد مربـوط مسـایل د هغـه ځـای علـماء لـومړی ورتـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



تشریح او د زمان، مکان او ملي غوښتنې ورته وړاندې کړي بیا پر شوې پرېکړه د هغوی نظر وغواړي نو د امت اجماع هم شونې ده، خـو اوس چې داسې اداره نه شته، نو ملي اجماع به ښه وي.

۱۳/۴/۲۰۲۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د صدقاتو ګټور میتود

صدقات د ټولنې د رفاه په خاطر شریعت رامنځته کړي دي. د قران کریم په وینا چې مالونه په ټولنه کې دوروخوري او له خاصې ډلې سره پاته نه شي. د زکات هغه میتود چې اوس زموږ په ټولنه کې رواج دی د قران کریم هغه موخې نه شي پوره کولای چې د هغو لپاره قران کریم صدقات فرض کړي دي.

صدقات د اړو کسانو لپاره دي، دا که مسافر وي یا هم مقیم. په شریعت کې هر هغه کار چې د ثواب په نیت کېږي باید خالص د الهي رضا لپاره تر سره شي.(۱) مګر د صدقاتو په مسله کې اوس دلته خبره سرچپه شوې ده. زموږ خلک فرضن یو لک افغانۍ صدقه داسې ادا کوي چې لس یا پنځلسو اړو کسانو ته یې ور کوي. یو کس چې اړ وي، کورنۍ یې ور له غاړې وي، د کال په یوه میاشت کې به هغه په لس یا تر دې هم په کمو افغانیو څه وکړي؟ دا یې د یوې میاشتې د کور مصرف هم نه کېږي، کاروبار خو پر لویه لار پرېږده.

شتمن ولې داسې کوي؟ ایا دوی د زړسوي له مخې داسې کوي که بل هدف لري؟ د شتمنو موخه بیا ځان ته د زیاتو کسانو اړ کول، هر وخت د ده جیب ته کتل، له ده سره په ټول کال کې د همدې لسو زرو افغانیو لپاره غوړه مالي کول او که هغه هر وخت د یوه کار غوښتنه ځنې وکړه دوی یې باید تر سره کړي ځکه له دې کس څخه د صدقې هیله لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته څو بدۍ پیښیږي. د شتمن نیت د الهي رضا لپاره نه دی چې دا ستره ګنا ده. مال یې لګیږي خو د اخرت په ورځ به دا کس د خپل مال په مصرف ازُرده وي. د اړو کسانو اړتیاوې نه شي پوره کولای او هغوی تر زکات وروسته هم اړ پاتیږي او د ژوند تر پایه همداسې وي. د یوه انسان له اړتیا ناوړه ګټه ډېر بد اخلاقي جرم دی چې شتمن یې دلته هر کال تر سره کوي. د خپل زکات په لس زره افغانۍ یو کس د ټول عمر لپاره روږدول، هغه کس یو لور ته مفتخور اموخته کوي، نفسیات یې کوټل کیږي او دا چاره په ډېری انسانانو کې د سوال او فقر کولو باعث جوړیږي چې ټولنې ته د ګټې پر ځای زیان رسوي.

باید صدقات موږ د رسول الله ص پر طریقه ادا کړو. دا اوس دود میتود په نبوي عصر کې نه و. د رسول الله ص په وخت کې به صدقات رسول الله ص ته ور کول کېدل. حتا له یمن او بحرین څخه به یوه صحابي د صدقې او خیرات مالونه مدینې ته راوړل او بیا به رسول الله بې وزلو ته ور کول. رسول الله په خپله ټولنه کې هم دیني مشر و او هم سیاسي. له ده سره د خپلې ټولنې د فقیرانو لیست وو او همده ته له لرې ځایونو میلمانه راتلل. هغه پوهېده چې څوک اړ دي او دا مال پر کوم ځای ولګوم. لاندې به یې څو بېلګې را واخلم:

معاذ بن جبل رض رسول الله ص یمن ته لیږي او د شرعي احکامو په اړه توصیه ور ته کوي او د صدقې داسې لارښوونه ورته کوي:

فَأَخْبِرْهُمْ أَنَّ اللَّهَ قَدْ فَرَضَ عَلَيْهِمْ صَدَقَةً تُؤْخَذُ مِنْ أَغْنِيَائِهِمْ فَتُرَدُّ عَلَى فُقَرَائِهِمْ (۲)

ژباړه: نو دوی خبر کړه چې الله پر دوی صدقه فرض کړې ده، د دوی له شتمنو به اخیستل کیږي او فقیرانو ته به یې ور کول کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې حديث کې عمومي لارښوونه ده چې د دوی له شتمنو به اخيستل کېږي، له دې معلومېږي چې بل به يې ترې تسليموي او فقيرانو ته به يې هم يو څوك ور کوي. هغه مهال به دا کار د رسول الله ص له لورې ټاکل شوي عامل کاوه او ګايه به يې دا مالونه مدينې ته هم وړل چې د هغه ځای فقيرانو ته به رسول الله ص خپله ور کول.

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي أَوْفَى، قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَتَاهُ قَوْمٌ بِصَدَقَتِهِمْ، قَالَ: «اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى آلِ فُلاَنٍ»، فَأَتَاهُ أَبِي بِصَدَقَتِهِ، فَقَالَ: «اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى آلِ أَبِي أَوْفَى». (۳)

ژباړه: عبد الله بن ابي اوفی رض ويل: رسول الله ص ته چې به هر قوم خپله صدقه راوړه، ده به ورته ويل: الهي د پلاني پر کورنۍ رحمت وکړه. نو زما پلار خپله صدقه ورته راوړه، ده وويل: الهي د ابو اوفی پر کورنۍ رحمت وکړه.

عَنْ أَبِي حُمَيْدٍ السَّاعِدِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: «اسْتَعْمَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلاً مِنَ الأَسْدِ عَلَى صَدَقَاتِ بَنِي سُلَيْمٍ، يُدْعَى ابْنَ اللُّتْبِيَّةِ فَلَمَّا جَاءَ حَاسَبَهُ». (۴)

ژباړه: ابو حيمدي الساعدي ويل: رسول الله ص د اسد قبيلې يو کس د بني سليم قبيلې پر صدقاتو وګوماره، هغه کس ابن اللتبيه بلل کېده، کله چې راغی، رسول الله ص ورسره حساب وکړ.

له دې روايت څخه هم ثابتېږي چې د رسول الله ص په دور کې خلکو پر خپل سر صدقات نه ور کول، بلکې د رسول الله ص له لورې ټاکل شوی کس به راتلی او مالونه به يې ټول کړل، د کار تر پای ته رسېدا وروسته به رسول الله ص ور سره حساب هم کاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: بَعَثَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عُمَرَ عَلَى الصَّدَقَةِ، فَقِيلَ: مَنَعَ ابْنُ جَمِيلٍ، وَخَالِدُ بْنُ الْوَلِيدِ، وَالْعَبَّاسُ عَمُّ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. (۵)

ژباړه: ابوهریره رض ویل: رسول الله ص عمر فاروق رض د صدقې پر را ټولونې وګوماره. بیا رسول الله ص ته وویل شول چې ابن جمیل، خالد بن ولید او د رسول الله ص تره عباس رض صدقه نه ده ور کړې.

له دې روایت څخه جوتېږي چې رسول الله ص له خلکو صدقات ټولول او وېش یې د امیر کار و.

عَنْ جَرِيرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ، قَالَ: جَاءَ نَاسٌ مِنَ الْأَعْرَابِ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالُوا: إِنَّ نَاسًا مِنَ الْمُصَدِّقِينَ يَأْتُونَنَا فَيَظْلِمُونَنَا، قَالَ: فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَرْضُوا مُصَدِّقِيكُمْ». (۶)

ژباړه: جریر بن عبد الله رض ویل: کوچیان رسول الله ص ته راغلل وې ویل: بېشکه ځیني صدقات ټولونکي موږ ته راځي او ظلم را سره کوي. رسول الله ص ورته وویل: د خپلو صدقاتو ټولونکي مو راضي کړئ.

که د احادیثو په ذخیره کې یو څوک په دې ډول روایاتو پسې لټه وکړي نو بسته کتاب به ترې چمتو کړي. رسول الله ص معاذ بن جبل رض ته هم عمومي لارښوونه وکړه چې له تاسو به صدقات اخیستل کېږي او هم یې په خپل ټول مدني ژوند کې د صدقاتو اخیستلو طریقه دا ډول وه چې عامل به راتلی او هغه به له خلکو صدقات ټولول.

د حکومت له لورې که اوس هم یوه اداره د دې لپاره جوړه شي چې صدقات واخلي او بیا یې د ملت و ولس پر اساسي اړتیاوو ولګوي زما په اند تر دې متفرقه صدقات ور کونکو به په څو وجو ښه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خلکو نیت به پاک وي، ځکه دلته د خپل صدقې په ور کړه له یو چا څخه د هغه د مجبوریت په خاطر ناسمه ګټه نـه اخیسـتل کېـږي. د ټول هیواد په کچه صدقات میلیونـه افغـانۍ کېـږي چـې کـه دا د یـوې شفافې ادارې له لورې د ولس پر بې وزلو او فقیرو کسانو ووېشل شي او د سم کاروبار زمینه ورته مساعده شي، نو د فقر د ګراف په کمولـو کـې به یو مهم او غوره ګام وي. د صـدقاتو ادارینـه بـه هغـه ډول شي لکـه د رسول الله ص په دور کې چې مسلمانانو ادا کاوه. حکومت په ډېـر ښـه ډول پوهېږي چې د کوم ځای خلک څومره اړتیا لري، له دې صـدقاتو څخه به د هغوی د لاس نیوي لپاره ګټور کار اخلي چې پـایلې بـه یـې ملت او حکومت دواړو ته ډېري ښې وي.

د صدقاتو لپاره دغه ډول میکانیزم جوړول نه یوازې دا چې شریعت کې مخینه لري، بلکې نن زموږ د ملت یوه اشده اړتیا هم ده. یو اړ کس ته دومره مال ور کول شي چې هغه د خپل کور لپاره د کار او روزګار له لارې حلاله ګوله پیدا کړي، نو ایا هغه به بیا د فقر له وجـې کـوم جـرم وکړي؟ دا میکانیزم کولای شي چـې د فقـر ګـراف کـم کـړي، د غـلاو مخنیوی وکړي، خلکو ته کاري فرصتونه ایجاد کړي، د بې کارۍ درجه ورسره ټیټه شي، د مسلمانانو صدقات د خپل مصرف اصـل ځـای تـه ورسېږي، په جامعه کې د ټولنیزو بدیو مخه ور سره نیـول کېـږي. دا یـو غوره اپشن دی چـې کـه دولـت کـار تـرې واخـلي او پـه دې اړه عامـه پوهاوی رامنځته کړي، نو زما په باور د جنګونو او اداري فساد په کمولو کې هم مهم رول ادار کولای شي.

د دې ادارې کارونه باید دومره شفاف وي چې ملت تـه یـې پـه اړه هیڅ شک او شکایت پیدا نـه شي. د ټولـو راغلیـو مـالونو احصـایه بـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



انلاین کیږي او ملت ته به په ډاګه کیږي چې دا کال دومره مالونه له دې لارې تر لاسه شوي او د هیواد په هره برخه کې مو دومره بې وزلي او اړ کسان په نظر کې نیولي دي چې هر یـوه کـس تـه بـه پـه متوسـط ډول هومره مال ور کول کیږي چې هغه د خپلې کورنۍ لپاره کار په وکړي او حلاله روزي په وګټي. دومره تعلیمي مرکزونه په جوړوو، دومره پلان به جوړیږي، دومره مساجد، له دې لارې به د ټولنې لپاره هـر خیریـه کـار کیږي، چې ډېر مهم به یې د نوي نسل د تعلیم او هنر په ګېنه سـمبالول وي.

د دې میکانیزم جواز په قران کریم ثابت دی(۷) او روایـات یـې مـا پاس ذکر کړل. تر رسول الله ص وروسته نه یوازې راشده خلفاؤ لـه دې میتود څخه کار اخیست(۸) بلکـې امویـانو او عباسـیانو هـم دا تګـلاره مخته وړه، له دې امله د هغه وخت په فقهي کتابونو کې پر دې موضوع ځانګړې بحثونه شوي دي.

صدقات په ټولنه کې د بې وزلو د لاس نیوي په خاطر مشروع شوي دي، نو د صدقې هره طریقه یا میتود چې پـه ټولنـه کـې د غریبـو لپـاره ګټوره تمامیږي هغه باید د وخت حاکمان پلي کړي او په په دې شرعي اپشن بې وزلانو ته ګټه ورسوي. شتمن مسلمانان هم پـر نـورو د رحـم، زړسوي او مهربانۍ له مخې باید خپل صدقات د دولت هغې ادارې ته وسپاري چې د همدې ستر کار د مخته وړلو په پار رامنځته کیږي او په دې سره به یې په دنیا کې د خپلو صدقو په وسیله د ځو غریبو سم او پر ځای لاس نیوی کړی وي او هم به یې خپل اخرت د ځـان لپـاره ښـاد کړی وي.

۲۰۱۸م

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سرچيني:

(۱)سورت الدهر: ۹)

(۲)صحيح البخاري، كتاب الزكاة، باب اخذ الصدقة من الاغنياء و ترد علي الفقراء حيث كانوا: ۱۴۹۶)

(۳)صحيح البخاري، كتاب الزكاة، باب صلاة الامام و دعائه لصاحب المال: ۱۴۹۷)

(۴)صحيح البخاري، كتاب الزكاة باب قوله تعالى (والعاملين عليها): ۱۵۰۰)

(۵)صحيح مسلم، كتاب الزكاة، باب في تقديم الزكاة ومنعها: ۹۸۳)

(۶)صحيح مسلم، كتاب الزكاة، باب في ارضاء السعادة: ۹۸۹)

(۷)سورت التوبه: ۶۰)

(۸)الردة مع نبذة من فتوح العراق وذكر المثنى بن حارثة، ذكر ارتداد اهل حضرموت: ۱/ ۱۶۹، د محمد بن عمر الواقدي ليكنه، د يحيى الجبوري په تحقيق او د دار الغرب الاسلامي بيروت چاپ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د زیاتو ملایانو د تولید ستونزه او د مدرسو نیمګړی نصاب

دا یو روښانه حقیقت دی چې د هر زمان و مکان غوښتنې او اړتیاوې له بل وخت او ځای سره توپیر لري. همدې حقیقت ته په کتو نوره نړۍ د خپلو تعلیمي مرکزونو په نصاب کې هر وخت لازمي بدلونونه راولي او کوښښ کوي چې نصاب یې د وخت غوښتنو ته ځواب ووایي او د دوی شته اړتیاوې په پوره شي.

د نوې عصري ټیکنالوجي په مټ اوس پرمختګ او بدلونونه په نوره نړۍ کې خورا تېز شوي دي، نو دا اړتیا تر بل هر وخت نن ډېره احساسېږي. همدا وجه ده چې په غربي دنیا کې تقریبن هر کال نوي مضامین نصاب ته اضافه کوي او په دې نږدې پاکستان کې هم هر څلور و پنځه کاله پس د نصاب په کتابونو او مضامینو کې بدلون راوستل کېږي.

ما د کراچي په مدرسو کې زدکړې کړې دي. زه چې کله د کوټې له مدرسې څخه کراچي ته ولاړم، نو د هغوی نصاب او د تدریس نوي میتود ته هغه مهال ډېر زیات حیران شوم. هلته په مدرسو کې هره ورځ حاضري وي، دلته نه شته، هلته به زده کوونکي د کتاب عبارت لومړی استاد ته لوستی چې استاد ډاډه شي شاګرد یې ماښام کتاب کتلی دی او عربي عبارت په ښه پوره اطمینان ویلای شي. دلته دا کار چا پیژندی هم نه. هلته طالب په یوه مدرسه کې داخله اخلي او بیا په یوه خاص صنف کې ناست وي بېلابېل استادان د تدریس لپاره ورته ځي راځي. مګر د کوټې په هغو سیمو کې چې افغانانو زدکړې کې کولې، خبره برعکس

(c) ketabton.com: The Digital Library



وه. طالب به ټوله ورځ په سړکانو په تاخته وو چې هلته او دلته پر تړه ناستو استادانو ته پر وخت رسیدگي وکړي. کله به د تدریس په مابینځ کې شاګرد راغی استاد ورکتل هم نه چې ته څوک یې، ولې ناوخته راغلې او څه دې زده کړي دي؟

د کراچي په مدرسو کې په عربي او اردو دواړو ژبو تدریس کېده چې له شاګردانو سره د عربي په ښه زدکړه کې یې ډېره مرسته کوله، مګر په کوټه کې د حدیثو د استاد هم په خوله دوه توري عربي نه وه زده. د عربي ژبې په اړتیا یو څوك هله ښه پوهېږي چې دیني درسونه یې لوستي وي او بیا اړ شي چې په همدې برخه کې کار وکړي. هغه پوهېږي چې د دیني عالم لپاره د عربي ژبې زدکړه څومره اړینه ده. مګر زموږ د ملایانو په سلو کې د یوه کس ممکن زده وي.

هغوی نصاب ته نوي کتابونه اضافه کړي وو، له لومړۍ درجې بیا تر اتمې درجې یې په ټولو درجو کې نوي او د وخت له غوښتنو سره سم کتابونه زیات کړي وو، خو دلته لا هم د سونو کلونو مخکې نصاب لوستل کېده. د هغوی په نصاب کې د ټولنیزو مسلو هغه کتابونه داخل دي چې نوي لیکل شوي، د نبوي احادیثو ترڅنګ ځینې عربي متلونه هم پکې ځای پر ځای شوي او زده کوونکی په ټولنه کې ښو اخلاقو او غوره تعامل ته رابولي. زموږ د مدرسو په نصاب کې تر ننه دې شي ته اړتیا هم نه ده احساس شوې.

د هغوی په مدرسو کې نظم او ډسپلین ته ډېر پام کېږي، د وخت پوره پابندي وي، د زده کوونکو ترمنځ اختلاط نه وي او د لویو درجو طالبانو بېل اطاقونه لري او د کښته درجو دا ځنې بېل وي. استادان یې هر وخت څارنه کوي په مناسب وخت کې لازمې لارښوونې ورته کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ مدرسې لومړی ټاکلی نصاب نـه لـري، يـوه مدرسـه کـې بـه شـل استادان کېناستل، طالبانو په خپل کتابونه خپله انتخاب کړل او بيا به يې استادان هم د خپل انتخاب له مخې ټاکل. شاګرد په دې وخت کې نـه پوهېږي چې کوم کتاب د هغه له سويې سره سم دی او کـوم تـرې لـوړ دی؟ د اسـتادانو پـه انتخـاب کـې هـم شـاګرد خطـاوزي او د يـوه سـم استادان انتخاب ورته بيخي ګران کار دی. همدا وجـه وه چـې زمـوږ د مدرسو شاګران د هغـوی پـه نسـبت ډېـر ټيـټ سـويه ول، نظـم يـې نـه مرعـاتوه، د وخـت پابنـدي يـې نـه در لـوده، لـه امتحانـه يـې بـدوړل، غيرحاضری يې زياتې کولې، اخلاق يې ډېر ټيټ ول، پـه کوټـه کـې د حويلو طالبـانو څـو وارې پـر وړو خـبرو پـه چـړو سره ووهـل او بيـا د پاکستان په تانو کې بنديان ول، چې د پاکستاني ملايـانو پـه توسـط بـه راخوشي کېدل.

لنډه دا چې زموږ د مدرسـو نصـاب دومـره نيمګـړی دی چـې نـه د معنوياتو له اړخه چندان موثر ثابت شوی او نه د مادياتو. زمـوږ نصـاب نه د هغوی روحي اړخ قوي کولای شي او نه يې په داسې هنر او کمال نازوي چې ايينده ژوند کې د مادياتو اړخ په پياوړی کړی. د هغوی لـه مدرسې فارغ کس به هم په حکومت کې دنده تر لاسه کوله او هم به د مدرسو په برخه کې ژر جذبېدی، هم يې له شخصي۔ شرکتونـو سره پـه مختلفو برخو کې کار کولای شوای، مګر زموږ د مدرسې فـارغ يـوازې زرې ته ناست وي او د کـلي ملايـي يـې تـر ټولـه لويـه دنـده وي. لـه مدرسې څخه اخيستی سند يې نه حکومت مني او نه خصوصي شرکت کې کار په موندلای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغوی د مدرسې فارغ په حساب پوهېږي، زموږ دا نه پرې پوهېږي. هغوی له پیله دیني زدکړې نه په کوي، بلکې حساب، انګلیسي، اردو ژبه، د عربي ژبې په اردو ژبه لیکل شوی ګرامر، ځینې ټولنیزې او اخلاقي لارښوونې، په اردو ژبه د املا و انشا ځینې مضامین او... ورته وایي، خو موږ له لومړۍ ورځې قدوري او د فتوا کتابونه ور شروع کړو او په یوه کال کې طالب ته ځان تر ټولنه لوړ معلومېږي او تر خپلې سویې ډېري لوړې او اوچتې فتواوي هم ور کوي.

د هغوی مدرسو به یوه خاصه دار الافتاء در لوده او دې دار الافتاء کې به د فتوا متخصص کسان ناست ول، که د مدرسې طالب ته پوښتنه پیدا کېده یا عوام الناس ته، دلته به راتلل او خپله پوښتنه یې په لیکلې یا شفاهي توګه ور کوله، هغوی سوال لیکی او بیا یې په لیکې بڼه فتوا ور کوله، پر دې فتوا به د هغوی ځانګړې ټاپه او د مشر مفتي لاسلیک وو او دې به خلکو ته یو ډول باور ور کاوه. حوالې او له شرعي سرچینو څخه نقل شوي نصوص به پکې ځای پر ځای شوي وو. خو زموږ په مدرسو کې هر طالب ځان مفتي احساسوه او په خاص ډول د کفر او اسلام په فتواوو کې هر یوه یو بنډل فتواوې په جیب کې له ځان سره ګرځولې. دا ځکه چې موږ ته د فتوا د اهلت او پر ځای ور کونکې اهمیت نه معلومېده، هغوی ته خپلو استادانو دا روښانه کړې وه چې فتوا څوك ور کوي، که هر سړی فتوا ور کړي تاوان به یې څه وي، کوم اصول لري چې باید دوه کاله ځانګړي ولوستل شي، که د خلکو اړتیا وي، نو هغه خاص ځای کې د فتوا اهل کسان ناست دي له هغوی دې فتوا طلب شي. هر استاد یې په هر شي ځان پوه نه باله. که به پوښتنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترې وشوه نو دار الافتاء ته يې رهبري کولې او دا يې يو ډول مسووليت هم باله چې خلك په دې حساسو او اساسو مسلو پوه کړي.

خو له دې هر څه سره د پاکستان مدرسې هم د نورې نړۍ په نسبت پر هغه معيار پوره نه خېژي چې هغوی ورته ټاکلی يا نن ورته اړتيا ده. مگر زموږ د مدرسو نصاب د پاکستان د مدرسو له نصاب سره په هيڅ صورت د پرتلې وړ نه دی. دلته اصلن له نني عصر سره سم د نصاب په نوم يو شی بيخي نه شته. دې اوسني گډوډو کتابونو ته د يوه نصاب نوم ور کول د نصاب له نوم سره بې انصافي ده. هغه کتابونه چې لس کاله وخت در ضايع کړي، خو په اخير کې دې نه په معنوي پانگه کې د پام وړ زياتوب را شي نه په مادي، نو دې کتابونو ته انسان د څه شي نوم ور کړي؟ زموږ فارغين له ملايي پرته بل هيڅ هنر نه زده کوي او يوازې په مسجد کې ملا وي او زموږ د مدرسو په شان يوه مدرس کې به د ځينو پخوانيو کتابونو استاد. خلاص! بده خو يې لا دا چې نه له ټولنې سره په تعامل پوهېږي او نه له دولت سره په ژبه، دې کار د هغوی ژوند ډېر تريخ کړی او يو ډول انزوا ته يې ټېل وهلي دي.

يو بل مهم ټکی دلته دا هم دی چې له زموږ له بې بندوباره مدرسو او نصاب څخه هر کال خورا په لويه کچه طالبان فارغېږي. زموږ هيواد د دومره لويې فيصدي فارغانو ته اړتيا نه لري، بلکې دا لويه شمېره ور باندې بوج ده. سيمه مو جنگ ځپلې، کارونه پکې کم دي، وچکالي هر کال پسې زياتېږي، ظرفيتونه دومره ټيټ او وضعه داسې خرابه ده چې په هيواد کې له شته معادنو او د اوبو له طبيعي زيرمو څخه استفاده نه شو کولای، گران قيمته بوټي او ډبرې مو بل را څخه وړي، دولت مو تر اوسه پر پښو سم نه دی متکي شوی، د هيواد اقتصادي حالت مو ښه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نـه دی او ورځ تـر بلـې خرابېـږي. پـه دا ډول شرايطـو کـې لـه بيخـي کمزوري نصاب څخه تر اړتيا د زياتو ملايانو فارغول هيواد او ملت ته د خدمت پر ځای جفا ده. ځکه د هغـوی لـوی تعـداد کسـان پـه سـخته بېکاري او غربت کـې شـپې و ورځـې تېـروي، د محرومـو مدرسـو لـه چاپېرياله راوتلي د محرومې ټولنې بېکاره او غربت ځپلي کسان به هغه مهال څه احساس کوي چې تر لس کاله زدکړو وروسـته د يـوې ګـولې ډوډۍ په پيدا کولو پسې يې نفس وخېژي؟!

د پاکستان په مدرسو کې هم تر يوه حده د افراطيت تدريس کېـږي او زموږ د افغانانو په بې بندوباره مدرسو کې نـو د افراطيـت د تـدريس اوج دی. کله چې دا مدرسې له دې کمـزوري نصـاب څخـه يوڅـوك ټولنې ته عرضه کوي او هغه په ټولنه کې حاکم فقر او غربت ويني، نـو په ډېره اساني د سيمې استخباراتو ته په ګير ورځي او د ډېر کم شي پـه بدل کې د خپل هيواد ملي منافعو پر ضد له دې محرومو او فقر ځپلو او بې روزګاره ملايانو و طالبـانو څخـه د خپـل ملـت او هيـواد پـر ضـد د سيمې استخباراتي کړۍ کار اخلي. دا نو خدمت نه دی، بلکې د هيواد پر ضد د يوه لښکر چمتو کول دي چې د نورو نيابتي جنګ په نـه څـه زموږ په خاروه کې پر مخ يوسي.

د مدرسو دا زوړ نصاب او تر اړتيا د زياتو ملايانو فارغېدل نـن هـم په يوه لوی سرخوږي اوښتي او که دا کار همداسې دوام وکړي، نو يـو لوی بحران به وزېږي. دا روان بهير هم زموږ د ملت، وطن او نظـام پـه زيان دی او هم خپله د دې ملايانو او طالبانو په تاوان دی. ما پاکسـتان کې د پاکستاني ملايانو او طالبانو ښه ژوند، دندې او پاك کورنه ليدلي دي. مګر زموږ طالبانو د هغوی ژوند په خـوب هـم نـه دی ليـدلی. پـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسې حال کې چې نن د ټېنکنالوجۍ د سریع پر مختګ په مټ زموږ طالبانو د هغوی له هستوګنځایونو، مدرسو او کارونو څخه خبرېږي، دوی هم انسانان دي او ټول هغه څه یې زړه غواړي چې نوره نړۍ کې یې د دیني مدرسو طالبانو او استادان لري. له دې امله زموږ ملایانو د نورو په مقابل کې د کمترۍ احساس کوي، محرومیت او فقر له وخته لا سه تکولي دي، بې کاري او په ټولنه کې منزویتوب یې نور هم عقدې ور پېرسوي او په ډېره اسانه د نورو دام کې لوېږي چې بیا یې تر مرګه هم دا له ماشومتوبه را پاللې عقدې نه سړېږي او د یوه لوی ناورین لپاره به پیلامه شي چې وروسته به یې مهاروول زموږ د ملت او نظام له وسه وتلې چاره شي.

په دې اړه نن اقدام په کار دی، ژر په کار دی، پر ځای په کار دی او لومړی باید د دې ستونزې ریښې په سم ډول درک شي ا و بیا یې د مخنیوي او ترې د خلاصون پر سمو او بدیلو لارو چارو فکر وشي. که اوس دا فرض کار ایله کړو، نو بیا به لاسونه سره مروړو خو هیڅ به مو له لاسه نه کېږي او اوبه به تر ورخ را څخه تېرې وي.

هیله ده په دې اړه دولت او هغه بنسټونه د مسوولیت احساس وکړي چې په دې ستونزه پوهېږي او ژر تر ژره د عملي ګام پورته کولو اړتیا هم احساس کړي.

۲۰۱۸/سپټمبر/ ۱۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پر عبادت او عبادت ځایونو د کورونا اغېز

په نړۍ کې د کرونا وبا له شدت سره ځینې داسې پرېکړې حکومتونو وکړې چې وړاندې یې چا فکر نه کاوه او نه یې په دې ډول مخینه درلوده. د سعودي عربستان حکومت حرمین وتړل، ټول خارجي زیارت کوونکي یې خپل هیواد ته له ورتلو منعه کړل او دا احتمال هم شته چې دا کال به حج هم لغوه کړي. له دې سره جوخت د نړۍ په ګوټ ګوټ کې د مساجدو په اړه هم فیصلې وشوې چې د وبا تر کمېدو یا ورکېدو دې بند شي یا دې هم بیخي کم کسان د لمانځه لپاره ورته حاضرېږي چې د نړۍ په مسلمانو هیوادونو کې دولتونو په چټکۍ د دې لپاره ګامونه واخیستل چې لنډ مثال یې پاکستان او سعودي عرب دي. ان پاکستان د یوه مذهبي ملا مولوي عبد العزیر خلاف کیس ثبت کړی دی چې هغه د حکومت له اوامرو سرغړونه کړې ده او د وبا په دې موجوده حال کې یې خلکو ته جومات کې خطبه ویلې او لمونځ یې ور کړی دی. په دې اړه پښتو بي بي سي د ۱۹/۴/۲۰۲۰ تاریخ په ماښامنۍ خپرونه کې راپور هم درلود.

خو زموږ په هیواد کې له نورو هیوادونو سره توپیر دادی چې مذهبي کسان د مسجد بندولو یا د لمونځ کونکو راکمولو ته چمتو نه دي، له دې سره چې حکومت بازارونه او د کاروبار مارکیټونه و هتۍ تړلي دي، مدرسې، پوهنتونونه او مکاتب ټول رخصت دي خو د پنځه وخته لمانځه مهال جوماتونه تر پخوا دوه درې چنده ډک وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ایا په دې ډول شرایطو کې شریعت اجازه ور کوي چې خلك کور لمونځ وکړي، یا هم کم کسان جومات ته ولاړ شي؟

دین خدای د انسانانو د سهولت او اسانۍ لپاره رالیږلی دی، قران کریم هم وایي:

{وَمَا جَعَلَ عَلَيْكُمْ فِي الدِّينِ مِنْ حَرَجٍ} [الحج: ۷۸]

ژباړه: الله پر تاسو په دین کې سختي نه ده لازمي کړې.

دې ته ورته یو حدیث هم دی:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِنَّ الدِّينَ يُسْرٌ، وَلَنْ يُشَادَّ الدِّينَ أَحَدٌ إِلَّا غَلَبَهُ.(۱)

ژباړه: ابو هریره رض ویل چې رسول الله ص وویل: دین اسانه دی او هر څوك چې ځان ته دین سختوي اخیر ترې لاس مینځي.

دا د دین هغه عمومي روح دی چې ټول احکام یې د اسانۍ دي او هیڅ د بشر تر طاقت لوړ شی یې پر انسانانو نه دی فرض کړی، له دې وجې قران کریم وایي:

{لَا تُكَلَّفُ نَفْسٌ إِلَّا وُسْعَهَا} [البقرة: ۲۳۳]

ژباړه: نفس یوازې په خپل وس مکلف دی.

د قران کریم یو هدایت دا هم دی چې د سختۍ په حال کې حرام شیان هم حلال شوي دي، الهي قول دی:

{إِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةَ وَالدَّمَ وَلَحْمَ الْخِنْزِيرِ وَمَا أُهِلَّ بِهِ لِغَيْرِ اللَّهِ فَمَنِ اضْطُرَّ غَيْرَ بَاغٍ وَلَا عَادٍ فَلَا إِثْمَ عَلَيْهِ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ}.

[البقرة: ۱۷۳]

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: پر تاسو مړزګه، ويني، د خنزير غوښه او هغه شی چې د غیـر الله ناره پر شوې وي حرام دي؛ خو که څوك اړ شو نه نافرمانه وي او نه تر اړتيا زياتوب کوي پر هغه هيڅ ګنا نـه شـته يقيـنن الله ډېربخښـونکی مهربانه دی.

له دې ته ورته اياتونو فقهاؤ هم داسې يوه قاعده استنباط کړې ده:
الْمَشَقَّةُ تَجْلُبُ التَّيْسِيرَ. الضَّرَرُ يُزَال.(۲)

ژباړه: ، له سختي سره اساني شته او د ضرر(زيان) به مخنيوی کيږي.

دا دوې قاعدې دي چې له دې پاس ايـت يـا دې تـه ورتـه ايـاتونو څخه استنباط شوې دي، نو همدې اصل ته په کتو وبا يو ضروت دی، سـختي و مشـقت دی، زيـان و ضرر دی، بايـد مخنيـوی يـې وشي، مخنيوی يې له دوا سره دا هم دی چې د رش او ګڼې ګونې له ځـايونو ډډه وشي، يو هم له هغو څخه مساجد دي، تعليمي مرکزونه دي، بازار دی، اداري دي، حج و عمره ده، نو د ضرورت له مخې دا کارونـه نـه يوازې دا چې جواز لري بلکې د انسانيت د بچاو لپـاره اړيـن دي چـې حکومتونه يې په زور وکړي.

ان رسو ل الله ص هغه کس لا مسجد ته له راتلو منعه کړی وو چـې وږه يا پياز به يې خوړلی وو:

أَنَّ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَـلَّى اللهُ عَلَيْـهِ وَسَـلَّمَ قَـالَ: «مَنْ أَكَلَ ثُومًا أَوْ بَصَلاً فَلْيَعْتَزِلْنَا، أَوْ لِيَعْتَزِلْ مَسْجِدَنَا، وَلْيَقْعُدْ فِي بَيْتِهِ».(۳)

ژباړه: جابر ويل رسول الله وويل: که چا وږه يا پياز خـوړلی وي نـو موږ او زموږ مساجدو ته دې نه راځي او په خپل کور کې دې اوسي.

په يوه روايت کې دي:
حَتَّى يَذْهَبَ رِيحُهَا.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر هغو دې په کور کې وي چې بوی يې ورک شي.

له دې روايته په ډاګه معلومېږي چې که انسانانو ته دې تکليف رساوه، نو په هيڅ صورت اجتماع او عباداتو کې ګډون نه شي کولای ان رسول الله له خپله لمانځه خلك منعه کول په داسې حال کې چې د رسول الله اصحابو به هغه کسان منافقان بلل چې د رسو ل الله په وخت کې به د هغه په امامت جمعې ته نه حاضرېدل، نو په دې وخت کې هم رسول الله د وږې، پياز يا بل بوين شي په خوړلو خلك له مسجده منعه کړي دي، په داسې حال کې چې له دې ټولو يادو شيانو مرض نه پيدا کېږي بلکې يوازې بوی کوي چې د نورو د اذيت سبب کېږي، مګر اوس د وبا په وخت کې نورو انسانانو ته د مرګ او زيان خطر موجود دی چې د شرعي اصولو له مخې يې بايد تر ممکنه حده مخه ونيوله شي دا که د مسجد بندول وي يا هم د لمونځ کوونکو کمول، ټول د شرعي اصولو او متونو له مخې مباح کار دی چې د زيان د مخنيوي په خاطر کله د وجوب درجې هم رسېږي.

اوس چې وبا په نړۍ کې سخت بد وضعيت رامنځته کړی دی، نو د ټول انسانيت ته د ور پېښ خطر له وجې که مساجد تړل کېږي، يا تعليمي مرکزونه، حرمين بندېږي يا هم عمره و حج دا کال ځنډول کېږي، پروا نه لري، بلکې د شريعت له مخې د مخنيوي لپاره ټولې ممکنه لارې چارې لازمې دي چې وشي. دا وبا که په هر هيواد کې پاته شي او ختمه نه شي نو که په ټوله نړۍ کې يې وجود ورک هم شي د بيا خپرېدو امکانات يې خورا زيات دي، له دې امله نو لازمه ده چې تر وسه هڅه وشي چې د ډېرې خپرېدو چانس ور نه کول شي. هغه کسان چې وايي مسلمان نه وژني، يا هم وايي، د عبادت مهال يې د خپرېدو

(c) ketabton.com: The Digital Library



امکان نه شته ناسمه خبره کوي، که تاریخ ته وګورو نو د اصحابو په زمانه کې هم وبا راغلې ده چې په زرګونه اصحاب یې وژلي دي، د طبابت له مخې یې مساجد یا دې ته ورته بند ځایونه د وبا د خبرېدو تر ټولو خوندي او ښه ځایونه دي، نو د سلګونو کسانو په راټولېدو سره د وبا د نشر امکان نور هم ډېرېږي.

که له هر کس سر د خپل ځان، کورنۍ، خپلوانو، هیوادوالو، مسلمانانو او ټول انسانیت غم وي، باید د ډاکټرانو او حکومت سپارښتنې ومني او د دې وبا په وخت کې ټول عباداتو په کور کې یوازې یا له د کور له غړو سره په جمعه وکړي چې د خدای له درباره به هغه ثواب ور کول کېږي لکه دوی چې پخوا جوماتو کې د جمعې لمونځ کاوه.

۱۹/۴/۲۰۲۰

**سرچینې:**


۱) (بخاري، کتاب الایمان، باب الدین یسر ح: ۳۹)

۲) الموسوعة الفقهیة الکویتیة (۲/ ۳۸۰)

۳) (سنن ابي دواؤد کتاب الاطعمه باب في اکل الثوم ح: ۳۸۲۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ونو ګټې

ونې او نباتات د اوکسیجن په چمتو کولو کې مهم رول لري. ونې سوځل شوی ګاز (کاربن) ځان ته کشوي او په بدل کې یې د انسان لپاره تازه نااستعمال شوی ګاز (اوکسیجن) چمتو کوي. همدارنګه ونې د هوا په صفا کولو کې جوت نقش لري.

د ونو ګټې یوازې د انسان لپاره هم نه دي؛ بلکې له حیوانه تر مرغانو یې ټولو ته فایدې رسیږي. حیوان هم ګیډه ځنې مړوي او هم یې سیوری کاروي. مرغه هم ځاله کې جوړوي او هم خوراک ترې کوي. انسان له دې پاس کارو ماسیوا د سون لپاره لرګي، د کور لپاره تیران، دستک او ښاخلې او همداسې نور کارونه هم ترې اخلي. په انساني ژوند کې د ونو ګټو ته په کتو شرعي نصوصو کې یې هم یادونه راغلې ده چې ځینې یې دا دي:

د مسند احمد حدیث: عَنْ أُمِّ مُبَشِّرٍ، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " مَنْ غَرَسَ غَرْسًا، أَوْ زَرَعَ زَرْعًا، فَأَكَلَ مِنْهُ إِنْسَانٌ، أَوْ سَبُعٌ، أَوْ دَابَّةٌ، أَوْ طَيْرٌ، فَهُوَ لَهُ صَدَقَةٌ ".(۱)

ژباړه: ام مبشر ویل چې رسو الله وویل: که چا نهال کېښود یا یې کښت وکړئ، بیا که انسان، یا ځناور، یا حیوان یا هم مرغه خوراک ترې وکړ؛ د هغه لپاره صدقه ده.

د مسلم حدیث: عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَغْرِسُ غَرْسًا إِلَّا كَانَ مَا أُكِلَ مِنْهُ لَهُ صَدَقَةً،

(c) ketabton.com: The Digital Library



وَمَا سُرِقَ مِنْهُ لَهُ صَدَقَةٌ، وَمَا أَكَلَ السَّبُعُ مِنْهُ فَهُوَ لَهُ صَدَقَةٌ، وَمَا أَكَلَتِ الطَّيْرُ فَهُوَ لَهُ صَدَقَةٌ، وَلَا يَرْزَؤُهُ أَحَدٌ إِلَّا كَانَ لَهُ صَدَقَةٌ».(۲)

ژباړه: جابر رض ويل چې رسول الله وويل: هيڅ مسلمان نهال نه ږدي مګر چې هر څه ځنې خوړل کېږي هغه يې صدقه ده، څه چې ترې غلا کېږي هغه يې صدقه ده، څه چې ځناور ترې خوري؛ دا يې صدقه ده، څه چې مرغان ترې خوري هغه يې صدقه ده او هيڅوک کمول نه ترې کوي مګر د ده لپاره به صدقه وي.

د بخاري حديث: عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَغْرِسُ غَرْسًا، أَوْ يَزْرَعُ زَرْعًا، فَيَأْكُلُ مِنْهُ طَيْرٌ أَوْ إِنْسَانٌ أَوْ بَهِيمَةٌ، إِلَّا كَانَ لَهُ بِهِ صَدَقَةٌ»».(۳)

ژباړه: انس بن مالک رض روايت کړی چې رسول الله ويل: هر مسلمان چې ونه ږدي يا هم کښت کري که بيا انسان يا مرغه او يا حيوان ترې خوراک وکړي؛ نو ده ته به هغه صدقه وي.

- د ونو او ځنګلونو ګټې

ځنګلونه نه يوازي د انساني ژوند لپاره اړين دي، بلکې د حيواناتو د پايښت، زياتوب او خونديتوب لپاره هم ډېر ګټور دي. د ونو له يو شمېر موادو څخه طب پوهان په طبي درملنو کې هم کار اخلي. ونې د سون توکي راکوي او د وادنيو په جوړولو کې هم له ونو ګټه اخلو.

ونې او ځنګلونه د سيمې د هوا په بدلون کې هم مهمه ونډه لري. د ونو له پاڼو د اوبو بخارات هوا ته وزي؛ نو په هوا کې د لندوالي او نمي

(c) ketabton.com: The Digital Library



تناسب ساتي او هوا نه خوشکيږي. همدا بخارات چې لوړ ولاړ شي، نو د وريځو په جوړولو کې مرسته کوي، د باران امکان زياتوي او پوهان وايي چې ونې وريځې خپل لور ته راکشوي.

که په يوه سيمه کې ونې او ځنګلونه نه وي، نو د باران تېزي اوبه ځمکه ور سره وړي، غارې او لښتي په کې جوړوي او له دې سره جوخت په ځمکه کې له موجودو غذايي موادو څخه هم ځمکه بې برخې کوي. خو که ونې موجودې وي، نو د سيلابي اوبو په وړاندې د ونو ريښې ځمکه ټينګوي او د همدې ريښو او ځنګل په برکت د اوبو ياغي څپې مهارېږي، خلك يې له شره خوندي کېږي او اوبه په ځمکه کې جذبېږي. سيلاب ځمکه نه خرابوي او تر بارانو وروسته تېز بادونه هم ځمکې ته زيان نه رسوي. ځکه ځمکه د ريښو په وسيله ټينګه وي، پر سر يې زرغونه واښه شنه وي او تر ډېره حده د باران لندوالی په ځمکه کې پاتېږي چې د وښو په را زرغونو کې لويه مرسته کوي. دې ګټو ته په کتو نو پوهان توصيه کوي چې که هر ځای ونې پرېکړل شي، بايد پر ځای يې نوري ونې ولګولې شي. ځکه ونې د انساني ژوند هغه اړين توکي چمتو کوي چې انسان په ژوندی دی. ونې سوځل شوی ګاز (کاربن) اخلي او په اکسيجن يې بدلوي. پوهان وايي، يوه پنځه کلنه ونه د (۲۵) کسانو اکسيجن توليدوي.

ځنګلونه پر غرونو، غونډيو او ځنګلي علاقو شوې واوري ژر ويلېدو ته نه پرېږدي. ځمکه لنده ساتي. د هوا له بادېدو، د سيلاب له وړلو او غارونو څخه يې خوندي ساتي. د ځنګلي حيواناتو د خونديتوب، زياتوب، خوراك، اوسېدنې او... ځای دی. د تختو په جوړولو، د سون د توکو په زياتولو، د تعمير او ودانۍ په کارونو کې له

(c) ketabton.com: The Digital Library



ونو او درختو ګټه اخيسته کېږي. له دې ټولو فايدو او ګټو سره ونې او ځنګلونه طبيعي مناظر دي چې پر انساني فطرت ښه لګېږي. انسان د باغونو، ونو اوځنګلونو په ليدلو د خوښۍ احساس کوي. کله چې يو ځای خسته شي او په خپل چاپيريال کې د ديغت احساس وکړي؛ نو د باغ يا ځنګل لور ته وزي او هلته خپله خستګي او ذهني ستوماني لرې کوي او د طبيعي منظرو په ليدلو خپل نارمل حالت ته راګرزي. ډاکټران د عصبي ناروغيو مريضانو ته توصيه کوي چې باغونو او د ونو لور ته ووزي او خپل طبيعت نارمل وساتي.

۳۰/٦/۲۰۲۰

**سرچينې:**


۱) (مسند احمد، حديث ام مبشر امراة زيد بن حارثة ح: **۲۷۰۴۳**)

۲) (مسلم کتاب المساقاة باب فضل الغرس والزرع ح: **۱۵۵۲**)

۳) (بخاري کتاب المزارعة باب فضل الزرع والغرس اذا اکل منه ح: **۲۳۲۰**)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د دین او شریعت تر منځ توپیر

د دین او شریعت په سرچینو او نصوصو کې دې ټکي ته اشاره شوې ده چې دین او شریعت سره بېل شیان دي. د انسانانو لپاره په راغلیو نصوصو کي بیا- بیا بدلون، د زماني او ټولني له بدلېدا سره د احکامو تغییر، د یوه ایت په بل منسوخېدا، د پخواني پر ځای د نوی حکم راتگ، د یو شي په اړه لومړی یو اوبیا دوه اپشنه ورکول او داسې نور موارد هغه څه دي چې موږ د دې دوو جلا شیانو توپیر ته متوجې کوي.

په قران کې کریم د یو شمېر نبیانو او رسولانو تر ذکر وروسته الله تعالی وایي: {وَإِنَّ هَذِهِ أُمَّتُكُمْ أُمَّةً وَاحِدَةً وَأَنَا رَبُّكُمْ فَاتَّقُونِ} [المؤمنون: ۵۲]. دلته امت د دین په معنا راغلی چې دین ترې هدف دی. نو الله تبارك وتعالی وایي چې دین مو سره یو دی او زه مو رب یم. مگر د شریعت په اړه یو ځای لولو: {لِكُلٍّ جَعَلْنَا مِنْكُمْ شِرْعَةً وَمِنْهَاجًا} [المائدة: ٤۸]. تاسو ته مختلف شریعتونه او تگلارې دي. له دې جوتېږي چې دین یو دی او شریعت بېل.

له دې امله نو د دین په اړه وایي: { إِنَّ الدِّينَ عِنْدَ اللَّهِ الْإِسْلَامُ} [آل عمران: ۱۹]. د الله په خوا کې دین یوازې اسلام دی. بیا وایي: {وَمَنْ يَبْتَغِ غَيْرَ الْإِسْلَامِ دِينًا فَلَنْ يُقْبَلَ مِنْهُ وَهُوَ فِي الْآخِرَةِ مِنَ الْخَاسِرِينَ} [آل عمران: ۸۵]

(c) ketabton.com: The Digital Library



که چا د اسلام له دين پرته د بل لټه وکړه نو ځنې وبه نه منل شي او په اخرت کې به له تاوانيانو وي.

له دې جملو او الفاظو موږ پوهېږو چې په مجموع کې دين عبادات او باورونه دي چې د کيفيت او کميت له بدليدا سره د هر نبي او رسول په زمانه کې وو او امر په شوی دی. موږ دين له دې امله عبادات او باورونه بولو چې د زمانې او ټولنې بدلېدا مو دې ته اړباسي او هم د ځينو قراني اياتونو غوښتنه زما په اند داسې ده. قران پاک کې يو ځای لولو:

{مَا نَنْسَخْ مِنْ آيَةٍ أَوْ نُنْسِهَا نَأْتِ بِخَيْرٍ مِنْهَا أَوْ مِثْلِهَا}

[البقرة: ١٠٦].

موږ يو ايت نه منسوخوو او نه يې هېروو مگر تر هغه غوره او يا مثل يې راوړو.

دا ايت ژور غور او فکر غواړي. دلته ولې ويل شوي چې ځينې اياتونه منسوخ يا بيخي له منځه وړو؟ بيا تر منسوخ شوي ايت يا هم اياتونو غوره څه معنا او مثل د چا راوړي؟

نسخه له دې امله رامنځته کېږي چې د وخت تېرېدا هر مهال د يوه حکم غوښتنه نه کوي. د زمانې تېرېدا بېلې غوښتنې کوي او شريعت هم دا لار خلاصه ايله کړې. د ټولنو بدلون هم د دې تقاضا کوي چې احکام يې له نورو څخه مخالف وي. ځکه خو ديني او شرعي متون د هرې ټولنې په ژبه، اصطلاح، استعارو، تشبيهاتو او له ژبې و کلتور سره تړلو هغو شيانو باندې راڅرخي چې خلکو ته د فهم او درک وړ وي. که عربو ته د پښتنو د اصطلاحاتو يادونه وکړي او زموږ په شان استعاري

(c) ketabton.com: The Digital Library



او تشبیهات ورته ذکر کړي، نو هغوی ته د فهم وړ نه دي او نه به په پوه شي.

د غوره والي او مثل معنا دا ده چې نوی حکم تر مخکني ګټور، اسانه او یا هم په ثواب او ادا کولو کې د هغه پخواني په شان وي. خو دا چې د ټولنې یا وخت تېرېدا له امله پخوانی حکم تغییر شوی، نو دا نوی حکم هم د هغه په شان ادا کېږي یا تر هغه هم تخفیف پکې راغلی.

د عباداتو او باورونو کمیت او کیفیت هم د شریعت برخه ده له دې امله نو په محمدي او موسوي شریعتونو کې توپیر سره لري. د عیسویانو او مسلمانانو روژه د کمیت او کیفیت له مخې فرق سره کوي. لمونځ یې همداسې دی. قران پاک یو ځای وایي:

{وَجَعَلْنَا فِي قُلُوبِ الَّذِينَ اتَّبَعُوهُ رَأْفَةً وَرَحْمَةً وَرَهْبَانِيَّةً ابْتَدَعُوهَا مَا كَتَبْنَاهَا عَلَيْهِمْ}. (الحدید: ۲۷)

موږ د عیسی د پیروانو په زړونو کې نرمي او رحمت ځای پر ځای کړ او ګوښه والی چې دوی رامنځته کړی و، موږ نه وو پر لازم کړی.

عیسویانو خدای ته د نژدېوالي په خاطر یوازیتوب غوره کاوه او هلته به یې عبادت کاوه چې خدای د هغه یادونه کړې ده او دا هم وایي چې موږ دا طریقه نه وه ایجاد کړې، بلکې د دوی خپل ابتکار و. دا که هغوی ته هر څومره د عبادت یو ډول و، زموږ په شریعت کې نه شته.

نو ثابته شوه چې په عباداتو کې کمیت او کیفت د شریعت برخه ده چې بدلون موندلای شي. فرضن پر یو چا د روژې زمانه اوږدېږي، نو کولای شي چې د فدیې له اپشن څخه کار واخلي. قران پاک وایي:

{وَعَلَى الَّذِينَ يُطِيقُونَهُ فِدْيَةٌ طَعَامُ مِسْكِينٍ}. [البقرة: ۱۸۴]

(c) ketabton.com: The Digital Library



او هغه کسان چې روژه په تکلیف نیسي د یوه مسکین د خوراک فدیه ده.

دلته په ډاګه شوې چې د روژې لپاره یو اپشن دا دی چې وې نیسي او که روژه نه وي نوبیا صدقه دویم اپشن دی. د عقیدې کیفیت هم د شریعت برخه ده. له دې امله نو د خدای د صفاتو، قیامت، حساب و کتاب او دې ته ورته نورو شیانو په اړه د په اسلام کې دننه هم او له مسلمانانو پرته د نورو شرایعو ترمنځ هم اختلاف موجود دی، مګر په مجموع کې ټول پر خدای، حساب، قیامت او... باور لري.

له عباداتو او باورونو پرته نور احکام ټول د شریعت برخه ده او د بدلون او تغییر امکان یې هیڅ وخت نه شي ردېدای. درې طلاقه یو ځای ور کول د عمر فاروق په زمانه کې درې وبلل شول. که نه تر دې مخکې یو طلاق و. دا ځکه چې طلاق اصلي موخه نه ده؛ بلکې یوه وسیله ده. له زنا د مخنیوي لپاره نکاح روا شوېده، خو انساني ټولنه کې جنجالونه او شخړې پیښیږي، د دې لپاره چې یو انسان پر بل تېری ونه کړي، نو د طلاق اپشن رامنځته شوی چې انسانان یې د خپل وخت له غوښتنو سره سم عیارولای شي.

له ځانه د دفاع لپاره جهاد روا شوی دی چې هغه مهال د تورې او اسانو په وسیله کېدی. مګر نن اس، توره، نېزه، غشی، منجنیق او د هغه وخت نور وسایل نه کارېږي، بلکې نوې ټیکنالوجي استعمالېږي. ځکه هدف له ځانه دفاع ده نه وسایل، له دې امله نو پرون په توره دفاع ممکنه وه او نن په نوي وسایلو.

د رسول الله ص په زمانه کې د واړه اختر سرسایه په خورما، اوربشو، پنېر او کشمشو یا نورو خوراکي توکو ور کوله کېده، مګر د وخت

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوښتنې ته په کتـو امـام ابـو حنیفـه رحمـه الله دینـار او درهم(یـا اوس کرنسۍ) ته اجازه ور کړه او دا يې ډېر پر ځای ګام اخیستی.

د حج و عمرې لپاره حاجیانو ته د هـر لـوري میقـات ټاکـل شـوی، مګر نن میقات اعتبار نه لري او نـه چـا تـه معلـومېږي. لـه دې املـه نـو حاجیان په هوایي ډګر کې لا احرام تړي.

قران کریم کې د هجرت یادونه شـوې ده او رسـول الله ص هجـرت هم کړی و. خو رسول الله صلی الله علیه وسلم پـه خپلـه دا اعـلان وکـړ چې د مکې تر فتحې وروسته (فرض) هجرت نـه شـته،(لاهجـرة بعـد الفتح) ځکه هجرت یو موقتي حکم و چې یوازې د رسـول الله ص پـه زمانه کې د مکې تر فتحې پوري و. څه وخت چې مکه فتحه شوه، نو د دې حکم فرضیت يې ختم کړ او د هجـرت امـر هـم یـوازې لـه مکـې شـوی و. پـه حبشـه، حضرموت، یمامـه، عـراق او نـورو سـیمو کـې مسلمانان اوسېدل او رسول الله ص هیڅکله هم د هجرت امر نه دی ور ته کړی.

په قران کریم کې د اهل کتابو په اړه د جزیې امر راغلی دی. رسـول الله ص د قران په هدف پوهېده، له دې امله يې دا امر د خپلو وخت له یو شمېر خاصو اهل کتابو پرته بـل ځـای نـه دی عمـلي کـړی. کـه نـه جګړې يې له عربي مشرکینو سره هم وکړې، خو دا امر نه قران د هغوی په اړه کړی او نه يې تر نزول وروسته رسـول الله ص د هغـوی پـه اړه دا تګلاره غوره کړې.

د مکې تر فتحې وروسته رسول الله ص عائشې رض ته وویـل چـې که ستا قوم نوی نه وای مسلمان شوی، نو ما به مکه په هغه ډول جوړه کړې وای چې ابراهیم علیه السلام اول جوړه کړې وه. تر رسول الله ص

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخکې سیلاب د کعبې خونه ورانه کړه. عربو هڅه وکړه چې له روا لارو په تر لاسه شوېو پیسو یې جوړه کړي؛ مګر پیسې ور کمې شوې او حطیم یې له خونې بهر کړ. د فتحې په ورځ رسول الله ص دا کار ځکه ونه کړ چې اصل هدف د انسانانو وحدت، د خدای لور ته رجوع او په یوه موخه عبادت و. دا چې رسول الله ص اساسي هدف ته رسېدلی و، له دې امله یې نو د کعبې په خونه چې اصلن یوه وسیله ده، کار ونه کړ او پر خپل حال یې ایله کړه. عبد الله بن زبیر بیا د عائشې رض د حدیث له مخې سمه جوړه کړه، مګر حجاج بن یوسف بیا په خپل دور کې بېرته د عربو په شان جوړه کړه.

که تر دې هر څه را تېرو شو، نو د اوس وخت حقایق مو هم دې ته متوجې کوي چې دین او شریعت سره جلا کړو. عبادات او باورونه اوږدمهالي او نور احکام لنډ مهالي، تغییر منونکي او د بدلون وړ وګڼو. دا نن وګورئ چې د یو انسان تر مرګ وروسته د فاتحې یا تعزیت طریقې د مسلمانانو په ټولنو کې څومره سره بېلې دي؟ زما په ګومان هدف انسانانو ته تسلیت ور کول دي، دا که په هره طریقه وي، زما په اند هیڅ پروانه لري. ځکه هر سړی د خپلې ټولنې په هغه طریقه خوشالېږي چې ده ته معرفي او ښه ور سره اشنا وي. که نااشنا طریقه وي، کېدای شي درنه ور باندي تمامه شي.

د لمانځه په طریقه کې اختلاف شته. د حج په ادا کولو کې اختلاف دی. زکات، اودس، غسل، سزاوې او نور هم د اختلاف ښکار دي. زما په فکر د سلفي لمونځ په حنفي پسې روا دی، د شیعه دا په سني پسې سهي دی او د هر مسلمان لمونځ له بل سره روا دی، ځکه هدف عبادت دی پر کیفیت یې اوس ډېر سخت کار دی. د تعبیرونو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



تفسیرونو او فهمونو اختلاف هم د دې سبب کېږي چې احکام تغییر کړي.

د عبادت مفهوم که زموږ تر مروج مفهوم یو څه پراخ ونیول شي، نو ستونزه تر ډېره حلېږي، لمونځ عبادت دی، دا چې له غلا منعه شوې ده، د خدای په منعه ځان منعه کول، هم عبادت دی، که یو څوك د غلا موکه پیدا کړي، له دې امله یې ونه کړي چې خدای منعه ځنې کړې ده، ثواب ورته لري، سود همداسې، زنا په دغه ډول.

نو له عبادت څخه یوازې لمونځ، روژه او حج هدف نه دي، هغه ثابت احکام او مستقل ارزښتونه چې قران کریم په واضحو ایاتونو او ثابتو نبوي سنتو ثابت دي، هغه د دین برخه دي او د تل لپاره به پر خپل حال پاته وي.

زموږ د پوهنتون دورې یو استاد و، هغه به ویل چې د شریعت ټول احکام هم موقت نه وي، بلکې په شریعت کې ځینې احکام له ثوابتو څخه دي، نو که غلا، زنا، سود او نورو شیان د شریعت برخه هم شي، د دغه استاد د دریځ له مخې بیا هم په تلپاتې حرامو او ممنوعاتو کې داخل دي.

یو شمېر کسان فکر کوي چې په واضحو نصوصو ثابت احکام تغییر نه کوي، مگر بل خوا بیا مؤلفة القلوب په قران کې ذکر شوي دي چې صدقه ور کول ورته روا دي، خو دوی اوس وخت له دې حکمه ایستلي دي او فکر کوي چې دا حکم یوازې د اسلام تر شروع پوري و، وروسته نه عملي کېږي. اصلن د احکامو نوعیت ته کتل لازمي دي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دين او شريعت، هر حکم خو بايد په نص ثابت وي، څوك يې لـه ځان نه شي ور کولای.

که د احکامو نوعيت ته وکتل شي، په خپلـه معلـومېږي، چې يـا د موقتو احکامو سره تړاو لري يا هم له ثوابتو سره.

د غلامانو په اړه هم قران کريم کې اياتونه راغلي دي او هم حديثونه پر شته، اما دا چې نن غلامان نه شته، دا ښه کار دی، هغه اياتونه چې د غلام ازادولو يادونه يې کړې ده، د شريعت برخه دي او نن يې د عمل دور تېر شوی دی.

يوه برخه احکام بيا دوه اړخيزه لري، کله په يوه عمل کېږي او کله بيا په بل، نو هر اړخ خپل وخت او محل لري، چې د خپل محل په راتلو بيا عمل په کېږي، دا احکام هم پر خپل حال پاتېږي، نـه د منسوخ پـه ډله کې شاملېږي او نه له منځه ځي.

په هر حال دا يوه مهمه موضوع ده، هيله ده چې اوس وخت پوهان دې ته ځانگړې پاملرنه وکړي او د دين و شريعت پولې په ډېـر روښـانه ډول يو له بل سره بېلې کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ولاء او براء

ولاء د لغت له مخې دوستي او مينې ته وايي، لسان العرب تر (موالاة ) لاندې همدا ترجمه کړې ده. المولی بيا په خورا زياتو معناؤ کارېږي چې زياتره وخت د مرسته کوونکي او دوست لپاره کار شوی دی. ولاية په زور سره د نسب، نصرت او ازادي(عتق) په معنا دی. نو موالاة د معاداة(دښمنی) او ولې د عدو(دښمن) ضد دي. ولي د نژدېکت او موالاة بيا د متابعت(پيروي) لپاره هم استعمالېږي. تولي کله د مخ اړولو په معنا وي او کله د پيروي، قران کريم کې دي( وان تتولوا يستبدل قوما غيرکم) بل ځای وايي: (ومن يتولهم منکم فانه منهم) په لومړي ايت کې د مخ اړولو معنا ور کوي او په دويم کې د پيروي او مرستې.(۱)

ابن الاعرابي د براء په اړه ويلي چې د خلاصون، پاکي، لرېوالي او ډار په معنا دی. براء او بریء په يوه معنا دي.(۲)

د دې دواړو اصطلاحاتو په اړه شرعي يا اصطلاحي تعريف کې پخوا ډېر عموميت شوی دی. که اوس هم د افراطي ډلو تعريفونه وکتل شي نو ترې معلومېږي چې د قران کريم له دې اصطلاحاتو سره يې ظلم کړی دی او تر خپل هغه مفهوم يې ډېر عموميت ور کړی چې د قران په ايت کې له کوم سياق و سباق سره راغلي دي.

زه په دې ليکنه کې د نوروپخوانو يا اوسنيو افراطيانو تعريف نه را اخلم، لومړی د قران کريم يو ايت را اخلم او هغه ايت د دې دواړو سم شرعي تعريف وړاندې کړی دی چې وروسته يې تشريح کوم:

(c) ketabton.com: The Digital Library



اللّهُ وَلِيُّ الَّذِينَ آمَنُواْ يُخْرِجُهُم مِّنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّوُرِ وَالَّذِينَ كَفَرُواْ أَوْلِيَآؤُهُمُ الطَّاغُوتُ يُخْرِجُونَهُم مِّنَ النُّورِ إِلَى الظُّلُمَاتِ (البقره: ۲۵۷)

ژباړه: الله د هغو کسانو دوست دی چې ایمان یې راوړی، له تاریکیو یې رڼا ته باسي او هغو چې انکار یې کړی دی، د طاغوت دوستان دي چې له رڼا یې تیارې ته بيايي.

له دې ايت څخه په ډېره اسانې د ولاء او براء تعريف معلوم‌ولای شو. قران کريم دلته مومنان د الله دوستان او کافران د طاغوت وليان ګڼلي دي. له دې ښکاري چې په قران کريم کې هر ځای د ولاء يا براء يادونه کوي، نو ديني او مذهبي دوستي يې هدف وي. قران کريم اصلن د لغت پوهنې کتاب نه دی چې د الفاظو پر معنا يا تعريف خبرې وکړي، خو د اصطلاحاتو له کارونې او سياق و سباق څخه يې موږ تعريف معلوم‌ولای شو.

قران کريم يو بل ځای هم د دې وضاحت کړی دی:

لَا يَنْهَاكُمُ اللَّهُ عَنِ الَّذِينَ لَمْ يُقَاتِلُوكُمْ فِي الدِّينِ وَلَمْ يُخْرِجُوكُمْ مِنْ دِيَارِكُمْ أَنْ تَبَرُّوهُمْ وَتُقْسِطُوا إِلَيْهِمْ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِينَ () إِنَّمَا يَنْهَاكُمُ اللَّهُ عَنِ الَّذِينَ قَاتَلُوكُمْ فِي الدِّينِ وَأَخْرَجُوكُمْ مِنْ دِيَارِكُمْ وَظَاهَرُوا عَلَى إِخْرَاجِكُمْ أَنْ تَوَلَّوْهُمْ وَمَنْ يَتَوَلَّهُمْ فَأُولَئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ (الممتحنة: ۸، ۹)

ژباړه: چا چې له تاسو سره د دين پر سر جنګ نه وي کړی او نه يې له خپلو سيمو پسې اخيستي ياست، الله مو له دې نه منعه کوي چې نيکي او انصاف ور سره وکړئ؛ بېشکه الله انصاف کوونکي خوښوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بلکې د هغه چا له دوستي مو الله بندوي، چې له تاسو سره يې د دين پر سر جنګ کړی وي، تاسو يې له خپلو سيمو شړلي ياست، ستاسو پر ايستلو يې کومک کړی وي او که چا له دوی سره دوستي وکړه، نو هغوی ظالمان دي.

په دې ايت کې دا په ډاګه شوه چې څوک له مسلمان سره د دين پر سر شخړه کوي، نو هغه د دوستۍ وړ نه دی، ځکه په اسلام کې اصل دادی چې (لا اکراه في الدين) نو څوک چې دې اصل ته درناوی نه لري، هغه ګواکې اسلامي او انساني ارزښتونه نه شي پاللای، له دې امله د مسلمانانو د دوستۍ وړ هم نه دی. مګر بل پلو هغه کسان چې دا کار يې نه وي کړی، د هغوی له نيکي او انصافه الله تعالی منعه نه ده کړې؛ بلکې مسلمانان يې دې ته هڅولي دي چې نيکي او انصاف وکړي، ځکه د الله همداکسان خوښ دي.

رسول الله په مدينه کې له يهودو سره تړون وکړ چې موږ و تاسو به سره حليفان يو، مسلمانان او يهود يې يو سياسي ائتلاف بللی دی او له مدينې د دفاع په خاطر يې له يهودو سره سياسي او دنيوي دوستي در لوده، د يهودو په بازارونو کې مسلمانانو پېر و پلور کاوه او د ځينو مسلمانانو تجارتي کاروانونه د روم او فارس تر ولکې لاندې سيمو ته تلل، چې د رسول الله ص په ټوله لس کلنه نظامي سياسي رهبرۍ کې هغه له دې څخه منعه نه ده کړې او له ځينو عربي قبايلو سره چې يې د تجارت راکړه ور کړه بنده کړې وه، هغه هم د دين پر سره د شخړې له امله يو مجبوريت و، چې مکيان د دې ډلې په لومړي کتار کې ولاړ ول. اما کله چې هغوی د مسلمانانو له لاسه رسول الله ص ته شکايت وکړ چې زموږ د تجارت لار د بنوحنيفه قبيلې يو مشر ـ ثمامه بن اثال

(c) ketabton.com: The Digital Library



رض بنده کړې؛ نو رسول الله ص هغه ته امر وکړ چې لاړ خلاصه کړه، ځکه زه خلك له لوږې نه وژنم. د بخاري په کتاب المغازي او فتح الباري کې يې پوره تفصيل راغلی دی.

د ولاء او براء په اړه يو حديث هم ډېر راوړل کيږي چې خلك له هغه څخه هم ناسم فهم اخلي، حديث دادی:

«مَنْ أَحَبَّ فِي اللَّهِ، وَأَبْغَضَ فِي اللَّهِ، وَأَعْطَى لِلَّهِ، وَمَنَعَ لِلَّهِ فَقَدِ اسْتَكْمَلَ الْإِيمَانَ».(٣)

ژباړه: که چا مينه او کينه دواړه دالله لپاره وکړل، ور کړه او منعه يې هم د الله له کبله وي، نو هغه ايمان بشپړ کړ.

دا او دې ته ورته روايات هم واضح دي زموږ له پورته تشريح سره يوډول ضديت نه لري. ځکه د الله لپاره مينه او کينه هم په دين پورې تړلې وي، همداراز ور کړه او منعه هم. په دې خاطر چې الله د دين رالېږونکی دی، ديني چارې راښيي، نو موږ چې د الله له امله له يو چا سره دوستي يا دښمني کوو حتمي خبره ده چې هغوی به پر دين راسره شخړه کوي که نه په دنيوي امورو کې خو هيڅ ځای الله امر نه دی کړی چې له چا سره دوستي او له چا سره دښمني وکړو؟

د الله لپاره هر څه يوازې تر دين پورې محدود دي؛ ځکه الله ديني لارښود دی، لومړی شارع دی، ديني چوکاټونه او حدود هغه ټاکلي دي، له دې امله به د خدای لپاره خپگان او خوشالي د هغه د دين پر سر وي، نه د هغه څه پر سر چې الله يې په اړه هيڅ نه دي ويلي. له دې ښکاره معلومېږي چې دين د سياسي، اقتصادي، کلتوري او نورو دنيوي چارو په اړه هيڅ نه دي ويلي، بلکې په دين کې اړينه ده چې په ديني چوکاټ کې دننه به د هغه لارښووني عملي کيږي، له دې امله که څوك

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپه کېدل خپه دې شي او کـه څـوک خوشـالېدل خـوښ دې شي. د همدې دين د پياوړتيا لپاره ورکړه د الله لپاره ورکړه او د دين د دفاع په خاطر يې بندول هم د الله لپاره دي.

د ولاء او براء تعريف داسې کول چې له نامسلمانو سره ټولې دنيوي اړيکې بايد پرېکړل شي، نه کوم ديني بنسټ لـري او نـه يـې ځمکنـي واقعيتونه منې. رسول الله ص په خپـل وخـت کـې د مـدينې لـه يهـودو نيولې بيا د فـارس تـر اورپرسـتانو او د ورم تـر اهـل کتـابو لـه ټولـو سره اړيکې ساتلې وې، د مسلمانانو تجارتي قافلې همدې سترو نامسـلمانو امپراتوريو ته تلې راتلې او د رسول الله ص د مرگ مهال هم د هغه زغره د يوه يهود سره گرو وه، د خيبر ځمکې يې يهودو ته د يـو معـاملې لـه مخې ور کړې وې او داسې نور مثالونه. قران کريم هم يادونه کوي چې که مسلمان له تاسو مسلمانانو د دين پر سر مرسته طلب کړي، نـو تاسـو به مرسته ور سره کوئ، اما نه د هغه قوم پـر خـلاف چـې لـه تاسـو سره تړون ولري.(النساء: ۹۰، ۹۲، الانفال: ۷۲)

زما په اند له مکيانو او يهودو سره د جنگ مهال ځينې احکام رسول الله ص د سياست او د وخت د غوښتنې له امله هم ور کړي چې په دې ډول يې د خپلو پيروانو تـرمنځ لـه دښـمنه نفـرت پيـداکاوه او د هغـوی اتحاد هم په دې ډول مضبوط کېدی. د جنگ مهال د يوه برياليي مشر- يوه ځانگړنه داده چې د خپلو کسانو ترمنځ دښمن بدنام کړي او هغوی بايد سخت نفرت ځنې وکړي، په دې ډول نـه دښـمن تـه د نژدېکـت، همکارۍ او جاسوسۍ هڅه کوي او په دې سره خپل منځي اتحاد هـم ساتل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له مکيانو او يهودو سره د جنگ مهال همدا د حالاتو غوښتنه وه، جگړه ييز حالات يو ډول احکام لري او د امن وخت بل رقم، د سختۍ مهال يو ډول اوامر وي او د سوکالۍ پر وخت تغيير کوي، د ضعف حالت بيا د قووت له حالت سره په ډېرو شيانو کې توپير کوي.

له دې امله د ولاء او براء يوازې يو تعريف چې هغه هم د قران او سنت پر نصوصو او اصولو برابر نه وي، نه معقول کار دی او نه يې د وخت غوښتنې ايجابوي. نن اړتيا ده چې موږ ځينې فقهي اصطلاحات له نوي سره تعريف کړو، ځينې فقهي قواعد د وخت له حالاتو سره سم اپډيټ کړو او ځينې بيا نوي رامنځته کړو. په دې ډول موږ کولای شو چې د دين د سم فهم لپاره لار اواره کړو او هغه ناسم پوهاوی چې اوس موجود دی، تر ممکنه بريده به يې گراف را کم شي.

د پخوانيو تعريفونو يوه ستونزه دا هم وه چې د يوه کس له لوري کېدل، هلته داسې يوه اداره موجوده نه وه چې د يوې قاعدې يا تعريف ټول اړخونه وسنجوي او بيا يې په اړه پرېکړه وکړي، بلکې د يوه کس د هڅو محصول دی چې گوره په خپل وخت کې به يې سمه نتيجه ور کړې وي که نه؟ اما اوس حالات بدل شوي دي، هغه تعبيرونه چې له دينه پخوا يوه کس يا يوې ورېږ ډلي کړي، دي نن زموږ غوښتنې نه پوره کوي، ځکه هغوی خپله د اوس له وخت له انکشافاتو خبر نه ول، دا مسلې ورته معلومې نه وې، زموږ د وخت له غوښتنو په هيڅ صورت هغوی نه وو خبر، له دې امله يې حللار هم نه ده ټاکلې.

د همدې لپاره بايد نن هڅې وشي او د يوې مستقلې ادارې له لورې وشي چې د نورو علومو ماهر پوهان يې هم غړيتوب ولري، څو يې د جانبي عوارضو په اړه هم فکر او سنجش وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۰۱۸/ ۱۰/ ۲۸

**سرچيني:**

۱) (لسان العرب د ابن منظور: ۳/ ۹۸۵- ۹۸۶، القاموس المحيط مخ: ۲۹۴)

۲) (لسان العرب: ۱/ ۱۸۳، القاموس المحيط: ۱/ ۸)

۳) (المعجم الاوسط باب الميم باب من اسمه مسلمة ح: ۹۰۸۳)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دښمن او مقاتل

عربي کې دښمن ته عدو وايي، د شيطان په اړه ګڼ ځايونه الله تعالی ويلي دي چې داستاسو ښکاره دښمن (عدو) دی. او مقاتل خپله عربي توری دی چې موږ ورته جنګيالی يا جګړه مار وايو.

قران کريم دا دوه اصطلاحات بېل- بېل کارولي دي چې موږ ته هم په کار ده تفکيک يې وکړو. عدو عام دی چې په عموم کې يې د دښمن پر ټولو ډولونو اطلاق کيږي اما مقاتل پکې خاص شوی دی چې له عمومي دښمنه يې احکام هم فرق کوي. دواړو ته په يوه سترګه کتل يا يې په لوی لاس توپير ته نه متوجې کېدل هم له قراني مفاهيمو سره ظلم دی او هم له انسانيت سره.

قران کريم د دښمن په اړه يوځای وايي:

وَلَا تَسْتَوِي الْحَسَنَةُ وَلَا السَّيِّئَةُ ادْفَعْ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ فَإِذَا الَّذِي بَيْنَكَ وَبَيْنَهُ عَدَاوَةٌ كَأَنَّهُ وَلِيٌّ حَمِيمٌ. (فصلت: ۳۴)

ژباړه: نيکي او بدي سره مساوي نه دي، د بدي ځواب ښېګنه کړه، نو ته چې له چا سره ته دښمني لرې، هغه به دي ټينګ دوست شي.

دلته موږ وينو چې د دښمن د بدي په مقابل کې يې د نيکي امر کړی دی، له دې ښکاري چې د عمومي دښمن احکام د مقاتل له احکامو څخه بېل دي. ځکه د مقاتل په اړه يو ځای وايي:

وَقَاتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ الَّذِينَ يُقَاتِلُونَكُمْ وَلَا تَعْتَدُوا إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِينَ. (البقره: ۱۹۰)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: او د الله په لار کې له هغو سره وجنګېږئ چې لـه تاسـو سره جنګ کوي، او تېرى مه کوئ يقينن الله تېريګر نه خوښوي.

دلته مو وليدل چې له جنګيالي سره د جنګ امر کوي، څـوک چـې له موږ سره جنګ پيلوي موږ يې هم له ځانو د دفاع پـه پـار جنـګ تـه هڅولي يو. مګر له دښمن سره يې هيڅ کلـه هـم د مقـاتلې امـر نـه دى راکړى، له دې معلومېږي چې مقاتل بايد له دښمنه بېل کړل شي.

د افراطيانو يو ستونزه همدا ده چې د قران کريم اصطلاحاتو تـه يـې خپله د قران په رڼا کې نه دي کتلي. دوى دې ټکي ته نـه دي متـوجې شوي چې قران کريم ولې د عـدو لپـاره يـو ډول احکـام ور کـړي او د مقاتل په مقابل کې يې بل ډول؟

له ديني مفاهيمو سره سرسري چلند څـو زيانـه لـري: يـو؛ د ديـن د بدنامۍ سبب کيږي، دوه؛ موږ ته د مشکلاتو پيدا کېـدو لامـل کيـږي، درې؛ او د اخرت د خرابۍ وېره هم ور سره مله ده.

د ديني و شرعي مفاهيمو د تشريح لپاره اړينه ده چې ټـول نصـوص وکتل شي، بيا له موضوع سره تړلي اياتونه و احاديث ټول يـو د بـل پـه څنګ کې د دې لپاره راوړل شي چې يو داسې فهم ترې واخيستل شي چې نه د اسلام له کلي پيغام سره ټکر ولري او نه مسلمانانو ته په خپلـو روزمره چارو کې ستونزې ايجاد کړي. ځکه دين د انساني سوکالۍ لپاره راغلى، کله چې يو تعبير د سـوکالي پـر ځـاى سـتونزې ايجـادوي، نـو حتمي په بشري تعبير کې نيمګړتيا موجوده ده چې بايد نور پوهـان يـې درک او حللار ورته پيدا کړي.

دين له انسانه د نفرت امر نه دى کړى، بلکې له بدي يې د نفرت امر کړى دى؛ ځکه دين الهي رحمت دى او پيغمبر د انسانانو لپاره رحمت

(c) ketabton.com: The Digital Library



راغلی دی، نو که د نفرت حکم وکړي، هغه کلي پیغام یې تر پوښتنې لاندې راځي. د رسول الله ص په یوه حدیث کې دي:

وَأَنْ يَكْرَهَ أَنْ يَعُودَ فِي الْكُفْرِ بَعْدَ أَنْ أَنْقَذَهُ اللهُ مِنْهُ، كَمَا يَكْرَهُ أَنْ يُقْذَفَ فِي النَّارِ .(۱)

ژباړه: په اور کې د لوېدو په شان دا هم بده ګڼي چې له کفره تر الهي نجات وروسته بیرته کفر ته ور وګرځي.

دلته مو ولیدل چې اصلن کفر بد شی دی، یو مسلمان کفر ته ورګرځېدل بد بولي، کافر د همدې بد فعل له امله غندل شوی دی. د یوه عالم دا خبره مې پر زړه ولګېده چې که هر څوک د خپل دین پیغام نن په مینه او محبت خلکو ته وړاندې کړي، نو هغه به بریالی وي، موږ ته په کار ده چې خپل زاړه تعریفونه نوي کړو، شرعي مفاهیمو ته له سره کتنه وکړو، د وخت له غوښتنو سره سم ضوابط جوړ کړو او د تجدید دین فلسفه په دې ډول را تازه کړو چې د زمان، مکان او محیط له غوښتنو سره دیني تعبیر هم عیار او هماهنګ کړل شي.

۲۰۱۸م

**سرچینه:**

۱) مسلم کتاب الایمان باب بیان خصال من اتصف بهن وجد حلاوة الایمان ح: ٦٧)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د څو عربي اصطلاحاتو پېژندنه

د قراني وينا له مخې چې هر قوم ته رسول د هغو په ژبه ورځي، څو خلکو ته خپل پيغام په ښه ډول ورسوي.(ابراهيم: ۴) رسول د هغه قوم اصطلاحات کاروي. د هغو له استعارو څخه کار اخلي. د هغوی په شان حقيقت و مجاز ته مخه کوي. د خپل قوم متلونه په مجلس او ينا کې يادوي. لنډه دا چې د قوم په ژبه د خدای پيغام خلکو ته رسوي، نور هر څه د قوم په شان دي. ژبه، کلتور، اصطلاحات، بيان، مثالونه، حقيقت و مجاز، استعارې، تشبيهات او له ژبې سره تړلي نور ډېر څه.

قران خپل همدې اصل ته په کتو د عربو او ور سره پرتو اهل کتابو يو شمېر اصطلاحات راوړي. البته د ځانګړو فکري مکتبونو پلويانو له دې پرته چې د قران اصل ته پام وکړي، دا اصطلاحات په خپله ګټه وکارول او د هغو خلاف يې ترې کار واخيست چې د دوی مخالفت يې کاوه.

مشرك، اهل کتاب، اميان يا امي، غافل، ام القری او... هغه اصطلاحات دي چې عربو ، د ابراهيمي دين پيروانو او ورته څېرمه اهل کتابو يو بل ته کارول، نو قران همدې اصطلاحاتو ته په خپله غېږ کې ځای ور کړی او په هغو مواردو کې يې ياد کړي چې ورته اړتيا وه.

د ابراهيمي دين پيروانو هغو کسانو ته مشرکين ويل چې بتانو ته يې عقيده در لوده. د رسول الله ص تر راتلو وروسته چې دې کسانو خپله تګلاره پسې واخيسته او د رسول دعوت ته يې مثبت ځواب ور نه کړ، نو قران هم د تېرو احنافو (د ابراهيمي دين پيروان) اصطلاح ورته وکاروله

(c) ketabton.com: The Digital Library



او دا يوازي په هغه صورت کې له شرعي اړخه د استعمال جواز لري چې پر خلکو اتمام حجت وشي. قران پاك د سورت غافر په (۸۳، ۸۴، ۸۵) نمبر اياتونو کې دا اصل روښانه کړی چې د رسول تر اتمام حجت وروسته يو څوك مشرك او كافر بلل كېږي او د عذاب مستحق دی.

له دې پرته د نورو لپاره د دې الفاظو کارونه نه د دين له مخې جواز لري، نه عقل او فطرت دا مني چې د يو انسان له قانع کولو، پوښتنو ته د سم ځواب له ويلو او شکونو له رفعه کولو پرته دي هغه كافر، مشرك او د اخروي عذاب مستحق وبلل شي.

قران يوازې خاص قوم مشركين بللي. د اهل کتابو لپاره يې د منکر (کافر) اصطلاح کار کړې، مګر غالبن مشرك يې يوازې مکيانو ته ويلي. ځکه د هغه ځای احنافو دا لفظ د قران تر نزول مخکې هم د بتانو پيروانو ته کاراوه او وړاندې لا يوه اصطلاح وه. همدې ته په کتو قران هم د هغوی لپاره د مشرك الفاظ کارول او له دې پرته يې نورو ته مشرکين نه ويل.

له رسولانو څخه د مخالفت ځانګړې ترټنې هر قوم ته ورکول شوې. اهل کتابو ته د همدې مخالفت لپاره ځانګړی دا حکم نازل شوی چې که يې د الله او رسول سره مخالفت ته دوام ورکړ او له دينه يې مخ واړاوه، نو جزيه دې پر ولګوله شي. دا حکم يوازې د رسول تر ژونده و، ځکه دا سرزنش و او يوازې هغه اهل کتاب يې وړ ول چې اتمام حجت پر شوی وو. قومونو ته د سرزنش دا امرونه يوازې تر هغه وخته خاص وي او لامل يې هر ځای له نصوصو ښکاري چې د رسول مخالفت او مقابله وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په نړۍ کې یوازې یهود او نصارا د اسماني دین او کتاب دعوه نه لري، بلکې نور قومونه هم شته چې د اسماني دین او کتاب دعوه کوي. یوازې دا دعوه هم نه ده بلکې له اسلام، یهودیت او عیسویت سره مشترك ټکي هم لري، مثلن: د الله وجود، وحدانیت، قیامت، د شرك حرمت، د رسولانو راتګ، د خدای پیغام او داسې نور.

که مشرك د مکیانو اصطلاح نه کړو او اهل کتاب هم د هغوی خپله اصطلاح ونه ګڼو، نو یو شمېر سختې پوښتنې را پورته کېږي. لکه: له عیسایانو او یهودو ماسیوا نور څوك اهل کتاب دي؟ ایا د صابي مذهب پیروان اهل کتاب دي؟ مجوسیان اهل کتاب دي؟ په داسې حال کې چې قران وایي هر امت ته مو رسول لېږلی.(النحل: ۳۶) که هر امت ته رسول لېږل شوی وي، نو ښایي ځینې نور اهل مذاهب هم دغه دعوه وکړي چې موږ هم اهل کتاب یو او کتاب مو اسماني دی. مکیان د ابراهیمي دین پیران ګڼل کېدل، دوی هم دا دعوه کوله. پر ابراهیم علیه السلام صحیفې نازلې شوې، نو مکیانو هم اهل کتاب دي، ولې په دې نوم نه دي یاد شوي او د نکاح جواز یې ولې نه دی ور کړی؟

امي یا امیان هم د عربو یوه اصطلاح وه چې اهل کتابو عربو ته دا نوم ور کړی و. د امي معنا ته که پام وکړو نو د قران له هغې معنا سره اړخ نه لګوي چې عرب یې امیان بللې. څکه امي، ام(مور) ته منسوب دی او هغه حالت ښیي چې د انسان هیڅ نه وي زده، معنا نالوستی. که په همدې معنا امي واخلو بیا خلو د عربو له حالت سره اړخ نه لګوي. څکه په عربو کې زرونه کسان وو چې لیك لوست یې کولای شوای او په خط پوهېدل. احادیث او د دوی د تاریخ کتابونه ټول د دې شاهدي ور کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو بيا امي څه معنا؟ امي د اهل کتابو له لوری عربو ته ويل کېدل او هدف يې دا وو چې موږ کتاب لرو، پرلپسې را ته نبيان راغلي او د دين تجديد مو شوی، مگر تاسو له دې څخه محروم ياست. عرب د ابراهيم عليه السلام په دين ول چې د اهل کتابو تر دين ډېر پخوانی او لرغونی دين و. تر دې وروسته نه بيا بل نبي ورته راغلی و او نه کوم کتاب. نو د اهل کتابو دا نوم ور سره لگېدی چې تاسو زموږ په نسبت اميان ياست. گواکې امي عربو ته يوازې د اهل کتابو په مقابل کې ويل کېدل، نه دا چې هغوی له کتاب، ليک لوست او نړۍ سره نااشنا ول.

غافل د لغت له مخې ناخبره ته وايي. قران څو ځايه عربو ته د غافلين لفظ استعمال کړی. يوه پوښتنه دا ده چې له څه شي غافل؟ خبره صافه ده چې له دينه غافل. مگر دا پوښتنه رامنځه ته کېږي چې عرب کله له دينه غافل ول؟ د ابراهيمي دين دعوه يې کوله. د لمانځه، حج، زکات او نورو عباداتو شاهدي يې خپله قران ور کړې نو بيا څنگه غافل ول؟

زما په اند عرب نسبي غافل دي. د اهل کتابو په شان يو شمېر نبيان او د تورات، انجيل او زبور په شان کتابونه نه دي ور ته راغلي او په خپله ژبه يې ځانگړی رسول نه در لود، له دې امله نو د نژدې اهل کتابو په پرتله غافل بلل شوي. که نه عربو هم دين در لود، هم يې خدای پېژندی او هم يې پر اخرت باور در لود. لکن له دې دين، عقيدې او اعمالو سره يې ځينې له ځانه جوړ شيان ور دننه کړې ول چې د اصلاح لپاره يې محمد رسول الله عليه السلام ورته راغی.

همدې ټکي ته د عربو هم ور پام و، ځکه به يې نو کله ناکله د اهل کتابو له علماؤ د يو شمېر مسلو په اړه پوښتني هم کولې. اهل کتابو دوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته هم د غافلین نوم ور کاوه او هم يې امیان بلل. دا هر څه يې له خپل ځان سره د پرتلې له امله ورته ویل. که نه عرب هم دینپاله وو او هم يې لیك و لوست زده وو. په مقابل کې يې قران کریم اهل کتاب اهل ذکر یاد کړي دي، ورته وایي: که تاسو نه پوهېدلئ، نو له اهل ذکر څخه پوښتنه وکړئ. (نحل: ۴۳، انبیاء: ۷)

قران د مکې لپاره د ام القری نوم غوره کړی دی. له دې نوم څخه ځینو کسانو دا فکر اخیستی چې په لومړي ځل د ځمکې غوړېدا له دې ځای څخه شروع شوې. ځینو بیا ویلي چې د ځمکې مرکز همدا مکه ښار دی او داسې نورې دعوې. خو که دې ته فکر وکړو چې مکه ولې قران ام القری بللې؟ دا په داسې حال کې چې له عربو ماسیوا د نورو دینونو پیروانو د الهي عبادت پر ځای کعبې ته مخ نه کاوه. نو په داسې حال کې د مکې ښار ته ام القری ویل له دې پرته بله توجیه نه لري چې دا د عربو یو لرغونی نوم و چې مکې ته يې کاروه او د تقدس په سترګه يې ورته کتل. قران چې د عربو په ژبه نازلېده نو لازمي خبره ده چې د هغوی اصطلاحاتو ته به يې پام کاوه او په هغه ژبه به نازلېده چې عربو ته شناخته او هره ورځ په هغه ژبه له یو بل سره ږغېدل.

عربو مکې ته دا نوم کاراوه او قران هم دا نوم ورته غوره کړی. نه قران دا دعوه کړې چې د ځمکې مرکز ده او نه يې ویلي چې د ځمکې خپرېدا له دې ځایه شوې. دا بېل موضوعات دي او قران یو دیني کتاب دی له دې موضوعاتو سره يې کار نه شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دعوت؛ څنګه، چاته او د چا دنده؟

دعوت هم عربي کليمه ده چې موږ پښتو کې ورته بلنه وايو. د قران کريم په استناد د نبيانو او رسولانو اصلي دنده الهي لارې ته د انسانيت رابلل وه. خو بشري هڅې تل نيمګړتياوې لري، له دې امله د نبيانو پيروانو کله ناکله کلي يا اصيل پيغام نه وي درک کړی او په جزي شيانو پوري دومره ومښلي چې اصلي پيغام پکې ورک شي.

که موږ د مسلمانانو تاريخ ته وګورو، يا د رسول الله ص په اړه ليکل شويو کتابونو ته پام وکړو، نو زما د پاس خبرې تاييد به تقريبن ډېر کسان را سره وکړي. موږ د رسول الله د ۲۳ کاله دعوت په اړه دومره کتابونه نه دي ليکلي، لکه د هغه د لس کلنې تحميلي جګړې په اړه چې ليکل شوي دي.

د دين او شريعت اساسي هدف دا نه وي چې خلک دښمنۍ ته وپاروي او ترمنځ يې د داسې اختلافاتو بسنټ کښېږدي چې د بشريت په زيان وي؛ ځکه دين د سوکالۍ او بشري ګټې لپاره نازل شوی دی، نو که هر څوک د بشر ضد کار ځنې اخلي يا هم نفرت، اختلاف او وژنو ته لار په جوړوي، دا کار يې د دين له اساسي پيغام سره ټکر دی، په دې سره هغه دين ته دومره زيان رسوي چې دښمن يې هم نه ورته رسوي.

د نبيانو او رسولانو د اصلي تګلارې امر امت ته هم شوی دی، قران کريم وايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



{وَلْتَكُنْ مِنْكُمْ أُمَّةٌ يَدْعُونَ إِلَى الْخَيْرِ وَيَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَأُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ} [آل عمران: ۱۰۴]

ژباړه: او ارو مرو دې له تاسو يوه ډله وي چې خير ته بلنه کوي، په معروف امر وکړي، له بدو منعه او همدا کسان بريالي دي.

د دعوت او بلنې لپاره هر مهال ته دا امر متوجې دی چې هيڅکله به له دې اړين کار څخه امت نه غافله کېږي، د نبيانو و رسولانو اصلي مسووليت هم دعوت و، له دې امله امت ته امر کېږي چې له تاسو دې هم ارو مرو يوه ډله وي چې دا اړين او له ارزښته ډک کار مخته يوسي.

د دعوت تګلاره او هغه کسان چې دعوت به ورته کېږي د قران په دې ايت کې ورته اشاره شوې:

{ادْعُ إِلَى سَبِيلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ وَجَادِلْهُمْ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعْلَمُ بِمَنْ ضَلَّ عَنْ سَبِيلِهِ وَهُوَ أَعْلَمُ بِالْمُهْتَدِينَ} [النحل: ۱۲۵]

ژباړه: ستا د رب لارې ته په حکمت، غوره نصيحت بلنه کوه او له دوی سره ډېر ښه ډول مجادله وکړه. بېشکه ستا رب پر هغه چا ښه علم لري چې دده لارې ګمراه دي او دی په هدايت شويو هم پوره علم لري.

په دې ځای کې معلومه شوه چې دعوت په ښه طريقه وي، حکمت دادی چې له وخت او چاپېريال سره مناسب انسان خپل دعوت وړاندې کړي، د مخاطب ذهنيت ته پام کول او د هغه وخت، ځای و فرهنګ حساسيتونه و غوښتې په نظر کې ساتل حکمت دی، دا د اسلامي دعوت تګلاره ده چې هر انسان به په خپل وخت کې ورته پام کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دعوت هغه چا ته کېږي چې منکر وي او ستا سره د دعوت په اړه اختلاف ولري، هغوی در سره بحث کوي، نه يې مني، حتا ممکن ستوغې خبرې وکړي، مګر د شريعت تګلاره داده چې تر ټولو په ښه طريقه به مجادله او بحث کېږي ددې لپاره چې دعوت اغېز وکړي لازمه ده چې د هغوی ستوغې خبرې وزغمل شي.

زموږ مسووليت د خدای پيغام د هغه تر مخلوقه رسول دي، هغه موږ امر کړي يو چې په ښو الفاظو او سمه طريقه يې ورسو څو خلک عقده وانخلي او دعوت په ښه سم ډول تر هغوی ورسيږي، د خدای په خپل مخلوق خوا بدېږي له دې امله امر کوي چې زما له بندګانو سره نرم چلند کوئ، مومن هم د خدای بنده دی او منکر هم، خدای يوه ډله په دې امر کړي چې زما پيغام هغوی ته ورسوه نور اضافه کاري به نه ور سره کېږي له دې امله اړينه ده چې زموږ د ناسم عمل په وجه د خدای بندګان د هغه له دين څخه لرې نه کړو؛ د حساب و کتاب مسله د خدای خپل کار دی چې موږ يې نه يو مکلف کړي، له دې امله هغه ويلي چې زه په تاسو او دوی دواړو علم لرم له هغوی سره د انکار حساب کوي او له موږ سره د دعوت په اړه.

پاته سوه يوه پوښتنه چې دعوت د چا دنده ده؟

دا پوښتنه ډېره مهمه ده او د قران دعوت بايد هغه څوک وکړي چې د قران له بيان شوي معيار سره سم وي. قران کريم وايي:

{ فَـاعْلَمْ أَنَّـهُ لَا إِلَـهَ إِلَّا اللَّهُ وَاسْـتَغْفِرْ لِـذَنْبِكَ وَلِلْمُـؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ}. [محمد: ۱۹]

ژباړه: نو پوه شه چې له الله پرته بل معبود نه شته او د خپلې او د نر و ښځينه مومنانو ګنا ته بخښنه غواړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بل ځای وايي:

{فَاسْأَلُوا أَهْلَ الذِّكْرِ إِنْ كُنْتُمْ لَا تَعْلَمُونَ} [النحل: ۳۴]

ژباړه: نو که تاسو نه پوهېدئ له پوهانو پوښتنه وکړئ.

د قران کريم له دې دوو اياتونو ثابته شوه چې دعوت د هغه چا کار دی چې په دين پوه وي، قران يې زده وي او د رسولانو مسووليت يې درك کړی وي. تر ايمان مخکې به علم لري، ځکه په ايمان که څوك پوه نه وي نو څه فايده ورته لري؟ تر استغفار مخکې به د هغه په اړه علم لري که نه ولې يې غواړي؟

دويم شی زړسوی، شفقت او مهرباني ده، که يو څوك له انسانيت سره مينه لري او خلکو ته احترام لري، نو هغه يې د ښېګڼې کار کوي. قران وايي:

{فَبِمَا رَحْمَةٍ مِنَ اللَّهِ لِنْتَ لَهُمْ وَلَوْ كُنْتَ فَظًّا غَلِيظَ الْقَلْبِ لَانْفَضُّوا مِنْ حَوْلِكَ فَاعْفُ عَنْهُمْ وَاسْتَغْفِرْ لَهُمْ وَشَاوِرْهُمْ فِي الْأَمْرِ}. [آل عمران: ۱۵۹]

ژباړه: د الهي رحمت له امله ته دوی ته نرم يې، که ته بد اخلاقه او سخت زړی وای، نو دوی به دې له شاوخوا تللي وای، دوی ته بخښنه کوه، استغفار ورته غواړه او په چارو کې مشوره ور سره کوه.

دعوت په مينه او مهرباني کيږي، که يوڅوك دعوت کوي، خو تر نرمښت سختي ډېره پکې کوي، نو د ګټې پر ځای به زيان ډېر وکړي. تر دې دعوت يې نه دعوت ښه دی، بايد لومړی د بلنې اسلامي تګلاره زده کړي وروسته دې کار ته ملاوتړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اجرت او مزدورۍ په مقابل کې به يې نه کوي، بلکې دا بـه خپـل انساني او وجداني وظيفه بولي او د انسانيت د خيـر و ګټـې لپـاره بـه د الهي رضا په نيت دا کار کوي. قران وايي:

{أَمْ تَسْأَلُهُمْ أَجْرًا فَهُمْ مِنْ مَغْرَمٍ مُثْقَلُونَ } [الطور: ۴۰، القلم: ۴۶]

ژباړه: او که ته له دوی د مزدوري غوښتنه کـوې چـې دوی تـه يـې زيان درووند تماميږي.

له دې ايت څخه معلوميږي چې رسول پر خپـل دعـوت لـه خلکـو اجرت نه اخيستی، له دې امله هغه څوک چې همدا دنده مخته وړي، د مزدورۍ هيله به نه کوي، که څوک ور سره مرسته کوي د هغـوی خپـل کار دی، مګر دوی به خپله دنده پوره کوي او د الهي رضا و بشريت د خير په نيت به دا کار په بشپړه وفاداري مخته وړي.

غوره اخلاق، زيات صبر، د خلکو د خطاګانو بخښل، ځان سـتړی کول، د انسانانو د چارو سمون ته پام کول او ځينې نور صفات دي چې مبلغين به يې په ځان کې لومړی پيدا کوي او بيا به خپله دا لويه وظيفـه پر غاړه اخلي.

۲۰۱۸/ ۱۱/ ۲۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د جنګ اسباب او شرایط

زه دلته د هر جنګ په اړه بحث نه کوم. هدف مې هغه جنګ دی چې ديني ايډيالوژيکه صبغه ولري. زموږ دين موږ تـه د جنګـي اقـدام اجازه نه ده راکړې، بلکې دلته د دين ټولې چارې سوله ييزې بلل شوې دي، د قران کريم هدايت دی:

{قَدْ جَاءَكُمْ مِنَ اللَّهِ نُورٌ وَكِتَابٌ مُبِينٌ () يَهْدِي بِهِ اللَّهُ مَـنِ اتَّبَـعَ رِضْوَانَهُ سُـبُلَ السَّـلَامِ وَيُخْـرِجُهُمْ مِـنَ الظُّلُـمَاتِ إِلَى النُّـورِ بِإِذْنِـهِ وَيَهْدِيهِمْ إِلَى صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ} [المائدة: ۱۵، ۱٦]

ژباړه: يقينن تاسو ته د الله له خوا نـور او څرګنـد کتـاب راغلـی دی چې په دې سره د الهي رضا پيروان د سـلامتيا لارو تـه هـدايتوي او پـه خپله خوښه يې له تيارو د رڼا لور ته بيايي او دی هغوی نېغې لارې تـه برابروي.

قران دلته د دين او شريعت ټولو لارو ته چې يـو مسـلمان عمـل پـه کوي او الله ورته هدايت کړی وي، د سـلامتيا لارې ووپـل، تـر دومـره وضاحت وروسته هيڅوک نه شي کـولای چې جنګ د ديـن اسـاسي غوښتنه معرفي کړي، بلکې جنګ د انسان په ژوند کې يوه بـده پديـده ده چې کله ناکله په عارضي ډول پيښېږي. قران د جنګ لپـاره دا اصـل بيان کړی دی:

وَقَـاتِلُوا فِي سَـبِيلِ اللَّهِ الَّـذِينَ يُقَـاتِلُونَكُمْ وَلَا تَعْتَـدُوا ۚ إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِينَ (البقره: ۱۹۰)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: او د الله په لار کې له هغو سره وجګېږئ چې لـه تاسـو سره جنګ کوي او تيرى مه کوئ بېشکه الله تېريګر نه خوښوي.

دا د جنګ په اړه عمومي اصل دى، له جنګ سره تړلي نصوص بـه ټول پر همدې اصل تلل کېږي او د دغه اصل پـه رڼـا کـې بـه تعبيـر او تفسيرېږي. ځکه د قران ځينې احکام محکم دي چې يو قاطع او باوري قانون بيانوي څو د شک او شبهې ځای پکـې پاتـه نـه شي لکـه همـدا ايت، نور بيا د همدې فرعې دي چې اصـل تـه پـه ردېـدا سـم واضـح مفهوم ور کوي.

په لوړو دوو اياتونو کې دوه واضح پيغامونه بيان شول، يو د اسلام د سوله ييزتيا په اړه دى او بل د جنګ قانون دى چې موږ به تيرى نه کوو ځکه الله تېريګر نه خوښوي، دينپالان يوازې له ځانه د دفاع حق لـري. د وژلو يا جنګ په اړه چې هر څومره اياتونه راغلي د همدې پاس ايت په رڼا کې داسې تعبير و تفسير ترې را وزي چې نه له عقل سره ټکر دى او نه له قران سره، له دې املـه بايـد دا اصـل پـه پـام کـې وسـاتل شي. عمومي پيغام سوله او د بشريت ګټه ده اسلام د همدې لپاره راغلى دى او د همدې لپاره بايد ترې کار واخيستل شي که اړتيـا شـوه لـه ځـان د دفاع حق هر انسان لري.

يعنې په شريعت کې انکار يا کفر د جنګ سبب نه دى، بلکې سبب يې پر نورو تېرى دى، مسلمان هغه وخت جنګ پيلوي چې بـل تيـرى پر وکړي.

اما د همدې جنګ لپاره بيا شرايط هم شته چې قران يـا سـنت کـې ذکر شوي دي، مثلن: دومره وس به لري چې دښمن ترې سترګه وکړي، لکه {وَأَعِدُّوا لَهُمْ مَا اسْتَطَعْتُمْ مِنْ قُوَّةٍ وَمِنْ رِبَاطِ الْخَيْلِ تُرْهِبُونَ بِـهِ عَـدُوَّ

(c) ketabton.com: The Digital Library



اللَّهِ وَعَدُوَّكُمْ} [الأنفال: ٦٠]کې چې د همدې خبرې یادونه شوې ده. یو امیر به وي، لکه چې رسول الله ص په خپل وخت کې یوازینی امیر و، خپلواکه سرپنا به لري، لکه مدینه چې د رسول الله او اصحابو وه. که نامسلمان هم په دې جنګ کې داخلیږي نو باید د یوه تعهد او تړون له مخې وي، لکه رسول الله ص چې د مدینې له یهودو سره د میثاق مدینه په نوم د سیاسي ائتلاف یو تړون کړی و. د جنګ په اړه به د سیمې له مسلمانانو او اوسېدونکو سره سلا و مشوره شوې وي او د هغوی په غوښتنه به دا کار کیږي (الشوری: ۳۸) همداشان به یې مسلمانانو ته ګټه رسیږي نه دا چې تر بدو یې بدتر کړي، که په یوه جنګ کې دا شرایط پوره شي او اسباب یې هماغه وي چې موږ لوړ بیان کړل، نو بیا جنګ جواز لري، که نه هسې بانې د جنګ مجوز نه دي چې د خلکو ارام ژوند ور تنګ کړي او تر بدو بدتر ور په برخه کړي.

۲۴ /۱۱/۲۰۱۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



## عمومیت او خصوصیت

هغه احکام چې د وخت، مکان او ټولنې غوښتنې يې د تغيير تقاضا نه کوي هغه همداسې عمومي پاتېږي. ديني احکام د عمومي احکامو په کټګورۍ کې راځي. مثلن: پر خدای ایمان راوړل یا ټول نبیان حق بلل، پر اخرت باور در لودل یا هم تر مرګ وروسته پر حساب و کتاب ایمان راوړل، د قطعي اوامرو او نواهي ليست، د لمانځنې برخه، نه د وخت له غوښتنو سره ټکر راوړي نه مکان د دې د تغيير تقاضا کوي او نه هيڅ کلتور و فرهنګ دې ته بدلون ور کوي.

دا ديني برخه ده او د دين لارښوونې عمومي وي، په اسماني اديانو کې يوه لويه برخه احکام هغه دي چې د انسانانو له ژوند او ورځنيو مسايلو سره تړلي وي. دا د شريعت برخه ده چې هر وخت يې د بدلېدا، تغييرېدا او بيخي ختمېدا احتمال وجود لري او خپله شرعي احکام همدا معنا لري چې لنډمهالي او خصوصي وي، يعنې په يوه زمانه کې کار ور کوي خو بله زمانه کې خلکو ته سختېږي، يو مکان يې د ادايني لپاره مناسب وي، بل کې بيا نه کېږي او يوه ټولنه يې غواړي، خو بله ټولنه بيا د بل ډول احکامو غوښتونکې وي.

د عموميت او خصوصيت په موضوع پوهېدل له موږ سره د زياتو مشکلاتو په حل کې مرسته کوي. نړۍ بدلېږي او غوښتنې له بدلېدا سره زياتېږي هم؛ په دې صورت کې موږ ته په کار ده چې اسماني احکام پر دوو برخو تقسيم کړو. دين او شريعت، لکه څنګه چې قران کريم

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېل یاد کړي موږ یې هم سره بېل کړو او تر منځ یې د بېلوالي واضحې کرښې وکاږو.

د خصوص په برخه کې ځینې احکام یوازې د انبیاؤ ځانګړنه وي، ځینې د ټولنې برخه وي، ځینې کلتوري بڼه لري، ځینې یوازې په یوه زمانه او خاص ځای کې را مطرح کېږي او داسې هم شته چې د ټولنو پرمختګ او د ټیکنالوجۍ را پیدا کېدا له کاره اچولي دي.

که موږ د دې احکامو په اړه فکر وکړو نو ژوندي مثالونه به یې پیدا کړو. دلته به موږ ته د ځینو ایاتونو تفسیر او پرې پوهېدا هم اسانه شي لکه د دین د تکمیل موضوع چې قران یاده کړې ده، خو شریعت یې نه دی یاد کړی. هغه استدلال چې د نړۍ د هر وخت هر ډول مسایل په قران کې شته او حل یې هم وړاندې کړی، ناسم فکر دی، نن زمانه کې په هیڅ صورت د تطبیق وړ نه دی او خلک یو ډول شکمن هم شي، که موږ د احکامو دا توپیر بیان کړو خپله دا مشکلات حلېږي.

یو بل مهم ټکی دا هم دی چې ټولنه مو بیا د هر ډول تحول او تغییر لپاره ذهنن چمتو وي، د دین په نوم به د پرمختګ خنډ نه جوړېږي او د هر پر مختګ مخه به له دین سره د ټکر په نوم نه نیسي. که زوړ تعبیر موږ سم ونیسو او د تعمیل کوښښ یې وکړو، نو یو لور ته خو هیڅ امکان نه لري؛ ځکه ځمکني شرایط هیڅ ورته جوړ نه دي او دویمه نکته داده چې د ګټې پر ځای زیان لري. اسلامي نړۍ د همدې زاړه تعبیر له امله په مشکلاتو کې را ګېر ده. زاړه تعبیرونه باید نه وي، هر وخت او مکان نوی لوښی دی چې نوې غوښتنې یې نوي احکام غواړي او دا یوه دنیوي چاره ده چې تر ډېره له اسماني احکامو سره تړاو هم نه لري، نو د دې لپاره لازمه ده چې نوي قوانین جوړي شي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه قوانين د خـداى د احكـامو مقابـل ونـه بلـل شي، ځکـه د خـداى احكام د يوه شي په اړه دي او دا د بل شي، هغه تر يوه خاصـه وختـه، مكانه او ټولنې ځانګړي دي او دا د بل وخت، ځاى او ټـولنې غوښـتنه ده، هغه له ثواب و عذاب سره تړلي مسايل دي چـې يـوازې دينـي يـا شرعي صبغه لري خو دا د دنيا مسايل دي چې ثـواب و عـذاب ور سره كار نه لري.

له لويه سره دا دوه بېل موضوعات دي چې بايد تفکيک يې وشي، نه دې د قانون په جوړولو مسلمانان كافران ګڼل كېږي، ځكـه د وخـت غوښتنه ده او نه دې د دنيوي مسلو هرې برخې ته شرعي و ديني احكام ور ننباسي، چې په لوى لاس خپل ځانونه او نور انسـانان پـه مشـكلاتو اخته كړي.

دينونه يا شرايع د انسانيت د ګټې لپاره دي، كه يوه تعبير ګټه نه كوله انسانان يې بايد په هر وخت كې تبديل كړي، ځكه د شريعت يا دين له عمومي اساسي پيغام سره سمون نه لري او تغيير يې حتمي دى، دا مهم اصل دى چې په هر وخت كې د تطبيق وړ دى او په قران و سنت كې د دې لپاره خورا زيات دلايل هم وجود لري.

د دې مسلې په اړه زه د دين او شريعت توپير تر سرليک لاندې هم ږغېدلى يم چې هلته يې دلايل او مثالونه هم كتلاى شئ او هم د پيغـام د لومړي ټوک په دغه «پر شرعي تعبيـر د زمـان، مكـان او كلتـور اغېـز» مقاله كې له مثالونو سره بحث پر شوى دى.

۲۰۱۸/ ۱۱/ ۲۶

(c) ketabton.com: The Digital Library



## له شرعي متنه د اجتهاد حق څوک لري؟

په دې برخه کې څو ټکي اړین دی چې لومړی پکې د اجتهاد تعریف دی، تر هغو وروسته چې اجتهاد وپېژندل شي، بیا یې پر دې اړخ رڼا باید ولوېږي چې څوک د اجتهاد حق لري او ولې یې لري؟ ایا اوس هم لکه د تېر وخت د مسائلو د حل لپاره د یوه مجتهد اجتهاد کفایت کوي او که په دې اړه باید زړه تګلاره تبدیل شي، تر دې ښه بدیلونه ورته وموندل شي، چې هغه د یوې کمېټې له لارې مسائلو ته ځواب ویل دي، چې نن په ډېر ښه ډول دا کار ممکن هم دی؟ لومړی یې تعریف ته راځم:

الإجتهاد فِي اللُّغَة مَأْخُوذ من الْجهد بِفَتْح الْجِيم وَضمّهَا وَهُوَ الْمَشَقَّة والإجتهاد والتجاهد بذل الوسع والمجهود والتجاهد بذل الوسع كالإجتهاد وعَلى هَذَا يُقَال اجْتهد فِي الْأَمر أَي بذل وَسعه وطاقته فِي طلبه ليبلغ إِلَى نهايته سَوَاء كَانَ هَذَا الْأَمر من الْأُمُور الحسية كالمشي وَالْعَمَل أَو الْأُمُور المعنوية كاستخراج حكم أَو نظرية عقلية أَو شَرْعِيَّة أَو لغوية فَيُقَال بذل طاقته ووسعه فِي تَحْقِيق أَمر من الْأُمُور الَّتِي تَسْتَلْزِم كلفة أَو مشقة فَقَط وَلَا يُقَال اجْتهد فِي حمل قلم أَو كِتَابَة سطر أَو سطور عَمَّا لَيْسَ فِيهِ مشقة.(۱)

ژباړه: اجتهاد په لغت کې له جهد نه اخیستل شوی دی چې د جیم په زور یا پېښ مشقت ته وایي، اجتهاد او تجاهد د وس او هغه څه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په وس یې پوره وي کارول دي، تجاهد هم لکه اجتهاد د وس کارول دي، له دې امله ویل کېږي چې (اجتهد في الأمر) یعنې خپل وس او توان یې د هغه په طلب کې مصرف کړ ځو یې وروستۍ پایلې ته ورسېږي دغه چاره که له حسي امورو سره اړه لري لکه تګ او کار یا له معنوي امورو سره تعلق ولري لکه د حکم او رایې استخراج هغه که عقلي وي، یا شرعي یا هم لغوي، نو پر همدې اساس ویل کېږي چې هغه خپل وس او توان د هغې چارې په را برسیرولو کې ولګاوه چې تکلیف او مشقت ورته حتمي و، یوازې په همدې برخه کې، داسې نه ویل کېږي د قلم په وړلو، یا یوې لیکې یا څو لیکو په لیکلو کې چې اصلن مشقت نه لري، خپل وس مصرف کړ.

الإجتهاد هُوَ استفراغ الوسع وبذل المجهود فِي طلب الحكم الشَّرْعِيّ عقليا كَانَ أَو نقليا قَطْعِيا كَانَ أَو ظنيا على وَجه يحس من النَّفس الْعَجز عَن الْمَزِيد عَلَيْهِ. (۲)

ژباړه: اجتهاد معنا په خپل ټول توان د یوه معقول شرعي حکم چې که قطعي وي یا ظني، را ایستل دي، ان پر دې حکم د زیاتوب توان به په ځان کې نه ویني.

اجتهاد په لغوي معنا کې هم د خپل وس کارونې ته ویل کېږي او اصطلاح کې هم د لغوي معنا په رعایتولو کمې زیاتونې پر شوې دي، له دې ښکاري چې څوک په دې لار کې د وس کارونې توان نه لري، لکه هغه څوک چې په عربي ژبه نه پوهېږي، هغه څوک چې شرعي متونو په معنا نه پوهېږي، هغه څوک چې د شریعت مقاصد، مفاهیم او موخې نه شي تشخیصولای او په دې لار کې نور هغه اړین ټکي چې د وس له کارونې سره په یو ډول نه یو ډول تعلق پیدا کوي، هغوی له لویه

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره د اجتهاد کولو ظرفيت نه لري، په ناحقه دې د خلکو وخت نـه ور ضايع کوي او نه دې په ناحقه فتواؤ خلک کمراهی ته ټېله کـوي چـې هم ځانونه په خراب کړي او هم د نورو دنيا و اخرت ور تبا کړي.

حَقِيقَة الإجتهاد على مَا يفهم من كَلَام الْعلمَاء استفراغ الْجهـد فِي إِدْرَاك الْأَحْكَام الشَّرْعِيَّة الفرعية من أدلتها التفصيلية. (۳)

ژباړه: د اجتهاد حقيقت د علـماؤ لـه وينـاؤ داسـې فهمېږي چـې د شريعت له تفصيلي دلايلو د يوې شرعـي فرعـي مسـلې د ادراک لپـاره خپل ټول توان مصرفول دي.

والاجْتِهادُ: بَذْلُ الوُسْعِ فِي بُلُوغِ الغَرَضِ. (۴)

ژباړه: هدف ته په رسېدو کې له ټوله توانه کار اخيستل اجتهاد دی.

تر دې ځايه د اجتهاد پر تعريف خبره وه، زما په اند اوس به واضحه شوې وي چې اجتهاد د لغت او اصطلاح له مخې پوهان څه ته کاروي؟ تر دې وروسته بحث بايد پر دې وکړو چې مجتهد څوک کېدلای شي؟ د دې لپاره کوم شرايط شته؟ که وي هغه په عقلي او نقلي تـول څـومره پوره دي؟ راځو همدې بحث ته:

د اجتهاد لپاره هغه اړين شرايط چـې فقهـاؤ ورتـه تعين کـړي دي، ځينو يې زيات ښودلي او نورو کم، د ځينو شرايطو يادونه بـه يـې دلتـه وکړم:

إِن شُرُوط الإجتهاد الَّتِي قررها الأصوليون فِيهَا بعض الِاخْتِلَاف من حَيْثُ الزِّيَادَة وَالنُّقْصَان وَيُمكـن لنـا أَن نقسـم هَـذِه الشُّرُوط قسمَيْنِ حَتَّى يحتويـا كـل مَـا ذكـر فِيهَـا بالإيجـاز الْقسـم الأول الشُّرُوط الْعَامَّة شُرُوط التَّكْلِيف وَهِي ١ الْإِسْلَام ٢ الْبلُوغ ٣ الْعقـل

(c) ketabton.com: The Digital Library



الْقسم الثَّانِي الشُّرُوط التأهيلية وَهِي تتنوع إِلَى نَوْعَيْنِ الأول الشُّرُوط الأساسية وَهِي ١ معرفَة الْكتاب ٢ معرفَة السّنة ٣ معرفَة اللُّغَة ٤ معرفَة أصُول الْفِقْه ٥ معرفَة مَوَاضِع الْإِجْمَاع الثَّانِي الشُّرُوط التكميلية وَهِي ١ معرفَة الْبَرَاءَة الْأَصْلِيَّة ٢ معرفَة مَقَاصِد الشَّرِيعَة٣ - معرفَة الْقَوَاعِد الْكُلية ٤ معرفَة مَوَاضِع الْخلاف ٥ الْعلم بِالْعرْفِ الْجَارِي فِي الْبَلَد ٦ معرفَة الْمنطق ٧ عَدَالَة الْمُجْتَهد وصلاحه ٨ حسن الطَّرِيقَة وسلامة المسلك ٩ الْوَرع والعفة ١٠ رصانة الْفِكر وجودة الملاحظة ١١ الإفتقار إِلَى الله تَعَالَى والتوجه إِلَيْهِ بِالدُّعَاءِ ١٢ ثقته بِنَفسِهِ وَشَهَادَة النَّاس لَهُ بالأهلية ١٣ مُوَافقَة عمله مُقْتَضى قَوْله. (٥)

ژباړه: د اجتهاد هغه شرطونه چې اصولینو مقرر کړي، د زیاتوب او کمي له اړخه یو څه اختلاف پکې شته، شوني ده چې موږ یې دوو کټګوریو ته تقسیم کړو، څو دواړه برخو کې هغه څه په لنډ ډول راونغاړل شي چې په اړه یې ویل شوي، لومړی ډول یې عام شرطونه دي د تکلیف یا مکلفیت شرطونه بلل کیږي، لکه: ۱- اسلام، ۲- بلوغ، ۳- عقل، دویم قسم شرطونه یې د اجتهاد د اهل جوړنې دي چې دا بیا هم دوه ډوله لري، لومړی ډول یې اساسي شرطونه دي، لکه: ۱- د قران کریم معرفت، ۲- د سنتو معرفت، ۳- د عربي ژبې معرفت، ۴- د فقهي اصولو پېژندګلوي، ۵- د هغو مسائلو پېژندنه چې اجماع پر شوې وي، دویم ډول شرطونه د لومړي بشپړونکي دي، لکه: ۱- د براءت ذمه معرفت، ۲- د شریعت د مقاصدو پېژندنه، ۳- د کلي قواعدو پېژندنه، ۴-

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اختلافي ځایونو معرفت، ۵- په ښار کې د شته عرف په اړه پوهاوی، ٦- د منطق (فن) معرفت، ۷- د مجتهد عدالت او غوراوی، ۸- غوره طریقه او بهتر مسلك، ۹- تقوا او پاك لمني، ۱۰- پیاوړی فکر او دقت نظر، ۱۱- الله تعالی ته اړتیا احساسول او هغه ته دعا کول، ۱۲- پر خپل ځان باور او پر اجتهادي وړتیا یې د خلکو شاهدي، ۱۳- عمل یې باید د وینا د غوښتنې پر اساس وي.

په دې شرایطو کې که غور وشي، بیخي پر ځای شرایط او د عقل و نقل له مخې ډېر مهم هم دي. اسلام، بلوغ او عقل خو د مکلفیت دورې ته لا اړین دي، نو اجتهاد ته خو تر لمر روښانه ده چې ضروري دي، د قران کریم، سنتو، عربي ژبې او فقهي اصولو پېژندنه ځکه اړینه ده چې له دې پرته اجتهاد ممکن نه دی، هغه مسایل چې اجماع پر شوې وي؛ ځکه باید وپېژندل شي چې څوك اجماع حجت بولي لکه اهل سنت والجماعت نو د اجماع له مخالفته به ځان وساتي له دې امله باید د اهل سنت والجماعت مجتهد دغه موارد وپېژني، براءت ذمه باید ځکه وپېژني چې له دې سره د احکامو تعلق دی، د شریعت مقاصد باید مجتهد ته معلوم وي، که داسې ونه کړي، نو په خپل اجتهاد کې به سترې غلطۍ وکړي چې د شریعت عمومي روح ته به زیان ورسوي، کلي قواعد باید وپېژندل شي چې په جزئیاتو کې د هغو حق تر پښو لاندې نه شي، اختلافي او نااختلافي ځایونه باید ورته معلوم وي، په هغه ځای کې شوی اجتهاد باید وپېژني، که اړتیا شوه خپله هم د اجتهاد لار غوره کړي، که د اختلاف ځای درك نه شي کړای، نو د اجتهاد درجې ته هم نه رسېږي، د هیواد او ښار عرف ډېر مهم دی، د ځینو شرعي مسلو لوری او مسیر همدا کلتور او عرف ټاکي، له دې امله

(c) ketabton.com: The Digital Library



باید د خپل ښار او هیواد له عرف سره بلـدتیا ولـري، د منطـق علـم یـو مهال ډېر اړین بلل کېده، ځکه یې د مجتهد په شرایطو کې راوړی البته له هغو کتابونو پرته چې د دغـه فـن اصـطلاحات یـې پـه خـلاص مـټ راوړي که د هغو پوهاوي ته اړین وبلل شي ، خو سهي ده؛ امـا لـه دې پرته فکر نه کوم چې د یوه مجتهد لپاره دې هماغه پخواني منطق اړین وي، د دې پر ځای اوسنی فلسفه، تـاریخ، ټولنپوهنـه او ځینـې جدیـد علوم که لازمي شي، ښه به وي. مجتهد باید عادل او نیکـ انسـان وي، که داسې نه وي په اجتهاد کې ممکن له انصاف او حق څرګنـدولو ډډه وکړي، خلکو ته د خیر او خواخوږی له مخې به له انصافه ډکه تګـلاره او د غوره مسلکـ بنسټ ږدي، تقوا او عفت د خلکو د باور لپاره اړین دي او هم د هغه دیانت لپاره، که څوکـ تقوا ونه لري، هغـه ممکـن پـه لوی لاس د شریعت مسایل په خپلو ناسمو اجتهادونو د ریخشند کړي، ځکه باید مجتهد تقوا ولري او هم عفت، د ښه او تېز فکر خاوند وي، که روغ فکر او ژور لید ونـه لـري، د مسـایلو عمـق تـه نـه شي متـوجې کېدلای، له دې املـه بایـد دقـت نظـر ولـري او د مسـایلو ګـڼ اړخونـه ورڅخه پټ پاته نه شي، الله تعالی ته اړتیا احساسول انسان لـه تکـبر او بې ځایه غرور څخه ساتي، که څوکـ متکبر وي، هغه ته ممکن د خپل ځان او د هغه د اجتهاد په نسبت نورو علـماء او د هغـوی هڅـې کمـې وبریښي او هیڅ وخت له خپلې ناسمې خبرې د پر شا کېـدلو تابیـا ونـه لري، غرور او تکبر انسان پر خپل مسلکـ او خپل دریـځ کـه څـه هـم ناسم وي، درېدلو او ثابت قدمی ته هڅوي چې د یوه مجتهد لـه شـان سره نه ښایي، پر ځان باور په هر شي کې اړیـن دی، کـه یـو څـوکـ د کمتری په احساس اخته وي، هغه بیا دومره ستر کار ته اوږه هم نه شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ور کولای، نو لومړی باید مجتهد ډاډه شي چې زه د دې کار اهل یم او سر ترې ایستلای شي، له دې سره د هغه کار ته په کتو باید خلك هـم ډاډ ور کړي، د مسایلو په حل کې رجوع ورته وکړي او دا شـاهدي ور کړي چې هغه په خپلو هڅو د هغوی ستونزو ته ځواب ویلای شي، څو د هغه حوصله زیاته شي، د خپل کار پر اهمیت ډاډه شي او عملن یـې ووینې چې ټولنې ته یې ګټه رسېږي، که د عمل او ینا ترمنځ تضاد پیدا شي، بیا د خلکو باور هم کمېږي او دا کار یې له تقوا سره هم ټکر دی، قران کریم دا خبره واضحه کړې ده چې په خپله وینا عمل نه کول د الله په نزد لویه ګنا ده، نو که مجتهد خپله دا کـار کـوي، هغـه نـه یـوازې د خلکو باور ته زیان رسوي؛ بلکې د تقـوا او پرهیزګـارۍ لـه لیسـته وزي چې د یوه مجتهد په توګه به په ټولنه کې ځای ونه لري.

اجتهاد ولې باید وشي؟ په ټولنه کې څه وخت اجتهاد ته اړتیـا پیـدا کېږي او که ونه شي نو څه به پېښ شي؟

د اجتهاد د اهمیت په اړه پوهان وایي:

إِن الإجتهاد فِي الْإِسْلَام أقوى دَلِيل على أَن ديننَـا الحنيـف هُـوَ الـدّين الشَّـامِل الخالـد الوحيـد الَّـذِي يُسَـايِر ركـب الحضـارة الإنسانية عبر العصور والأجيال ويرحـب بِكُـل التغـيرات الطارئـة والمشاكل الناجمة مـن تجـدّد الظـروف والمصـالح عـلى اخْـتِلَاف المجتمعـات الإنسـانية فِي مَشَـارِق الأَرْض وَمَغَارِبهَـا ويعـرض لَهَـا حلولا مُنَاسِـبَة فِي ضـوء الْأَحْكَـام الْكُليـة وَالْأُصُـول الثَّابِتَـة مـن الْكتاب وَالسّنة. (٦)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: په اسلامي دین کې اجتهاد هغه پیاوړی دلیل دی چې زموږ حنیف دین هر زمان ته شامل او یوازینی هغه تل پاتی دین ښیي چې د انساني تمدن له کاروان سره يې په هره زمانه او هر نسل کې هممهالـه سفر کړی دی، هر ډول ناځاپي تغیراتو او د حالاتو له نوي کېدا یـا هـم په ختیځ و لویدیځ کې د انساني ټولنو د اختلاف لـه امله چې کـومې ستونزې رادبره کېږي، هغو ټولو ته هرکلی وایي او د کلي احکامو او لـه کتاب و سنت څخه د ثابتو اصولو په رڼا کې مناسب حل ورته وړانـدې کوي.

یاد کتاب لیکي:

إِن مسَائِل الْعَصْر تتجـد ووقـائع الْوُجُـود لَا تَنْحَصِر ونصـوص الْكتـاب وَالسّـنة محصـورة محـدودة فَكَـانَ الإجتهـاد فِي الْأُمُـور المستحدثة حَاجَة إسلامية ملحة لمسايرة ركـب الْحَيَـاة الإنسـانية تَلْبِيَة لهَذِهِ الْحَاجة قد قَامَ الصَّحَابَة رَضِي الله عَـنْهُم وَمـن بعـدهمْ من التَّابِعين وأتباعهم وأئمـة الْإِسْلَام وفقهـاء الْأمـة بالإجتهـاد فِي الْمسَائِل المسـتجدة فِي عصـورهم وَصَـارَ الإجتهـاد منحـة ربانيـة مستمرة يتمتع بهَا الْمُسلمُونَ بجهود الْمُجْتَهـدين الْأَكفـاء فِي كـل زمَان وَمَكَان وَلم تكن خَاصَّة بعصر دون عصر وبمصر دون مصر حَتَّى يفهم ونعوذ بِاللَّه تَعَالَى أَن رَحْمَة الله عز وَجل صَـارَت عقيمـة بعد ذَلِك وانقطعت عَن الْعلمَاء الْمُتَأَخِّرين المتـأهلين وَلَا شـكّ أَن هَـذَا الإعتقـاد بإنتهـاء الإجتهـاد والمجتهـدين تحجـر رَحْمَـة الله الواسعة وَحكم على قدره وقضائه بِدُونِ علم يشـبه بصـيحة فِي وَاد

(c) ketabton.com: The Digital Library



وَنفخ فِي رماد أَمَام قَول الله عز وَجل {وَآخَرين مِنْهُم لما يلْحقُوا بهم وَهُوَ الْعَزِيز الْحَكِيم ذَلِك فضل الله يؤتيه من يَشَاء وَالله ذُو الْفضل الْعَظِيم} الْجُمُعَة: ٣٢.

ژباړه: د زماني مسلې نوې کېږي او د پېښو وجود معلوم تعداد نه لري، د قران کريم او احاديثو نصوص محصور او محدود دي، نو په نوې چارو کې اجتهاد يوه اړينه اسلامي اړتيا وه چې د انساني ژوند قافله ورسره روانه پاتې شي، همدې اړتيا ته په کتو اصحابو رضي الله عنهم، تر دوی وروسته تابعينو، اتباع تابعينو، اسلامي امامانو او د امت فقهاؤ ټولو په خپلو وختونو کې د نويو مسايلو لپاره اجتهادونه کړي دي، اجتهاد يوه تل پاتې الهي لورينه ده چې مسلمانان په هره زمانه او مکان کې د وړ مجتهدينو له اجتهاده په استفادې ور نه ګټه واخلي، دا الهي پيرزوينه په يوه خاصه زمانه پسې ځانګړې نه ده او نه هم تر يوه خاص ښار پوري، چې بله زمانه او ښار کې به نه شي کېدلای، په دې کې شک نه شته چې د اجتهاد او مجتهدينو د ختم باور د پراخ الهي رحمت رابندول او د هغه پر قدر و فيصلې له علم پرته حکم دی چې د دې الهي قول په وړاندې په يوه دره کې د نارې يا هم ريګو ته د ور پوکلو حيثيت لري چې وايي: او له دوی پرته ځينې نور دي چې دوی نه دي ورسره مخ شوي، دی غالب د حکمت خاوند دی، دغه الهي پيرزوينه ده چې الله يې غواړي هغه ته يې ور کوي او الله د سترې پيرزوينې خاوند دی.

وَعَن أنس بن مَالك رَضِي الله عَنهُ أَن النَّبِي صلى الله عَلَيْهِ وَسلم قَالَ مثل أمتِي مثل الْمَطَر لَا يدرى أَوله خير أم آخِره، هَذَا

(c) ketabton.com: The Digital Library



وَلَا يسوغ لأحد أَن يَدعِي أَن الْأَئِمَّة الْمُجْتَهدين الْمُتَقَدِّمين استوعبوا كل مَا هُوَ كَائِن إِلَى يَوْم الْقِيَامَة لِأَن اسْتِيعَاب مَا كَانَ وَمَا يكون من صِفَات الله عز وَجل الَّتِي لَا يُشَارِكهُ فِيهَا أحد غَيره. (۷)

ژباړه: او له انس بن مالك رضي الله عنه څخه روايت دى چې رسول الله ﷺ وويل: زما د امت مثال د باران په شان دى چې د اول او اخير د خير په اړه يې څوك نه پوهېږي، له دې وجې بايد هيڅوك دا ادعا ونه کړي چې تېرو مجتهدينو تر قيامته ټولو پېښېدونکو مسايلو ته ځواب ور کړی؛ ځکه د تېرو او راتلونکو پېښو علمي احاطه له هغو الهي صفاتو څخه ده چې هيڅوك له الله تعالى سره په دې صفت کې شريك نه دي.

د پېښو په اړه هيڅوك حد نه شي ټاكلای چې دومره به وي، اما د شريعت متون په خاص شمېر او تعداد کې را محدود شوي دي، که د اجتهاد دروازه خلاصه نه شي، نو د مسايلو ځواب ويل به ګران شي، خلك به له ستونزو سره مخ شي، ژوند به ودرېږي او د بشري ټولنو له تېز او په لنډ وخت کې له تغيير منونکي کاروان څخه به دينپالان پاته شي، د وخت غوښتنو ته به ځواب نه شي ور کولای او بالاخره به بشر مجبور شي چې د دين کمبله ور ټوله کړي؛ د دې لپاره چې دين او شريعت پر خپل ځای پاته شي، خلکو ته د سرخوږي پر ځای د هغوی د ستونزو درمل شي، بايد د اجتهاد لار پرانيسې وي.

اجتهاد نن هم بايد لکه د پخوا په شان د يوه فرد کار او مسوولیت وي، که نن حالات داسې شوي دي چې دغې تګلارې ته بدلون ور کړل شي؟ د اجتهاد په اړه د يوه فرد هڅې ډېرې بريالى دي او که د يوې ډلې او کمېټې؟ زما په اند ډله هره وخته تر فرد مصؤنه وي، نو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



اجتهاد په اړه هم جمعي هڅې تر فردي هغو ګټورې دي، ځکه په فردي کې د خطا امکان زيات وي او جمعي هڅې که څه هم له خطا پاکې نه شي بلل کېدلای، اما نسبتن تر فردي هڅو ښې ګڼل کېدلای شي، همدې نکتې ته په يوه حديث کې هم اشاره شوې ده:

عَنْ أَبِي مُوسَى، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «الْمُؤْمِنُ لِلْمُؤْمِنِ كَالْبُنْيَانِ يَشُدُّ بَعْضُهُ بَعْضًا».(۸)

ژباړه: له ابو موسى الاشعري رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وويل: يو مومن د بل مومن لپاره ودانۍ حيثيت لري چې يوه برخه يې بله ټينګوي.

دا بيخي بهترين مثال دی، د يوه مجتهد کمزوري بل ورته په ګوته کوي او هغه ترې تېرېږي، که يوه خطا کړې وه بل يې ورته په ګوته کوي او هغه خپله خطا پرېږدي، د تېرو امامانو له خطاګانو سره وروسته مجتهدينو همداسې وکړل يا هم د هغوی د عصر فتواوې چې د دوی له عصر سره يې سمون نه درلود، علماؤ همداسې چلند ورسره وکړ، ځکه اجتهاد په غير منصوصې مسلو کې کېږي چې وخت ناوخته تغيير هم کوي او له يوې زمانې بلې ته د زيات تغيير امکان لري، حتا په يوه زمانه کې د ټولنو په تغيير دغه مسايل تغيير کوي چې ښه مثال يې د امام شافعي رحمه الله قديم او جديد مذهب دی چې اول يې په عراق او دويم يې په مصر کې پنځولی دی. په قديم مذهب کې هغه د يوه شي په اړه يو ډول نظر ورکړی دی او د جديد مذهب له مخې يې بل ډول حکم پر کړی دی، دا ځکه چې د ټولنې غوښتنې يې په نظر کې نيولې دي او د هغو تقاضا همدا وه چې حکم ته تغيير ورکړي. پوهان يې په اړه وايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



وأن الاجتهاد الجماعي يجعل الثقة أكبر في الأمور التي تم التوصل إليها في الفتاوى والأحكام، سواء في نفس المجتهد، أم في نفس القارئ، أو المستفتي. وذلك لأن رأي الجماعة أقرب إلى الصواب من رأي الفرد، مهما كان الفرد قد بلغ ونبغ في العلم، فعندما تجتمع العقول، وتلتقي الأفكار، ويكثر النقاش، قد تبرز أشياء لم يكن أحد ليحسب لها حساب، وقد تتغير الفتوى من أجل بعض المناقشات. (٩)

ژباړه: جمعي اجتهاد د هغو چارو د فتوا او احكامو په اړه چې پرېكړه پرې شوې وي ډېر زيات باور رامنځته كوي، دا باور كه د مجتهد په اړه وي، يا د لوستونكي يا هم د پوښتونكي. دا ځكه چې د يوې ډلې رايه د فرد تر رايې كه څه هم ډېر زيات علم يې كړى وي، حق ته نژدې وي؛ نو كله چې ګڼ عقلونه سره يوځاى شي، بېلابېل افكار سره كېوزي، مناقشه زياته شي، داسې څه را برسيره كيږي چې هيڅا به يې په اړه فكر لا نه وو كړى، او كله د ځينو مناقشو له امله فتوا ته تغيير ور كول كيږي.

كما أن التحديات والنوازل، وكثرة الأمور المستجدة، وظهور القضايا المعقدة في هذا الزمان، والتي تحتاج إلى شرح مفصل من أهل الاختصاص الثقات، والتي قد ينتج عنها تفرعات كثيرة جدا في القضية الواحدة، تؤكد ضرورة الاجتهاد الجماعي، ويتحتم على المجتهدين أن يجتمعوا ليقولوا كلمتهم الجماعية، التي تخدم مصلحة الإسلام، والتي تكون بعيدة عن أي مؤثرات خارجية.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ومما يزيد من أهمية الاجتهاد الجماعي في هذا العصر، وجود جماعات إسلامية كثيرة، وكثرت النزاعات حتى وصل الخلاف في بعض الأحيان، أن تختلف الجماعات في أصول الدين، وفي صلب العقيدة، فلا بد من وجود العلماء الكبار الذين تثق بهم الأمة ليفضوا هذا النزاع، ويعيدوا الأمة إلى الدين الحق الذي يريده الله ورسوله. (۱۰)

ژباړه: نن سبا چېلنجونه، پېښې، نوي امور او ډېرې پېچلې قضيې رامنځته کېږي چې د باوري متخصصو کسانو له لوري بايد په مفصل ډول تشريح شي، داسې قضيې چې ممکن د يوې قضيې ګڼ بعدونه را برسيره کړل شي چې دا نور هم د جمعي اجتهاد پر اړتيا ډېر ټينګار کوي، مجتهدينو ته په کار ده چې يوځای شي څو يې خبره د يوې ډلې شي چې د اسلامي مصلحت لپاره اړينه ده او همداشان به د جماعت دريځ له هر ډول خارجي اغېز څخه لرې ساتل شوی وي.

د ګڼو اسلامي ډلو او هغو اختلافاتو وجود چې ځينې وختونه دغه ډلې د دين او عقيدې په اصولو کې شخړو ته اړباسي، هم يې نن سبا د جمعي اجتهاد اهميت ډېر کړی دی؛ په دې وخت کې د داسې سترو عالمانو شتون حتمي دی چې امت پرې باور وکړي، هغوی دغه اختلاف ختم کړي او امت هغه حق دين ته را وګرځوي چې الله او د هغه رسول يې غواړي.

دا بيخي روښانه خبره ده چې د يوه کس په نسبت ډېر کسان ښه پرېکړه کولای شي، ځکه نو الله تعالی د دغه امت يو صفت د چارو په اړه د مشورې هم ياد کړی دی، شورا يې ډېر بهترين اصل دی، که د

(c) ketabton.com: The Digital Library



واک او قدرت په چارو کې مشوره اړینه وي، نو د علم او دین په اړه بیخي اړینه ده، ځکه دا مسایل پر اجتماعي او فردي ژوند اغېز لري، نو که ناسمه فتوا ور کړل شي، ممکن د خلکو ژوند ناحقه ډېر متاثر کړي، د دې لپاره اړینه ده چې د مسایلو په ور کړه کې له ډېر احتیاط څخه کار واخیستل شي چې تر یوه مجتهد دغه کار یوه ډله ډېر ښه کولای شي.

نن یوازې هغه مسایل هم نه دي چې صرف دیني بعد ولري، له دیني او شرعي بعد سره اقتصادي، طبي، سیاسي، نظامي، کلتوري، تاریخي، ټولنیز او داسې نور بعدونه هم لري، له دې امله یو کس دې ټولو بعدونو ته نه نظر کولای شي او نه دومره علم څوک لري چې پر دې ټولو ابعادو دې ژور نظر وکړي چې ور کړې فتوا یې په یوه برخه کې هم ټولنې ته ستونزې او حساسیتونو را ولاړ نه کړي. د دې لپاره چې ټولنه هم ارامه وي، له دین سره د خلکو د تنفر او فاصلې اخیستلو سبب هم نه شي، اړین ده چې د فتوا چارې یوه داسې ډله مخته یوسي چې له دیني عالمانو نیولې بیا د یادو برخو تر تخصصي کسانو پورې ټول پکې برخه ولري او د فتوا تر ور کړې مخکې د دې ټولو کسانو نظرونه په داسې فضا کې واخیستل شي چې بشپړه د بیان ازادي او د انساني حقوقو درناوی موجود وي، هر کس خپله رایه د خپلو علمي، منطقي او معقولو دلایلو په رڼا کې وړاندې کړي، چې ممکن همدغه مناقشات د ځینو فتواؤ مسیر بدل کړي.

۲۹/۵/۲۰۲۱

سرچینې:

۱) (إرشاد النقاد إلی تیسیر الاجتهاد (ص: ۷)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲) (إرشاد النقاد إلى تيسير الاجتهاد (ص: ۸)
۳) عقد الجيد في أحكام الاجتهاد والتقليد (ص: ۳)
۴) مقام الرشاد بين التقليد والاجتهاد (ص: ۲۱)
۵) إرشاد النقاد إلى تيسير الاجتهاد (ص: ۸- ۱۰)
٦) إرشاد النقاد إلى تيسير الاجتهاد (ص: ۱۱)
۷) إرشاد النقاد إلى تيسير الاجتهاد (ص: ۱۱- ۱۲)
۸)مسلم: ۲۵۸۵.
۹) المجامع الفقهية وأثرها في الاجتهاد المعاصر (ص: ۱۷)
۱۰) (المجامع الفقهية وأثرها في الاجتهاد المعاصر (ص: ۱۸)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په عباداتو کې شته پیغامونو ته نه پاملرنه

عبادات له دې سره چې د الله لپاره دي، ثواب لري، د زړه سکون او روحي ډاډ پکې شته، ځینې مهم پیغامونه د انساني ټولنې او ژوند لپاره هم لري، چې هغو ته یې له بده مرغه مسلمانانو توجو نه ده کړې.

د لمانځه په صف کې دې نژدې سره درېږي، چې د یوه پښه له بـل سره ولګېږي او اوږه یې له اوږې سره ولګېږي(۱)، په دې توګه بـه هـم صف منظم و برابر شي او هم به هغه حکمت تر لاسه شي چې پـه دې کې نغښتی دی. د نژدې درېدلو یو حکمت د مسلمانانو ترمنځ مینه پیدا کول دي، د هغوی زړونه سره نژدې کـول دي، ځکـه ځـوک چـې سره خپه وي هغه نژدې نه درېږي، حتمن هڅه کوي چې یو څه ځنې جـلا ودرېږي، خو حدیث امر کړی دی چې نژدې ودرېږي، نو پـه دې سره یو بل ته نژدېکت پیدا کېږي او ترمنځ یې د مینې سبب کېږي.

اما که زړونه سره بېل وي، خو پښې سره نـژدې وي، نـو بیـا اسـاسي پیغام نه دی تر لاسه شوی، ځکه د دین د راتلو اساسي هدف لـه بـدې ورځې خلک سمې ته راوستل دي، نو که د انسانانو د ښې ورځې سبب نه شي، معلومه خبره ده چې اساسي هدف ورک دی او خلک یـې پـه موندلو نه دي بریالي شوي.

د وږي، پیاز او ګندنې د بوی تر ورکېدا له مسجد څخه منعـه هـم د دې لپاره وه چې نورو انسانانو ته له دې بوی څخه په عبادت او عبادت خانه کې اذیت ونه رسېږي، زموږ خلک اوس د وږې پر ځای نسـوار،

(c) ketabton.com: The Digital Library



چرس، هېروېين، پان او دې ته ورته نور شيان کاروي چې تر ګندنې او پياز يې بد بوی ځي.

د موټرو مستري د کار په جامو کې جومات ته راځي چې هم مسجد ګنده کوي، هم يې بوی ځي او هم ورسره د نژدې ولاړ کس جامې خرابوي، دا يې وړه نه خوړلې، خو تر اوړه يې ډېر زيان جومات، خلکو او د هغوی جاموته ورساوه.

پنځه وخته اودس کول، که جنب وي، غسل کول، هر وار خوله پاکول، پزه پاکول، مخ مينځل، لاسونه او پښې مينځل، پر سر لاس تېرول، د غوږونو پاکي، دا بيا انسان ته د ښه باډسپلينه اوسېدلو، پاکې خيال ساتلو، د خولې بوی نه تلو، په مجلس کې په پزه ګوتې نه وهلو، د پښو له بوی څخه خلاصون، د خيرن غوږ پر ځای پاک غوږ ساتلو او د نامنظمو ويښتانو پر ځای د منظمو ويښتانو جوړولو پيغام راکوي، خو له بده مرغه چې څوک ډېر لمنځونه کوي، اودسونه کوي، هغه تر نورو په دې شيانو کې ډېر بې پروا وي او هيڅ خيال يې نه ساتي.

د پنځه وخته لمونځ، په کال کې پر معلوم وخت روژه، هر لمانځه لپاره ټاکلی وخت، د حج معين شوی وخت مسلمان ته په خپل ژوند کې د منظم اوسېدنې پيغام ور کوي، يو مسلمان بايد په خپل ژوند کې د هر کار لپاره مهال وېش ولري، د هغه دين ده ته مهال وېش ور کړی دی، د لمانځه لپاره وختونه، د روژې لپاره وخت، د حج لپاره وخت، د اعتکاف لپاره وخت او ځای، د کاروبار په لين کې ځينې کارونه حرام او نور بيا روا، د يوه شي پر بل مخته کول، لکه اودس تر لمونځ، دا هر يو يې بېل بېل پيغام لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مهال وېش موږ ته رانښيي، د وخت او زمان غوښتنو ته پام کول را په ګوته کوي، ځينې کارونه چې د انسان په ګټه وي هغه کول او له بېهوده کارونو د ځان ساتنې پيغام را کوي، د لومړيتوب په اهميت مو پوه کوي.

عبادت ته د پاکې جامې، پيغام دادی چې له حرامو به هم ځان ساتي، په روژه کې له څښاک او خوراکه منعه همدا پيغام لري چې د بل مال به نه خوري، له غيبت او کنځلو منعه همدا را ښيي چې خلکو ته بايد په ژبه او لاس زيان ونه رسول شي، پر پاک ځای درېدل، دا په ګوته کوي چې د بل ځمکه به نه غصب کېږي، پر همدې غصب ځمکه لمونځ نه روا کېږي، ځکه لمونځ پاکي غواړي او دا ځای پاک نه دی. د استنجا هدف دادی چې انسان به خپل دواړه فرجونه له حرامو کارونو ساتي، يوازې دا کار چې له بولو يې پاک کړه، پر پيغام بايد بسنه ونه شي، عمق ته يې بايد ورسېږو، قران کريم يادونه کړې ده چې صلات له فحشا او بدو کارونو منعه کوي(عنکبوت: ۴۵)، همدا راته ښيي چې نه يوازې بايد له بولو پاک وي، بلکې له حرامو کارونو به بايد وساتل شي. که د الله په امر يو کس خپل فرج له بولو پاکوي، نو د الله په امر يې بايد له حرامو کارونو هم وساتي.

د صدقاتو ور کولو، سرسايې اداينه، خيراتونه او نور همدا پيغام لري چې د ټولنې يوه برخه تر پښو لاندې کول غير انساني کار دی، هغوی ته لاس ور کړئ را پورته يې کړئ، په ستونزو کې مرسته ورسره وکړئ، مالي مشکلات يې حل کړئ چې هغوی هم ستاسو په شان شي او دا دولت د يوې ډلې په لاس کې پاتې نه شي چې د ټولنې لپاره بدې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اغېزې لري، دا رنګه له بيت المال څخه د ټولنې بې وزلانو تـه بايـد مرستې وويشل شي (حشر: ۷).

د انسان وقار او شرف د ساتنې لپاره شريعت مسلمان ته لار ښوونې کړې دي، که له يوې ښځې سره مخ شي، بايد خپل وقار په سپي سپي کتلو تر پښو لاندې نه کړي، سترګې دې ټيټې کړي، دا حکم نه يـوازې نر ته دی، بلکې ميرمنـې تـه هـم دی، هغـه هـم بايـد شرافـت او وقـار وساتي، حتا که لمانځه ته ورتګ وي، هم بايد په ځغاسته ور نه شي، په دې سره هغه خپل وقار د خلکو په سترګو کې ختموي، لمانځه ته بايـد ډېر ارام ور شي، په بې ځايه درز و دروز او هله هوله دې خپل وقار تر پوښتنې لاندې نه راولي.(۲)

له بل کس سره دې مخامختيا ښه په وريـن تنـدي وي، د ټـولنې لـه خلکو سره دې ښې خبرې کوي (بقره:۸۳ )، په ټولنه کې يو انسان هم د يو چا زوی وي، د بل چا پلار وي، د بل کس ورور وي، د بل ګاونډی وي، له بل سره په سفر ملګری وي، د نورو بيـا قريـب وي، نـو لـه دې امله بايد يو د بل احترام وساتل شي، له مور و پـلار سره ښـه کـول، لـه خپلوانو سره، له يتيمانو سره، له مسکينانو سره، له قريـب ګاونـډي سره، له هـر ډول همسـايه سره، د لارې لـه ملګـري سره، لـه مسـافر سره، لـه مزدورانو سره ښه کول د دين امر دی (نساء: ۳۶) که لمونځ کول او روژه نيول د الله امر وي، خلک يې له همدې وجې کوي، نو دا پاس ټول هم د الله امرونه دي، بايد د لمانځه په شان يـې خيـال وسـاتل شي، ډېـر د افسوس ځای دی چې مسلمانان پر لمانځه سر ور کوي، خو خپلوي نه ساتي، د همسايه خيال نه ساتي، په مـوټر کـې در سره ناسـت کـس پـه سګريټ او نسوارو خپل د څنـګ ملګـري او د ټولـو مـوټر کسـانو تـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



تکلیف رسوي، د ټولنې بې وزله او بې وسه طبقه تر پښو لاندې کوي او حقوق يې نه ور کول کېږي، زموږ اخلاق انساني او شرعي نه دي، موږ د هغه چا احترام کوو چې يا تر موږ په زر او زور کې بالا وي يا هم نـه احترام يې په ټولنه کې راته پېغور گرځي؛ له دې پرته د بـل چـا احـترام کول، ښه په ورين تندي ورسره روغبړ کول، زموږ د پښتنو عادت نه دي او نه د دې لپاره زموږ په تعليمي نصاب کـې يـو څـه شـته او نـه زمـوږ ويناوال دې لور ته پام کوي.

له دې سره چې په دين او شريعت کې پر نظافت ډېر ټينگـار شـوی دی، هر لمانځه ته د پاکي امر دی، د مسواك امر راغلی دی، د جامې د پاکۍ او ځای د طهارت امر راغلی دی، خو بيا هم د پښتنو کوڅې، د کور مخ، د دوکان مخ، له کور او دوکان سره شته لښتي يا چرۍ، موټر، موټرسايکل، گوټ، څپلۍ، خپل کور، د اوسېدنې خونه، د څښـاك او خوراك لوښي به خيرن وي، له دې ښکاري چې د دين اساسي پيغام نه موږ ته رسول شوی دی او نه يې موږ د پوهېدنې هڅه کړې ده.

شريعـت کـې د اودس لپـاره د يـو وار مينځلـو او درې واره مينځلـو جواز راغلی دی، که د بدن غړي پاك وي، نو يو وار مينځل هم کفايت کوي او که خيرن وي، په دوړو وي، خولې شوي وي، بيا دوه يـا درې واره ومينځل شي، خو تر دې اضافه نه، که اړتيا وه په صابون يا شـامپو دې ومينځي، حتا که د وياله پر غاړه ناست وي، لا به هم تر درې واره اضافه مينځل نه کوي. دا يې له اسرافه د مخنيوي لپاره ورته ويـلي دي، نو يو څوك چې د اودس په اوبو کې اسراف بايد ونه کړي، هغه بايد له اوبو او د ژوند لپاره له بل هر اړين شي سره څومره احتياط وکړي؟ مگر زموږ خلکو د اوبو يو اينـچ پيـپ کـوڅې تـه را ايسـتلی وي، مـوټر پـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مينځي. دا فکر نه ورسره پيدا کېږي چې موټر په کمو اوبو هم مينځل کېږي، نو دومره اوبه ولې بايد ضايع شي؟

په قران کريم کې د خوراک او څښاك تر بيان وروسته الله وايي اسراف مه کوئ(انعام: ۱۴۱، اعراف: ۳۱)، خو زموږ د واده وليمه، خيرات او ميلمستياوې خوراکي توکي پر امبار خورځوي. جالبه داده چې په اسلامي هيوادونو کې داسې يوه اداره نه شته چې اضافه خوارکي توکي يې تر اړمنو کسانو رسوي، خو په غير اسلامي هيوادونو کې شته. که رښتيا ووايم نو په اسلامي هيوادونو کې بايد مسکنت ختم شوی وای، ځکه د صدقاتو، سرسايې، خيرات، ميراث، خپلوانو ته ورکړه، مهر، د لاښېدو په ورځ ورکړه او داسې نورو ورکړو ترڅنګ د مسلمانانو چارواکو ته امر شوی دی چې له بې وزلانو سره له بيت الماله مرسته وکړئ چې د ټولنې طبقاتي سيستم ختم شي، يوه ډله بله تر پښو لاندې نه کړي، شتمنه طبقه د ټولنې د سرخوږي سبب نه شي، له دې ټولو سره بايد په اسلامي هيوادونو کې مسکنت او فقر له منځه تللی وای، خو له بده مرغه چې له منځه نه دی تللی، بلکې غير اسلامي هيوادونه له اسلامي هيوادونو سره مرسته کوي چې د هغوی د فقيرانو لاس نيوی وکړي او هلته شته د فقر ګراف را کم کړي.

له دې ښکاري چې زموږ ټولنه څومره د دين له اساسي پيغامونو لرې شوې ده، څومره يې يوازې شکليات را ټينګ کړي دي او له ماهيته يې ناخبره دي.

۱۱/۴/۲۰۲۲

**سرچینه:**

۱)بخاري، کتاب الاذان، باب الزاق المنکب بالمنکب...ح: ۷۲۵)

(۲)بخاري، کتاب الاذان، باب لا يسعی الی الصلاة مستعجلا، وليقم بالسکينة والوقار،ح: ۶۳۸)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د قران کريم د ترجمې او تفسير وړ کسان

د قران کريم د ترجمې لپاره بايد وړ کسان را مخته شي، قران د اسلام اساسي کتاب دی، ناسمه ترجمه او تفسير يې ګڼې ستونزې را ټوکوي. له بده مرغه چې په افغانستان او پاکستان کې ډېر داسې کسان دغه کار کوي چې نه يې قران کريم په سم ډول درک کړی دی، نه يې عربي ژبه زده ده، نه د اسلامي عمومي او خصوصي احکام پېژني، نه اصول او فروع سره جلا کولای شي او نه هم د دين او شريعت پولې بېلولای شي.

نااهل کسان که دې چارې ته لاس ور واچوي، ټولنې او حکومتونو ته ډېر سرخوږی جوړولای شي، ځکه د قران کريم احکام له ټولنې سره مستقيمه اړيکه لري، که يو مفسر يې ناسم تفسير کړي، له ټولنې سره يې ټکر کړي، د حکومت او د وخت د نظام خلاف يې له قران کريم څخه د بغاوت تفسيرونه ور کړل، نو يوه ارامه ټولنه به تشنج ته ټيله کړي.

د تفسير لپاره ځيني مهم اصول ما د دې لړۍ په مخکې کړۍ کې تشريحي کړي دي، دلته يې يوازې پر زيان خبرې کوم چې څوک په عربيت نه پوهېږي، له بلاغي علوم سره اشنا نه وي، ګرامر يې نه د خپلې ژبې زده وي او نه د عربي، په حقيقت و مجاز يې شک نه وي، تمثيل يې ورته حقيقت ښکاري، اخروي مسايل يې دنيوي کړي وي، د خدای کارونه يې انسان ته خاص کړي وي، د انسان کار يې خدای ته ور کړی وي، له قران کريم څخه يې دا فهمولې وي چې د الله او رسول

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځيني واکونه موږ هم لرو، له قرانه يې دا زده کړې وي چې په ټولنه کې ډلې او فرقې جوړې کړي، نفرت خپور کړي، خلك سره خپه کړي، هر کس يې ځان ته تګلارې وټاکي چې مخالفت يې د هغې ډلې له مفکورې سره سم د کفر معادل وي.

دا د ټولنې لپاره ناسور دی، ټولنه به تر هغه وخته له دې ناسور څخه کړيږي چې هوښيار او پوه کسان ددې ستونزې د حل لپاره له مناسبو حللارو سره را وړاندې نه شي. د حکومتونو مسووليت دی چې له ديني چارو سره تړلې ادارې يې دغه فرصت نااهلو کسانو ته ور نه کړي او په ټولنه کې دې خلا ته مناسب کسان ومومي او د ټولنې دا اړتيا پوره کړي، د ستونزو په حل کولو ټولنه له ناسور څخه خلاصه کړي.

دلته نه يوازې د الله له کتاب سره ظلم کيږي، بلکې له ټولنې، الهي مخلوق، حکومت، افرادو، ډلو او قومونو سره هم کيږي. دوی نه د الله کتاب په پيغام سم خبر شوي دي او نه يې د فهمولو سمه هڅه کړې ده، نه د قران په ژبه پوهېدلي دي، نه يې خپله زده ده، ترجمه يې داسې وي لکه په ختو کې چې مزل کوي، احکام يې د ټولنې، زمان او مکان له قيد څخه وتلي وي، د دې پر ځای چې ټولنې ته په خير تمام شي، شر ورته پيښوي، د نظام د پښو ټينګولو پر ځای يې پښې کاږي، د خلکو د اتحاد پر ځای بې اتفاقي جوړوي، قوم ته د ګټې پر ځای تاوان راوړي، د الله په کتاب ډلې جوړوي، يوه يې بله کافره بولي، حکومتونه کافر ګڼي، د ټولنې د کاروبار مخه نيسي، هر څه سود ورته ښکاري، خو په زيارت کې منجور ته ور کول کېدونکي پسونه، غواوې، پيسې بيا پروا نه لري، هغه نه سود دی، نه حرام دی، نه بدعت دی، راډيو بدعت وه، ټيلفون حرام و، ټليويزيون حرام و، عکس ناروا و، ټولنيزې رسنۍ د

(c) ketabton.com: The Digital Library



کفارو مشابهت و، پتلون د کافر لباس و، ټايي کافره شوې وه، مکتب د کفر مرکز و، بانک د سود په نوم د حرمت ټاپـه وخوړه او د دې ورتـه ډېر نور کارونه چې یـوازې یـې ټـولنې تـه سرخـوږی جـوړ کـړی دی، حکومت يې له چېلنجونو سره مخ کړی دی او خلك يې د خـدای پـر ځای مخلوق ته روان کړي، کعبې ته تللې لار يې ورکه کـړې ترکسـتان يې په مخه کړی، په دې توگه يې هم ځان بې لارې کړی او هم ټولنه.

قران کریم د دې لپاره تفسیرېږي چې د خپلـو مسـلکونو موقـف پـه ثابت کړي، د قران کریم يو ثابت ایـت داسـې تـاویلېږي چـې لـه یـوه کمزوري، خبر واحد حدیث سره يې تطبیق پیـدا کـړي، د قـران کـریم تفسیر خپله قران کې نه کتل کېږي، ان پر قران کریم زیاتوب د کمزورو روایاتو او پوهانو د خبرو په وسیله لا کېږي، دغه به څه ډول تفسیر وي؟ که د الله کتاب دومره کمزوری شي چې واضح ایت يې د یـوه حـدیث لپاره تاویل شي، د عالم قول په ثابت شي، د خپـل موقـف لپـاره پکـې وکتل شي چې تاییدونکي مواد ځنې چاڼ شي، دا به لـه کتـاب الله سره انصاف وي او که د هغه په حق کې سراسر ظلم؟!

قران کریم باید په قران تفسیر شي، تصریف ایـات د قـران تـر ټولـو غوره تفسیر دی، که نه په عربي محاوره کـې د دې لپـاره غـوره مثالونـه شته چې د قران کریم په متن زموږ سر را خلاص کړي، قران کریم باید داسې وکتل شي چـې هغـه څـه وایـي، بـس حـق وگنـل شي، د خپـل مذهب، موقف او وختي له جوړ شوي ذهنیت سره يې د برابرولو هڅـه د قران کریم په حق کې ظلم دی، دا باید په هیڅ توگه ونه شي.

۱۸/۴/۲۰۲۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د مسيار نکاح او شرعي حکم يې

ليکوال: محمد عدنان القماز

ژباړه: زبير افغان

مسيار نکاح د نورو مشهورو نکاحي تړونو په شان يو تړون دی، چې د نکاح ټولو شرطونه پکې پوره وي. مثلن: د مېړه و مايني وجود، له دې سره تړلي داسې شرعي موانع به نه وي چې د نکاح صحت ته زيان رسوي، ميرمن به ولي لري، عادل شاهدان به موجود وي، د قاضي په مخکې به تړون کېږي، يعنې د بل تړون په شان پوره باوري کېږي. د شکل له مخې سل په سلو کې سهي دی. مګر د موضوع له مخې له نورو سره توپير لري؛ ځکه ميرمن دلته تر خپلو ځينو حقونو تېرېږي، لکه: نفقه، سرپنا او له دې سره د مېړه شپې تېرول.

دکتور يوسف قرضاوي يې په اړه وايي: دا هم شرعي نکاح ده، له عادي نکاح سره دا توپير لري چې ميرمن تر ځينو هغو حقونو تېرېږي چې پر مېړه يې لري.

### شرعي حکم يې:

که د نکاح شرطونه پکې پوره شي د مسيار نکاح روا ده. د نکاح دا نوعه له پخوا څخه وه، يوه مېړه به خپلې هغې ميرمنې ته چې ميلان به يې ورته در لود، ويل: ستا او د بلې ميرمنې مساوي حقوق نه شم در کولای، لکه: نفقه، سرپنا او د شپې ورتګ. کله به مېړه دا شرط کړه چې يوازې د ورځې به ورځي شپه نه ور سره تېروي. ميرمنې هم په دې کې تر خپلو حقونو تېرې شوې دي، ممکنه ده چې خپل مال ولري،

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرپنا يې وي؛ ځکه يې له مېړه نه غواړي. که يې د ورځې پر راتلو توافق سره وکړ يا هم پر دې سره سلا شول چې د بلې ميرمنې په نسبت دې ته کمې شپې ور کوي، پروا نه لري.

له دې سره چې په مسيار نکاح کې ميرمن تر خپلو ځينو حقونو تېرېږي، خو بيا هم حرام نه شي ګڼل کېداى، ځينو علماؤ له حرمت پرته بد ځنې وړي دي؛ اما د شرطونو او ارکانو د بشپړتيا له وجې بيا هم جواز لري.

**عوامل يې:**

۱ــ د ولورونو (مهرونو) جګېدا.

۲ــ د ځوانو (پېغلو) نجونو زياتوب.

۳ــ د طلاق ډېرېدل.

۴ــ په نرانو کې تر يوې ميرمنې له زياتو سره د متعې (موقته نکاح) کولو ميلان.

۵ــ د دويمې ميرمنې په اړه د لومړۍ نه رضايت، له خپلې لومړۍ ميرمنې ډار او د کور خرابي هم، مېړه دې ته اړ کړي چې له ميرمنې په پټه نکاح وکړي.

**تاوانونه يې:**

دا نکاح هم يو ډول د متعې لور ته ځي، ځکه نر له يوې ميرمنې بلې ته ځي او ميرمن هم ممکن داسې وکړي.

له حقيقي مفهومه نکاح وزي، ځکه مېړه و ماينه بايد کورنۍ جوړه کړي، ترمنځ يې دوستي او مينه موجوده وي او تل پاتې يوځايي سرپنا ځاى ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې مېړه په کور کې نه وي، د ماینې چلند هم تغییر کوي، کېدای شي داسې کار وکړي، چې ځان یا ټولنې ته زیان ورسوي.

**په دې اړه فتوا:**

شیخ عبد العزیز بن باز رح د مسیار نکاح ته جواز ور کړی. له ده پوښتنه وشوه چې که یو څوك دویمه میرمن په نکاح کړي، خو هغه د خپل پلار کره اوسي او مېړه یې په بېلابېلو وختونو کې هغې ته ورځي، دا څنگه ده؟ ده ځواب ور کړ: که د شرعي نکاح شرطونه کې پوره شي، پروا نه لري. لکه: د ولي او مېړه و ماینې رضایت، د عادلو شاهدان وجود، له موانعو څخه د مېړه او ماینې سلامتیا. ځکه رسول الله ص ویل: (احق ما أوفیتم من الشروط ان توفوا به ما استحللتم به الفروج) یعنې په کومو شرطونو چې مو ځانو ته میرمنې روا کړې هغه باید پوره کړئ. بل ځای یې ویلي: المسلمون على شروطهم. مسلمانان خپل شرطونه پوره کوي. که مېړه و ماینه پر دې موافق شي چې ښځه به د پلار کره پاتېږي یا هم د هغې وخت ورځ ده نه شپه یا هم خاصې ورځې یا شپې، هیڅ پروا نه لري خو په دې شرط چې نکاح به پټه نه وي.

**د جواز دلایل یې:**

۱)په مسیار نکاح کې د نکارح ټول شرطونه او ارکان پوره کېږي. ایجاب و قبول، د طرفینو رضایت، د ولي وجود، مهر او شاهدان.

۲)په حدیث کې راغلي چې سودې رض خپله ورځ ام مومنین عایشې ته ور کړې وه، نو رسول الله ص په خپل تقسیم اوقات کې د عایشې رض لپاره دوې ورځې ټاکلې وې، یوه یې د عایشې رض خپله او بله یې د سودې رض ورځ وه. رواه البخاري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له حدیث څخه د استدال ډول: کله چې سودې بنت زمعه رض خپله ورځ عایشې رض ته ور کوي او رسول الله ص هم دا مني، دا په زبات رسېږي چې میرمن کولای شي خپل هغه حق ساقط کړي چې شارع ورته ټاکلی، لکه نفقه او د شپې د مېړه ورتګ. که جواز یې نه وای؛ نو رسول الله ص ولې له سودې رض څخه د عایشې رض په ګټه د ورځې ترېدل ومنل؟

۳)د مسیار په نکاح کې ډېر مصالح شته. د میرمنې فطري غریزه اشباع کوي، کله د اولاد په نعمت هم نازوله کېږي، هغه پېغلې چې له نکاح بې برخې شوې وي، یا مطلقې یا هم کونډې میرمنې،( د دوی شمېر خورا زیات دی) په دې ډول یې شمېر راکمېږي. هغه نر خپله پاکي په ساتلای شي چې د بل ډول واده مصارف نه شي پرېکولای.

۲۰۱۸م

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مشوره(جرګه) په اسلام کې

د انسانانو په تاريخ کې جرګې ښه اوږده مخينه لري، دا کـه زمـوږ د پښتنو تاريخ وي يا هم د نورو قومونو. تر اسلام مخکې عربـو د جرګـو لپاره د دار الندوه په نوم يوځای در لود چې هلته به يې د مهمو ټولنيزو، ديني، اقتصادي او سياسي مسلو په اړه مشرانو بحثونه کول.

اسلام نه يوازې دا اصل همداسې وساته؛ بلکې الله تبارك وتعالى په قران پاك کې د مسلمانانو يو صفت همدا وباله چې د مهمو خپلمنځي چارو په اړه خپلمنځي مشورې کوي(وامرهم شـورى بيـنهم) [الشـورى: ۳۸] همداراز قران کريم رسول الله ص ته امر وکړ چې په چارو کـې لـه اصحابو سره مشوره کوه.(وشاورهم فى الامر) [ال عمران: ۱۵۹]

رسول الله ص هم په دې امر عمل کاوه او د مهمو چارو په اړه يې له اصحابو سره مشورې کولې. کله چې د احد غزا ته مشرکانو تيارى کـاوه او رسول الله ص يې په اړه خبر شو، نو له اصحابو سره يې مشوره وکـړه چې زموږ دفاعي اقدام بـه څـه وي؟ تـر مشـورې وروسـته يـې د وتلـو پرېکړه وکړه، بخاري په کتاب المغازي کې پـه دې اړه مهـم لاسـوندونه راوړي دي.

همداشان د خندق د غزا په اړه مشـهور روايـت دى چـې رسـول الله ص د خبر له تر لاسه کولو وروسته د مشرانو اصحابو يوه جرګه وغوښته او په دې اړه يې مشوره ځني طلب کړه. مشهور صحابي سلمان فـارسي رض پيغمبر عليه السلام ته د خندق کښلو مشوره ور کړه چې له همدې

(c) ketabton.com: The Digital Library



امله دا غزا د خندق په نوم یاده شوه. بخاري شریف په کتاب المغازي د خندق د غزا تر سرلیک لاندې یې په اړه احادیث راوړي دي.

پر همدې اصولو باندې مسلمانانو د تاریخ په اوږدو کې عمل کاوه او زموږ د پښتنو په تاریخ کې تر اسلام مخکې هم موږ جرګې او مرکې درلودلې او د ډېرو مهمو پرېکړو په اړه زموږ ولسونو له ډېر لرغوني دور څخه مشورتي جرګې درلودې. د انسانانو په اجتماعي ژوند کې دا ډېر مهم پرمختګ دی، په دې ډول انسانان د وینې تویولو مخه نیسي-جنګ ختموي، پخوا به همدې جرګو د اجتماعي ژوند لپاره ځینې اصول غوره کول چې په سیمه ییزه کچه به یې د قانون حیثت در لود او خلکو ترې سرغړونه نه شوای کولای، د اسلام له راتلو سره هغو ملتونو ته چې مسلمانان شول، جرګې له تاریخي او کلتوري بعدونو سره دیني جنبه هم پیدا کړه چې د خلکو په عقیدو او ایمانو کې یې ځای وموند.

زموږ د هیواد په مهمو مسلو کې هر وخت واکمنو د ولس استازي راغوښتي او د ډېرو مهمو چارو په اړه یې د ولس رایه غوښتې ده، لکه څنګه چې دولت پر ولس باور کړی دی او د چارو په اړه یې د هغوی مشورو او پرېکړو ته لبیک ویلی دی، همدارنګه ولسونو هم هر مهال د دولت غوښتنې ته لبیک ویلی او په سختو حالاتو کې تل د خپل نظام تر څنګ درېدلي او د هر هغه چا په وړاندې یې یو صف جوړ کړی چې زموږ ملت او وطن یې ګواښلي دي.

د وخت په تېرېدو ځینې ارزښتونه خپل ځای نورو ته ایله کوي یا هم شکل یې بدلیږي. مشوره یو شرعي، کلتوري او تاریخي ارزښت دی، خو حتمي نه ده چې زموږ د هیواد اوسنۍ جرګه دې په همدې بڼه نوره هم وغزیږي. دا خبره سمه ده چې جرګه زموږ په تاریخ او کلتور

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې ډېر مهم ځای لري، شريعت مو هم په دې امر کړی دی، له دې هر څه سره به څوک د مشورې له ارزښت څخه انکار نه کوي، خو بيا هم په خپله پخوانۍ بڼه د جرگې ايله کول، د مهمو سياسي، ټولنيزو او اقتصادي چارو لپاره يې دايرول، ارزښت لري، خو که د دې يو بل بديل وړاندې شي هغه ممکن تر دې ډېر موثر واقع شي چې د جرگې يو پر مختللی شکل به يې وگڼو.

که د سياست په برخه کې د جرگې ځای انتخابات ونيسي، د ټولنيزو او اقتصادي مسلو په برخه کې که د وخت واکمن د پوهانو په مټ تر يو لړ مهمو اصولي پړاونو وروسته قوانين جوړ کړي، دا به د اوس وخت لپاره د ملت په گټه وي، فيصله به په لنډ وخت کې کېږي، د وخت له شرايطو سره به سمون لري، په کمو مصارفو به دا هدف تر لاسه کېږي او گڼې نورې گټې.

په اوسنۍ جرگه کې ځينې نيمگړتياوې شته چې د انتخاباتو په نسبت د اوس وخت لپاره لويې بلل کېږي، که څه هم دا کمۍ يې پخوا هم در لودې، اما هغه وخت يې دومره ښه بديل نه وو وړاندې شوی، اوس چې د يوه حکومت د مشروعيت لپاره جرگه وړانديز کېږي، تر دې دا ښه خبره ده چې انتخابات يې شرط وگڼل شي، دا به هم يوه حکومت ته ملي مشروعيت ور کړي او هم به له نړۍ وال مشروعيت څخه برخمن شي.

پخوا جرگه او شورا په يوه بڼه وه، د اوس وخت لپاره که د حکومت د مشروعيت لپاره جرگه يادېږي، نو ښه بديل يې انتخابات دي، چې هر حکومت د ولس په رايه وټاکل شي هغه دې مشروع وگڼل شي، د شورا پر ځای پارلمان دی چې د ولس استازي پکې وي، هغوی هم قوانين

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوړوي، تصویب یې کوي، پر حکومت څارنه کوي، دغه بڼه یـې تـر پخوانۍ ډېره ګټوره ده.

کاش موږ پوه شو چې ارزښتونه هغه وخت ارزښت لري چې ټـولنې ته په ګټه وي، ټولنيز قراردادونه پر همدې بنیاد رامنځته کېږي، که دغـه معیار یې له منځه ولاړ شي، نو د هر ارزښت خپل اهمیت له منځه ځي. ځینې تغییر ته اړتیا لري، نور بیا بدیل غواړي، یو څه یې وخت او مکان په مرګ محکوم کړي وي، حتمي به مري ځای به یې نور نیسي، داسې هم کېدلای شي چې یوازې نوم دې بدل شي، یو څه کم دې په شکل کې تغییر راشي، خو اصل هدف او د ولس رایـه دواړه پکـې تـر لاسـه شي، نو که انسان په دې پوه شي، ممکن د ډېری ستونزو حل په همدې توګه را پیدا او ټولنې ته را پیدا شوي مشکلات له منځه ولاړ شي.

۲۸/۴/۲۰۲۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سوله د اسلام له نظره او په هیواد کې یې د تحقق لارې چارې

الحمد لله وکفی والصلاة والسلام علی رسوله المجتبی، اما بعد!

په دې کې شک نه شته چې سوله تر جنګ غوره او سوله ییز ژوند تر جګړه ییز ژوند بهتر دی، په دې اړه نه یوازې عقلي دلایل خورا زیات دي؛ بلکې د قران کریم او مبارکو احادیثو دلایل هم کم نه دي. قران کریم د مومنانو ترمنځ جنګ ته په (وان طائفتان من المؤمنین) اشاره کړې ده چې هدف یې د جنګ استثنائي ښودل دي، ځکه د اسلام له نظره مسلمان ته عمومن د امن پیغام ور کول کیږي، مسلمان ته د نوم په غوراوي کې هم دا تلقین ور کول شوی چې ته د سولې استازی یې او د سولې پیغام باید ولیږدوې. د خدای پاک السلام نوم هم پر سوله دلالت کوي او هر پیغمبر ته د مسلمانۍ امر هم ددې یوه ښه بېلګه ده چې رسولان د سولې مبلغین وو. قران کریم یو بل ځای هم یادونه کړې ده چې جنګ به مسلمان نه پیلوي، بلکې مسلمان ته یوازې د دفاع اجازه شته: (وَقَاتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ الَّذِينَ يُقَاتِلُونَكُمْ وَلَا تَعْتَدُوا ۚ إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِينَ) [البقره: ۱۹۰]

یعنې د الله په لار کې له هغو سره وجنګیږئ چې هغوی له تاسو سره جنګ کوي او تاسو تیری مه کوئ بیشکه الله تیریګر نه خوښوي.

له دې هم معلومه شوه چې قتال یوازې استثنائي صورت دی او په هغه وخت کې جواز پیدا کوي چې مسلمان دفاع ته اړ شي. د سولې د ښه والي او فضلیت په اړه د قران کریم ایاتونه نور کم نه دي او عمومن له مسلمانانو څخه پټ هم نه دي؛ ځکه نو زه نور بحث نه پر کوم یوازې یو حدیث یې د فضیلت په اړه رااخلم:

(c) ketabton.com: The Digital Library



(أَلاَ أُخْبِرُكُمْ بِأَفْضَلَ مِنْ دَرجَةِ الصِّيَامِ وَالصَّـلاَةِ وَالصَّـدَقَةِ، قَـالُوا: بَـلَى، قَالَ: صَلاَحُ ذَاتِ البَيْنِ، فَإِنَّ فَسَادَ ذَاتِ البَيْنِ هِيَ الحَالِقَةُ)(۱)

ایا تر روژې، لمانځه او صدقې افضل کار در ونه ښیم؟ دوی وویل: ولې نه! ده وویل: د خلکو ترمنځ اصلاح کول، ځکه خپل منځي فساد یې دین له منځه وړي.

دا طبیعي خبره ده چې د سولې تر دومره فضیلت وروسته هـر انسـان سوله ییز ژوند ته اړتیا لري او حتا هر ژوی، خو موږ افغانان چې نسلونه مو په جنګونو کې رالوی شوي دي، تر بل هر چا سولې تـه زیاتـه اړتیـا لـرو. پـه هیـواد کـې د سـولې لپـاره خوشـبینتیا زیاتـه وه، امـا د طالبـانو خپلسری زور د دې سبب شو چې د سولې فرصت له لاسه ووزي، پـه زور د یوه نظام پر ځای د بل راوستل، د دې سبب کېږي چې خشونت او زورزیاتي ته لار پرانیستل شي. پر یـوه ډلـه زور اچـول د دې سـبب کېږي چې بله ډلـه عکـس العمـل وښـیي، کـه زور شـوی وي، زور بـه ورسره کېږي او که جنګ شوی وي جنګ به ورسره کېږي.

زموږ د ملت بدبختي داده چې له واکه یې یوه ډله ایسته کېږي، بلـه چې پر راشي، د بخښنې او لـه شخصـي۔ انتقـامونو د تېرېـدلو پـر ځـای خشونت کوي، انتقامونه اخـلي، خلـک وژني، چـور و فسـاد تـه مخـه کړي، ملت ته په واک کې سهم نه ور کوي، د تېر نظام غـړي پـه ګنـو پلمو ځـورول کېـږي، لـه واکـه محرومېـږي، کـډوالۍ تـه مجبـورېږي، کاروبارونه یې زیان وي، کورنۍ یې په بـد وضـعیت کـې وي، دا ټـول حالات د دې سبب کېږي د سوله ییز ژوند پـر ځـای خلـک خشـونت امیزه ژوند ته مخه کړي، د سولې ځای جنګ ونیسي، سم لور ته د تلـو پر ځای حالات ناسم لور ته ولاړ شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په یوه ملت کې د ګڼو ژبو، مذهبونو، سمتونو، قومونو او ادیانو خلک وي، د دې لپاره باید د ټولو خیال وساتل شي، په واک کې سهم ور کول شي، د هغوی لومړیتونه وارزول شي، حکومت کار پر وکړي، قومي، ژبني، مذهبي، سمتي او دیني چارې د دې سبب نه شي چې ملت سره بېل شي، خلک یو له بل سره په شخړه شي، د ملت د ټوټې کېدلو سبب شي، د سترو ملي مسایلو پر ځای حکومت او ولس دواړه په قومي، سمتي او ژبنیو وړو خبرو اخته شي.

موږ باید نور دا زده کړو چې متنوعي افکار، قومونه، مذهبونه، دینونه، ژبې او... د شخړې سبب نه کېږي او نه یې باید کړو، د انتقام پر ځای بخښنه ډېره ګټوره ده، تر تنګنظري زغم او تحمل ډېرې ښې پایلې لري، د یوه نظام پایښت زموږ د ټولو په ګټه دی، خو که یې موږ له لویه سره بنیادونه کمزورې کښېږدو، په خپلو اعمالو یې ولړزو، بیا به دا نظام څنګه پایښت وکړي؟ زموږ د هر نظام چارواکي باید د خپلو شخصي- مذهبي او ګوندي ګټو پر ځای ملي ګټې په نظر کې ونیسي-، په دې توګه به هم نظام وچلیږي، هم به ملت او وطن له بدبختیو وساتل شي، شرعي، ملي، تاریخي او کلتوري ارزښتونه به د پایماله کېدلو پر ځای خوندي کړي، اما که هر څه د دې برخلاف وشي، بیا به نه سوله راشي، نه به نظام وچلیږي، نه به ارزښتونه خوندي شي، نه به ټولنه تنوع ته پاته شي او ملت به د اجتماع پر ځای سره وپاشل شي.

۲۸/۴/۲۰۲۱

سرچینه:

۱)ابوداؤد، کتاب الادب، باب في اصلاح ذات البین: ۴۹۱۹.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د علماؤ له وژلو ترهګر څه تر لاسه کوي؟

څو ورځې وړاندې د علماؤ شورا خبر ورکړ چې په تېرو ۱۵ کلونو کې ترهګرو د نظام ملاتړي ۱۰۰۰ کسه علماء شهیدان کړي دي. دا په داسې حال کې چې په دې تېره روژه کې د مولي ریحان او مولوي کامه وال ارقام هم پر ور زیات شول.

موږ باید دا پوښتنه را مطرح کړو چې ترهګر ولې علماء وژني او اصلن له دې ځخه څه ترلاسه کوي؟

که د جنګ جهت، شعارونه او د دوی ادعا شوي اهدافو ته فکر وکړو، نو پوهېږو چې د علماؤ له وژلو د هغوی څو اهداف دي:

۱/ په هیواد کې شته جنګ یو نیابتي جنګ دی، د دې جنګ تر شا چې کوم هیوادونه لاس لري هغوی زموږ د هیواد هر هغه قشر-چې د هغو هیوادونو له اړتیا مو خلاصوي، وهي؛ څو زموږ هیوادوال د زیات وخت لپاره د هغوی محتاج پاته شي. د افغان نوموتو علماؤ له وژلو یو هدف دادی چې دلته د هغو علماؤ تشه احساس شي چې زموږ ټولنه ورته اړتیا لري او موږ اړ شو چې د دې تشې د ډکولو لپاره دوی ته رجوع وکړو.

۲/ زموږ هغه نظامونه چې د هیواد، ملت او ملي ګټو لپاره لږ یا ډېر کار کوي، هغه د ګاونډیو نه دي خوښ. د دې لپاره دا جنګ روان دی او تر بېلابېلو نومونو لاندې زمینه سازي ورته کېږي. د همدې نظام تر چتر لاندې چې هر څوک را ټولېږي، هغوی د ترهګرو په اند د وژلو وړ دي؛ علماء بیا ځکه مهم دي چې د دوی موجودیت د نظام

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشروعیت قوي کوي، ترهګر کوښښ کوي چې د یوې نیابتي جګړې د غزولو لپاره له نظامه مشروعیت وتروړي او بیا یې پر ضد د ولس په منځ کې ځانو ته ځای پیدا کړي او خپلو لیکو ته خلك جذب کړي.

۳/ ترهګرو د خپل جنګ لپاره یو دیني و مقدس پوښ جوړ کړی او تر دې نوم لاندې خپل ټول اعمال توجیه کوي. دا چې زموږ ولس په دې میدان کې زیاته پوهه نه لري، ترهګر په اساني کولای شي چې د ناسم استدلال په کولو پر ولس خپلې خبرې او اعمال تېر کړي او د هغوی یوه لویه کتله له ځانو سره مل کړي. نو کله چې د دین یو عالم رامخته کېږي او د هغوی له څېرې نقاب پورته کوي، ولس ته یې اصلي موخې ور ښيي، د شریعت او د دوی ترمنځ فاصله په ګوته کوي او ملت د هغوی له دام څخه را باسي، نو حتمي خبره ده چې ترهګر به عکس العمل ښيي. د یوه مخالف نظروال په وړاندې ردعمل څو ډوله کېدای شي، مثلن: ډیالوګ کولای شي، په رد کې یې کتابونه لیکلای شي، د ولس په وړاندې یې مخامخ مناظرې ته رابللای شي او نور... اما که د مخالف په وړاندې یو چا په هر ډګر کې خپله ماتې حتمي بلله، بیا نو له وژنې پرته بله لار هغوی نه ویني او همدا تګلاره به د ځان په اړه ګټوره بولي، ترهګر نن همدې پایلې ته رسېدلی دي. هغوی د علماؤ په وړاندې د استدلال او ډیالوګ میدان بایللی دی، د قلم او علم په میدان کې هغوی پاته دي، له دې امله یې یوازې زور او توپک ته پنا وړې ده، نو که یې هر څوك د اهدافو په وړاندې خنډ کېدل، هغوی به له منځه وړي او علماء چې په دې برخه کې تر نورو ښه کردار ادا کولای شي، له دې امله به تر ټولو لومړی هدف وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴/ په افغاني ټولنه کې علماء ښه ډېر اغېز لري. د علماؤ همدې رول ته په کتو هغوی هغه چاته انګېزه ور کوي چې د ترهګرو د نیابتي جنګ په وړاندې دربېږي. د علماؤ ږغ پر افغانانو زیات تاثیر لري، هغه علماء چې د وطن او ملت ساتنې لپاره د خپلو امنیتي دفاعي ځواکونو په څنګ کې دربېږي، روحیه ور کوي او له خپله وطنه دفاع د شریعت له مخې یو مشروع عمل بولي، ترهګر یې د خپلو موخو په وړاندې تر ډېرو نورو مخالفو کسانو د ځانو لپاره زیات خطر بولي. له همدې امله په تېرو ۱۵ کلونو کې د علماؤ له وژلو مخ نه اړوي او د ټولو جنګي اصولو خلاف یې د علماؤ پر وژلو اقدام کړی او هیڅ ډول افغاني کلتور، شرعي اخلاق و اصول او نړی وال قوانین یې په پام کې نه دي نیولي او دوی فکر کوي چې د دوی هدف وسیله توجیه کوي، نو همدې اصل ته په کتو یې خپل هدف ته د لاس رسي په خاطر هر ډول وسایل وکارول.

۵/ د علماؤ له وژلو د هغوی بل هدف دادی چې د خپل ځان په وړاندې د علماؤ مخالفت ختم کړي، څوک شهیدان کړي، څوک زخمي، څوک له وطنه فرار ته مجبور کړي او نور په زور دې ته اړ کړي چې د هغوی له مخالفته لاس واخلي او دوی په اساني خپلو موخو ته ځانونه ورسوي.

٦/ د افغان نظام د ملاتړو علماؤ وژل او کمېدل په ټولنه کې دا فرصت رامنځته کوي چې خلک د ترهګرو د علماؤ لور ته توجو وکړي او د هغوی اغېز سوکه-سوکه پر پراخېدو شي. په دې ډول هغوی خپلو اهدافو ته ځانونه نژدې کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۷/ په افغاني رنګ د رنګېدلو علماؤ وژل د دين پوهانو يوه لويه تشه رامنځته کوي، د ډکولو لپاره يې يا د ترهګرو ملاتړي مدعي دين پوهان رامخ ته کېږي يا هم د ديني علومو زدکونکي د علم لپاره خارج ته ځي. په دواړو حالاتو کې د هغوی ګټه ده. که خارج ته ولاړ شي له هغه لورې يو داسې فکر راوړي چې په يوه بله ټولنه کې توليد شوی وي، د هغوی د اړتيا له مخې پيدا شوی وي او د هغې ټولنې د کلتور رنګ يې اخيستی وي، کله چې زموږ ټولنې ته راځي نو په ټولنه کې د منلو خاص چانس نه لري او د ټولنې و يوې ډلې علماؤ ترمنځ فاصله رامنځته کېږي او دا اختلاف د زمانې په تېرېدو پراخېږي چې يو مهال په وسله وال خشونت هم بدلېدای شي. لکه دا نن داعشي او ديوبندي افکار چې يو له بل سره ښکر په ښکر دي. دا خو يې يو لوری دی، که بيا داسې وشي چې د علماؤ تشه د ترهګرو ملاتړي پوهان ډکه کړي نو هغوی په لوی لاس د ماشومانو اذهانو ته ترهګريز افکار ور انستالوي چې دا زموږ د ټولنې لپاره د يوه خطرناک اينده پيغام راکوي او دا حالت د ترهګرو او مغرضو ګاونډيانو په ګټه دی.

دا واقعن يو بد وضعيت دی، د افغان دولت او ولس لپاره څه اړين دي چې بايد وې کړي؟

په دې باب څو کاورنه مهم دي، که وشي؛ ممکن ښې پايلې ولري:

اول: په هيواد کې د افغاني ديني فکر د توليد لپاره بايد دولت او ملت همدلته ديني مرکزونه جوړ کړي، هغه علماء زيات کړي چې د افغانانو له اړتيا سره سم ديني فکر توليد کړي او زموږ لپاره د مشکلاتو سبب نه شي؛ بلکې ستونزې مو حل کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دويم: د ديني مركزونو لپاره د يوه داسې نصاب جوړول چې د اوس له غوښتنو سره برابر وي. دينپوهان بايد يوازې تر امامته او صرف ديني چارو محدود نه وي؛ ځكه د هغوی محدودېدل هغوی تـه اقتصـادي زيان لري او په فقر كې ژوند هغوی د مختلفو كړيو په دام كې غورځي چې هم زموږ په تاوان دی او هـم د ديـن. ددې لپـاره اړينـه ده چـې د ديني علومو زده كونكی نور هنرونه هم زدكړي، څـو د ژونـد پـه اوږدو كې كه د ديني مراكزو له خوا جذب نه شي هم هغه له ټولنې ځان پردی احساس نه كړي او په نورو هنرونو وكـولای شي ځـان تـه مشـغله پيـدا كړي، چې هم ځان پر ټولنه بوج احساس نه كړي او هم ټولنـه لـه هغـه څخه ستومانه نه شي او كله چې هغه كار ولري، لـه اقتصـادي وضـعيته خوشاله وي؛ نو د مخربو كړيو په دام كې له لوېـدو هـم ځـان سـاتلای شي.

درې: ملت او دولت دواړه دې حالن د هغو دينپوهانو ساتنه وكـړي چې د دې خاورې، د دې ملت او نظام د حفاظت لپاره يـې غـږ كـړی دی، له دوی سره اوږه په اوږه درېدلي دي او د نورو مخربو كړيو بلنې يې په كلكه نه يوازې منلې نه دي؛ بلكې په مقابل كې يې درېدلي دي، په دې ډول به ولس او دولت څو كارونه كړي وي: خپل ملاتړي علماء به يې ساتلي وي، د ولس باور به خوندي كړي، د نورو علماؤ د را پيدا كېدو چانس زياتېږي، د ترهګرو ملاتړي ملايان د ولـس پـه مـنځ كـې ځای نه شي موندلای، د ولس ځوانان به مو زيات نه بې لارې كېـږي، مخربې كړی به د اوس په كچه زيات تخريبي فعاليتونه نه شي كولای او ...

(c) ketabton.com: The Digital Library



هره انساني غمیزه فاجعه ده، خو د پوهانو او علماؤ وژل بیا لویه فاجعه ده. هیله مو داده چې د علماؤ د ساتنې او رول لور ته توجو زیاته شي او په ایینده کې یې تر ډېره حده مخه ونیول شې چې د مړه کېدونکو کسانو په شمېر کموالی راشي او وور-ورو دا لړۍ بیخي صفر شي.

۱۵/۶/۲۰۱۹

(c) ketabton.com: The Digital Library



## جنګي ډلې ولې خپلې څېرې بدلوي؟

د روسانو خلاف جنګ کې چې نږدې لس کاله يې دوام وکړ، مجاهدينو؟ په خپله ټوله جهادي دوره کې دغه ډول بريدونه نه دي کړي، لکه اوس چې يې جنګي ډلې کوي. د روسانو تر وتلو وروسته چې مجاهدين بريالي شول، نو د واک پر سر يې هغه ډول وحشتونه تر خپل منځ سره وکړل چې په تېره لس کلنه جهادي دوره کې يې نه وو کړي. تر دې وروسته چې طالبانو حرکت پيل کړ، نو دوی او مجاهدينو يو د بل خلاف هغه څه وکړل چې مخکې نه وو شوي.

تر هغه وروسته چې طالبي نظام ړنګ شو او پر ځای يې نوې اداره رامنځته شوه؛ طالبانو يې پر ضد حرکت پيل کړ. په لومړيو کې که بـه د طالبانو په بريدونو کې لږ هم ملکي کسانو ته مرګ ژوبله اوښتې وه، نـو طالبانو به چورلټ انکار کاوه چې دا کار د دوی جنګياليو نه دی کړی. ورو- ورو جنـګ سـختېده او د ملکيـانو تلفـات هـم ورسره زياتېـدل، طالبانو له تعرضي بريدونو بمي بريـدونو، خـانمرګي حملـو او ډلـه ييـز ځانمرګو بريدونو ته خپل جګړه ييز تکتيکونه بدلول چې په نتيجه کـې يې د هر تکتيک تر ايجاد وروسـته د ملکيـانو مـرګ ژوبلـه هـم ورسره زياته شوې ده.

په تېرو دوو يا درو کلونو کې جنګ دومره خونړی شوی دی چې د يوه عسکر له وژلو سره جنګي ډلو لس ان شل تر دې هم اضافي ملکي کسان وژلي دي. په تېرو اتلسو کلونـو کـې د جنـګ قـوانين او جنګـي اخلاق په دا ډول تر پښو لاندې شول چې په تېره دوره کې يې مثال نـه شي وړاندې کېدای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د طالبانو او داعش په نوم اسلامي جهادي ډلو خپلو موخو ته د رسیدو لپاره له هیڅ وسیلې ډډه ونه کړه او هیڅ ارزښت یې هم پرېښود چې د خپلو موخو لپاره یې استفاده نه وي ورڅخه کړې. طالبانو مسجد کې انفجار وکړ، جنازه یې په نښه کړه، په لنگوټه کې یې ماین ځای پر ځای کړ، د ښځو جامې او حجاب یې استعمال کړل، واده یې خپلې خوښې ته پرېښود، ورا یې په غمونو واړوله، ناوې او زوم یې ووژل، قران کریم کې یې بم کېښود، د خلکو ترمنځ یې پر یوه کس باندې ځانمرگی وکړ، لوبو ته یې بمونه خښ کړل، د مکتب ماشومان یې شهیدان کړل، پوهنتون یې وران کړ، علماء یې ووژل، خبریالان یې ذبح کړل، په بازارونو کې یې انفجارات وکړل، منبر او محراب یې په وینو ولړل، د جومې د لمانځه مهال یې پر عبادت ولاړ کسان ووژل، په روژه کې یې قتلونه وکړل، خلك یې له محکمې پرته ووژل، د یوه بانکي کارډ پر سر یې خلك د موچي په تار ذبح کړل، په یوه تش تور یې خلك له ژونده محروم کړل، د عسکر د کورنۍ ښځې او کورنۍ یې د مرگ په خوب بیدې کړې، لکه د هلمند د دادو قومندان کورنۍ، تر خپل منځ یې جنگونه وکړل، د طالب او حزب اسلامي ترمنځ د قدرت پر سر جنگونو کې دوی او عوام دواړه قتل شول، له داعش سره خونړي جنگونه وشول، د مړو انسانانو په سرونو پوټبال وشو، غوړونه له معلم څخه پرې شول، نجونې په جنگ کې استعمال شوې، ماشومان وکارېدل، حتا لیوني انسانانو ته یې په غوټو کې بمونه ور کړل او په ریموټ یې هغه مهال منفجر کړل چې عسکرو ته به نژدې شول، تر داسې حاله چې حیوانات یې هم د ځانمرگي بریدونو لپاره وکارېدل. لنډه دا چې هیڅ ډول قوانین او ارزښتونه پاته نه شول چې جنگي ډلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه ته احترام ولري او د هغه شي د نوم په اخیستلو دوی ته هغه شـفیع کړې او د یو ډول نه یو ډول رحم و ترحم غوښتنه یو انسان ترې وکړي.

طالبانو او داعش ټولې عامه المنفعه پروژې او تاسیسات په ډېر بربنډه ډول د خپلو موخو لپاره وکارول او د هرې هغې پروژې په وړاندې یې خنډونه ایجاد کړل چې دوی ته پکې سهم نه وو ور کول شوی. دوی د دین، وطن او ملت تر نوم لاندې نه یوازې خپلې شخصي ګټې خوندي کړې، بلکې د نورو هیوادونو استخباراتي کړیـو تـه یـې هـم پریمانـه خدمات وکړل. د اوبو بندونـه ورانـول، د بـرق سـتنې الـوزول، پلونـه و پلچکان انفجارول، په بازارونو کې ځانمرګي کـول، پـه لویـو لارو کـې بمونه خښول، د لارو پر سر خلك په ویره اخته کول، خلك تښتول، د لارو پر سر له موټرو او مسافرو پیسې اخیستل، د دولت او خارجیـانو د کمپنیو په نوم د شخصي خلکو موټر او مالونه د پیسو لپاره راګرځول، د یوې کمپنۍ یا شرکت له لورې دوی ته د دې لپاره پیسې ور کول چې د ده شرکت ناکامه کړي او زموږ هغه په هر ځای کې خوشي کړل شي، دا او دې ته ورته نور موارد ټول هغه څه دي چې نه قوانین ورته جـواز ور کوي اونه انساني اخلاق.

اما جنګ لومړی دې ارزښتونو او اصولو ته په خورا درنښت را پیـل شي، خو د وخت په تېرېدا داسې مرحلې ته ورسېږي چې بیا هیڅ ډول اخلاق او ارزښتونه پکې نه خوندي کېږي او په لوی لاس دا هر څه تـر پښو لاندې کړل شي.

طالبانو د ۲۰۱۹ کال سپټمبر د میاشتې په پـروان، کابـل، ننګرهـار او زابل کې هغه بریدونه په جګه غاړه ومنل چې لسګونو ملکي کسانو تـه پکې مرګ ژوبله اوښتې وه. همدا شان د داعش وسله والې ډلې د کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library



په یوه سالون/هال کې د واده برید په نره توره ومانه چې تر ۹۲ ملکي کسان پکې مړه او تر سل زیات کسان پکې ژوبل شول.

له انساني تجربو او د جنګ و وحشت له تاریخونو څخه دا په ډاګه کېږي چې هره جنګي مرحله لومړی دومره وحشي نه وي لکه وروسته چې وحشت او بربریت ته مخه کړي، ځکه انسان چې په هر ډول محاول او چاپېریال کې واوسي هماغه بڼه اخلي. د تیرې دورې مجاهدین چې وروسته یې تر خپل منځ او بیا له طالبانو سره وحشتونه وکړل، همدا شان اوس طالبان او داعشیان چې هم له دولت سره اخته دي او هم تر خپل منځ سره ښکېل دي هغه جنګي جنایتونه کوي چې د انسان ژبه یې له بیانه او قلم یې له لیکلو هم ستومانه کېږي او هم ورته عاجز دي. مثلن: په زابل کې پر یوه ملکي روغتون داسې ځانمرګی برید چې لسګونه انسانان یې په خوب کې ووژل او تر سل پورې کسان یې زخمیان کړل، خو له دې سره طالبانو په ډېر ډاډ دا پړه ومنله او ادعا یې وکړه چې دولت ته یې زیان رسولی دی. په داسې حال کې چې ټول ملت نارې وهي ملکي کسان دي، خو طالب بیا هم په ډېر جرأت وایي چې نه دولت ته مو زیان رسولی دی.

زموږ د دې خبرو هدف دادی چې جنګ، جنګ زیږوي، هغه انسان چې خپل نیمایي ژوند په جنګ کې تېر کړي، ممکن تر هغه انسان لږ عاطفي وی چې ټول ژوند یې په جنګ کې تېر شوی وي. هغه څوک چې لوی جنګ ته ورشي، شونې ده تر هغه چا لږ رحم په زړه کې ولري چې له ماشومتوبه یې همدا کار و کسب پاته شوی وي.

زموږ په هیواد کې د جنګ دا څپه تر دې هم خونړۍ کېدای شي، که یو کال نور هم پر واوړي، نو د نن جنګ به خلک ورته کم بولي، دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



نن وحشتونه به د خلکو هېر شي، اود جنګي ډلو زاړه مشران چې مړه کېږي ځای يې نوي کسان نيسي چې تر خپلو اسلافو په څو چنده سخت زړي او د وينو تږي وي، له دې امله بايد له افغان ملت او دولت سره نږۍ واله ټولنه د انسانيت په خاطر دا همکاري وکړي چې جنګ بند کړي او جنګي ډلې په ډيالوګ يا هم زور سوله ييز ژوند ته وهڅوي.

۲۰۱۹/اګست/ ۲۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د جهاد د اعلان په اړه د فقهاؤ نظرونه

شریعت هغو اعمالو ته چې په کولو یې خلك امر کړي دي خپل چوکاټونه ټاکلي دي، مثلن: لمونځ یو فردي عمل دی، شریعت ټول پیروان په امر کړي دي، خو د ادایني لپاره یې ګڼ شرایط وضع کړي دي چې د هغو په نه رعایت کولو لمونځ د شریعت له مخې نه سهي کېږي. وخت، د الهي رضا نیت، قبله پېژندل، طهارت، د مکان پاکي او... که دا هر یو یې پوره نه شي لمونځ صحت نه لري.

جهاد د لمانځه برخلاف یو ټولنیز عمل دی، کله چې شریعت د یوه فردي عمل لپاره خپل شرطونه بیانوي او یو چوکاټ ورته تعینوي نو د یوه ټولنیز عمل لپاره خو حتمن تر هغه سخت شرایط وضع کوي.

زه دلته د شرایطو په اړه خبره نه کوم، یوازې د جهاد د اعلان په اړه د فقهاؤ نظرونه را اخلم چې د شریعت له مخې څوك حق لري د جهاد اعلان وکړي؟ په همدې اړه د ځینو مشهورو فقهاؤ نظرونه په لاندې ډول دي:

په الموسوعة الفقهية الكويتية کې د جهاد د اعلان په اړه وايي:

إِذَا اسْتَنْفَرَ الإِْمَامُ قَوْمًا لَزِمَهُمُ النَّفِيرُ مَعَهُ إِلاَّ مَنْ لَهُ عُذْرٌ قَاطِعٌ؛ لِقَوْل اللَّهِ تَعَالَى: {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا مَا لَكُمْ إِذَا قِيل لَكُمُ انْفِرُوا فِي سَبِيل اللَّهِ اثَّاقَلْتُمْ إِلَى الأَْرْضِ أَرَضِيتُمْ بِالْحَيَاةِ الدُّنْيَا مِنَ الآْخِرَةِ فَمَا مَتَاعُ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا فِي الآْخِرَةِ إِلاَّ قَلِيلٌ}.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وَقَال النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لاَ هِجْـرَةَ بَعْـدَ الْفَـتْحِ وَلَكِـنْ جِهَادٌ وَنِيَّةٌ، وَإِذَا اسْتُنْفِرْتُمْ فَانْفِرُوا وَذَلِكَ لأَنَّ أَمْرَ الْجِهَادِ مَوْكُولٌ إِلَى الإِمَامِ وَاجْتِهَادِهِ، وَيَلْزَمُ الرَّعِيَّةَ طَاعَتُهُ فِيمَا يَرَاهُ مِنْ ذَلِكَ.(۱)

ژباړه: كه امام له خلكو وتل وغوښتل نو دوی به ضرور ورسره وزي، مگر هغه څوك چې ښكاره عذر ولري ځكه الهي وينا ده: اې مومنانو! كله چې تاسو ته وويل شي د الله په لار كې ووزئ نو په تاسو څه شوي چې ځمكې ته ځانونه كشوئ، ايا د اخرت په مقابل كې د دنيا په ژوند راضي يئ؟ د اخرت په مقابل كې د دنياوي ژوند گټه ډېره كمه ده!

او رسول الله صلى الله عليه وسلم ويلي: د مكـې تـر فتحـې وروسـته هجرت نه شته مگر جهاد او نيت(به باقي وي) او كه د وتلو غوښـتنه در څخه وشوه نو ووزئ، دا ځكـه چـې د جهـاد د اعـلان امـر تـر امـام او اجتهاده تړلی دی او په هغه څه كې چې امام يې مناسب گڼي پر ولـس يې اطاعت لازمي دی.

ياد كتاب په همدې بحث كې دې لاندې كتابونو ته حوالې ور كړې دي:

حاشية الدسوقي ۲ / ۱۷۵، وجـواهر الإكليـل ۱ / ۲۵۲، والمغنـي ۸ / ۳۵۲، والمحلى ۷ / ۲۹۱.

همدا شان الموسوعة الفقهية الميسرة في فقه الكتاب والسنة المطهرة د جهاد په بحث كې كاږي:

إذا استنفَر الإمام قوماً لزِمهم النفير معه.(۲)

ژباړه: كه امام له خلكو وتل وغوښتل نو دوی به له هغه سره يوځای وزي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وهبة بن مصطفى الزحيلي په خپل كتاب الفقه السلامي و ادلته كې ليكي:

إذا استنفر الإمام قوماً، لزمهم النفير معه، لقول الله تعالى:{يا أيها الذين آمنوا ما لكم إذا قيل لكم انفروا في سبيل الله اثّاقلتم إلى الأرض} [التوبة:۳۸/ ۹] وللحديث المتفق عليه: «إذا استنفرتم فانفروا». وهذا الحكم المذكور في فرضية الجهاد باتفاق الفقهاء.(۳)

ژباړه: كه امام له خلكو وتل وغوښتل نو له هغه سره وتل پر لازم دي، ځكه الهي وينا ده: اې مومنانو! په تاسو څه شوي چې كله درڅخه وغوښتل شي د الله په لار كې ووزئ تاسو ځمكې ته ځانونه كشوئ؟ او په متفق عليه حديث كې دي: كه د وتلو طلب در څخه وشو، ووزئ، او د جهاد د فرضيت په بحث كې پر دې ياد حكم د ټولو فقهاؤ اتفاق دى.

د دې كتاب ليكوال لاندې كتابونو ته د دې عبارت په اخير كې حواله ور كړې ده:

البدائع: المرجع السابق: ص ۹۸، تبيين الحقائق: ۲٤۱/ ۳، فتح القدير: ۲۷۸/ ٤، الدر المختار: ۲۳۹/ ۳، آثار الحرب: ص ۸۷.

د قران كريم له پاس ايت او د رسول الله له هغه حديثه چې لوړ ذكر شوي و، داسې معلومېږي چې د جهاد اعلان د يوه برحاله نظام چاره ده چې له دې پرته په شريعت كې هيڅ اساس نه لري. رسول الله صلى الله عليه وسلم په مكه كې تر مدينې زيات وخت تېر كړى دى، خلك يې شهيدان شوي دي، هجرت ته اړ شوي دي، اصحابو د اقدام اجازه هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترې وغوښته؛ مګر دا چې دوی هلته نظام نه در لود، د افرادو یا ډلو په شان يې د جهاد اعلان نه کاوه ځکه په دې صورت کې يې تر ګټه تاوان زيات و.

جهاد يو مشروع عمل دی، له خپله حقه د دفاع لپاره اجازه ور کول شوې ده، اما که په عملي کېدا يې دين ته تر ګټې زيان زيات وي، بيا به نه عملي کېږي. د رسول الله ص له تګلارې او د قران کريم له واضحو اياتونو څخه معلومېږي چې جهاد ډلې او افراد په خپل سر نه شي کولای، نه يوه ډله او فرد د خپل دښمن په مقابل کې هغه ډول تصميم نيولای شي لکه يو نظام چې يې نيسي. جهاد ظاهرن يو تخريبي عمل دی، خو اهداف يې تر شا سپېڅلي وي، نو که افراد لاس په پورې کړي هغه اضرار چې د خپل مقاومت مهال يې ټولنې ته اړوي، بيا يې جبرانولای نه شي او په عيني حال کې ډلې اړې دي چې له نورو دولتونو مرسته تر لاسه کړي، په داسې حال کې چې دلته انډول نه شته، يوه ډله که له برحاله نظامه مرسته غواړي، نو په ټرون کې به دوه درې چنده به نظاموالو ته په ګټه قايلېږي او د هغوی غوښتنې او ګټې به تامينوي، بيا به هغوی ته د مرستې لاس ور کوي؛ نو دا بل تاوان شو چې يوه مستقل هيواد ته د نورو دولتونو لاسونه را اوږدوي، همدا شان پر خپلو افرادو کنټرول نه شي ساتلای، ځکه دوی له بېلابېلو هيوادونو سره اړيکې ساتي او هغه هيوادونه خپله هڅه کوي چې د دوی ترمنځ خپل اعتمادي کسان پيدا کړي، دوی يو موټی ايله نه کړي، دوی کې داسې کسان را پيدا کړي چې هر وخت دوی ته وفادار پاته شي او داسې نور اغراض هم شته چې نور هيوادونه متحده جبهه نه غواړي، هغوی داسې کسان غواړي چې د دوی هره خبره ومني او که يوازې شک يې هم پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



راشي، حتمن يې يا وژني يا هم نور افراد يې له شاوخوا څخه بېلوي چې بله ډله را پيدا کړي، خپل نفوذ پر زيات کړي او په هر ډول حالاتو کې يې بيا د خپل ځان په گټه وکاروي.

دې ټولو اضرارو ته په کتو د اسلامي شريعت فقهاؤ له وخته دا لازمه کړې وه چې د جهاد اعلان به د برحاله نظام له لورې کېږي، امير به خلکو ته د وتلو امر کوي، هغه به يې چارې تنظيموي او د شکست په صورت کې به هغه ځای ته مجاهدين ستنېږي چې د امير تر واک لاندې وي او دوی پکې خوندي وي، له دې پرته جهاد د فايدې پر ځای شريعت، هيواد او ملت ته زيانونه رسوي.

۲۰۱۹/ ۱۲/ ۱۰

**سرچينه:**


۱)(الموسوعة الفقهية الكويتية، حرف الجيم، كتاب الجهاد، باب متى يصير الجهاد فرض عين؟: ۱۶/ ۱۳۱، د دار السلاسل دويم چاپ کويټ، ۱۴۰۴-۱۴۲۷)

۲)(ياد كتاب، الجهاد، باب متى يتعيّن الجهاد؟: ۷/ ۱۱، د حسين بن عوده ليکنه، د المکتبة الاسلامية (عمان اردن) او دار ابن حزم(بيروت لبنان) لومړی چاپ له ۱۴۲۳- ۱۴۳۹)

۳)(الفقه السلامي و ادلته، القسم الخامس: الفقه العام، الباب الرابع: الجهاد و توابعه، الفصل الاول: حكم الجهاد و قواعده، فرضية الجهاد، ان كان النفير عاما: ۸/ ۵۸۴۸، د دار الفكر څلورم چاپ، دمشق سوريه)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د قاضي او قضا ځينې اړين شرطونه

قضا په انساني ټولنه کې ډېر درونـد مسـووليت دی. د محـاکمو پـه تاريخ کې له لرغونې زمانې بيا تر ننه انسانانو بېلابېل سيستمونه پنځـولي دي چې کله يې د وخت په تيرېدا عيبونه ور معلوم شوي دي؛ نو د بـل په لټه کې شوي دي چې اخير يې د محاکمو نوي اصول وضع کړي.

د انسانانو پر حقونو فيصلې کول اسانه کـار نـه دی، لـه دې املـه پـه اسلامي و غير اسلامي ټولنو کې د محکمې او قاضي لپاره شرايط وضع شوي دي چې له هغو اصولو په سرغړونه محکمه او قاضي پر يوه تورن د پرېکړې حق نه لري. که په يوه سيمه کې نظام موجود وي، نـو د دې ډول ناغېړيو مخه نيسي او کوونکې يې عدالت ته وړاندې کوي او که د نظام لاس نه ورسېږي، نو بيا د خالق محکمې ته حواله دی چې هره سزا يې ور کوله هغه د هغه له شان سره مناسبه ده.

په مسلمانانو کې که د هر مذهب فقهـې ولوسـتل شي، نـو د قـاضي شرطونه يې بيان کړي او هر څوک که له دې شرايطو خالي وي د قضـا دنده مخته نـه شي وړلای. اصـلن قضـا او محکمـې جـوړول د برحالـه نظامونو کار دی، څوک چې برحاله پر يوه سيمه کنټرول ونه لري، نو د مجرم نيول هم نه شي کولای او نه هم د يوې يـوې قضـيې پـه اړه لازم تحقيقات کولای شي.

زموږ په هيواد کې له کلونو را په دې خوا طالبانو او داعش ډلو خپلې بياباني محکمې جوړې کړې دي چې ان خلکو ته د مرگ سزاوې هـم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ور کوي؛ يعنې نورې پرېکړې خو حتمن کوي، حتا د يوه انسان د ژوند او مرګ فيصلې هم خورا زياتې کوي.

د محکمو لپاره سيستمونه شته، اسلامي محکمې خپل خصوصيات لري، زه لومړی د اسلامي محاکمو د سيستم په اړه لږ وضاحت کوم:

۱-: د دعوې د حل لپاره د يوه ځانګړې سرچينې جوړول. د رسول الله په زمانه کې هغه دا چاره سمبالوله، تر ده وروسته اصحابو په دې اړه مشوره کوله او ځينو سيمو ته يې ځانګړي قاضيانو لېږلي وو؛ لکه د عمر فاروق په وخت کې سلمان بن ربيعه الباهلي يې کوفې ته د قاضي په توګه لېږلی و او داسې نور.

۲-: د محاکمې په جريان کې د قاضي مداخله. رسول الله ص له يوه متهم څخه د واقع شوي جرم په اړه پوښتنې کړې دي، حتا هغه ته يې مخالف نومونه اخيستي دي چې داسې کار دې وکړ او که هغسې؟ د قضيې د ښه روښانتيا په خاطر قاضي چې هر ځای مناسبه وبولې مداخله به کوي، خو يوازې د روښانتيا لپاره نه د نورو اغراضو له کبله.

۳-: د مسلکي قاضيانو ګومارنه.پرېکړې يوازې شرعي جنبه نه لري، بلکې داسې مسايل هم شته چې پخوانيو فقهاؤ ياد کړي هم نه وي، له دې امله نو د قاضي لپاره له شرعي علم سره نور اړين علوم هم ضروري دي. فقهاء هم په دې اند دي چې قاضي بايد په فقهي قضاياوو او معاصرو علومو عالم وي چې عدالت په ښه ډول تامين کړي. رسول الله ص د علمي او قضايي چارو لپاره خاص کسان در لودل، کله يې هم په علمي-قضايي چارو پسې خالد رض نه دی لېږلی، مګر معاذ بن جبل رض يې ورته غوره کړی دی. بل طرف ته يې په جنګي چارو کې تر نورو خالد رض ته ترجيح ور کوله، ځکه لکل فن رجال!

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴-: د محاکمو لپاره يو داسې اداره لازمي ده چې شوې پرېکړې پکې خوندي وي. د فیصلو لیکل ځکه اړين دي چې ممکن يو کس بله ورځ بیا د فیصله شوې دعوې اعاده بېرته وکړي. نو د اینده خطر د له منځه وړلو لپاره لازمي ده چې بايد فیصلې وليکلې شي او د شر سد باب وشي.

۵-: محکمه باید علني او ښکاره وي. د محکمې علني کېدل د عدالت لپاره هم ګټور دي او هم د فساد مخنیوی په کېږي. قران کریم هم امر کړی دی چې د مسلمانانو يوه ډله دې د سزا مهال راشي چې عبرت واخلي، لازمي خبره ده چې هلته به قاضي خپله پرېکړه اعلانوي او د جرم ثابتونې وروسته به سزا ور کوله کېږي.

٦-: متهم ته له ځانه د دفاع حق ور کول. په غیر اسلامي هیوادونو کې هم متهم ته وخت ور کول کېږي چې له ځانه دفاع وکړي او خپله ځان ته مدافع وکیلان نیول کېږي. مسلمان قاضي باید تر هغو د محکمې پرېکړه اعلان نه کړي چې له متهم کسه پوښتنه ونه کړي چې د دې پرېکړې خلاف ته نور دلایل هم لرې که نه؟ کله چې د متهم کس ټول شبهات ختم شول او دلایل يې له ځانه د دفاع نور نه در لودل، بیا قاضي کولای شي چې خپله پرېکړه اعلان کړي.

د اسلامي محاکمو لپاره دا اصول بیخي منل شوي دي، حتا په غیر مسلمانو هیوادونو کې هم تر ډېره حده دا اصول عملي کېږي او محکمې د يادو اصولو څخه سرغړونه نه کوي. اوس به راشم دې ته چې د طالبانو او داعش په شان ډلې کولای شي چې دا اصول په خپلو محکمو کې عملي کړي که نه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



د لومړي شرط په اړه ممکن طالبان او دوی ته ورته ډلې ټپلې ادعا وکړي چې موږ هم محکمې لرو؛ اما د دولتونو په شان محکمې نه دي. دولت جرایم او دعوې سره وېشلې دي، بیا یې د هرې یوې لپاره خپل قانون د حنفي فقهې په رڼا کې جوړ کړی او ځانګړي قاضیان لري چې په خپل مسلک کې د هر یوه پوهه ورته لازمي شوې ده. د دعوې د اثبات لپاره هم دولتونو خپل میتودونه لري او هغه یې په قوانینو کې روښانه کړي دي.

که اوس له طالبانو او ورته ډلو پوښتنه وشي چې تاسو سمه ده چې محکمه لرئ اما د محکمې لپاره قاضي ته کوم شرایط لرئ؟ محکمې مو د کومو اصولو له مخې تورن کسان محکمه کوي او یا د مدعي و مدعي علیه پړ و ناپړ څنګه سره معلوموئ کوم قانون دا ټکي روښانه کړي دي؟

دویم شرط دادی چې قاضیان د محکمې په جریان کې مداخله کولای شي. مداخله هم د شواهدو یا ثبوت په رڼا کېږي، که یو تورن یو څه وایي، نو قاضي د خپلو معلوماتو په رڼا کې چې څارنوال یې ور کوي له هغه پوښتنې کوي، که یې ناسمې خبرې کړې وي هغه په دلایلو ردولای شي. وسله والې ډلې د معلوماتو د راغونډولو لپاره څوک لري؟ پر هیڅ ځای باندې واک نه لري، نو معلومات څنګه راټول کړي؟ له یوه قاضي ماسیوا د څارنوال په نوم هیڅوک نه لري، نو مداخله څنګه وکړي؟

د قضا لپاره د مسلکي کسانو ټاکل اړین دي. وسله والې ډلې په خپلو ګروپونو کې د لمانځه د امامت څوک نه شي پیدا کولای، نو د قاضي لپاره اړین شرطونه به څنګه پوره کړي؟ یوازې دیني علوم شرط

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه دي، بلکې نن خو ټيکنالوجي ده، ډېرى داسې دعوې پيدا کېږي چې له ټيکنالوجي سره اړه ولري، يو تورن يا مدعي و مدعي عليه ښايي رواني مشکل ولري، بل يو کار کړى وي، خو پر يوه کس يې تاوان کړى وي، دا مشکلات به يوازې يو کليوالي ملا په فقهي کتابونو څنګه حلوي؟

د قضاياو تر حل وروسته دا اړينه ده چې قضا خپل ډيټابيست ولري چې اسناد پکې ثبت شي، د وسله والو ډلو په ګرزنده محکمه کې به دا ډيټابيست له کومه شي او د اسنادو ثبت به هلته څوک کوي؟ دوى خو تر يوې ونې لاندې کېني مسله سره ور حل کړي او پر موټرسايکل پښه واړوي روان شي، د اسنادو ثبت څنګه وکړي؟

محکمه بايد علني وي، وسله والې ډلې خو لومړى يو څوک مړ کړي، ويډيو يې وکړي او بيا يې تر مرګ وروسته نشر کړي، د درو يا سنګسار تر اجرا وروسته اعلاميه خپره کړې چې اسلامي امارت يا اسلامي دولت پلانی ځای پر دونه مجرمينو حدود جاري کړل!؟ محکمه هيڅ ملي يا نړۍ وال بنسټ نه ويني او نه يې له جريانه خبر وي، همداسې خارايي محکمې دي او انسانانو ته په کې د مرګ و ژوند پرېکړې کېږي.

يو بل مهم ټکی دا هم دی چې تورن بايد له ځانه د دفاع حق ولري. ممکن ناسم تور په هغه پسې تړل شوی وي، امکان لري هغه عذر ولري، د يوې دعوې د اثبات لپاره معقول دلايل ولري، يو کار يې هيڅ نه وي کړى مګر د يوې شبهې له مخې راوړل شوى وي. وسله والې ډلې چې هره ورځ د خلکو د حقونو په اړه پرېکړې کوي، يا حدود په پټه جاري کوي، ايا تورن ته له ځانه د دفاع حق ور کړل شوی؟ چا تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوسه ليدلي دي چې يو كس په جاسوسي تورن شوی، هغه له وسله والو سره څو مياشتې يا كلونه بندي وو چې هغه له ځانه د دفاع شواهد وړاندې كړي يا هم مدافع وكيل ونيسي؟ جالبه ده! دوی تر اوس په دې هم نه پوهيږي چې يو څوك مجرم بلل يوازې د يوې محكمې كار دی چې په رسمي ډول به هغه مجرم گڼي او ټول شواهد به د اخيري پريكړې مهال ذكر كوي، مگر د وسله والو محكمې خو هيڅ ملي يا نړۍ وال بنسټ نه شي ليدلای بيا به هلته جنائي عدالت څنگه راشي؟ د جنائي عدالت هدف دادی چې هيڅ مجرم بايد له سزا گاللو پرته پاته نه شي او هيڅ بې گنا كس ته بايد ناحقه سزا ورنه كړل شي.

دولت خو د جرايمو د معرفي و تعريف لپاره قوانين لري، د جرم د اثبات لپاره ځانگړې ادارې دي چې د يوه تورن كس دوسيه مكمله څارنوالي ته ليږي، په هغه دوسيه كې كشفي ادارې يا پوليس و اردو چې په كوم حالت كې څوك نيولی وي او هغه شواهد چې له هغه سره د نيولو په حال كې يا تر اقرار وروسته يې لاس ته راغلي وي ټول څارنوالي او هغه يې تر كره كولو وروسته د قاضي په واك كې ور كوي، نو وسله والې ډلې د محاكمو په جريان كې ايا دا پروسيجر لري؟

زموږ له سيمو څخه زه معلومات لرم چې د بسته ولسوالي لپاره وسله والو يو كس د قاضي په نوم معرفي كړی وي، هغه حقوقي دعوې مخته وړي، هغه طريقه چې دولتونه يې د محكمو لپاره لري تر اوسه يې وسله وال نه پيژني او نه يې په دې تاخته او راتاخته كې د عملي كيدا امكان شته.

د وسله والو محكمې يو لور ته د خدای له مخلوق سره ظلم دی او بل لور ته د ديني و ملي ارزښتونو سپكاوی دی. دوی په دې محكمو

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه یوازې د ځان رنګ بدوي، بلکې دين هم ورسره بدنامېږي، هم نن او هم سبا په تاريخ کې د خندا او سخرېې وړ ګرځي. وسله وال که له حکومتونو سره سياسي مخالفت لري هغه پر خپل ځای مګر محکمه د هغه چا کار نه دی چې په غره کې تر يوه ونه لاندې ناست وي او د حق و ناحق پرېکړې کوي، اسلام او قانون د حق و ناحق ثابتونې لپاره اوږده پروسه ټاکلې ده چې تر هغه پروسيجر يوه قضيه تېره نه شي حق و ناحق يې نه معلومېږي، بناءن وسله وال دې د خپلو څارايي محکمو پر ځای خلك دولتي محکمو ته ولېږي او له دولتي محکمو سره دې د حل و فصل په اړه مرسته وکړي نه دا چې په وچه و لنده خلکو ته پرېکړې ور وکړي.

۲۷/۵/۲۰۱۹

**سرچينې:**

۱)مجلة كلية اداب، د انور عبد الكريم عبد القادر ليکنه

۲)اصول محاکمات جزائي د پوهان دوکتور حفيظ الله دانش ليکنه کابل چاپ ۱۳۹۷

۳)اخبار القضاة، ۳ ټوک، ۳۱۲ مخ، د وکيع ليکنه

په ويکي بوك ويبسايټ کې د شيخ مخلص احمد الجدة په نوم يوه عالم د النظام القضائي فی الاسلام تر سرليك لاندې غټه مقاله ليکلې ده چې د قاضي او قضا پر مهمو مسلو يې بحث پکې کړی دی، ما هم ورڅخه ګټه اخيستې ده.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**